د تعلیم ډیوه

او

د نوي نسل روزنه

لیکوال

آصف بهاند

اهدا:

ټولو هغو ښاغلو او آغلو ته

چې د نیکمرغه افغان او راتلونکي

سمسور افغانستان په خاطر، د تعلیم د عامېدو

له پاره عملاً کار کوي او د نوي نسل د علمي

او مدرنې روزنې له پاره گام اوچتوي!

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولګه)،

لیکوال: آصف بهاند،

د خپریدو نېټه: د ۲۰۱۹ کال فبروري

د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورتال

د سرلیکونو فهرست:

د سر خبرې

لومړی څپرکی

د نوي نسل په روزنه کې د کتاب او مطالعې رول:

- مطالعه او له مطالعې سره اړوندې ستونزې، لومړی مقاله ۸
- نوی نسل، مطالعه، ستونزې او نوې هیلې، دویمه مقاله ۱۷
- کتاب، مطالعه او زموږ دریځ، دریمه مقاله ۲۲
- کتاب سوځوونه، څلورمه مقاله ۲۶
- د مطالعې دود او دوې وروستۍ مقالې، پنځمه مقاله ۲۸
- یو تصویر، زر خبرې، شپږمه مقاله ۳۱
- د نوي نسل د روزلو له پاره د مطالعې د نهضت...، اومه مقاله ۳۷
- د مطالعې په دودولو کې یو نوی ګام، اتمه مقاله ۴۱
- څو بیسواده نسلونه او زموږ مسولیت، نهمه مقاله ۴۶
- د سواد زدکړه، تعلمي نصاب، امکانات او زموږ دریځ، لسمه مقاله ۵۳
- زموږ د کلي کتابتون، د مطالعې دود او اړوندې ستونزې، یولسمه مقاله ۵۷
- کتاب، مطالعه او مالیه، دولسمه مقاله ۵۹

دویم څپرکی

د تعلیم د عاملو څو تنه مخکښې څېرې:

(د تعلیم هغه مخکښان چې زموږ په ټولنه کې د ډیوو حیثیت لري)

- ډوکتور محمد تنها، دیارلسمه مقاله ۶۱
- نجیبه لیمه، د ماشومانو له پاره ځانګړې کیسې، څوارلسمه مقاله ۷۳
- محمود مرهون او د کوچنیانو ادبیات، پنځه لسمه مقاله ۹۰
- احمد ولي اڅکزی او د کوچنیانو ادب، شپاړسمه مقاله ۱۰۵
- ثنا صافی د تعلیم ډیوه، اوه لسمه مقاله ۱۳۵

- مریم امرخیله، د مریم امرخیلي غږ، اتلسمه مقاله ۱۴۶
- ویسا ورونه او قلملار ټولنه، نولسمه مقاله ۱۶۸
- ډاکتر وحید آرین، د عملي کار یوه غوره بیلګه، شلمه مقاله ۱۹۱

دریم څپرکی

تعلیم پوري اړوند څو نوري اړیني مقالې:

- د تعلیم ارزښت، یوویشتمه مقاله ۱۹۵
- د ښوونځي درویزګر، دوه ویشتمه مقاله ۲۰۱
- نوی تعلیمي نصاب، نوي ستونزې، درویشتمه مقاله ۲۰۴
- د سواد زدکړې نړیواله ورځ ، څلیریشتمه مقاله ۲۰۸
- سا لرونکي کتابونه او زموږ د مطالعې کچه، پنځه ویشتمه مقاله ۲۱۲
- یو لیک، یو کتاب او څو نسلونه، شپږویشتمه مقاله ۲۱۵
- د لیکوال بیوګرافي ۲۱۷

د سر خبرې

پر افغانستان باندې د جګړې له سونامي نه رازیږیدلې، ګڼې نورې سونامي ګانې راغلې، زموږ ټولنه او خلک یې له هره اړخه ځپلي دي. زموږ د ټولنې او هیواد د ټولو برخو بنسټونه یې ویجاړ کړي، په تیره ښوونه او روزنه او د نوي نسل د روزلو لړۍ، چې پایله یې زموږ د هیواد د څلورو نسلونو له تعلیمه سره مروږېدل، بې سواده یا کم سواده پاتې کیدل دي؛ خو له دې ټولو نا خوالو سره، سره زموږ نوی نسل زدکړو ته لیوال و او دی، هر کله او هر چیرې چې ډیر لږ امکانات هم ورته برابر شوي دي، له هغو نه په استفادې سره یې، پر ځان هر رنګ زحمتونه ګاللي دي او د نوي عصر نویو زدکړو ته یې د خپل ټټر او ذهن کتاب پرانستی دی او زدکړې یې کړې دي.

ما څو ځلې په ټینګار سره ویلي دي:

ـ د هغو خلکو او قوم تباهي ډیره نږدې ده چې له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

ـ دا ښه په یاد ولرئ: تر څو نوی نسل په نوې او مدرنه بڼه په سمه توګه و نه روزل شي، هیڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغیو سره لاس ګریوان اوسئ!

ـ د نـوي نسل د روزلو له پاره هـر پل چې اوچـتـیږي، زه یـې داسې انګیرم چې د نـوي ژوند د کلا پر دیواله یوه نـوې او زریـنه خښته ایښودل کیږي.

ـ که په یوه ټولنه کې زدکړې لږ او د ګوتو په شمېر وي یا هیڅ نه وي، هغه ټولنه او هغه خلک هره ورځ لا هر ساعت له لسګونو ستونزو سره په عملي ډول لاس ګریوان وي.

ـ په ټوله نړۍ کې دا یوه منل شوې خبره ده چې: چیرې چې ښونکی وي، هلته ډیوې وي، هلته رڼا وي او چیرې چې ښونکی نه وي، هلته نه ډیوې وي او نه د رڼا څرک.

ـ زه په دې عقیده یم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چینه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ!

اوس چې زموږ د هیواد ډیره سلنه وګړي د سواد له نعمت نه محروم دي، د هغوی د سواد زدکړه هم مهمه مسأله ده. د سواد زدکړې مسأله په هره ټولنه کې د پرمختګ یو بنسټیز شرط ګڼل کیږي. د نوي نسل روزل د سواد له زدکړې پیل کیږي، بیا ښونځی، پوهنځی او ورپسې د مطالعې نهضت پیاوړي کیدو او مطالعه په یوه منلي دود باندې بدلول دي؛ بیا نو د نوي او مدرن انسان د روزلو له پاره لار سمه او رڼا کیږي.

په ژوند کې د بریالیتوب یو راز، بینا او رڼې سترګې دي. کله چې سواد نه وي، سترګې ړندې وي په هره ټولنه کې سواد او د سواد له لارې تر لاسه شوې پوهه، د هغه څراغ حیثیت لري چې هر انسان کولای شي د ژوند تیاره لار پرې روښانه کړي او پرته له ستونزو په رڼو سترګو د ژوند پر لاره په استوار ډول قدم کیږدي.

نن سبا لیدل کیږي چې زما او ما ته ورته د نورو فرهنګي دوستانو د هیلو غو ټۍ په غوړیدو دي او په دې ورستیو کې په لومړي ګام کې د کوچنیانو د ادبیاتو په بر خه کې د پاملرنې وړ کارونه شوي دي.

په افغانستان کې د ورستیو څلورو لسیزو د ستونزو هر اړخ ته چې نظر واچول شي، د رامنځ ته کیدو عوامل او منفي پایلې یې موږ ته وایي چې د تعلیم نشتوالی د ټولو ستونزو د رامنځ ته کیدو مور او لامل ده. نو پر دې بنا د هر ډول تحلیل پایله دا وایي چې په افغانستان کې یو ژور تعلیمي بدلون ته اړتیا لیدل کیږي.

ډیری روڼ اندي په دې فکر دی چې څو په ټولنه او خلکو کې بنیادي فکري بدلون را منځ ته نه شي، په ټولنه او عیني عملي ژوند کې د مثبت بدلون تمه یو نا سم کار دی. په مثبت لوري د خلکو د ژوند د هر اړخیز بدلون له پاره یوازینۍ لار تعلیم دی، د همدې دلیل له مخې باید په تعلیم او زدکړه باندې ډیر ټینګار وشي، که ډیر په ابتدایي بڼه هم وي څو د تعلیم د نهضت کارکونکي او لارویان نور هم تشویق او وپالل شي.

ما د همدې نیک کار د یو لاروي په توګه له ډېرې مودې را په دېخوا د تعلیم د نهضت ملا تړلې، عملي او تبلیغي کار مې ورته کړی دی او د دې عملي کار په لړ کې مې د مطالعې د کلتور د عامېدو له پاره د خپل عملي کار په لړ کې لسګونه مقالې لیکلې او خپرې کړېدي.

د تعلیم د نهضت د پیاوړو او مخکښو غړو د زدکړو او عملي کارونو د معرفۍ له پاره مې ګڼې مقالې د هغوی او نورو د لا تشویق په پار لیکلې دي او په وار ـ وار سره مې پر دې خبره ټینګار کړی دی چې:

زه ټوپکوال، وژونکی او قاتل قهرمان نه ګڼم، زما له پاره قهرمان هغه څوک دی چې د خرافاتو پر ځای د علم پلوي او لاروی وي، د سواد زدکړې ـ ښوونځي او پوهنځي پلوی وي، د پوهې د تر لاسه کولو او نوي نسل په روزلو کې عملي کار وکړي، زما قهرمانان هغه څوک دي چې د راکټونو په ځای کتابونه ویشي، ښونځي پرانیزي، په نوې بڼه د نوي نسل د روزلو په فکر کې وي او عملي کار ورته کوي.

زما دا کتاب د هغو شپږویشتو مقالو ټولګه ده چې د نوي نسل له روزلو سره تړاو لري او د تعلیم د نهضت د پیاوړتیا په پار او د مطالعې د دود د عامېدو له پاره مې لیکلې دي، دغه راز د تعلیم، پوهې او مطالعې هغه سر لاري مې معرفي کړي دي، چې په دې برخه کې تر نورو مخکښ دي او د خپل ژوند ډېره برخه یې همدې انساني او وطني کار ته ځانګړې کړې ده.

په درنښت

د تعلیم ډېوه دې روښانه وي

د تعلیم ډېوې رڼا دې هر چېرې خپره وي

پوهندوی اصف بهاند

هیدرسلیف

ډنمارک

د ۲۰۱۹ کال فبروري

لومړی څپرکی

د نوي نسل په روزنه کې د کتاب او مطالعې رول

پردی چاپیریال او د کوچنیانو او ځوانانو د زدکړې مسأله

مطالعه او له مطالعې سره اړوندې ستونزې

لومړی مقاله

مطالعه او مطالعه کیدونکي شیان، د فرهنګونو او نسلونو تر منځ د پلونوحیثیت لري. د مطالعې له لارې، هر نسل کولای شي چې له خپل تاریخ، فرهنګ، علمي لاسته راوړنو او... خبر شي؛ د خپل تیر وخت او تر سره شویو کارونو او تجربو سره آشنا شي، د خدمتونو په څرنګوالي پوه شي، په ناکردو او نادودو خبر شي، اوسنی حالت درک کړي چې چیرې دی او د راتلونکي په باب د وړاند وینې توان تر لاسه کړي او د ځان له پاره ځای او دریځ غوره کړي. دا هر څه د مطالعې له لارې ترلاسه کیدای شي.

زما یو دوست او همکار به دا خبره تل بیا ـ بیا تکراروله او ویل به یې:

«هرکتاب په یووارلوستلوارزي او...»

ترنن پورې مې سروربانديې خلاص نه دی چې دا جمله به د ده خپله وه که به یې دی راوي و، خو هر کله مې چې د کوم کتاب د لوستلو تکل کړی دی، دا خبره مې نیغه سترګو ته دریدلې ده:

«هر کتاب په یو وار لوستلو ارزي.»؛هوکې هر کتاب په یو وار لوستلو ارزي.

څنګه چې انسانان په توپیرسره پیدا شوي دي، دغسې چې خلک د سلیقوي توپیرونو له مخې یو له بل نه بیل دي؛ دغسې یې د کتاب لوستلو، مطالعې او له مطالعې نه د اخیستنې او برداشت څرنګوالی هم توپیر سره لري. مګر اصلي موضوع او د ټولو لوستونکو په منځ کې ګډ ټکی دا دی چې باید له مطالعې څخه یوه ګټه اوچته کړي او جدي پاملرنه ورته وکړي.

مطالعه په هر وخت او هرسن کې یوه اړتیا ده. دا نه په مسلک پورې اړه لري او نه هم په وخت، ځای او سن پورې. دا چې له ډیرو ستونزو سره ـ سره موږ (میندې او پلرونه)، تنکي ځوانان او کوچنیان، څنګه په مطالعې باندې روږدي کړو، دا په هرې ټولنې، هر چاپیریال، هرې کورنۍ او هر شخص او وګړي پورې اړه لري.

له بده مرغه زموږ ډیرې خلک د سواد یا لوستلو له نعمت څخه بې برخې دي، چې دا د نه مطالعې له پاره لوی دلیل او اصلي ستونزه ده. هغه چې سواد لري، بیا یا د مطالعې په ارزښت

نه پوهیږي او یا هم ـ د دوی د استدلال له مخې ـ وخت نه ورته لري او هغه چې سواد هم لري، وخت هم ورته لري او د لوستلو په ارزښت هم پوهیږي، بیا له بل ډول ستونزو سره مخامخ دي، یعنې د خپلې خوښې وړ کتاب نه شي پیدا کولای او دغسې نورې ډېرې ستونزې چې ځینې یې په طبعي ډول د ځینو کسانو په ژوند کې شته وي او ځینې ستونزې په خپله ستونزه والا خلک ځانته جوړوي. د ساري په ډول، یو تن ډېر کتابونه د مطالعې له پاره په واک کې لري، خو استدلال کوي چې:

د مطالعې له پاره څه شی نه شته، دا کتابونه سړی بې لارې کوي، دا غلط دي دا سیاسي دي، په دې ژبه نه پوهیږم، دا مذهبي دي او...

سره له دې چې نړۍ د ګلوبلیزم د ډولونو د انګازو په دایره کې، په یوه واړه کلي بدله شوې ده، خو زه د دې واړه کلي د یو کلیوال په توګه په دې نه پوهیږم چې زموږ د دې واړه کلي څومره افغان کلیوال، د استفادې له پاره څومره کتابونه او د لوستلوله پاره چاپي او بریښنایي مواد په اختیارکې لري؟ له نظره یې تیر کړي دي که نه؟ نورو ته یې د لوستلو له پاره په واک کې ورکړي دي که نه؟ او یا یې یوازې په دې ویاړ؟ بسنه کړې ده چې د پلانکي لیکوال، شاعر او سیاستوال، دغه، دغه عنوان کتابونه مې لیدلي او لرم یې؛ او په همدې لیدلو یا لرلو باندې یې ځان خوشاله ساتلی دی، چې دا په خپله یوه نیمګړتیا او بدمرغي ده.

داسې هم لیدل شوي دي چې یو عنوان کتاب، د یوه باسواده وخت لرونکي شخص په کور کې پنځه یا لس کاله لکه بندي پروت وي. کله چې په تصادفي ډول چا ته په لاس ورشي، لیدل کیږي چې پاڼې یې لا، له چاپخونې نه د راوړلو له وخته هماغسې سره نښتې وي؛ یعنې همدې باسواد لالا؟ یې په مخکاته باندې ځان نه دی زهیر کړی او ګوتې یې نه دی وروړې.

دا حالت چې سړی وویني، بیا نو لږ څه باید د دې با سواد لالا؟ په حال او ډېر هم د بندي بې سرنوشته مظلوم کتاب او د کتاب د لیکوال پر حال وژاړي اوښکې توې کړي او ګوتې پرې لمدې کړي اوهغه په کلونو منتظرې سره نښتې پاڼې، بیلې کړي؛ بیا نو په هر ډول چې وي نا وخته به وي، که په کتاب کې تاریخ وي، که سیاست وي، که هنري مسایل او که علمي حقایق، هغه به زاړه او له موده لویدلي وي.

اکثرو لوستو افغانانو باندې، داسې یو حالت حاکم شوی دی چې له تودو سیاسي، نظامي او ورسره اړوندو مقالو، تبصرو او مسایلو سره بیړنۍ مینه ښیي؛ که یې له فکر او ګټې سره برابروو، خوشاله وي او که بر عکس وي، خپه کیږي.

د ښوونې روزنې،د نوي نسل د پالنې او په سمه او ګټوره علمي او انساني لاره باندې د هغوی لارښوونې ته دومره چې ښایي، پام نه کوو. کوم نیم لیکوال که دې موضوع سره په ډیرزړه سوي برخورد هم کوي، د ډیرې خلکو لا ورپام هم نه وي او په بې ارزۍ ورته ګوري.

دغسې په سلګونې پیښې اوریدل شوې او لیدل شوې دي، چې دا د نه مطالعې لوی سندونه او ښې بیلګې بللی شو، چې پر ټولنه او خلکو باندې د نه مطالعې د کلتورتسلط ښیي.

د نه مطالعې په برخه کې بله لویه ستونزه، د وهلو او تهدید مسأ له ده چې زموږ ځینې میندې پلرونه یا مشران ورونه او خویندې په وهلو او تهدید سره ماشومان مطالعې ته اړباسي، او دا په یوه دود باندې بدل شوی دی. په خواشینۍ سره باید ووایو چې دغه ناوړه دود تر اوسه پورې پیروان هم لري، حتی په اروپا کې. دا جمله له یوه نسل نه بل نسل ته لیږدول شوې او اوس هم خوله په خوله ګرځي او ضارب د وهلو په وخت کې د دې جملې په تکرار سره ځان ډېر هوښیاراو حق په جانبه هم ګڼي: **«چې ډب نه وي، ادب نه وي»**

او له بده شامته چې لا تر نن پورې دغه دود زموږ په ټولنه او خلکو باندې حاکم دی، په داسې حال کې چې تنبیه شکل او ډولونه لري، اوس د وهلو ټکولو وخت تللی دی او خپل ځای یې د عصري ښوونې او روزنې اوسنیو نویو قوانینوته پرېښی دی.

وروه، خورې، ښوونکیه، پلاره، مشره او... تیر له دغې مهربانۍ، لاربښوونې او مشرتوب نه دې چې په واړه سن کې په دې وهلو سره ته د کوچني د ذهن د تاخان وپه کرونده کې د عقدو، نفرت او ډار زړي کرې او راتلونکي نسلونه له هراړخیزو رواني ناروغیو سره لاس ګریوان کوي.

دا چې مطالعه یوه اړتیا ده، اوس دا په یوه منل شوي حقیقت باندې بدل شوی اصل دی او باید دې ته مو پام وي چې مطالعه تل باید په یوې ورځنۍ اړتیا بدله کړو. که مطالعه د ډار یا مجبوریت له مخې وي، پایله به له نیمګړتیاوو ډکه وي.

ټولو دنیا والو ته ښکاره ده چې پر افغانستان او افغانانو باندې په یوه وخت کې د جګړې له سونامي نه زیږیدلې، څو نورې سونامي ګانې هم راغلې دي:

ـ د لوږې سونامي،

ـ د فقرسونامي،

ـ د بیسوادۍ سونامي،

ـ د بې باورۍ سونامي،

ـ د ... سونامي

ـ او د نه مطالعې سونامي.

ځینې بهرمیشتې وطنوال مو له بده شامته لاپه دې نظر دي چې څه وروره موږ د جګړې له سره اورنه راوتلي یو، اوس په جنتونو کې پراته یو، موږ مطالعه څه کوو، هر څه چې کیږي ودې شي، موږ یې څه کوو او...

دا ډول خلک د خپلې دغې پالیسۍ له برکته بیا په هر لوري چې قدم واخلي، له سونزو سره لاس ګریوان وي. د ساري په ډول که خدای مه کړه کتابتون ته ولاړ شي او کوم کتاب راواخلي چې له ځان سره یې کور ته د لوستلو له پاره یوسي، هلته په کتابتون کې لکه د پخوا په شان کوم موظف شخص نه وي چې مرسته ورسره وکړي او دی په خپله د نه مطالعې او نا خبرتیا په وجه نه شي کولای چې هغه په ټاکلي ماشین کې ثبت او راجستر کړي. دغسې د سفر په وخت کې د ریل یا بس په تمځای کې له ماشین نه د ټکټ اخستل، له ځینو مغازو او دکانونو سودا اخستل او... دا ټول داسې خلکو ته د نه مطالعې له وجې ورپیښیږي.

دلته دی چې د ژوند په هره چاره کې له نویو قوانینو او پرمختګونو او بدلونو خبریدل یوه ضروري چاره باندې بدلیږي، که مطالعه ونه کړو، موږ نه شوکولای چې د نوي ژوند په کوڅه کې قدم اوچت کړو.

اصلي ستونزه دا ده چې په موږ کې د مطالعې کلتور یا هیڅ نه شته او که لږ شانتي وي هم، د بیلا بیلو عواملو له مخې ډیر په ټیټه سطحه کې دی. دلته اروپا کې ټول خلک د سفر په وخت کې ه ردول ترانسپورتي وسیلې چې کاروي، خامخا د مطالعې له پاره کتاب، مجله، اخبار یا کمپیوتر او تیلیفون له ځان سره اخلي، لولي یې، خپل وخت ښه پرې تیروي، ځان پرې بوختوي، خپل مالومات ډیروي، له ورځنیو پیښوځان خبروي او د سفر لار ورباندې لنډوي.

د همدغو اوږدو لارو د سفرونو په ترڅ کې ما په خپله، یو وارنه، بلکې په لسګونو ځلې لیدلي دي چې افغان لالا یا ویده وي، یا اوف و چوف او شکایتونه کوي او یا یې هم بهرنۍ مجلې او اخبارونه مخې ته نیولې وي، لوستل او نه لوستل یې چندان ورته مهم نه وي، کرارناست وي عکسونه یې ګوري.

عیني لیدنې ا وتجربو دا ښودلې ده چې افغانان یا هیڅ مطالعه نه کوي، یا یې ډیره لږه کوي چې په سلنه کې هم نه شي راتلای. د افغانانو د نه مطالعې اټکل مخامخ سړی د کتابونو، مجلو او اخبارونو له تیراژ نه هم کولای شي. په افغانستان کې دننه یا له افغانستان څخه د باندې د مثال په ډول که د چاپیدونکو کتابونو تیراژ په نظر کې ونیول شي او بیا د افغانستان له نفوس سره مقایسه شي، ن ود نه مطالعې په سلنه باندې ډیر ښه پوهیدلای شي.

که د افغانستان نفوس د اټکل له مخې ۲۹ یا ۳۰ میلونه په نظر کې ونیول شي او بیا د زرو یا دوو زرو ټوکونو په اندازه د کتابونو د چاپ تیراژ ته وکتل شي، نو ویلای شو چې څومره سلنه افغانان مطالعه کوي، په داسې حال کې چې همدا زر یا دوه زره ټوکه چاپ شوي کتابونه هم اخیستونکي نه لري. زموږ په ګاونډ تاجکستان کې چې اوه میلیونه نفوس لري، هر عنوان کتاب کم تر کمه د شپیتو زرو ټوکونو په اندازه چاپیږي (18)، خرڅیږي هم، لوستل کیږي هم. اوس د دواړو هیوادونو د مطالعې سلنه خپله سره وسنجوئ.

زموږ د ټولنې ډیری باسواده وګړي هم مطالعې سره علاقه نه لري، مطالعه نه کوي، که کوي یې هم، رسمي مطالعه کوي او غیررسمي مطالعه نه کوي. د ساري په ډول د ښوونځیو زده کونکي او د پوهنتون محصلین یوازې په خپلو رسمي کتابونو او لوستونو باندې بسنه کوي، نوره مطالعه ضروري نه ګڼي. کتابونه یا نه شته او که شته هم په کورونو او کتابتونو کې د خاورو خوراک کیږي.

بله ستونزه دا ده چې زموږ میډیا هم د کتاب او مطالعې د ارزښت په باب دومره چې ښایي،پاملرنه، یادونه او تبلیغات نه کوي. د لیکوالو او ژونالیستانو سانسورول او ډارول هم، کتاب او لوستلوسره مینه کموي. په رونې اندو او لوستو وګړو کې مو«ځان ته قایلیدل» هم د دې سبب کیږي چې مطالعه څخه لرې پاتې شي. لومړی باید موږ د مطالعې او له مطالعې سره د اړوندو لومړنیو ستونزو په باب فکر او خبرې وکړو، د مطالعې په مورد کې به د نورو خبرو په باب وروسته فکر کوو. د ساري په ډول په کوم وخت او په کوم حالت، کوم ډول چاپیریال کې مطالعه باید وشي، کتاب څومره له سترګونه لرې یا سترګوته نږدې ونیول شي، په څه ډول رڼا کې باید مطاله وشي، د مطالعې له پاره څه ډول موضوع یا کتاب انتخاب کړو، د مطا لعې په جریان کې کوم ډول موضوعات د بیا پیدا کولو او استفادې له پاره، څه ډول په نښه کړای شي. د مطالعې په لړ کې باید د یادولو کیفیت ته پام وکړو، نه کمیت ته، د مطالعې انګیزه او هدف باید معلوم وي او...

کتاب داسې دوست دی چې هیڅکله له چا نه مروریږي، مطالعه ده چې انسان له هر څه خبروي، که غواړئ څه ولیکئ، کم له کمه مو باید په لسګونه یا سل ګونه کتابونه لوستلي وي. مطالعه د دې له پاره باید ونه شي چې انسان مصروف شي، بلکې د دې له پاره باید وشي چې یو څه ورنه زده شي؛ ځکه چې کتاب ښوونکی دی، کتاب او مطالعه انسان ته لار ورښیي.

د تلویزیون او رادیو په پرتله، د مطالعې بله ګټه دا ده چې د مطالعې په لړ کې کولای شو فکر وکړو او د مفاهیمو په پوهیدا باندې خلاص لاس او د انتخاب حق ولرو، د مطالعې په وخت که په یوه موضوع په سمه توګه نه پوهیږو، کولای شو بیا ـ بیا یې ولولو، فکر او قضاوت ورباندې وکړو. په دې ډول دایمي مطالعه زموږ د معلوماتو خزانه لا بډایه کوي، د نړۍ د پرمختګ له څرنګوالي نه مو خبروي او د یو څه ویلو او لیکلو له پاره مو په علمي ډول چمتو کوي.

ماشوم ته په لوړ آواز د کتاب لوستل د افغانانو په منځ یا نه ده دود، او که وي، ډې ربه لږ او د ګوتو په شمار وي، خو د پرمخ تللو ټولنو تجاربو دا ښوولي ده چې ماشوم ته په لوړ آواز کتاب لوستل ډیر ګټور دي. څه موده مخکې مې چې د همدې مقالې له پاره لومړني مواد برابرول، په هیواد کې دننه د یو لیکوال له یوې تجربې سره مخ شوم. ښاغلي اسدالله غضنفر په دې برخه کې خپله یوه تجربه داسې ښوولې وه چې په لوړ آواز ماشوم ته د کتاب لوستل څومره مهم دي، ده د خپلې یوې تجربې د بیان په ترڅ کې دا مسأله داسې مهمه بللې ده:

«ما په ژوند کې په لومړي ځل له کتاب سره هغه وخت مینه پیدا کړه چې مشرې خور مې د «آمنه، مادر پیامبر» په نوم یو کتاب راته په لوړ آواز ولوست. دغه وخت به زه شاید په اول ټولګي کې وم. د تیر کال (۱۳۹۰) د جدي په لومړۍ نیټه چې مو همدا خور خاورو ته سپارله، په هدیره کې د نوم وړي کتاب یوه جمله، هماغسې چې په فارسي ترجمه شوې او زما په حافظه کې پاتې وه، بیا، بیا رایاده شوه. پیغمبر(ص) د خپلې مور بي بي په باره کې فرمایلي: مادرم از قبیله قریش بود و گوشت قدید مې خورد. خور راته ویلې وو چې قدید د لاندې غوندې وچې غوښې ته وایي.» (1)

له بده مرغه چې کوچنیانوته په لوړ آواز د کتاب لوستل په افغانستان کې څه چې دلته په پرمخ تللو ټولنو او شته امکاناتو کې هم په افغانانو کې دومره نه ده دود. یا ځان نه په عذابوو او یا هم د پردي دود په شان په بده سترګه ورته ګورو. په هیواد کې دننه او له هیواد نه د باندې، ټول مشران باید دې موضوع ته جدي پاملرنه وکړي چې ماشومانو ته په لوړ غږ د کتاب لوستل هغوی ته ډیره ګټه رسوي. هغه ماشومان چې د ژوند له لومړنیو کلونو نه کیسې او نکلونه اوري، هغوی به په راتلونکې کې بډایه او شتمنه ژبه ولري، ماشوم ته په لوړ غږ کتاب لوستل د دې سبب کیږي چې ماشوم په راتلونکې کې د پراخیدونکې تخیل خاوند شي؛ د همدې له پاره باید ماشوم ته په لوړغږ کتاب ولوستل شي او په لوړ آوازسندرې ورته وویل شي. د ماشوم د ژبې پایه او اساس د ژوند په همدغو کلونو کې ایښودل کیږي. ماشوم ته باید په لومړي ګام کې په مورنۍ ژبه کتاب ولوستل شي، بیا په نورو ژبو.

د میندو پلرونو دنده ده چې له ماشوم سره په لومړي ګام کې په مورنۍ ژبه خبرې وکړي، که ماشوم خپله مورنۍ ژبه په سمه توګه زده کړي، د نورو ژبو زدکړه ورته آسانیږي. ماشومان، ځوانان او لویان کولای شي د مطالعې له لارې په هر څه باندې پوه شي، کولای شي د زدکړې له لارې هر څه توضیح او بیان کړي او زدکړه له انسانانو سره مرسته کوي چې ټولې شته ستونزې د خبرو او پوهاوي له لارې حل کړي او له یو بل سره په آرامه خپل ژوند پرمخ بوزي.

بله خبره دا ده چې زموږ قلموال هم د لوستلو یا مطالعې ارزښت ته دومره پاملرنه نه ده کړې او نه یې کوي. له هغې ورځې چې کمپیوتري او برښنایي آسانتیاوو ته افغانانولاسرسی پیدا کړی دی او خپلې لیکنې، پیامونه او نظریات د همدې امکاناتو په چوکاټ کې ډیر ژر یو بل ته رسولای شي، د مطالعې د ارزښت په باب دومره د پام وړ کتابونه، مقالې او یا هم د ژورنالستانو رپوټونه نه دي تر سترګو شوي. کومې برښنا پاڼې چې زما له نظره تیرې شوي دي، په هغو کې مې د ګوتو په شمیر د موضوع په اړوند، یا په نیغه او یا هم په څنګځنې (ضمني) ډول د لوستلو یا مطالعې په اړوند ځینې مقالې، ګزارشونه او یادونې لیدلې دي، چې زه یې دلته لنډه یادونه کوم. البته زه د دې دعوا نه لرم چې زما له نظره به ټول هغه څه تیر شوي وي چې تر اوسه لیکل شوي دي، داسې به وي چې ځینې لیکلي شیان به ما نه وي لیدلي، که یې دلته یادونه نه کیږي، دا به زما د کار یوه نیمګړتیا وي، خو خپل قصور یې نه ګڼم او څوک دې ګیله هم نه کوي:

ـ کتابونه، اسدالله غضنفر،

ـ د کاغذي کتابونو ځای، کمپیوتري کتابونه نیسي، تاند ویبپاڼه،

ـ ماشومان څنګه مطالعې ته وهڅوو، ډاکترزغم،

ـ مطالعه، اجمل ښکلی،

ـ ماشومان څنګه مطالعې ته وهڅوو؟ ظریف افغان،

ـ افغانستان د کتابونو په نړیوال نندارتون کې لومړی راغی، مصطفی سالک،

ـ په پکتیا کې د کتابونو پلوراو د مطالعې دود تر پخوا ډیر شوی دی،سلطان پاچا،

ـ کتاب های آنلاین؛ تحولی شگرف در تجربه کتاب خوانی،تیم مسترز،

ـ له علومو اکاډیمی څخه یوه غوښتنه، اسدالله غضنفر،

ـ فروش کتاب درکندز رونق ندارد، روزنامه هشت صبح،

ـ په خوست کې ۱۲۰۰۰ ټوکه کتابونه ننداري او لوستنې ته وړاندې شول، بینوا ویبپاڼه،

ـ نمایشگاه سه روزه کتاب در بدخشان راه اندازي شد، ۸صبح،

ـ په کابل کې د کتابونو نندارتون، حکمت الله هڅاند،

ـ په پکتیا کې د کتاب پلورنځیو بې ساري وده، اسمعیل لاروی،

ـ ترویج فرهنگ مطالعه در بلخ،هشت صبح،

ـ ماشومان او مطالعه، ژباړه او اوډنه: رفیع الله ستانکزی،

ـ کودکان و نوجوانان در مرکز توجه نمایشگاه کتاب فرانکفورت، دویچه وله فارسي،

ـ سخنې چند به بهانه روزجهاني کتاب، احمدشاه عبادي،

ـ او ...

که حقیقت ته سړی ځیر شي، زموږ لیکوالو او فرهنګیانو په خپلو تحقیقي او تخلیقي لیکنوکې د مطالعې د تشویقولو په برخه کې دومره پاملرنه نه ده کړې. په ځینو لیکنو کې که دې موضوع ته پاملرنه هم شوې ده، د مطالعې د ضعیف کلتور په وجه هغه څوک لولي نه او پاملرنه نه ورته کوي. د ساري په ډول د اسدالله غضنفر«کتابونه»(1) نومی مضمون د مطالعې د څرنګوالي، ارزښت او تشویق په برخه کې، یو موثر او د پاملرنې وړ مضمون دی، خو د مطالعې د ضعیف کلتور یا بیخي نه مطالعې په وجه د چا پام هم نه ورته اوړي.

موږ لا د کاغذي کتابونو د مطالعې له پاره ځانونه نه دي چمتوکړي، خو نوره دنیا دومره پرمخ تللې ده چې اوس ـ اوس د کاغذي کتابونو د مطالعې ټغر ورټولوي او د برښنایي کتابونو لوستلو ته یې مخه کړې ده، چې هم ژر، آسانه او په ارزانه بیه ترلاسه کیدای شي او هم د وخت د ضیاع مخه نیول کیږي.

مطالعه نه کول، د مطالعې د نه کولو بیلابیلې ستونزې، اقتصادي ا وټولنیزې نیمګړتیاوې او یا په کتابونو کې د معلوماتو زوړوالی او د لوستونکي له ژوند سره په کتاب یا مضمون کې د معلوماتو او راوړل شوو موادو د نه تعلق او په روزمره ژوند کې په درد نه دوا کیدل هم کیدای شي چې د نه مطالعې په مخ کې د خنډونو د جوړویدو دلایل وشمیرل شي.

مطالعه، له مطالعې سره مینه، د مطالعې فرهنګ رواجول؛ له شخص نه نیولې، بیا تر وړکتون، ښوونځي، پوهنځي، پوهنتون، دولتي ادارو او شخصي دفترونو؛ ټولو پورې اړه پیدا کوي. کتاب ارزانه، بې مدعا او بې درد سرملګری دی. هرکله درسره غږیږي او هرکله چې وغواړې غلی کیږي هم، نه درنه خپه کیږي او نه کوم څه درنه غواړي، که یې خلاص کړې، ښې خبرې درسره کوي، خوشالوي دې، مالومات درکوي، حقایقو نه دې خبروي او که یې بند کړې درنه خپه کیږي هم نه، کتاب هغه دوست دی چې هیڅکله له چانه نه خپه کیږي، کتاب په هرحالت کې د انسان یار او مددګاردی، خوښي دې ډیروي او د غمونو په کمولو کې مرسته درسره کوي. یوه پوه د کتاب د ښیګڼو په باب څه ښه ویلي دي:

«د کتاب پاڼې هغه وزرونه دي چې زموږ روح د رڼا نړۍ ته ورالوزوي.» (18)

په هر صورت موږ باید قانع نه شو، د کار د ښه کیدو په خاطر باید هرکله دا جمله سترګو ته ودروو چې د کتاب لوستلو فرهنګ زموږ په ټولنه کې ډیر ضعیف دی. د کتاب لوستلو فرهنګ د رواجولو او عامولو له پاره باید مطالعه په یوه دایمي عادت باندې بدله کړو. دا کار په هر ډول شرایطو کې کیدای شي. ښه مثال یې هغه څه دي چې د افغانستان په خوست ولایت کې فرهنګیانو کړي دي. خوست د افغانستان له نا امنو سیمو څخه شمیرل کیږي، خو بیا هم کلتوري هڅې په کې شته. کلتوري غونډې، کلتوري ټولنې ... او په پای کې کتابونه د مطالعې له پاره وړاندې کیږي. (۱۱)؛ دوی له ډیرو نه ښه دي، د مرګ په بازار کې د مطالعې بازار پرانیزي.

له هر فرهنګي او د کورنۍ مشرسره ښایي چې هغومره لارښوونې چې زموږ د کورنۍ او ټولنې مشرانو کشرانو ته کړي، هغومره قربانۍ چې تیرو نسلونو زموږ له پاره ورکړې دي؛ موږ او نور نسلونو ته ښایي چې د هغو لس چنده او سل چنده کار او قربانیو ته اوږه ورکړو. دا مو باید هیڅکله هیره نه شي چې:

تر ټولو ستره ګناه نوي نسلونه په تیاروکې ساتل دي.

دا یو تریخ عیني واقعیت دی چې زموږ د ټولنې اکثریت،د سواد له نعمت نه محرومه دي. دې ترخه واقعیت ته په پام سره، دا موضوع د یادولو او جدي پاملرنې وړ ده: هغه خلک چې لوست او مطالعه نه شي کولای، باید له مسایلو او موضوعاتو نه د خبریدو له پاره غږیزو امکاناتو نه استفاده وشي، یعنې د باسواده کیدو تروخته پورې دې د مطالعې ځای غږیز وسایل ډک کړي. ښایي پخوا په دودیز ډول په ځینو ځایونو کې دا کار شوی وي، خو له نیکه مرغه چې د لومړي ځل له پاره په علمي او شعوري ډول د دې تشې ډکولو ته د فرهنګیانو ورپام شوی دی. اوس ممنون مقصودي بډې وهلي دي او په دې برخه کې یې کار پیل کړی دی. دې موضوع ته مې په بي بي سي ویبپاڼه کې د هیم جلالزي په قلم لیکل شوي «غږیز کتابونه او زموږ اړتیا» مضمون ته پام واوښت. هیم جلالزي ډیر په ځای او په وخت دې جدي او حیاتي مسألې ته پام کړی دی. دی د خپل مضمون په لړ کې لیکي:

«... ښاغلی مقصودي دا مهال په کابل کې له یوې سیمه ییزې رادیو سره کار کوي. ده هڅه پیل کړې، چې یو شمیر پښتو او دري کتابونه غږیزکړي.

زهره، لام (او) ایلینو، ارشاک و اوشاس او څو نور دغسې کتابونه یې دا مهال چمتو کړي دي. ښاغلی مقصودي غواړي چې په دې ډول ځینې ګټور کتابونه د ټولنې هغو خلکو ته هم ورسوي چې لیک لوست نه شي کولای ...» (19)

که خلک لوستي وي او مطالعه وکړي، پرته له شکه چې د ډیرو شخصي او ټولنیزو ستونزو د حل لار په مطالعه کې تر لاسه کولای شي. زموږ د رسنیو تعلیمي او ښوونیزه تله ډیره درنه څه چې، لږه هم درنه نه ده. د خپرونو ډیره سلنه مو سیاسي مذهبي مسایلو ته جلا کړای شوې ده. زه یې دلته د حساسیتونو د پاریدو په خاطر نوم نه یادوم، خو په عیني ډول لیدل کیږي چې

د ځینو ویبسایتونو د کتابتونونو، نوي سلنه آنلاین کتابونه تکراري مذهبي کتابونه دي، نه هغه کتابونه چې ځوانانو او نوي نسل سره د نویو اوعصري علومو په برخه کې مرسته وکړای شي. د دې تر څنګ ډیری خلک له تفریحي مسایلو سره علاقه لري، نه له ښوونیزو مسایلو سره. د راتلونکو نسلونو د روزلو مساله یا کاملاً هیره ده او یا دومره لږه پاملرنه ورته کیږي چې په نشت حساب ده. دا هم د سیاسیونو دنده ده او هم د قلموالو چې د نوي نسل روزل هیڅکله باید له پامه ونه غورځوي، خو سیاسیون کیدای شي چې خپلو روا او ناروا هدفونو ته د رسیدو له پاره کله دا جدي مسآله یا هیره کړي او یا پام ورته ونه کړي، خو زموږ د فرهنګیانو باید دا هیره نه شي چې د نوي نسل سمه روزنه یو بنیادي کار دی. د کنفوسیوس دا خبره مو باید هیڅکله هیره نه شي چې:

«که یو کلن ثمرغواړې، غنم وکره، که دوه کلن ثمر غواړې، ونه کینوه او که سل کلن ثمر غواړې، خلک وروزه»

تر ټولو مخکې باید سواد عام کړای شي، د ښوونې او روزنې کیفیت لوړ کړای شي، درسي نصاب او درسي کتابونو ته باید جدي پاملرنه وشي. زما له نظره دا د افسوس خبره ده چې د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت په تعلیمي نصاب کې غیر اړین مسایل ځای پر ځای کړای شي، د ساري په ډول که د کریکټ د زدکړې له امکاناتو نه په بل ډول استفاده وشي، ښه به وي. زه فکر کوم چې له غیر ضروري شیانو نه، که هغو مسایلو ته چې په ټول ژوند کې اړین دي او د ټولې دنیا په تعلیمي نصاب کې شتون لري، پاملرنه وشي، ډیره به ښه وي.لکه:

ـ د لومړنیو مرستو زدکړه،

ـ د اساسي قانون د موادو زدکړه،

ـ د ملي ګټو زدکړه،

ـ د ترافیکي قوانینو زدکړه،

ـ د ملي هویت او ملي ترمینالوژۍ زدکړه،

ـ او ...

زه په افغانستان کې له اوسني حاکم نظام او حاکمې پالیسۍ نه د هیڅ شي توقع نه لرم. په دې خاطر چې دولس کلني ناکامي تجربې ښودلې ده چې د نړیوالې ټولنې له ټولو امکاناتو سره سره، ښوونیز نظام ته دومره چې ښایي، پاملرنه نه کیږي، هلته د پخواني نظام کارکوونکو ته په یوه نامه بد رد ویل او د اوسني نظام مامورینو ته په بل نامه ښه ویل، د ورځې شعار ګرځیدلی دی. په دې ښکنځلو او شعارونو، نه وران وطن جوړیږي، نه ښوونیز نظام سمې لارې ته سیخیږي او نه هم نوي نسل ته د زدکړې او مطالعې زمینه برابریدای شي.

په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې د مطالعې د نه کولو کلتور د حاکمیدو بل لوی لامل د افغانانو په منځ کې د باور او اعتماد د ضعف او بهتره ده ووایو، نشتوالي مساله ده. دغه د باور نشتوالی دی چې څوک چاته کتاب نه ورکوي، څوک له چا څخه کتاب نه اخلي، نه یې لولي. د بهانو یادونه خو یې مخکې وشوه، خو د اعتماد د نشتوالي موضوع یې اصلي موضوع ده، خو څوک یې نه یادوي.
موږ که وغواړو که ونه غواړو، د تمدن او تکنالوژۍ کاروان په چټکۍ مخ وړاندې روان دی او موږلکه بې لاسو، بې پښو او بې سترګو انسانان له دې کاروانه د نه تعلیم او نه مطالعې په وجه، داسې وروسته پاتې یو چې په سترګو یې نه شو لیدلای او د تلونکي کاروان د پښو ګردونه هم پناه کیدونکي دي؛ موږ لاځان د کتاب، مجلې، اخبارله مطالعې سره نه دی آشنا کړی؛ خو د

پرمختګ د کاروان د لارویانو په منځ کې د کاغذي چاپ مطالعه له رواجه څخه په لویدو ده. دوی اوس د زرګونو کتابونو درلودونکي کتابتونونه په خپلو کمپیوترونو او موبایلونو کې، له ځان سره ګرځوي، هره شیبه او هرځای یې چې زړه وغواړي، پرانیزي یې او لولي یې.

په سبا باندې باور په ټولونړیوالو کې یو منل شوی او عیني واقعیت دی. د همدې اصل پربنا ویل شوي او ویل کیږي چې:

«د نن ورځې ماشومان، د راتلوکې نړۍ جوړونکي دي.»؛

نو دا بې ځایه نه ده چې د کوچنیانو او ځوانانو مشهور سویدني لیکوال، آستریدلیندګرن (۱۹۰۷-۲۰۰۲) د خپلو بې شمیرو بریالیو تجربو په پای کې ویلي دي:

«دا چې راتلونکې نړۍ به څه ډول وي، په پراخه پیمانه د هغو کسانو په تخیل او تصور پورې تړلې ده، چې اوس لوستل زده کوي» (20)

مآخذونه:

-1http://taand.com/index.php?mod=article&cat=taand4&article=33684
-2hppt://taand.com/index.php?mod=article&cat=taand6&article=31586

-3hppt://taand.com/index.php?mod=article&cat=hcildcare&article=27049

-4hppt://taand.com/index.php?mod=article&cat=taand4&article=28841

-5article=27069=کر هکتنه&http://taand.com/index.php?mod=artic
-6http://www.bbc.co.uk/pashto/afghanistan/2012/05/120514 ss-afghanistan-1st-in-book
-7http://taand.com/index.php?mod=article&cat=taand3&article=32236
-8http://www.bbc.co.uk/persian/arts/2012/05/120525 141 books transitions.sht
-9http://taand.com/index.php?mod=article&cat=taand3&article=33604
-10 http://www.8am.af/index.php?option=com_content&view=article&id=25585:1391-0...
-11http://www.benawa.com/kandahar/fullstorys.php?id=49327
-12 http://www.8am.af/index.php?option=com content&view=article&id=25555:1391-0…
-13http://taand.com/index.php?mod=article&cat=taand3&article=33369
-14http://www.tkg.af/pashto/culture-art/others/6509
-15 http://www.8am.af/index.php?option=com_content&view=article&id=23900:1390-1...
-16http://taand.com/index.php?mod=article&cat=childcare&article=26627
-17http://www.dw.de/ کودکان-ونوجوانان-در-مرکز-توجه-نمایشگاه-فرانکفورت/a16290588
-18http://www.ariane.com/dari3/farhangi/ebadi.htmll
-19http://www.bbc.co.uk/pashto/interactivity/2012/10/121013_ss-hamim-audio-books.shtml
-20http://www.dw.de/article/0,,16290588,00.html

نوی نسل، مطالعه، ستونزې او نوې هیلې

دویمه مقاله

د ۲۰۱۳ م کال د فبروری پیل کې مې، د«پردی چاپیریال اودکوچنیانواوځوانانودزدکړې مسآله » ترسرلیک لاندې د «مطالعه اوله مطالعې سره اړوندې ستونزې » پرموضوع باندې یوه مفصله مقاله خپره کړه. (۱) د دې مقالې انعکاس او تاثیر، دومره چې زما هیله وه، د پاملرنې وړ نه و. حتی تر دې چې ځینو د حساب وړ قلموالو راته وویل چې زما یاده مقاله د دوی له نظره تیره شوې هم نه ده؛ دا خو لا پرېږده چې هلته په نښه شوو ستونزو ته یا پام وکړي، یا په دې کار کې زما په ملاتړ څه ولیکي او یا په دې برخه کې د نورو مقالو د لیکلو او د دې ستونزې د حل له پاره څه وړاندیزونه راته مخ کې کیږدي؛ خو زه مآیوسه نه شوم، خپل کار ته مې ادامه ورکړه، په بیلابیلو شخصي او رسمي فرهنګي ناستو کې مې د سواد، نوي نسل، د ښوونې – روزنې او په تیره مطالعې دود رواجېدو باندې نورهم خپل ټینګار ته دوام ورکړ.

په تیره یاده مقاله کې ما ویلي وو:

«مطالعه او مطالعه کیدونکي شیان، د فرهنګونو او نسلونو تر منځ د پلونوحیثیت لري. د مطالعې له لارې، هر نسل کولای شي چې له خپل تاریخ، فرهنګ، علمي لاسته راوړنو او... خبر شي؛ د خپل تیر وخت او تر سره شویو کارونو او تجربو سره آشنا شي، د خدمتونو په څرنګوالي پوه شي، په ناکردو او نادودو خبر شي، اوسنی حالت درک کړي چې چیرې دی او د راتلونکې په باب د وړاند وینې توان تر لاسه کړي او د ځان له پاره ځای او دریځ غوره کړي. دا هر څه د مطالعې له لارې ترلاسه کیدای شي.» (۱)

څومره چې زه میډیا تعقیبوم، ګورم چې په دغه عصر کې د مطالعې اړتیا چې څومره د نورو خلکو له پاره محسوسه او اړینه ده، موږ دا اړتیا نه ده درک کړې. موږ لا د کاغذي کتابونو د پیداکولو، په کور کې یې دلرلو او ساتلو اړتیا نه ده درک کړې؛ نور خلک په دې پوه شوي چې اوس کاغذي کتابونه یوازې د ډیکوریشن له پاره کارول کیږي، اوس نور خلک له ځان سره د

کتاب وړلو ته اړتیا نه احساسوي، هر څه په بریښنایي ډول په کمپیوتر، آیپیډ او موبایل کې ورسره دي او هرڅه چې یې زړه وغواړي هملته یې په جیب کې پراته دي، مطالعه کوي یې.
کله، کله یونیم قلموال د مطالعې او کتاب پ راړتیا چیرته غږ اوچت کړي او پر ښیګڼه او اړتیا یې غږیږي. دغو مثالونو ته پام وکړئ:

ـ ګټوره مطالعه به څنګه کوو؟(۲)

ـ قفسه خالي کتاب کودک در افغانستان(۳)
او...

په پاسنیو مضامینو کې او یا دې ورته ځینو نورو مقالو کې چې د کتاب او مطالعې په باب لیکل شوې دي، که د مطالعې پر ستونزو خبرې او بحث وشي، کیسه به ډیره اوږده شي. خو اصلي کیسه داسې ده چې په مطالعه باندې عادت کیدل باید له کوچني والي نه پیل شي. باید په کوچنیوالي کې ماشوم ته د کتاب او مطالعې ارزښت وروښودل شي. باید لا په ډیر کوچنیوالي کې کتاب ورته ولوستل شي، کیسې او داستانونه ورته واورول شي چې ژبه یې غني شي. ماشوم ته په لوړ غږ سره د کتاب لوستل، د هغه د تخیل له ودې سره مرسته کوي او... موږ نه یوازې دا کار نه کوو، بلکې نورې ډول، ډول نادودې هم ورسره کوو.

هلته په افغانستان کې ډیرې ماشومان داسې دي چې میندې پلرونه یې د دې پر ځای چې وړکتون، ښوونځي او پوهنځي ته ولیږي، د مزدورئ او ګدایي له پاره یې چمتو کوي. یا یې پلار مړ دی باید د روزي پیدا کولو په غم کې وي او یا یې مور او پلار د سواد، ښوونځي او لوست په ارزښت نه پوهیږي او...
په اروپا کې چې د وړیا زدکړو شرایط او چاپیریال ښه برابر دی، ډیره سلنه میندې پلرونه د دې پر ځای چې خپل بچیان ښونځی او پوهنځي ته تشویق کړي، د پیسو د ترلاسه کولو له پاره یې پیزاري ته لیږي او په غوږ کې یې ورته پو کوي چې:«اوس خو پیسې پیدا کړه درس خو هر وخت شته!» په دې نه پوهیږي چې د ماشوم او ځوان د زدکړې وخت څه وخت وي او هغه وخت چې تیر شو، بیا نو...

خو د دغو منفي خبرو تر څنګه مې په دې نږدې ورځو کې د کتاب، مطالعې د فرهنګ د عامولو او رواجولو په اړوند، په ټولنیزو رسنیو کې په دوو خبرونو سترګې ولګیدې چې په رښتیا د خوښۍ وړ وو او دغو هڅو ته یو څه هیله من شوم.

زما د مالوماتو له مخې د افغانستان په ځینو ولایتونو کې له دولتي کتابتونونو څخه، شخصي دا ډیرې په مینې سره د فرهنګ او ښوونې روزنې په برخه کې فعاله دي. چې له هغې ډله نه په مشرقي کې د استاد آصف صمیم شخصي کتابتون د یادولو وړ دی، خ وما یې تر اوسه په باب په میډیا کې کوم رسمي ګزارش نه دی تر سترګو شوی.

د همدې ښو خبرونو په لړ کې په مې په «nahimi.dk» ویبپاڼه کې بیا هم په مشرقي کې په لغمان کې په الینګار کې د یوه فرهنګي مرکز د جوړیدو خبر ترسترګو شو. د خبر په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«ګرانو دوستانو! د تیرو دوو کلونو په جریان کې، په ډنمارک کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې او په الینګار کې د نعیمي تعلیمي او صحي بنیاد په ګډو هلوځلو او دنمارک د مهاجرینو د ادارې په همکارۍ موږ وکولای شول چې د ښکلي لغمان د الینګار په سیمه کې، د نړیوال ستاندرد او نورم سره سم یو فرهنګي مرکز او کتابتون د سیمې د شریفو اوسیدونکو د مشکلاتو د حل په خاطر آباد او ګټې ته وسپارو.» (۴)

زه د دغسې یو ټولګټې مرکز جوړونکو ته کور ودانی او مبارکي وایم او دې ته مې سترګې په لاره دي چې دا کلتور نور هم عام شي، څو زموږ د ټولنې د ځوانانو د سالم مصروفیت او سالمې روزنې له پاره یو ریښتینی مرکز وي او له مسولینونه یې هیله لرم چې د دې عام المنفعه فرهنګي مرکز په باب په راتلونکو کې مفصل ګزارش خپور کړي. دغه راز زه هیله ورنه کوم چې په دغسې فرهنګي مرکزونو کې غرض درلودونکو خلکو ته د ننوتو او فعالیت زمینه برابره نه شي، که نه نو هر څه به د تشدد په رنګ ورنګوي او منفي لارې ته به یې سوق کړي.

دمخکتاب په پاڼو کې هره ورځ له داسې نا پسندلو شیانو سره مخ کیږم چې زمولوي مې او بیا له «بي بي دیموکراسي» نه مې ګیله راځي چې ستا تر نامه لاندې وګوره ځوانان څه دي چې نه کوي، خو آبله ورځ مې د مخکتاب د کوڅو یو یار د چا کوم فرهنګي یو انځور لایک کړی و، په لیدو مې یې زړه وغوړید چې کاته مې د کتاب او مطالعې کیسه وه او د دغه انځور:



په اړخ کې یې داسې لیکلي وو:

«د ننګرهار میدیوتیک کتابتون ته هره ورځ لسګونه کسان مراجعه کوي:

ننګرهار میدیوتیک کتابتون ته هره ورځ لسګونه کسان راځي او د مطالعې لپاره کتابونه اخلي. که څه هم چې د میدیوتیک کتابتون ډېر پراخ او غني نه دی، خو څومره کتابونه، چې شته بیا هم د ختیزو سیمو د ځوانانو د خدمت لپاره چمتو شوي.

د ننګرهار په میدیوتیک کتابتون کې د اکثرو فنونو او علومو اړونده کتابونه شته، خو د ژورنالیزم د زده کړې برخه په کې تر نورو ډېره ده. میدیوتیک د خپل کتابتون د لاپراختیا او پالنې ژمنه کوي. ننګرهار میدیوتیک سنتر» (۵)

څو نور انځورونه یې هم ایښي وو چې ځوانان ناست دي او د اخبارونو او کتابونو په مطالعه بوخت دي. شکر مې وایست، په کابل کې د پل سوخته او سره پله لاندې ځوانان هم راپه زړه شول بیا مې هم وویل:
خدایه څه به شوي وای چې دا تر پله لاندې بې سده ځوانان هم کتاب په لاس، مستې شرقنده څنې یې باد اړولای، ښوونځي او پوهنځي ته روان وای او یا یې لپ ټاپ په بکس کې پروت وای او

هره شیبه یې د نړۍ د وروستیو اختراعاتو او په خپل مسلک کې د نویو او تازه مالوماتو په باب مطالعه کولای.

د مطالعې او کتاب د عامیدو په برخه کې دغو پاسنیو مثالونو او فعالیتونو ته په کتو سره مو لږ تمه پیدا کیږي چې د ښیګڼې په لوري یوامید لرونکی حرکت شته. موږ باید له خوبه راویښ شو، د علم په زدکړې پسې بډې ووهو او موږ باید دغسې وکړو، ځکه چې اوس وخت بدل شوی، جګړه تیزه شوې، او په جګړه کې حرکت او فعالیت او په جګړه کې کارول کیدونکې سلاح هم بدله شوې.

دغه انځورته وګورئ چې دپاسنیو خبرو ښه ګواهي کیدای شي:



دغه بحث نه زوړ دی او نه هم زړیږي، د ژوند د هرې پاڼې له بدلیدو سره بدلیږي او نوی کیږي؛ ځکه زه نه وایم چې د دغو خبرو په پای کې، بلکې وایم چې د اوسني بحث او د اوسنیو خبرو د ښه پای له پاره به د لاهڅوني په خاطر د کنفوسیوس دا نه زړیدونکي خبره بیا را واخلم:

«که یوکلن ثمرغواړئ،غنم وکرئ،
که د دوه کلن ثمرهیله لرئ،ونه کینوئ،
که موسل کلن ثمرپه کار وي، خلک وروزئ.»

(کنفوسیوس)

مآخذونه:

1-http://tolafghan.com/posts/26938

2-http://www.taand.com/archives/3112

3_http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2013/04/130423_k05_afghan_book_world_day.shtml

4-http://www.nahimi.dk/web/index.php/ps/2012-08-11-18-15-31?start=40

5_https://www.facebook.com/photo.php?fbid=611630218916950&set=a.102862586460385.5787.100002099323336&type=1&theat

کتاب، مطالعه او زموږ دریځ

دریمه مقاله



د مطالعې او کتاب لوستنې په باره کې زما دوې مقالې پخوا نشرشوې دي. (۱-۲) په یادو مقالو کې ما پر دې ټکي باندې ټینګار کړی دی چې د پوهې او وړاندې تګ اصلي لار پرله پسې مطالعه او له کتاب سره مینه ده. کتاب د تمدنونو تر منځ د پلونو حیثیت لري، که موږ په دې پله باندې ګذر ونه کړو، نه شو کولای چې په بیلابیلو برخو کې د نورې دنیا له پرمختګونو او لاسته راوړنو نه خبر شو، یوازې کتاب او مطالعه ده چې دې پاک او مقدس هدف ته مو رسولای شي.

په تیرو دوو مقالو کې ما دا هم ویلي وو چې د مطالعې موضوع نه زړه ده او نه هم زړیږي. د مطالعې د فرهنګ د رواجیدو په خاطر دا موضوع چې هر څومره تبلیغ او یاده شي، هغومره ښه او ګټوره ده.

هر کتاب چې موږ لولو، په حقیقت کې د هغه لیکوال سره ځان مخامخ درووو، یا یې خبرې منو او یا د هغه د افکارو د رد له پاره زموږ په ذهن کې دلایل پیدا کیږي او د هغه په نه شتون کې له هغه سره مناظره کوو.

په حقیقت کې هر انسان یو کتاب دی او هر کتاب یو انسان. په دې حساب په نړۍ کې اوه میلیارده نالوستي کتابونه شتون لري. لیکوال د خپل اوږده ژوند تجربې د یوه کتاب په بڼه زموږ په مخ کې په ډیرې مهربانۍ سره ږدي او موږ کولای شو د هغه د کلونو، کلونو زحمت یوازې په څو ساعتونو یا څو ورځو کې په وړیا ډول تر لاسه کړو.

همدا کتابونه دي چې موږ لاس نیولي د خوشال وخت ته بیایي، له حمید اور حمان بابا سره مو کینوي، د پیرروښان له فلسفي او دیني افکارو نه مو خبروي، د بیټ نیکه د دعایي په لیکه کې مو دروي او د ښکارندوی د قصیدې له لارې مو د پسرلیو له مستو څپو سره آشنا کوي او...

همدا کتابونه دي چې موږ د خوشال د قصایدو، غزلیاتو او مثنوي په بحر کې لمبوي، د حمید موشګافیاني راته مخکې ږدي او درحمان بابا د تصوف پر وزرونو مو آسمان ته خیژوي.

هغه تجارب چې خوشال د خپل سر او وینو او زندانونو د تیرولو په بیه په اوږدو کلونو کې تر لاسه کړي وو، موږ د کتاب او مطالعې په برکت کولای شو په څو ورځو کې په وړیا ډول په خپل کور کې تر لاسه کړو؛ خو په دې شرط چې د مطالعې کلتور په موږ کې عام شي، تبلیغ او رواجولو ته یې کار وشي، ځوان نسل وهڅول شي چې خپل فارغ وخت د ګټورو آثارو په لوستلو ډک کړي.

د نوبل جایزې ګټونکی لیکوال کولمبیایي ګابریل ګارسیا همدا څو ورځې مخکې د اوه اتیا (۸۷) کلونو په عمر له نړۍ نه سترګې پټې کړې. یوازې «سل کاله یوازېتوب» نومی اثر یې دیرش (۳۰) میلیونه نسخې خرڅ شوی دی (۳) دا په دې چې خلک یې د مطالعې کلتور لري، اخلي یې، لولي یې، د خپل لیکوال او د هغه د آثارو قدر کوي؛ خو زما په مورنۍ ژبه او زما په وطن کې یو کتاب د پنځه سوه (۵۰۰)، زر (۱۰۰۰)، یا دوه زره (۲۰۰۰) نسخو په شمیر چاپیږي، خو دوه سوه نسخې هم نه خرڅیږي، دا ځکه چې تر اوسه په موږ کې د مطالعې کلتور عام شوی نه دی. کتاب دومره چې ښایي لوستونکي او لیوال نه لري.

د ۱۹۹۲کال د پسرلي په پای او د اوړي په پیل کې مې لیکوال او ژورنالست عبیدالله محک په پیښورکې په داسې حال کې ولید چې د کابل د جنګونو له وحشت نه دواړه روغ رمټ راوتلي وو، د لیدلو داستان مې په خپله سفرنامه (لار ورکې لارویان) کې په مفصل ډول لیکلی دی. بیا هم موږ لکه وچې پاڼې بادونو پسې واخیستو او چیرته لرې یې په کوم پردي او بیا بل پردي وطن کې سره وغورځولو. دی بیا د یوې آزموینې له تیرولو وروسته په لندن کې د بي بي سي په دفترکې کار پیدا کړ او هلته لاړ، زه هم ولویدم په ډنمارک نومي وطن کې. د دوه زره دولسم کال د نومبر په اولسمه نیټه مو چې په کوپنهاګن کې په یوه فرهنګي محفل کې وروسته له شلو کلونو بیا دیدن سره وشو، له جوړتازه نه وروسته کومې څنډې ته شوو، زما لومړنۍ پوښتنه له محک نه دا وه:

په څه لګیا یې؟

ده نابېره راته وویل:

یو ناول مې مخامخ په کمپوترکې لیکلی و، څه پرې وشول ټول وتوږل شو یعنې له لاسه مې ووت او اوس مې یو بل ناول راپیل کړی دی، خو... ما سمدلاسه وغبرګه کړه نو خو یې په څه کې ده؟ ده وویل:

هغسې چې ستا تمه ده هغسې به نه کیږي.

ما ورته وویل ولې دا خو د خوشالۍ خبره ده چې پښتوکې یو بل ناول زموږ په داستاني ادبیاتو کې ور اضافه شي. ده وویل چې دا کار ځکه نه کیږي چې زه دا ناول په پښتو نه، بلکې په انګریزي ژبه لیکم. زما پرزړه د نا امیدۍ څپې را روانې شوې په یآس مې ورته وویل ولې په انګریزي ولې په پښتونه؟

ده په ټیټ غږ راته وویل:

پښتانه یې نه لولي.

ما د ځواب او استدلال له پاره نور څه نه درلودل، ځکه چې له دې خبرې څو موده مخکې ما د مطالعې په باب په خپله یوه مقاله کې دې موضوع ته په ټینګارسره اشاره کړې وه چې په موږ کې یا د مطالعې کلتور هیڅ نه شته او که وي هم ډیر ضعیف او په ټیټه سطحه کې دی.

د مطالعې د نه کولو بله خاطره به هم تاسو درنو لوستونکو سره شریکه کړم. دا تیر کال د سیاست پوه او فرهنګي شخصیت عبدالرحیم هاتف په ځنازه کې د ګډون له پاره هالند ته تللی وم. د جنازې او فاتحې له مراسمونه وروسته د «لر او بر» ځوان او پرکاره چلوونکي ښاغلي عبدالله احسان په بلنه له بیلابیلو هیوادو څخه راغلي ګڼ شمیر فرهنګیان د ده په استوګنځي کې د یوه فرهنګي بنډارله پاره سره راټول شول. زما په څنګ کې ډاکتر واحد نظري ناست و. خبرې ډیرې سر یې یو ما په همدې مطالعې او د نوي نسل په روزنه باندې ټینګار کاوه او ډاکتر صاحب واحد نظري ته مې وویل چې دا اوس زموږ او تاسو دنده ده چې خپل زدکړې علمي تجارب د نوي زمان له غوښتنو سره یو ځای کړو او د نوي نسل د سالمې روزنې له پاره یې د دوی مخکې کیږدو.

ډاکتر صاحب د یوې جملې په ویلو سره زما د احساساتو په بل کړي اور باندې اوبه وشیندلې:

«چا ته یې لیکې، هسې یې هم څوک لولي نه، کله چې سړی مخاطب و نه لري، نو چاته یې ولیکي او چا ته یې ووایي.»

او دا هغه تریخ واقعیت دی چې په موږ افغانانو په تیره په پښتنو کې شته؛ خو باید مایوسه نه شو، په نیمه لار کې پاتې نه شو، د مطالعې د کلتور د عامولو له پاره باید نور هم کار وشي. لکه په تیره برخه کې مې چې په ننګرهار کې، د ننګرهار میدیوتیک کتابتون او په لغمان کې د نعیمي فرهنګي مرکز کتابتون نمونه وړاندې کړې وه. دا د مطالعې د کلتور د عامولو له پاره موثر او باوري ګامونه دي. په هغه پسې دا دی د کتاب د نړیوالې ورځې په مناسبت په کابل کې د کتابونو د نندارتون پرانستل کیدل (۴) یو ځل بیا په دې لاره کې یو بل ډیر ستر او موثر ګام بلل کیږي، هیله ده چې دا دود او دستور نور هم عام شي، وغځول شي، د سیاسي، قومي، سیمه ایزو او ژبنیو تضادونو پر ځای باید ځوانان مطالعې او د پوهې تر لاسه کولو ته وهڅول شي او دا کار ورو، ورو په عامیدودی.
څو ورځې مخکې مې په تاند ویبپاڼه کې د کتاب او مطالعې په باب د ډاکتر صاحب محب زغم پر مقاله سترګې روښانه شوې، چې د مطالعې او له کتاب سره د مینې پر اړتیا ټینګار شوی وو، ډاکتر صاحب زغم د خپلې مقالې په پیل کې د دې کار اړتیا ته داسې اشاره کړې ده:

«په انټرنټ کې مې د کتاب په اړه مقولې لټولې. په پارسي کې سلګونه مقولې راغلې، خو په پښتو کې یوه هم نه وه. له یوه انګریزي سایټ مې دا وجیزې وژباړلې، کیدای شي د نورو هم په کار شي.» (۵)

وروسته له دې نه یې دکتاب په باب دسترولیکوالودوه شپیته مقولې را اخیستې دې،چې رښتیا دکتاب ارزښت په کې ښودل شوی دی اومطالعې دعامیدو له پاره یوه ښه اومناسبه لار یې ګڼلای شو.

موږباید مطالعه وکړو، نوي نسل ته یو څه ور زده کړو، یو ښه او مثبت شی. نوي نسل ته باید د نویو علومو د زدکړې لاروښیو، موږ باید نوي نسل ته د نفرت پر ځای د مینې لار وښیو او دا کار د دوامدارې مطالعې له لارې ښه کیدای شي.

بې ځایه به نه وي چې د کتاب او مطالعې پر ارزښت باندې د ټینګار له پاره دلته هم د سترو پوهانو او مفکرینو یو څو خبرې را واخستل شي:

ـ مطالعه پرذهن باندې داسې مثبت اثرلري لکه ورزش یې چې پربدن لري.(ریشارد ستیل)

ـ دکتاب پاڼې هغو وزرونوته پاتې کیږي چې دانسان روح درنا پر لوري الوزوي.(ولتر)

ـ نیکمرغه هغه څوک دی چې له دې دووڅیزونوڅخه یوه ته لاسرسی لري:کتاب یا دکتاب له اهل سره دوستي.(ویکتورهوګو)

ـ اصلي پوهنتون هغه ځای ته ویل کیږي چې دکتابونویوه ټولګه په کې راټوله شوې وي.(توماس کارلایل)

ـ که یوه ورځ کتاب ونه لرم، لیونی به شم.(پلو تارک)

ـ دا کتاب وچې زه یې له خوسا ډنډ نه راویستلم،که نه نومړبه وم.(ګورکي)

ـ کله چې ښه کتاب پرانیزئ،فکروکړئ چې خپل کوم ډیرښه دوست ته ورغلي یاست.(...)

ـ که مورنه وي،دانسان جسم نه شي جوړیدای؛که کتاب نه وي روح نه روزل کیږي.(پلوتارک)

ـ دانسانانودنیکمرغۍ اساسي رکن کتاب دی.(فریدریک شیلر)

ـ دشلمې پیړۍ دتمدن اصلي ستن کتاب دی.(روزولت)

ـ داسې غم به نه وي چې په مطالعې سره لرې نه شي.(مونتسکیو)

مآخذونه:

1_http://tolafghan.com/posts/26938

2_http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_nawy_nasel_motala.pdf

3_http://www.bbc.co.uk/persian/arts/2014/04/140405_l41_marquez_obituary.shtml

4_http://www.bbc.co.uk/pashto/multimedia/2014/04/140421_hh-kabul-book-show-pg.shtml

5_ http://www.taand.com/archives/23559

کتاب سوځوونه

د عربي هیوادو داعشیان او زموږ د وطن ټوپکیان

څلورمه مقاله

د جګړې له توري نه وروسته په قوس کې وژنه، وینې تویول، لوګي، تباهي او ورانی لیکل کیږي. جګړه هر چیرې او هر وخت کې چې وي، جګړه ده. آبادي په کې نه شته، ورانی دی او خرابي. رښتیا یې ویلي دي:

«په جګړه کې آسونه نه چاغیږي»

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په یو دیرشمه نیټه مې د بي بي سي په ویبپاڼه کې یو مطلب ولوست چې داعشیانو په خپل قلمرو کې کتاب سوځول پیل کړي دي. د بي بي سي په رپوټ (په موصل کې د داعش کتاب سوځونه) کې د داعشیانو د کتاب سوځونې په باب راغلي دي چې د عراق په شمالي ښار موصل کې داعشیانو د دوو زرو شاو خوا کې کتابونه، د غیر مذهبي کتابونو په نامه له کتابتونونو څخه را ایستلي دي.

اوس د دې ډار شته چې د عراقي ورځپاڼو هغه کلکسیونونه چې یوه پیړۍ پخوا خپاره شوي وو، له منځه نه وي تللي.

عیني شاهدانو ویلي دي چې وروسته له هغه چې داعشیانو له مرکزي او عمومي کتابتونونو څخه کتابونه وایستل، خلکو ته یې ویلي چې کفر آمیزه کتابونه باید وسوځول شي.

د دې مطلب په لوستلو سره مې د خپل وطن ټوپکیان او له کتاب او کتابتون سره یې چلن را په زړه شو او د ککرې په کومبزه کې مې د خپل وطن جګړه، د جګړې اور او لوګي یو وار بیا تاو را تاو شول. ټولې هغه نا خوالې، نا دودې او نا کردې چې ټوپکیانو کابل ته او افغانستان ته په راتګ سره کړې وې، یو وار بیا لکه بریښنا زما د سترګو او ذهن په آیینه کې را ښکاره شوې او ډیر ژر مې دوه منفي یادونه د ذهن له تا خانو څخه را بر سیره شول:

یو دا را په زړه شول چې د نجیب الله د حکومت له سقوط سره سم کله چې ټوپکیان د کابل په بیلابیلو سیمو کې حاکم شول او په خپل منځي جګړو یې پیل وکړ، نو کله به یې چې د خلکو او یو د بل غولولو او خپلو اکمالاتو په غرض د څو ساعتونو او یا څو ورځو له پاره اوربند سره وکړ، نو د بیکارۍ په وخت کې به یې کوڅه ډب سپې او لارویان په نښه ویشتل. دا پیښه ما نه اوریدلې ده او نه مې په کوم کتاب کې لوستلې ده، بلکې زما د سترګو لیدلی حال دي چې زما د اوسیدلو په ځای کې، کابل پوهنتون ته ورځیرمه د دهبوري په سیمه کې ایله جاري او خپلسرو ټو پکیانو تر سره کوله.

او بل مې دا را په یاد شول چې د کابل د نوي ښار په سیمه کې د افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې د همدې ټوپکیانو د یوې ډلې له خوا د لیکوالو ټولنې له ګدامونو څخه په زرګونو کتابونه را ایستل کیدل او د کفري کتابونو په نامه سو ځول کیدل. دا هم لکه د دهبوري پیښه نه اوریدل شوې او نه هم په کوم کتاب کې لوستل شوې ده، بلکې د هغه وخت د لیکوالو د ټولنې څو تنو

غړو په خپلو سترګو لیدلي ده او یو له هغو نه چې شاعر او لیکوال هم دي، دا د سترګو لیدلی حال په هنر مندانه ډول لیکلی دی. دا شاعر او لیکوال پرتو نادري دی.

پرتو نادري د خپلو سترګو لیدلی حال په ډیر سوز ناک هنري ډول د «کتاب سوزان در انجمن نویسندگان افغانستان» تر عنوان لاندې لیکلی دی. د ده دا لیکنه د سویدن له ستاکهولم نه په خپریدونکي «فردا» مجله کې زما له نظره تیره شوې ده. د دې لیکنې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«په پای کې ټوپکیانو د افغانستان د لیکوالو ټولنې د رییس دفتر هم قبضه کړ او موږ ټولو د انجمن د تحریراتو رییس، سید حاکم دفترته ورپه ځټ شوو. د افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې دا زموږ وروستی سنګرو، که کومه ورځ داسې شوې وای چې موږ دا کوټه هم له لاسه ورکړې وای، نور به د لیکوالو ټولنه یوازې یوه عسکري قطعه وه اوبس.

کوټه ډیره وړه وه او د افغانستان د لیکوالو ټولنې پاتې غړي مجبور وو، چې خپلې ورځې په کې تیرې کړي.

یو قومندان او د هغه نږدې یار، د افغانستان د لیکوالو ټولنې له ریا ست نه د خوب کوټه جوړه کړې وه. د ریاست په کوټه کې د چهار مغزله درانده لرګي څخه جوړ، یو غټ میز ایښودل شوی و، چې ښکلي او زړه وړونکي نقشونه پرې کیندل شوي وو...

دا میز له لویې حوصلې، د مجاهدینو د دوران له ټپونو او ناخوالو سره، د طالبانو دورې ته هم په میراث پاتې شو. ښایي یو دلیل یې دا وي چې د دروندوالي په وجه یې رستم ډولی سړی په کار و، چې بل ځای ته ولیږدول شي...
د ټوپکیانو قومندان له دې میز نه د خوب د کټ استفاده کوله او موږ په ورځو، ورځو لیدل چې یو څوک پرې ویده وي.

کله چې د۱۳۷۱ لمریز کال ژمی راورسید، د دې میز تر څنګه بخاری کیښودل شوه. د بخاری خوله د بې ادبانو د خولې په څیر، تل خلاصه وه.

عجیبه بخاری وه، کتابونه یې لوستل. او شپه او ورځ یې لوستل، خو د شپې له خوا یې په رښتیا ډیره مطالعه کوله. لیکه په لیکه یې لوستل نه کول، بلکې فصل، فصل او ټوک، ټوک مطالعه یې کوله. وازه خوله یې درلوده او له کتاب نه یې یوازې درې پایلې تر لاسه کولې:

تودوخه، لوګي او ایرې.

د رییس کوټه چې نور د قومندان د خوب کوټه وه، کله به چې موږ د دې کوټې د کړکۍ له مخې تیریدلو، تر سترګو لاندې به مو دې عجیبې بخاری ته کتل، لیدل مو چې بخاری پر له پسې مطالعه کوي ... »
(پرتو نادري، کتاب سوزان در انجمن نویسندگان افغانستان، فردا (مجله)، ۱۳۸۱، د سرطان او اسد ګڼې، شلم مخ.)

زموږ ټوپکیان به چې د اور بند په موده کې کې له جګړې بیکاره شول، نو کوڅه ډب سپې او لارویان به یې په نښه ویشتل او اوس چې د داعشیانو غوږونه د څلویښتو هیوادونو د ایتلاف له بمباریو لږ آرامه شي، نو یا خپل اسیران آزاروي او سرونه ورنه غوڅوي او یا په داسې نویو لوبو لاس پورې کوي چې هیڅ څوک یې انتظار ونه لري چې اوسنۍ کتاب سوځوونه یې یوه بیلګه ده.

څنګه چې زموږ د وطن د ټوپکیانو او د عربي هیوادونو د داعشیانو ډیرې کارونه سره ورته دي، نو د دې له پاره چې د دوی په حق کې جفا نه وي شوې، نو ښایي چې سکني ورونه او د یوې لارې لارویان وګڼل شي.

د مطالعې دود او دوې وروستۍ مقالې

پنځمه مقاله

د خوشالۍ خبره ده چې د لوست، کتاب او مطالعې په لوري، د استادانو، شاګردانو او نوي نسل پام اوړي. هیله ده چې دا هڅې نورې هم بېړنۍ او ګړندۍ شي او د مطالعې کلتور دومره عام شي چې کوراکور د کتاب او مطالعې په ارزښت باندې خلک پوه شي.

کله چې مطالعه وي، نو ورسره پوهه وي، چې پوهه وي د کتاب او مطالعې وال خپله لار د ښیګڼې او پرمختګ پر لوري پرانیزي. کله چې کتاب او مطالعه وي، د نا پوهۍ او تیارې لمن ټولیږي، د خلکو او ټولنې سترګې غړیږي، بیا نو خپل منزل ته د رسیدو لار پیدا کولای شي.

د کتاب، مطالعې او مطالعې ته د هڅونې په باب چې هر څومره وویل شي، ولیکل شي او خپاره شي، بې ګټې، تکراري او زاړه به نه وي. په دې وروستیو کې د نورو لړو، خو ګټورو مقالو په سلسله کې دوې په زړه پورې او ګټورې مقالې خپرې شوې چې په رښتیا سره د کتاب، مطالعې او زدکړې په باب نوې او د ښیګڼې پر لوري هڅونکې خبرې لري.

د کتاب او مطالعې د ارزښت په باب چې کومې دوې مهمې مقالې خپرې شوې دي، هغه دا دي:

۱ـ د کور کتابتون او ماشومان، د ښاغلي اسدالله غضنفر لیکنه،

۲ـ ملګري کتابونه، د ښاغلي بارکوال میاخېل لیکنه،

ښاغلي غضنفر د مقالې په پیل کې په عالمانه ډول ټینګار کوي چې کتاب د ماشوم په ذهن باندې څومره مثبت اثر لري، که په یوه کور کې کتابتون یا حد اقل څو ټوکه کتابونه وي، د ماشوم سترګې هره ورځ په کتاب باندې ولړیږي، هغه هغه ماشوم څومره مطالعې او زدکړو او لا لوړو زدکړو ته هڅول کیږي. ښاغلی غضنفر د یوې اوږدې څېړنې پایله په یوه جمله کې را اخیستې ده، په دې ډول:

«که په یوه کور کې هیڅ کتاب نه وي او په بل کې پنځه سوه عنوانه کتابونه وي، د کتاب لرونکي کور زده کوونکی ممکن تر هغه بل درې کاله ډېر سبق ووایي»
ښاغلی غضنفر د خپلو خبرو په ترڅ کې ټینګار کوي چې:
«خیر دی که میندې او پلرونه نالوستي وي یا یې له مطالعې سره دلچسپي نه وي، خو د اولاد په خاطر دې د خپل وس په اندازه خامخا یو څه کتابونه رانیسي او په کور کې دې یوه کوټه، یوه الماری یا یو کونج کتابونو ته ورکړي.»
خلاصه په هر کور کې باید د کتاب شته والی او لوستل په یوې ورځنۍ اړتیا بدله کړای شي.

دغه راز د ښاغلي بارکوال میاخیل په مقاله کې هم د کتاب او مطالعې په باب نوې او د پام وړ خبرې راغلې دي. ښاغلي میاخیل په خپله مقاله کې د کتاب لوستنې او مطالعې د عامیدو په باره کې داسې بیساری مثال راوړی دی چې زما له خوښۍ نه ورته اوښکې تویې شوې. ښایې دا نوښت به یا زما له پاره نوی وي او یابه د ټولو له پاره نوي وي چې په موږ کې داسې یو زړه سواندی شخص، داسې یو زړه سواندی پلار او داسې په وطن او پوهې باندې مین څوک پیدا کیږي چې خپلې ودیدونکې لور ته د واده د نورو توکو په ډله کې کتابونه هم ږدي. د میاخیل صاحب د مقالې په استناد دا کار ښاغلي ډاکتر عبدالروف رفیقي کړی دی.

زما په نظر دا په اوسني وخت کې داسې نوښت دی چې تر اوسه هیڅ چا نه و کړی او دا ډالۍ چې یو پلار خپل اولاد ته د ګاڼو په څنګ کې کتابونه هم ډالۍ کوي؛ دا د علم په لوري، د زدکړې پر خوا یو حرکت دی او د پوهې او مطالعې بام ته زینه ایښودل دي. خپل اولاد او خپل نوی نسل د پوهې لوړو پوړیو ته تشویقول او خیژول دي. ښاغلي رفیقي په فرهنګي محافلو کې دې کارته نور هڅول، خو خپله یې عملا د خپلې لور د واده په توکو کې د ډالۍ په ډول څو ټوکه کتابونه هم ایښي وو.

دا زما له پاره ډیره د خوشالۍ او سر لوړۍ خبره ده چې داسې یو نیک او متمدن عمل نه خبریږم او زده کوم یې. دا زما له پاره یو نوی زیری دی چې یو افغان پلار د خپلې لور په جهیز کې څو ټوکه کتابونه هم ږدي. زه فکر کوم چې د پلار له خوا او د پلار ګنۍ له خوا یوې ودیدونکې جلۍ ته او دهغې نوي ژوند ته له ټولو ګاڼو، جامو او نورو ورکړل شوو توکو نه به قیمتي ډالۍ همدا وي چې اثرات به یې په جلۍ، دهغې په نوي ژوند، نوې کورنۍ او بچیانو باندې هم ښه محسوس وي او مثبت اثرات به ولري.
زه ډاکتر صاحب رفیقي نه پیژنم، خو د دغه کار او دغه نوښت په خاطر د زړه له کومې مبارکي ورته وایم، ځکه چې د دې نوښت سر لاری دی شو او هیله مې دا ده چې دا دود په ټولو کې باب شي.
ښاغلی میاخیل په خپله ګټوره مقاله کې د دې زیري تر څنګ د مطالعې د ارزښت په باب نورې نوې خبرې هم لري او د ټولو خبرو اصلي موخه یې دا ده چې د مطالعې فرهنګ باید عام شي.
دی وایي:
«موږ لا په ټولیز ډول د پیتاوي خبرو له کلچره کتابي کلچر ته ور داخل شوي خلک نه یو. که د کتاب د کلچر د عامیدو او په خلکو کې مو د مطالعې د ذوق د پیدا کولو له پاره په دې ټولنیزه رسنۍ کې جدي مبارزه وکړو، په یوه کال کې به مو زرګونه تعلیمیافته ځوانان له مطالعې سره روږدي کړي او په دې پوهولي وي، چې تعلیم یواځې د نوکرۍ له پاره نه، په ټولنه کې د موجودو هر ډول ناروغیو د له منځه وړله له پاره باید وکاروو»
ښاغلي میاخیل بل نوښت دا دی چې د خپلې مقالې په ترڅ کې یې د خپلو ورستیو لوستلو کتابونو لنډه یادونه هم کړې ده، چې دا یو نیک او په ځای کار دی. زما وړاندیز خو لا داسې دی:
فرهنګیان چې هر کتاب لولي، که د خپلو مطالعاتو پایله په خلاصه ډول د یوې لنډې مقالې په ډول ولیکي او ټولنیزو رسنیو او یا کوم داسې عام ویبسایت کې چې ډیر لوستونکي ولري، خپاره کړي، ګټې به یې زښته ډیرې وي او هغه کسان چې هغو نوو چاپ شو کتابونو ته لاسرسی نه لري ورسره آشنا به شي.
دی د خپلې مقالې په پای کې وایي:
«... پکار ده، چې کتابونه مو د ژوند نه بیلیدونکي ملګري کړو.»
د وطن د بیا آبادولو په سلسله کې ډیری خلک د سرکونو د غځولو، د ودانیو او د کانونو د جوړولو په باب، د مځکو د آبادولو او خړوبولو په باب او... په هکله سوچونه کوي، پلانونه جوړوي، وړاندیزونه لري او د عملي لارو چارو په هکله یې هڅې کوي. دا ټول سم او په ځای کارونه دي، خو، **زه یې داسې انګیرم چې د لوړ پوړیزو ودانیو په هسکولو او په لوکسو موټرو کې په سپریدلو سره، ترقي او زدکړه، سواد او تمدن نه شي راتلای. تر څو چې د خلکو هغه ذهنیت چې په جګړې عادت شوی دی، د جګړې په لوګو دودغړن شوی دی او ډیر ځلې په منفي لوري په حرکت کې وي، بدل کړای نه شي، ټولنه نه شي بدلیدلای. تر څو چې د ذهن سرک پوخ او سم نه شي، تر څو چې د فکر ودانۍ لوړه نه شي، هیڅ هم نه شي کیدای او دا کار د زدکړې او مطالعې له لارې ښه تر سره کیدای شي.**
موږ باید لومړی په ښوونه روزنه کې بدلون او انقلاب راولو، ښوونیز نظام سم او له اوسنیو غوښتنو سره یې برابر کړو، په ټولو نسلونو کې د کتاب لرلو او مطالعې دود دومره عام کړو

چې لکه تنفس او خواړه خلک ورته د کمبود احساس وکړي او د ټولنې هر غړی یې داسې اړتیا وګڼي لکه د آکسیجن تنفس، د خوراک خوړل او د جامو اغوستل.
فرهنګیانو او قلموالو له څو کلونو را په دې خوا دې نیمګړتیا ته په پام سره، د کتاب د لوستلو او مطالعې د مهم والي او عامیدو په برخه کې یادونې کړي، مقالې یې لیکلې دي، د کتاب نندارتونونه او ښار ګوټې یې پرانستې دي، چې هر یو یې په خپل وار سره د قدر وړ دي.
ما په خپله له څو کلونو را په دې خوا د نوي نسل د روزنې، زدکړې، مطالعې او کتاب لوستنې پر مهم والي باندې یو شمیر مقالې خپرې کړې دي. په ځانګړې ډول د کتاب او مطالعې په باب زما د مقالو سر لیکونه دا دي:

ـ مطالعه او له مطالعې سره اړوندې ستونزې،
ـ نوی نسل، مطالعه ستونزې او نوې هیلې،
ـ کتاب، مطالعه او زموږ دریځ،
څو بیسواده نسلونه او زموږ مسؤلیت.

زه داسې فکر کوم چې کتاب تر غرونو او تر ډیرو جګو څوکو لا لوړ دی. راځئ چې له کتاب سره مینه وکړو، په هر کور کې یې میلمه کړو او د لوستلو دود یې عام کړو.
کتاب او د کتاب لوستل لکه وقایوي طب د انسان وجود، ذهن او ضمیر د ډیرو بلا ګانو په مقابل کې وقایه کوي. راځئ چې کتاب او مطالعه لکه خوب خوراک د خپل ورځني ژوند یوه برخه وګرځوو او دې راسره نسل ته او راپسې نسل ته د مطالعې دود د یوې ښې ډالۍ په ډول په میراث پریږدو.
زه خو یې داسې ګڼم چې د کتاب، مطالعې او زدکړو په باب بحث، خبرې او تبلیغ هر څومره چې ډیر وي، ګټه به یې ټولو ته رسیږي. په تیره ځوانانو او نوي نسل ته. له مطالعې سره د ځوانانو او نوي نسل روږدیدل، له پوهې سره د خپلوۍ مانا لري.
له بده مرغه چې زموږ یو نسل نه، بلکې څو نسلونه له وسلې او د وسلې له کارولو سره روږدي شوي دي. زما خو وړاندیز دا دی چې دا سلاح اوس باید بدله کړای شي، د کارولو ډول او دود یې باید بل ډول شي. که یې طنز ډوله ووایم، نو داسې به وي:
که د ټو پک ګرځول په اوږه باندې ډیر اړین وي، نه شي کیدای چې د کلاشینکوف په توره شپیلۍ کې یو قلم وټومبو؟

د انځور جوړونکي او ټولو ته یې د رسوونکي منتبار، پور وړی او مننوی یم:

یو تصویر، زر خبرې

(د مطالعې د پلویانو نوي ګامونه)

شپږمه مقاله

داسې غم به نه وي چې په مطالعې سره لرې نه شي.

(مونتسکیو)

دکتاب پاڼې هغو وزرونوته پاتې کیږي چې د انسان روح د رڼا پر لوري الوزوي.

(ولتر)

د مطالعې له پاره تبلیغ او د مطالعې د کلتور د عامیدو له پاره خبرې کول، مقالې او کتاب لیکل هیڅ کله نه زړیږي. له دې نه مخکې هم ما د مطالعې د ښیګڼو، اړتیاوو او د مطالعې د دود د پراخیدو په موخه پنځه مقالې لیکلې او خپرې کړې دي.هلته ما دا هیله څرګنده کړې وه:

«د خوشالۍ خبره ده چې د لوست، کتاب او مطالعې په لوري، د استادانو،شاګردانو او نوي نسل پام اوړي. هیله ده چې دا هڅې نورې هم ببړنۍ شي او د مطالعې کلتور دومره عام شي چې کوراکور د کتاب او مطالعې په ارزښت باندې خلک پوه شي. کله چې مطالعه وي، نو ورسره پوهه وي، چې پوهه وي د کتاب او مطالعې وال خپله لار د ښیګڼې او پرمختګ پر لوري پرانیزي. کله چې کتاب او مطالعه وي، د نا پوهۍ او تیارې لمن ټولیږي، د خلکو او ټولنې سترګې غړیږي، بیا نو خپل منزل ته د رسیدو لار پیدا کولای شي. د کتاب، مطالعې او مطالعې ته د هڅونې په باب چې هر څومره وویل شي، ولیکل شي او خپاره شي، بې ګټې، تکراري او زاړه به نه وي...»

او دا ده د مطالعې د دود د عامیدو له پاره دا هڅې نورې هم پسې ګړندۍ شوې، بریالۍ شوې او اوس هم مخ په بره روني دي، مقالې لیکل کیږي او له هغه نه مهمه دا چې په ټولنیزو شبکو کې هم د مطالعې د دود د مهم والي او پراخیدو له پاره کار کیږي. د ماشوم د ادبیاتو کور فیسبوک پاڼې په دې اړوند یو په زړه پورې انتباهي کارتون خپور کړی دی:



دا کارتون داسې پیام رسوي چې مطالعه، د علم او پوهې زدکړه انسان له سل رنګه مرضونو او بلاوو نه ساتي او که څوک هسې لاس تر زنې ناست وي، ډیر ووړ شی هم کیدای شي ډیر مضر ور ته تمام شي.

کله مې چې دا عکس د ۲۰۱۵ کال د دسمبر په دیرشمه نیټه د ماشوم د ادبیاتو کور پر فیسبوک پاڼه ولید، ښه اوږده شیبه مې سترګې پرې ګنډلې وې او بیا مې کاپی کړ او دا جمله مې تر عکس لاندې ولیکله:

«یو تصویر، زر خبرې»

بیا مې د مطالعې په باب خپلو یاد داشتونو ته سر ور ښکاره کړ او اړینه مې وګڼله چې بیا د مطالعې د اړتیا په باب او د مطالعې د دود د عامیدو په خاطر یو څه ولیکم.

په دې ورستیو کې د کتاب لوستنې او مطالعې ته د هڅونې له پاره د افغانستان په ډیرو سیمو کې هڅې کړندۍ شوې دي، د ثابتو او سیارو کتابتونو د جوړولو او پرانستلو کوششونه شوي دي.

مطالعه نه کول په ټولنه او خلکو کې د یوه ستر ویر او ناورین حیثیت لري او ډیر ځلې آګاه خلکو د مطالعې د دود د رواجیدو په غرض له دې حالت نه شکایت ډوله لیکنې کړې، دا یې یوه ښه بیلګه ده:

د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر اولسمه تنها په خپل مخکتاب کې د افغان او مطالعې د اړیکو په باب داسې و لیکل:

«په ګاډي، بس او هوایي ډګر کې د افغان پېژندلو یوه ستره نښه دا ده چې نورو به مخ ته کتاب، مجله او یا اخبار نیولی وي خو افغان به یا ټلیپانه کې لوړ، لوړ غږېږي او یا به یې خپل پاسپورټ او ټیکټ را ایستلی وي او هغه ته به ګوري. په مونږ کې د مطالعې او معلوماتو حاصلولو هیڅ تنده نسته همدا اوس مې څنګ ته یو ځوان په همدې کوایفو ناست ده.»

د سواد او مطالعې د عامولو هلې ځلې په دې وروستیو کې ښې ګړندۍ شوې دي. د ۲۰۱۵ کال د اګست په پنځمه نیټه مې د ښاغلي ډاکتر یاد په ویبپاڼه کې د سواد د عامولو او مطالعې او کتاب لوستلو د دود د عامولو له پاره دا مطلب تر سترګو شو:

«د کتابونو د راغونډولو لپاره د هیواد د تکړه او نوښتګر ځوان ښاغلي ویسا صیب هلي ځلي، هڅي او کو ښښونه:

آغلو او ښاغلو!

ښاغلی مطیع الله ویسا صیب موږ او تاسو ټولو ته یوه پیژندل شوې څیره ده . دی د هیواد یو داسې تکړه ځوا ن دی چې په تیرو څو کلونو کې د افغانستان پر ګوټ ګوټ وګرځید او د افغانستان په لیرې پرتو سیمو کې یې پر بیوزلو زده کوونکو کتابونه، د ښوونځي بکسونه، کتابچې او قلمونه په وړیا توګه وویشل.
اوس ده پر یو بل نوښت لاس پورې کړی دی او هغه دا چې دی غواړي چې د افغانستان په لیرې پرتو سیمو کې چیرې چې هلته زده کوونکي کتابتونونو او کتابونو ته لاس رسی نه لري د کتابونو د راغونډولو له لارې کتابتونونه جوړ کړي.

نوموړی د افغانستان په هر ولایت کې یو تن استازی لري او تاسو کولای شئ چې خپل کتابونه د دغه استازي په واک کې ورکړئ او د دغه ستر د خیر او ښیګڼې په کار کې مرسته وکړئ.
په دغه کار سره به یوې خوا په ګران افغانستان کې د علم د خپرولو په لار کې مرسته وکړئ او له بلې خوا به له هغو زده کونکو سره هم مرسته وکړئ چې د کتابونو د اخیستلو وسه نلري.
ستاسو ټولو نه هیله لرو چې په وړیا توګه د یو یو ټوک کتاب په ورکولو سره به په دغه ستر هیوادني کار کې مرسته وکړئ! ومن الله التوفیق»

بیا مې چیرې د همدې مطیع الله ویسا په باب څه ولیدل نو سمدلاسه مې داسې ور ته ولیکل:

زه چې چیرې له مازې د کوچنیانو، ماشومانو او نوي نسل ته د پام اړولو او روزنې له پاره یو ټکی، یو توری، یوه جمله، یو پروګراف، یو مطلب یا کتاب وګورم، داسې یې انګیرم چې زما لاس څوک نیسي ا و په لارې تګ کې مرسته راسره کوي او...

د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په شلمه نیټه په فیسبوک پاڼه کې د ښاغلي ویسا دا مطلب په مخه راغی:

«ماشومان او چاپیریال
د ماشومانو او چاپیریال ساتنه ډیره مهمه ده خو دلته دواړو ته سمه پاملرنه، نه ده سوې. زموږ چاپیریال هم له یو عالم ستونزو ډک دی، خو تر ټولو زورونکی دا دی چې زموږ ډیری ماشومان د خپل حقه محروم دي
تعلیم د ماشومانو بنیادي حق دی خو دلته په ډیرو سیمو کې تري اخیستل سوی دی ښوونځي یې پر مخ تړل سوي دي د کندهار سفر او له یو شمیر سیمو لیدنه د خلکو سره د تعلیم په هکله خبري، مرکې او د دوي غوښتني د چارواکو بیغوري.»

زه ور ته خوشاله شوم چې ځه اوس دومره څوک پیدا شول چې د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل روزلو ته عملي پام کوي او نورو ښارونو، کلو او باندو ته ورپسې ورځي، نو ما هم له معمولي خوښولو(لایک) نه وړاندې داسې ور ته ولیکل:

«ویسا صاحب کور دې ودان!
که د افغان ماشومانو او کوچنیانو د ژوند، ښوني روزنې او د دوی د ادبیاتو په باب ژوره پاملرنه او دغسې عملي کارونه وشي، تر ډیرو هوایی خبرو به ښه وي.

له تشو خبرو نه که یو کتاب لاس کې ورکړو او فکري لوري یې له جګړې نه د زدکړې، تمدن او نوي ژوند خوا ته واړو، بهتره به وي، که د ښه نښه ویشتونکي پر ځای د ښه او ذهین زده کونکي خطاب ورته وکړو، ډیر په ځای کار به مو کړی وي.»

او بیا ده په ځواب کې داسې را ته ولیکل:

«ډیره مننه بهاند صاحب
ستاسو یې زر ځله کور ودان چې د هیواد لیرو د ماشومانو لپاره خپله هڅه کوئ ځښتن تعالا مو تل بریالي لره.
زه هره مشوره منم کوښښ به په ګډه کوو چې افغان ماشومانو ته کتاب، قلم او نور درسي مواد ورسوو زه خپله ځان مسئول ګڼم. ځښتن تعالا دې توان راکړي.
بیا ستاسو د نیکي مشوري مننه بهاند صاحب»
په سیار ډول په لرو پرتو سیمو کې د کتابونو ویشل خو یې لا بیخي حیرانونکې او د خوشالتیا خبره ده. ویل کیږي چې د کتابونو د ویشلو دغه لړۍ اوس هم روانه ده. د دې برخې فعال صابر حسیني نومیږي. په راپور کې یې د فغالیتونو په باب داسې راغلي دي:
«صابر حسینی" داستان نویس بامیانی که با یک کتابخانهء سیار به اطفال این ولایت کتاب فراهم می کند. او نزدیک به 200 جلد کتاب داستان و نقاشی را از پول شخصی خود خریداری نموده و طبق تقسیم اوقات در اختیار اطفال ولایت بامیان قرار می دهد و آنان را تشویق به مطالعه می کند.»

د کتابتونونو د جوړید، پرانستل کیدو، تر لوستونکو پورې د کتاب د رسولو او وروسته له لوستلو په ټولنیزو شبکو کې یې خلاصه او نتیجه له نورو سره شریکول او په دې ډول د مطالعې د دود عامول او د پوهې او علم د تر لاسه کولو دا خبرونه به ښه وي، که دا خبر چې:
له فلاني هیواد نه لس زره میله سلاح او مرمي افغانستان ته راوړل کیږي. دا سرلیک په روهي ویبپاڼه کې له یوه عکس سره راغلی و:
«مسکو افغانستان ته ۱۰ زره کلاشینکوف او مرمۍ ورکوي.»

اوس فکر وکړئ چې د کتاب د کارولو او لوستلو پایله څه ده، سلاح او مرمۍ باندې څه کیږي. کتاب د ژوند او نیکمرغۍ دروازې پرانیزي، سلاح او مرمۍ مو په هماغه شیبه کې د مرګ کومې ته لیږي.
د کتابتونو د جوړولو او پرانستلو په څنګ کې له نیکه مرغه په میډیا کې هم د مطالعې د کلتور د رواجولو او تشویق له پاره ځینو قلموالو د موضوع مهم والي ته په کتو سره مقالې لیکلي دي او په ټولنیزو شبکو کې هم کله نا کله ځینو ښاغلو د مطالعې د ارزښت په باب خپل نظریات څرګند کړي دي. هغه ویبپاڼې چې زه ګورم، زما له نظره په دې تیر یوه کال کې دغه مقالې تیرې شوې دي:

ـ څنګه کولای شو د مطالعې کلتور پیاوړی کړو؟ خانزاده تراب، تاند،

ـ څنګه مو اولادونه له کتاب لوستلوسره عادت کړو؟ ژ: حمیدالله حمیدي، فیسبوک ،

ـ رکود فرهنگ مطالعه و نقش کتابخانه های عامه در افغانستان بهزاد شهزادی، افغان جرمن آنلاین،

ـ فېسبوک او پر مطالعه یې اغېزې/ نظرمحمد افغان، تاند،

ـ کتاب او مطالعه د پوهانو له انده / ژباړه: عبدالله عابد، تاند،

ـ کتابخانه در پشت زین بایسکل، نوروز رجا، هشت صبح،

ـ ماشومان څنګه له مطالعې سره اشنا کړو؟ افغان سباوون،

ـ فرهنگ کتاب و کتابخوانی ، نویسنده :دکتور شهیرنثاری، افغان جرمن آنلاین،

ـ څنګه مو اولادونه له کتاب لوستلوسره عادت کړو؟/ ژباړه حمیدالله حمیدي، تاند،

ـ د کتابونو ویش/ فدامحمد باران، تاند.

همدا نن د ۲۰۱۵ کال د دسمبر یو دیرشمه نیټه چې زه د همدې مقالې په لیکلو او ترتیبولو لګیا یم، په تاند ویبپاڼه کې د مطالعې په باب یوه ډیره ګټوره مقاله آنلاین شوه چې سرلیک یې دی:

«مطالعه څه شی ده او ګټوره مطالعه کومه ده؟»

چې ښاغلي حمیدالله حمیدي پښتو ته را ژباړلې ده.

دغه راز په «پل» ویبپاڼه کې د ماشومانو، کوچنیانو او د هغوی د میندو پلرونو له پاره د پام وړ مقالې خپرې شوې او خپریږي چې څنګه له کوچنیوالي نه ماشوم له مطالعې سره روږدی شي چې دا د نوي نسل په روزلو او له کتاب، مطالعې او علم له زدکړې سره د کار اساس جوړوي.

په میډیا کې د مطالعې د ارزښت په باب د دغسې مقالو او مطالبو خپرول دا ښیي چې زموږ په ټولنه کې او په تېره په نوي نسل کې د مطالعې دود مخ په رواجیدو دی او هیله ده چې دا ښه او مثبت دود نور هم عام شي.

موږ باید هر کله دا په زړه کې غوټه کړو او دایمي هیله ولرو چې زموږ ماشومان، کوچنیان او نوی نسل هوښیار او فعال را لوی شي. موږ باید د پوهې او زدکړو په تر لاسه کولو کې تل د هغوی له پاره ښه مرستندوی اوسو.

د نوي نسل د روزلو له پاره

د مطالعې د نهضت پراخیدل او غني کیدل

اومه مقاله

زما له پاره قهرمان هغه څوک دی

چې د راکټونو په ځای کتابونه ویشي.

(آصف بهاند)

د نوي نسل د روزلو په سلسله کې ما په لومړي گام کې د کوچنیانو ادبیاتو ته د اړینې پاملرنې په خاطر لومړی یو کتاب (د کوچنیانو ادبیات) او ورپسې مې د مهاجرت په چاپیریال کې «د کوچنیانو ادبیات تاریخي پس منظر او اوسنی حالت» تر نامه لاندې یو شمیر مقالې لیکلې دي، چې تر اوسه اته ویشت (۲۸) عنوانه خپرې شوې دي.

د هغو تر څنگه مې د مطالعې د عامیدو له پاره د مطالعې د مهموالي، د مطالعې په برخه کې د شته ستونزو او د دې ستونزو د حللارو په باب گڼې مقالې لیکلې دي، چې د ځینو سر لیکونه یې دا دي:

ـ زموږ تعلیمي نظام او د جهادي کتابونو لړی،

ـ د افغانستان ښوونیز نظام جامعة الصالحات، اشرف المدارس یا د نوي نسل... ؟

ـ نوی نسل، مطالعه ستونزې او نوې هیلې،

ـ کتاب، مطالعه او زموږ دریځ (د کتاب د نړیوالي ورځې په مناسبت)،

ـ څو بیسواده نسلونه او زموږ مسوولیت،

ـ د مطالعې دود او دوې وروستی مقالې،

ـ کتاب سوځونه،

ـ څو مقالې، څو څپېړې او یو یاد داشت،

ـ مشرانو تاسې د ټوپک تخم کرلی ولې؟

ـ یو تصویر، زر خبرې (د مطالعې د پلویانو نوي گامونه)،

ـ قلم، ټویک او چکچکې،

ـ تعلیم، کتاب ویشنه، مطالعه او قلملار ټولنه،

ـ «راتلونکی نسل ښاد کړئ »، (د نوی نسل نوي روزنه)

ـ چیرې چې ښوونکی نه وي،

د دغو یادو مقالو په ترڅ کې مې وخت په وخت ټینګار کړی دی چې د نوي نسل روزنه یو اړین کار دی او که نوی نسل و نه روزل شي، ممکنه نه ده چې د یوې ټولنې د پرمختګ، آبادۍ او ښیرازۍ بنسټ دې کیښودل شي او د دې هیلې د پوره کیدو بنسټ سواد زدکړه او منظمه مطاله جوړوي.

نن سبا لیدل کیږي چې زما او ما ته ورته د نورو فرهنګي دوستانو د هیلو غو ټۍ په غوړیدو دي او په دې ورستیو کې په لومړي ګام کې د کوچنیانو د ادبیاتو په بر خه کې د پامالرنې وړ کارونه شوي دي، چې غوره بیلګې یې:

ـ د ماشوم د ادبیاتو کور بنسټ فعالیتونه،

ـ اطلاعات او فرهنګ وزارت له لوري د ځینو محفلونو جوړیدل،

ـ د ښاغلي محمود مرهون په هڅو او زیار د کوچنیاو له پاره تر پنځوس عنوانه ډیر کتابونه لیکل، ژباړل او خپرول،

ـ د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د ښاغلي احمد ولي اڅکزی هڅې،

او په دویم ګام کې د مطالعې په برخه کې هم داسې د پاملرنې وړ کارونه شوي دي چې د افغانستان غوندې له بیلابیلو رنځونو سره لاس ګریوان ټولنه او په نظامي ستونزو اخته ټولنه کې یې تصور هم نه کیده.

د افغانستان په بیلابیلو ځایونو کې ښایي د مطالعې په باب او د مطالعې د عامیدو له پاره ګڼو ښاغلو او آغلو هلې ځلې کړې وي چې له ځینو نه به یې زه خبر هم نه یم چې زه یې خپل قصور ګڼم او ځینې یې چې زما له نظره تیرې شوې دي، په رښتیا سره د پاملرنې او خوشالتیا وړ دی، داسې چې د امید سترګې ور اوښتی شي.

زه به یې د دوو وروستیو هڅو یادونه دلته د نمونې په ډول د دې له پاره وکړم چې د مطالعې، کتاب لوستنې او د نوي نسل د روزلو د نهضت او طرز تفکر د تبلیغ او رواجیدو له پاره نور هم لاره آواره کړای شي:

ښاغلي مطیع ا لله ویسا ، چې د دې لارې یو سر سپارلی او نه ستړی کیدونکی هڅاند لاروی دی، د ۲۰۱۶ ام کال د جون په دریمه په خپل فیسبوک پاڼه کې د مطالعې د رواجیدو او کتاب ویشنې د عامیدو په باب یو ګزارش په دې شرحه خپور کړ:

«نومیالي دي چې یادیږي! (۳ اتلان)

۱ـ ښاغلی صابر حسیني بامیانو ولایت کې پر ماشومانو د سایکل په مرسته کتابونه ویشي او ګرځنده کمپاین کوي ماشومانو ته د ماشومانو اړوند کتابونه رسوي، بامیانو ولایت کې یې د ماشومانو له پاره څو کتابتونه جوړ کړیدي.

۲ـ ښاغلی اجمل تورمان چې د کلونو څخه ماشومانو له پاره لنډ شعرونه، کیسې لیکلي، کابل کې د ماشومانو له پاره د ماشومانو ادبیاتو کور په نوم بنسټ جوړ کړیدی، تر څو افغان ماشومانو ته د ماشومان برخه کتابونه چاپ کړي او سهار ماښام لګیا دی زحمت باسي.

۳ـ ښاغلی حمدالله ارباب او ښاغلی احمد ماهر مومند ننګرهار ولایت کي د ماشومانو له پاره د مسکا ګرځنده کتابتون په نوم بنسټ خلاص کړ، تر څو ننګرهار او مشرقی ولایتونو ماشومانو ته د ماشومانو برخه کتابونه ورسوي.

یاده دی وي دا کار ښاغلی احمد ماهر مومند کړیدی چي اصلا بهر کی اوسی خو ننګرهار کی یې کارونه ښاغلی ارباب مخته وړی. د ښاغلی مومند تصویر او کارونه به بل وخت در سره شریک کړم.

هر څوک خپل نظر لری، چا ته به څوک اتل نومیالی وی، خو ما ته هاغه څوک نومیالی دی چي د وطن د ماشومانو تعلیم له پاره خدمت کوي همدا دری واړه زما نومیالی دي.
د ټولو دوستانو هیله کوم د دیو واړو بنسټونو سره تر خپله وسه مرسته وکړي ترڅو د افغان ماشومانو ښه روزنه وکړو او همدا بنسټونه پراخ سي.»

دغه راز په همدې نیټه د مطالعي د رواجیدو او د کتاب او مطالعي د عامیدو له پاره ښاغلي انجنیر زهیر شینواري هم په خپله فیسبوک پاڼه کي د یو بل فعالیت ګزارش په دې شرحه خپور کړ:

«نن د مسکا په نامه ګرځنده کتابتون!
د یو شمیر با احساسه افغانانو په مالي مرسته، د جلال آباد په سپین غر هوټل کي د یوې مجللې غونډې په ترڅ کي پرانستل شو!
دغه کتابتون به په یو زرنج موټر کي، د ښار په بیلابیلو کوڅو کی ماشومانو ته، د هغوي د خوښی کتابونه رسوي، ماشومان به یې په دوه درې ورځو کي لولي او بیا به یی بیرته همدې کتابتون ته سپاري...»

د ښاغلو حمدالله ارباب او احمد ماهر مومند د هڅو په باب د ښاغلي ویسا په ګزارش کې تفصیل لږ څه ډیر راوړل شوی دی چې ما پاس اقتباس کړی دی.

ما د مطالعې او کوچنیانو ادبیاتو په باره کې د ښاغلو اجمل تورمان او صابر حسیني د هڅو یادونه کړې ده، خو د ښاغلو حمدالله ارباب او احمد ماهر مومند، چې په ننګرهار کې د ماشومانو له پاره د موسکا ګرځنده کتابتون جوړ کړی او هڅې یې پیل کړیدې، زما له پاره نوی، خوشالونکی او تازه خبر دی. د دوی دې کور ودان وي چې دې اړینې موضوع ته یې پام ور اوښتی دی او د نوي نسل د ښې روزنې له پاره یې د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې هڅې پیل کړي دي.

د دوی دې ځکه دوه ځلي او لا سل ځلي کور ودان وي

چې نور راکټونه ویشي دوی کتابونه ویشي.

د مطالعې او کتاب لوستنې د مهم والي په نظر کې نیولو سره د نوي نسل د روزنې د پلویانو له لوري د نوي نسل د روزلو په موخه د داسې فعالیتونو عامیدو ته چې زه ګورم یو څه هیلې مې په زړه کې غوټۍ کوي چې د نوي نسل د روزلو او د نوي ژوند او نوې ټولنې د رامنځ ته کولو له پاره کار او عملي هلې ځلې نور هم مخ پر وړاندې روانې دي.

کتاب هغه ډیوه ده چې د ژوند لارې رڼا کوي،

نوی نسل هغه ځواک دی چې

هم ژوند او نړۍ ورانولی شی

او هم یې ژغورلی او ودانولی شي

د مطالعې په دودولو کې یو نوی ګام

اتمه مقاله

د یوې ټولنې هغه وګړي چې په راتلوکې باندې عقیده او باور لري، تل هڅه کوي چې په ټولنه او خلکو کې د سواد، تحصیل، کار کولو، د تولید فکر او ورسره د مطالعې کچه لوړه کړي. د همدې هڅو په لړ کې زموږ د میډیا په بیلابیلو برخو کې د ټولنې د چیز فهمه غړو له لوري تل دا هڅه شوې چې مطالعه په ټولو خلکو کې په یوه منلي دود باندې بدله شي.

د همدې هڅو یوه ښه بیلګه مې د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په دوه ویشتمه نیټه په فیسبوک کې له نظره تیره شوه. دا جملې او عکسونه ښاغلي Mahmood Saeed محمود سعید په خپله پاڼه کې ایښي وو:



«په نوره نړۍ کې د سرک په غاړه دا ډول واړه، وړیا کتابتونونه دي. خلک کتابونه اخلي؛ لولي یې او بېرته خپله کتاب یا یې پر ځای بل کتاب اېږدي.

که موږ هم وکړای شو لږ تر لږه یو له بل سره کتابونو د لوستلو له پاره بدل کړو یا په ځینو سیمو کې دا ډول تجربې وکړو؛ ډېرې به ګټورې وي»

په عکسونو کې چې له لرګیو جوړې وړې کوټنۍ له کتابونو ډکې لیدل کیږي، په اړخو نو باندې یې دا له مینې او مهربانۍ ډکې جملې لیکل شوې دي:

ـ وړوکی وړیا کتابتون،
ـ یو کتاب ولولئ،
ـ یو کتاب شریک کړئ،
ـ یو کتاب بیرته را وګرځوئ.

د ښاغلي محمود سعید د دې پوست په کامنتونو کې ځینو هیواد والو خپل نظریات داسې څرګند کړي وو:«

ـ محمود سعید وروره د کتاب په هکله ستاسو ژوره مینه ستایم!،
ـ بهترینه مشوره:
که مطالعې ته مخ کړو ایله به وطن جوړ شي،
ـ دلته که جوړ شي ټول به خلک وړي په چپس پلورونکو به یې خرڅوي،

او...»
د ښاغلي محمود سعید د فیسبوکي ملګرو دا څو بیلګې چې ما د نمونې په ډول را واخیستې، لیدل کیږي چې دا نظرونه زموږ پر ټولنه باندې د حاکمو اخلاقو په تله برابر دي. د مطالعې د کلتور د عامیدو له پاره هم مثبت نظریات شته او هم داسې نظریات شته چې کتاب د مطالعې له پاره نه، بلکې د سوځولو (در ګران) او یا د شیانو (چپس یا نور خوراکي توکي) د تاوولو له پاره کارول کیږي.
اوس نو په داسې یو حالت کې هغه ډله چې د سواد، مطالعې او پوهې پلویان دي، څه باید وکړي؟ دوی سره ښایي چې له پراخې حوصلې نه کار واخلي او د خپل انساني هدف د پوره کولو له پاره له خنډونو سره، سره خپل کار ته دوام ورکړي. کتاب باید تر هغه چا پورې ورسول شي چې د لوستلو مینه او علم د تر لاسه کولو تلوسه او هیله ولري، کتاب باید هغه چا ته په لاس ورکړل شي چې په قدر یې پوهیږي او دا کار په پراخې پیمانې شوی او کیږي چې غوره بیلګه یې د قلملار ټولنې (ویسا ورونه) انساني فعالیتونه دي چې په ټول افغانستان کې یې تر اوسه په زر ګونه او لکونه ټوکه کتابونه تر هغه چا پورې رسولي دي چې لولي یې او اړتیا ور ته لري.
البته دا ډیره اړینه ده په دې باب هم فکر وشي چې د کتابونو په چاپولو او خپرولو په مسأله کې زموږ د ټولنې دې ګوډ او مات اقتصاد ته په کتو سره، د چاپ او خپرولو له پاره داسې لیکنې، مقالې او کتابونه انتخاب کړای شي، چې هغه لوستونکي ته یو څه ورکړي، داسې څه ورکړي چې د وړاندې تګ له پاره یې په اوسنۍ زمانه کې د لارې څراغ شي، نه داسې څه چې په هغه باندې مصرف وشي، په چاپولو او لوستلو یې وخت ضایع شي، خو د لوستوکو په تیره نوي نسل فکري تګلوری په نا سمه لار ور برابر کړي او په دې ډول له کتاب یا مقالې یا چاپ شوي متن نه بیخي منفي نتیجه تر لاسه شي او یا داسې مبهم وي چې هیڅ مانا و نه لري. د دغسې مبهم متن یوه وړه بیلګه ښاغلي محمود سعید د بل چا له پاڼې را پور کړې ده:
«دلته په داسې کتابونو هم پیسې، وخت، کاغذ او ماغزه (که درلودل یې!) مصرف شوي دي. انځور د آغلې سویتا له پاڼې»


پرېښتایي اپلنګ

- ګرانه دغه !
- دغه دی . دا څو دغه کیږي چې دغه دی هیڅ نه مالومیږي . دغه خوبه وي . اوچیرته به ددغه پسې دغه یې .
- ما دغه ویلې چې . دا دوه ورځې کیږي چې دغه دی نه لرم . هسې می دغه تشویش دغه شو چې خدای مه کې دغه شوی نه وي .
- دامې هم دغه کول چې دغه شم اولې پوه شم . چې دکتاب په هکله دی له چا سره خبرې وکړی اوکه نه . ځکه چې یو دغه دی چې خلاص شي اودغه دغه غوغ شي .
- که یو ښه دغه پیدا شي چې ایدیت یې کا دغه به وي اوکه نه وي نو دغه سره می خبره کړی ده دغه اسد سره هغه را سره دغه وکړه . چې زه به یې پر یو چا دغه کړم . اوچې دغه می کړ بیا به یې دغه کړم . ایسته
- زما ټکت دغه شو زه به له خیره دخپل ال ومال سره دمې په لومړی نیټه دغه وکم اودمې په دریم تاریخ به هلته په لندن کې دغه شم اوبیا به ستا مبارک حضور ته دغه شم . نور خو به انشا الله دغه وي .
- نور دی په هماغه دغه سپارم چې دا ټول عالم یې دغه کړی دی . اوپه دې ټول عالم کې یې ته هم دغه کړي یې اوزه یې هم دغه دغه کړم . اوداسې دغه یې راته اوس په مغزو کې را ته دغه کړي دي چې پس مه کوه دغه
- ستا دغه . داپریل ۲۳
14

زه فکر کوم چې د مطالعې د دود د عامولو په برخه کې محمود سعید ډیر فعاله دی. دا یې په فیسبوک کې د مطالعې له پاره یو پوست دی:

«باور وکړئ کتابونه تر هر څه ارزانه دي. که هره ورځ ۱۰ افغانۍ ځانګړې کړو؛ په میاشت کې دوه د منځنۍ بیې کتابونه اخستلی شو. په کتابونو پیسې نه ورکیږي.»

په یو بل پوست کې محمود سعید د مطالعې له پاره داسې پته ښودلې ده:

«کتابتون ته په لسګونو نوي علمي او مالوماتي کتابونه پورته شوي دي. ورشئ؛ وړیا یې تر لاسه کړئ او ویې لولئ.»

البته که د محمود سعید فیسبوک پاڼې ته څوک سر ور ښکاره کړي، تر نورو پوستونو یې د مطالعې او کتاب په باب د پوستونو تله درنه ښکاري او د کتاب او مطالعې په باب تل داسې مثبت نظریات شریکوي چې د ټولو په ګټه وي. دغې لاندې مشورې ته یې پام وکړئ:

«دغه کتاب که نه وي ژباړل شوی؛ ښه به وي چې وژباړل شي.
البته یو بل خبر کړئ چې د دوو کسو وخت ضایع نه شي.»



د محمود سعید د همدې پوست لاندې څو تنو ځوانانو په ډیره مینه د ژباړلو وعده کړې او د چاپولو د بار اوچتولو وعده په دې ډول کړې ده:«

ـ دا چې هر څوک ژباړي، چاپ ته یې زه اوږه ورکوم او نور یې هم نازوم.

ـ ما خو مخکی وویل چی زه یی ژباړلو ته وخت ورکوم، خو داسی نه چی بل چا پری شروع کړی وي.»
زه فکر کوم دا کار یو ساده او عادي مدیریت ته اړتیا لري چي د سپانسور او ژباړن کارونه منسجم کړای شي کتاب چاپ او تر لوستونکو پوري ورسول شي.
په پښتنو کي د مطالعي د کلتور ضَعف یا نشتوالی یوه محسوسه ستونزه ده چي ډیر ځلي په نښه شوي ده. محمود سعید هم دي نیمګړتیا ته اشاره کړي ده:
«د نړۍ په هر ګوټ کي مهم خپرېدونکی کتاب په ډېره لنډه موده کي پارسي ته ژباړل کیږي؛ په یوه ورځ پلورل کیږي او بیا د کلونو په اوږدو کي لسګونه ځله چاپیږي. د کتابونو د پلورل کېدلو ګټه دا ده چي ژباړونکي ورته کار وایي او له مالي اړخه پري بسیا کیږي.
دلته په شپېته میلیونه پښتنو کي د یوه علمي کتاب زر ټوکه ایله په یوه یا څو کلونو کي په ډېره سختۍ پلورل کیږي. که څه هم بیه یي د یوه څاښت خواړه وي.»
«پښتانه د کتابونو پېرلو او لوستلو دود نه لري؛ ځکه نو له نورو ژبو د کتابونو ژباړلو بهیر پخ روان دی. حتی ډېر باسواده پښتانه هم د نړۍ د غوره کتابونو د نه لوستلو له کبله له یوه ډېر ستر نعمته محروم دي.»
له دي سره، سره بیا هم محمود نه دی مایوسه او د مطالعي د دود د رواجیدو او پوهي د تر لاسه کولو له پاره داسي توصیه هم کوي:
«ځوانان باید هغه پیسي چي د انرژۍ په څښلو، قیلون او سګرټ څکولو او نورو روغتیا ضد خوړو ورکوي؛ په کتابونو ورکړي. په دي ډول به خپله معنوي او د هېواد د کتابونو او لیکوالۍ دواړو پانګي ځواکمني کړي.»
که ښه پام وکړو او حقیقت ته ځیر شو، په ټولنه او خلکو کي د سواد او مطالعي رواجیدل، د ژوند په هره برخه کي کولای شي مثبت بدلون راولي، کولای شي د شخص، اشخاصو، کورنۍ او ډیرو خلکو ژوند وژغوري. یو وړوکی او لنډ مثال به یي وړاندي کړم:
په ښخینوو کي د تیو سرطان او په نارینوو کي د پروستات سرطان یو ډیر عامه او شایع نا روغي ده یو ډاکتر په ډیره روانه او نرمه ژبه د تیو د سرطان رامنځ ته کیدل او مخنیوي په باب ډیره علمي څه لیکي، د ناروغۍ څرنګوالی، د مخنیوي طریقه او... ښیي، خو که سواد نه وي او و نه لوستل شي، نو ګټه به یي څه وي. لکه زموږ په ټولنه کي چي ډیره سلنه خلک سواد نه لري او که لري یي هم داسي اړینو لیکنو ته بیا یا لاسرسی نه لري او یا یي لولي نه.
د محمود سعید د فیسبوک پاڼي ډیره سلنه پوستونه د مطالعي د دود د عامیدو او د نوي نسل د نوي روزنې په موخه شوي دي. دي لاندي څو جملو ته یي پام وکړئ:
«تر هغه چي تر ټولو زیاته پانګونه په زدکړو او د نوي نسل په روزنه ونه شي؛ افغانستان به باثباته او افغانان به سوکاله نه شي. که هر څومره زیات تورفکري ووژل؛ ورټل او وشړل شي؛ په مقابل کي یي څو برابره نور روزل کیږي او د دي ټولني او خلکو په ضد کارول کیږي.

له زرګونو کالو راهیسي جګړي ګټو او سرونه بایلو خو د جګړو په مخنیوي او عواملو کله هم فکر نه کوو.»

زه یي داسي انګیرم چي که د محمود سیعد او قلملار ټولني د فعالیتونو په څیر د زړه له کومي د کتاب د خپرولو، د مطالعي د کلتور د دودولو او د تعلیم د تر لاسه کولو د فکر د عاملو له پاره کار وشي، لري نه ده چي دا خلک به یوه ورځ د مطالعي او زدکړو له لاري، له دي اوسنیو بدمرغیو خلاص او د ترقۍ لوړو پوړیو ته به ځان ورسوي.

څوبیسواده نسلونه اوزموږمسولیت

نهمه مقاله

(له ښاغلي احسان ارینزي سره دزړه خواله)

بیا هم د سواد، مطالعې او د نوي نسل د روزنې مسآله:

د۲۰۱۴ کال د جون په نهم ماښام مې په «لراوبر» ویبپاڼه کې د ګران دوست ښاغلي آرینزي یوه مقاله تر سترګو شوه چې له ځان نه، له پلار نه، له نیکه نه، له غورنیکه او تیرو واکدارانو نه یې ګیلې کړي دي، ورته په قهردی، آن تر دې چې ښیراوې یې کړي دي او هغوی ته یې د جهنم غوښتنه کړې ده.(۱)

ښاغلی ارینزی!

زه هم تر ډیرې اندازې در سره همغږی یم او دې ته لکه تا غوندې خپه یم چې یو نه، بلکې څو نسلونه را سره همدا اوس ژوندي بیسواده دي:
ـ د جګ او زاړه عمر خاوند نسل،
ـ د منځوي عمر نسل،
ـ ځوانان نسل،
ـ او نوی دنیا ته راتلونکی نسل.

هغه بدبخته نسل چې له ټولنې، پلار، نیکه او تیرو واکدارانو نه داسې ټولنه شرایط، قوانین او طرز تفکر ورته په میراث پاتې دی چې هغه نوي زیږیدونکي ماشوم ته پرته له بیسوادی، ناپوهی او بدبختی بل څه په لاس نه شي ورکولای. دا خو د ژړا او غم وړده، دا پوښتنه باید مطرح شي چې له دې خلکو او ټولنې سره دا جفا چا وکړه، دا هر څه له کوم آدرسه ورسره شوي او له کوم آدرسه همدا اوس کیدونکي دي.

ارینزی صاحب!

ستاسو له لیکنې نه یوه خوشالتیا هم را په برخه شوه، هغه دا چې دا دی اوس، اوس دا کار روان دی پیل شوی او پلویان پیدا کوي چې د ټولنې د اکثریت د بیسوادی، ښوونځي او پوهنځي ته د نه تګ، ناپوهی او له تمدن او ژوند نه د لرې والي مسایل مطرح کیږي او په دلایلو او عواملو

باندې یې فکر کیږي. زه ستاسو دا مقاله د خپلو هغو مقالو په تایید کې یو مخ پر وړاندې حرکت بولم؛ چې ما د نوي نسل د روزنې، د مطالعې د کلتور د رواجیدو او زدکړو ته د تشویق له پاره لیکلې دي او اوس هم لګیا یم د مقالو دې سلسلې ته دوام ورکوم.

ستاسو به په یاد وي که نه، خو زما داسې په یاد دي لکه دا اوس، چې د ۲۰۰۷ کال په اوړي کې له وطن څخه، له اولسو (۱۷) کلونو لرې والي وروسته، کابل ته درغلم. هغه مهال تاسو په آریانا تلویزیون کې د ریاست چارې چلولې. ما هیڅ علاقه نه درلوده چې په دریمه کارته کې د آریانا تلویزیون ساتونکي زما جیبونه او ځان داسې ولټوي لکه غلا مې چې کړې وي، خو ما دا ټول د دې له پاره پر ځان ومنل چې وروسته له کلونو مې ستاسو لیدل خپل فرض ګاڼه، نه د دې له پاره چې ته ریس یې، بلکې د دې له پاره چې زما یو دوست یې، لیکوال یې او د قلم ډیوه دې له تورې تیارې نه د خلکو او وطن د خلاصون له پاره په هر ډول حالاتو کې په لاس کې نیولی دی.

هماغه مهال ما تاسو څخه د تر سره کړو فرهنګي کارونو پوښتنه وکړه، تا راته یو، یو راوښودل، خپل هغه پنډ کتاب ته دې اشاره وکړه چې د انسایکلوپیدیا په بڼه دې د ټولې نړۍ په باب مالومات په کې راټول کړی و. خو ما دې دا اوسني یآس او نا امیدۍ نښې په سترګو کې هغه وخت لا لیدلې او احساسولې.

په هرصورت،

زه فکر کوم چې د بدخشان د باریک آب او د افغانستان په نورو سیمو کې د طبعي آفاتو په پیښیدو سره ستري انساني غمیزې رامنځ ته شوې، چې واقعاً د ژړلو وړ دي او د هر بادرده انسان له سترګو اوښکې بهوي، خو زه یې داسې ګڼم چې له دې ټولوغمیزو نه ستره غمیزه همدا د یوه نه، بلکې د څو نسلونو بیسواده پاتې کیدل دي. **ټینګارکوم او وایم چې د یوه نه، د څو نسلونو بیسواده ساتل دي.**

زما او ستا نسل ته، زما او ستا پلرونو او نیکونو ته له هماغه یوه آدرسه ویل شوی چې ښوونځي ته تګ ګناه ده، سواد ښه نه دی، قیرسرک، بریښنا ښه نه ده، تلویزیون خو کاملاً کفر ګڼل کیږي. اوس هم زموږ کلیوالي میرمنې که د تصادف له مخې پر داسې ځای ورپیښې شي چې په کوټه کې د تلویزیون خپرونې روانې وي، د تلویزیون پر پرده د نارینه په ښکاریدو سره مخ پټوي.

«آبۍ ټوله بې»، د افغانستان د خلکو د ژوند هره پاڼه چې اړوي له دردونو ډکه ده، په هره پاڼه کې په سلګونو لا زرګونو تپل شوي دردونه په تورو رنګونو رسامي شوي دي.

په افغانستان کې د کمپیوتر او فیسبوک په راښکاره کیدو سره رباني د ملایانو یوې غونډې ته په ښکاره ډول په لوړ آواز ویلي:

«او علمای کرام! فکر تان باشه که از طرف فیسبوکي ها چپه میشین...»

خبره مالومه ده، له هماغه پیل نه تر اوسه دا کار دوی د خپلې بقا له پاره کړی او کوي یې. دوی ټول خلک ناپوه او ړانده ساتي چې د دوی حق او ناحق فتواوې په پټو سترګو ومني. زما ښه په یاد دي چې د تیارې همدې استازو، زما په پلرني او مورني کلي کې، د میدان ښار د نرخ ولسوالۍ د دادل په دره کې زموږ ملي نڅا (اتن) ناروا او له ګناه ډک عمل وباله.

ښاغلی آرینزی!

زما او ستا په کلي، کور او وطن کې اوس هم، د یوویشتمې پیړۍ په څوارلسم کال کې خط په ملا لوستل کیږي. یو نیم ځوان که لږ وزرې پیدا کړي، منډه یې تر ایران او دوبۍ پورې ده چې د کورنۍ له پاره روزي او یا د خپل واده له پاره ولور پیدا کړي. کله چې بیرته راشي د پردي

کلتور په هغو توکو لړلی وي چې په خپلو خلکو او ټولنه کې یې د زهرو حیثیت لري او یا داسې په مخدراتو روږدی وي چې بیا د هیڅ کار نه وي.

په تیرو څه کم و زیات څلویښتو کلونو کې داسې حالات پردې خلکو او ټولنې باندې راوړل شول چې روح، روان او د ژوند ټول اړخونه یې ورته ګډوډ کړل. زه کار نه ورباندې لرم چې سور انقلاب و که سپینه کودتا، عادي بدلون و که شین جهاد و او که څه نور؛ خو زما خلک او ټولنه یې دغسې کړه چې اوس ټول ورته لاس تر زنې یو او رغولی یې نه شو.
د دې ټولو هلوځلو په پایله کې ویل کیږي چې موږ روسان په ګونډو کړل، موږ جهاد وکړ، موږ امریکا په ګونډو کړه، موږ دا وکړل موږ هغه وکړل. هر څه مو چې کړي، کړي به مو وي، پر دې مو فکر کړی چې ګټه یې چا ته رسیدلې ده؟

د افغانستان د جګړې له برکته پاکستان د اتمي سلاح خاوند شو، خو زه او ته بیسواده، ناپوه او نان ګدایه یو. د همدې مودې په اوږدو کې او لا اوس هم په ملیونونو افغانان پاکستان او ایران سره یرغمل دي، مزدوري ورته کوي، خو هغوی یې د «افغان آشغال» په نامه یادوي.

په دې باید پوه شو چې نه روسان په ګونډو دي او نه امریکایان او نه هم نور. هغوی موږ افغانان خپلو موخو ته د رسیدو له پاره وکارولو او بیایې لکه دلاسو یا تشناب کاغذ ایسته وغورځولو.

په دې باید پوه شو چې اصلاً موږ افغانان د خپلې نا پوهۍ او بیسوادۍ له لاسه په ګونډو یو، داسې پړمخې لویدلي یو چې اوس بیرته جګیدلی نه شو او دا ښکاره ده چې له هماغه یوه آدرس موږ داسې نا پوه او بې سواده ، بې تعلیمه ساتل شوي یو او اوس هم هماغه پروسه روانه ده او څوک غږ هم نه شي کولای. د آدرس نوم هم نه شي اخیستلای. د همدغه غږ نه جګولو مسآله مې یو وار ګران احمد تکل سره په یوه ایمل کې داسې شریکه کړه:

«مخ کې مې ویر دی

غواړم وژاړم

ژړلی نه شم،

ډیر هم ترخه دي

چې یې وایم

خو ویلای نه شم»

له بده مرغه چې زموږ د ټولنې د وګړو روح او روان له جګړې سره عادت شوی دی. له بیسوادو خو هسې هم ګیله نه کیږي، خو هغه وګړي چې سواد لري، لیک لوست کولای شي، د علمي او هنري مطالبو د لوستلو پر ځای نظامي، جنګي او غولونکي سیاسي مطالب ډیر ښه او په مینه لولي.

همدا نن (۰۹،۰۶،۲۰۱۴) په تاند ویبپاڼه کې، په پاکستان کې پر هوایي ډګر باندې د حملې خبر خپورشو. همدا اوس چې په اروپا کې د پاسنۍ نیټې د سهار لس نیمې بجې دي، په تاند کې د حملې د خبرله خپریدونه لس نیم ساعته تیر دي، دا مطلب ۵۶۱ ځلې لایک شوی دی (۲) او په (۲۰،۰۴،۲۰۱۴) نیټې کله چې د غفور لیوال غوندې شاعر«باد» نومی شعر د همدې تاند پر مخ راښکاره شو، شپږ ورځې آنلاین و، یوازې یو وار لایک شوی دی. (۳) دا خواشینونکې نه ده چې د ګلانو پر ځای د باروتو بوی خوښوو؟

دلته په ډنمارک کې په کوم کلي کې چې زه اوسیږم، پخوا د دیرشو کورنیو په شاو خوا کې افغانان اوسیدل. په دې افغانانو کې تقریباً نوي سلنه نر او ښځې بیسواده دي. هغه چې یو څه سواد هم لري، نه مطالعه کوي او نه یې په کور کې کتاب پیدا کولای شي. ماشومان یې د خپلې مورنۍ ژبې په لیک لوست نه پوهیږي، که یې څوک ورياده هم کاندي وایي چې څه یې کوې؟ مورنۍ ژبه یې څه په درد خوري. یوه ورځ زما میرمنې یوې بلې افغانې میرمنې ته ویلي وو چې حد اقل په کور کې خو په خپله ژبه خبرې سره کوئ!

هغې محترمې؟ ورته په ځواب کې ویلي وو:

څه کوو خپله ژبه، څه په درد مو خوري، پریږده چې د دې ځای ژبه مو ښه زده شي او...
دا ټیپ خلک په رښتیا فکر کوي او ځان یې تلقین کړی دی چې د جنت لوړو ځایونو او منارو ته رسیدلي دي، نور نو وطن، د وطن خلک، مورنۍ ژبه او خپل کلتور څه کوي.

پرته له شکه چې په داسې حالاتو کې هر څوک خپل مسولیت لري، دولت خو یې په کیسه کې هم نه دی. زه فکر کوم چې په دې ګډوډ حالت کې یوازې فرهنګیان د مسولیت ژوراحساس کوي او د دې بیسواده نسل پر دې بد حالت زوریږي، مګرد دې زوریدلو او د مسولیت د احساس تر څنګه دا پوښتنه هم باید مطرح شي چې پردې نسل دا بیسوادي چا راوسته، چا د بیسوادۍ او ناپوهۍ په دې دایره کې وساتل.

ارینزی صاحب!

څنګه چې تاسو اشاره ورته کړې ده، له دین او مذهب نه هم زموږ برداشت ناسم دی او هرڅه مو په غلطه او ناپوهۍ کې له دین او مذهب نه قربان کړي، آن تردې چې ځینو ښاغلو؟ تنظیمي مشرانو خو د«اسلام سرحد نه لري» تر شعار لاندې وطن هم په کې «دو» ته ایښی و. او د آخرت او جنت په نامه مو خپل او د نوي نسل ژوند داسې تباه کړی دی چې ټول عمر به بیل او پړی په غاړه ګرځوو.

او باید له ما نه ته ښه په دې پوه شې چې د نوي نسل د بیسوادۍ او د غلامۍ دایرې کې ساتل د چا مسولیت دی او څه باید ورسره وشي؟؟؟

ارینزی صاحب!

دا چې تاسو د خپلې مقالې په یوه برخه کې لیکلي:

«زه کله نا کله د خپلو، خپلوانو او عزیزانو په کمکیو مجالسو کې وایم چې لاسونه پورته کړئ او ووایئ چې خدای دې زموږ ډېر پلرونه، نیکونه او غورنیکونه نه ښې؛ ځکه چې موږ ته یې ډېر بد میراث پرېښی دی. د قبیلوي ژوند مضبوط حصار، د اسلام ډېر وروسته پاته او کلیوالی تفسیر، خپلمنځي شخړې او دښمنۍ، تربورګلوی، له سواد، پوهې، تعلیم، کتاب او قلم سره پټ او علني مخالفت، له مدني ژوند، بدلون پرمختګ او نوي فکر سره دښمنۍ او داسې نور.» (۱)
دا زه درسره منم چې له تیرونه موږته د راپاتې میراث ډیره سلنه منفي ده چې اوس د تمدن له کاروانه په کیلومترونو نه، بلکې په کلونواولاپیریو لرې یو، خو پوښتنه دا ده چې دا حالت زما او ستا په پلرونو او نیکونو او ما و تا باندې چا او څنګه راووست. پلرونه او نیکونه خو نا پوه او بیسواده وو، زه او ته خو سواد هم لرو، دننه او بهر کې مو هم سترګې اوښتې را اوښتې دي او په ډیرو سیاسي مسایلو هم پوهیږو، پر ما او تا باندې ولې او چا او څنګه دا حالت تحمیل کړ چې نن مو نوی نسل د کتاب او لپ ټاپ پر ځای پړی بیل او ګلنګ پر اوږه ګرځوي؟؟؟

دا په ایران کې د یوه مزدور افغان د زړه غږدی:

ورک دې شي ایران، په ایران کې مې زړه تنګ دی
هر شرکت تـه لاړ شم په نصیب کې مـې ګُلنګ دی

پـوه پـه ګناه نــه یم، د مـهندس را سره جنګ دی
میاشت مې پوره نه وي، بیا روان یم بستروسره...» (۴)

زما او ستا هر چیرې تلونکی هیواد وال خو وایي چې:«پوه په ګناه نه یم...» د ده ګناه مالومه ده، ګناه یې د سواد، د زدکړې، تعلیم او تخصص نه درلودل دي، یوازې بیل، ګُلنګ او پړی باید استعمال کړي، دا ځکه چې دلته په خپل کلي کور او وطن کې ورته ویل شوي دي چې:

ښوونځی ته تګ ګناه ده،

دسوادزدکړه ګناه ده،

دا دنیا دکفارو دنیا ده او...

راغلم ستاسو خاطرو ته:

دا خاطرې کیدای شي د ځینو زړه ته هم ونه لویږي او هسې یوه فانتازي یې وګڼي، خو زه یې نه یوازې دا چې درسره منم، بلکې یو وار نه څو، څو ځلې ما هم په خپلو سترګو لیدلي دي. داسې ځایونه هم شته چې که سر وربښکاره کړې، له دې نه یې هم بد تره مخې ته درځي او دا حالت داسې زوروونکی دی چې، غوښه لا څه چې د بادرده او با درکه انسانانو هډوکي هم سوځوي.

تاسو په ابوظبی کې ځوانان بې سواده بې تعلیمه لیدلي دي، هلته خو هغوی ته د زدکړو هیڅ ډول امکانات نه شته، هغوی خو په همدې بیسواده حالت راغلي دي مزدورۍ ته کورنۍ ته رزق ګټي او که ډیره میړانه وکړي نو د ولور پیسې به هم وګټي چې لکه څارویو غوندې د چا لور او خور ځانته واده کړي.

راشه دلته اروپا ته. د زدکړو ټول امکانات په وړیا ډول شته دي، خو افغان لالا یې نه غواړي. د پیسو د ګټلو له پاره خپل اولاد «پیزاري» ته لیږي، ښوونځي ته نه. زه یې نوم نه اخلم داسې کورنۍ مې ولیدلې چې وایي ځم له افغانستان نه خپل زلمي زوی ته داسې ښځه کوم چې لاسونه یې د خوشایو بوی وکړي چې په هیڅ هم پوه نه شي او...

د هغې محترمې؟ کورنۍ اصلي مقصد دا دی چې هغه را ودیدونکي جلۍ بیسواده وي په هیڅ خبره نه وي چې دلته د ژوند تر پایه د دوی او د دوی د زوی تر حکم لاندې ژوند وکړي.همدا اوس په اروپا میشتو افغانانو کې داسې غمجنه ډرامه د یوه ډیر ترخه عیني واقعیت په ډول روانه ده. او د دې نا سزا کارونو تر څنګه دا نا سم او ناجایز غیرانساني دود نور هم په عامیدو دی چې دغسې کورنۍ چې له خوشیو ډک نوکان نجونې دلته د ناوې په ډول راولي، هغوی د نورو افغانانو په منځ کې په ویاړ سره د خپلې نږور او زوی د درنولوپه موخه وایي:

«دیرش زره ډالره مې پرې ورکړل او...»

او په ځینو نا پوه کورنیو کې چې بیا دلته لور ورکوي د دې مبلغ د ترلاسه کولو هیله یې په زړه کې غوټه کړې وي او که چیرې د ځوانانو د ژوند کوم تړون وشي او د هلک کورنۍ په پټناسه کې لوی مبلغ کینږدي، نو یوعالم ستونزې د دواړو کورنیو په منځ کې په پټه او ښکاره رامنځ ته کیږي چې خبره یې د «دیموکراسي بې بې» په دایره کې تر بیلیدو او طلاق پورې هم رسیږي.

ارینزی صاحب!

ستاسو د مقالې په پای کې د مسولیت خبره مطرح شوې ده. دا موضوع ډیره په ځای او ښه خبره ده. موږ هر یو باید په خپل ځای او وخت سره د خپل مسولیت په درکولو سره، دې ستري غمیزې ته پام وکړو او د ټوپک د لرلو او ساتلو د کلتور پر ځای، د قلم کاغذ، کتاب، سواد، مطالعې، ښوونځي، پوهنځي علم زدکړې او تمدن په عامولو کې خپله ونډه تر سره کړو.
ما دلته په اروپا کې د «پردی چاپیریال او د کوچنیانو او ځوانانو د زدکړې مسآله» تر سرلیک لاندې د مقالو سلسله په ۱۹۹۴ کال کې پیل کړه چې لومړنۍ مقاله یې له ماسکو څخه په خپریدونکي «نوید» اخبارکې چاپ شوه. دا سلسله تر اوسه هم د همدې نوي نسل د سواد زدکړې او مطالعې د تشویق له پاره ما جاري ساتلې ده، خو په ۲۰۱۰ کال کې کله چې د سویدن په مالمو ښار کې د یو سمینار له پار ه ما د «اور او ګلان» تر سرلیک لاندې مقاله لیکلې وه او هلته مې واورولې، له منفي چلن سره مخ شوم. ما په هغې مقاله کې لیکلي وو:

«... دا خو زموږ او زموږ د ژبې او فرهنګ پر ضد د تربرونو د کارونو یو څو لنډکی بیلګې وې؛ خو رابه شو خپل ځان ته. موږ خپله څه کوو؟ خپل سر باید په خپل ګریوانه کې ښکته کړو او ووایو چې: څومره مو د خپلې ژبې، ادب او فرهنګ له پاره مثبت کار کړی، او څومره مو د خپلې ژبې، ادب او فرهنګ له پاره مزاحمت او خنډونه پیښ کړی دي؟

په افغانستان کې د انقلاباتو او بدلونونو په لړ کې ډیر افغانان بهر ته روان شول چې په هغو کې پښتانه زلمیان هم وو؛ خو توپیر یې په دې کې و چې د نورو قومونو زلمیان اکثراً په زده کړه پسې ولاړل او د الفت صاحب خبره یې پر ځای کړه چې ویلې یې وو:

«ځوانان باید په علم پسې ولاړشي او د علم رڼا له ځان سره راوړي»؛

خو زموږ ځوانان په بله خوا روان شول. زموږ د اکثریت ځوانانو او د هغو د کورنیو ویاړپه دې کې و چې ځوانان یې دوبی ته په مزدورۍ پسې تللي دي.

شپون صاحب په «و، نه و، یو شپون و» کې دې موضوع ته ډیره ښه او مستنده اشاره کړې ده. کوم پښتون جهادي رهبر د شپون صاحب زورور آشنا و، د خبرو په ترڅ کې شپون صاحب ورته ویلې وو: امکانات خو لرئ، دا ځوانان بهرنیو هیوادونو ته ولیږئ چې علم زده کړي، کمپیوتر زده کړي او...

هغه په ځواب کې ورته ویلې وو: بهر ته یې ولیږم او په لوی لاس یې د کفر لمنې ته ور وغورځوم او...

وګورئ! که ښه حقیقت ته ځیر شو، بهرنیو هیوادونو ته یې د کفر له ډاره نه لیږو، او د وچوغرو لمن کې د قهریدلي شنه یا وریځ آسمان تر چتر لاندې، یا د پسونو، وزو او خرو په لکۍ پسې ټول عمر تیرولو سره خو د نوي عصر نوي علوم زده کیدای نه شي، او کله چې مو نوي علوم او فنون زده نه وي، نو له تمدن سره به بیګانه او له کاروان څخه به یې ډیر وروسته پاتې اوسو، بیا نو نه پښتنو ته څه کولای شو او نه هم پښتو او نه هم پښتني فرهنګ ته...

دغه راز له بده مرغه زموږ د دودیزې ټولنې ویاړ دعلم او تمدن په ارابه پسې ځغاستل نه دي، بلکې د دین په لمن پورې زوړندیدل دي. دا خبره د دې مانا نه لري چې په علم پسې تلل دې د دین د هیرولو په مانا وانګیرل شي. خپله دینداري به هم کوو او د علم زده کړه به هم نه هیروو...» (۵)

زما له مقالې نه وروسته د تفریح پر مهال د همدې افغانانو له خوا غبرګون راسره وښودل شو او د دیني ضد افکارو په تور یې تورن کړم.

له بده مرغه چې زموږ دا باسواده لوستي قشر باندې هم د جګړې او غلطو سیاستونو کلتور مسلط دی. د علم او پوهې، شعر او هنر، ښوونې روزنې او پرمختګ پر ځای؛ غلطو سیاسي مسایلو سره ډیره مینه ښیي او په مقابل کې علم هنر پوهه او پرمختګ ته دومره پام نه کوي.

اوس نو که دا د یوه ترخه واقعیت په ډول ومنو، نو باید دا هم ومنو چې د دې نیمګړتیا رفع کول وخت او کار ته اړتیا لري چې څنګه د دې خلکو او د دې ټولنې په جګړې عادت ماغزه او د جګړې په دود لړي ماغزه بیرته په هنر او عاطفې باندې پریولل شي، هنري ذوق ورکړل شي، عاطفه او مینه ور وښودل شي چې د جګړې او تشدد لاره پریږدي، په مینې او محبت سره علم زدکړې، د سواد او مطالعې لاره غوره کاندي او په کور کې د سلاح پر ځای کتاب، قلم او کمپیوتر وساتي او د ښوونې روزنې او تعلیم په تر لاسه کولو سره د تمدن او نوي ژوند پر لاره روان شي.

مآخذونه:

1-http://larawbar.net/40516.html
-2 http://www.taand.com/archives/26506
-3http://www.taand.com/archives/23711
-4
http://www.youtube.com/watch?v=H3fW9H35BCQ

-5http://tolafghan.com/posts/19791

د سواد زدکړه، تعلمي نصاب، امکانات

او زموږ دریځ

لسمه مقاله

د سواد زدکړې مسأله په هره ټولنه کې
د پرمختګ یو بسټیز شرط ګڼل کیږي.

د نوي نسل د روزلو په موخه زما د فعالیتونو او لیکنو یوه برخه د سواد د نهضت د پیاوړي کیدو او مطالعه په یوه منلي دود باندې بدلول دي. د همدې هیلې د تر سره کیدو په موخه کله، کله د محسوسې اړتیا له مخې یا د ځینو مناسبتونو په پار داسې څه لیکم چې ټول دې د سواد او مطالعې حیاتي موضوع ته پام واړوي.

همدا څو ورځې مخکې مې د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت د «شپیته سلنه بیسوادي، یو سلنه بودجه» تر سر لیک لاندې مقاله ولیکله. د هغې مقالې په یوه برخه کې راغلي دي:

«په ژوند کې د بریالیتوب یو راز، بینا او رڼې سترګې دي. کله چې سواد نه وي، سترګې ړندې وي په هره ټولنه کې سواد او د سواد له لارې تر لاسه شوې پوهه، د هغه څراغ حیثیت لري چې هر انسان کولای شي د ژوند تیاره لار پرې روښانه کړي او پرته له ستونزو په رڼو سترګو د ژوند پر لاره په استوار ډول قدم کیږدي.

د سپتمبر اتمه د سواد زدکړې نړیواله ورځ ده. په دې ورځو کې چې بیا د سواد د نړیوالې ورځې لمانځل او یادول را رسیدلي دي، زموږ په هیواد کې په لوړ غږ تبلیغ ور ته کیږي، مسولې اداري د نوې بودجې د تر لاسه کولو په خاطر سواد زدکړه مهمه ګڼي او په ژوند کې یې د پرمختګ تر ټولو مهم رکن ګڼي، خو په څنګ کې یې د میډیا په ځینو برخو کې داسې ارقام وړاندې کیږي چې د افغانستان د وګړو شپیته یا دري شپیته سلنه وګړي بیسواده دي او ځینې نورې رسنۍ بیا وایي چې د دې شپیته سلنه بیسواده وګړو د سواد زدکړې له پاره د معارف وزارت د بودجې یوازې یوه سلنه په نظر کې نیول شوې ده.

که یې د فورمول په ډول په نظر کې ونیسو، بیسوادي د ټولو ستونزو مور ده. کله چې سواد نه وي، مطالعه، پوهه او علم نه وي او کله چې پوهه نه وي د هغې ټولنې وګړي به تل له داسې ستونزو سره مخ وي، لکه اوس چې زموږ ټولنه او خلک عملاً ور سره لاس ګریوان دي.»

اوس بیا د ښونې او روزنې وزارت د سواد د زدکړې مسأله را مخته کړیده، د جوړو شوو کورسونو شمیر، په کورس کې د شاملینو ارقام، د فارغانو شمیر او... وړاندې کوي.

په دې باب د بي بي سي په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«د افغانستان د پوهنې وزارت ویلي؛ په هېواد کې د بېسوادۍ له منځه وړلو او د سواد زده کړې اجباري کولو طرحه یې جوړه کړې ده.

د افغانستان د پوهنې سلب صلاحیت شوي وزیر اسدالله حنیف بلخي د یکشنبې په ورځ (عقرب/لړم ۳۰مه) په یوه ناسته کې وویل؛ د دغه هېواد ۶۰ سلنه خلک بېسواده دي او د دوی له ډلې ۸۰ سلنه ښځې دي.

ښاغلي بلخي زیاته کړه؛ تر ۱۵ کلونو د ډېر عمرلرونکو ۱۱ میلیونه بېسواده کسانو له ډلې ۵۰۰ زره کسان په ټول افغانستان کې د سواد زده کړې په ۱۵ زره مرکزونو کې په زده کړو بوخت دي. د هغه په وینا، هرکال له ۳۰۰ تر ۳۵۰ زره کسان بریالي کېږي چې په دغو مرکزونو کې د سواد زده کړې پروګرام بشپړ کړي او د لیکلو او لوستلو جوګه شي...»

ما په خپله تیره یاده مقاله (شپیته سلنه بیسوادي، یو سلنه بودجه) کې ویلي و چې مسؤلین د څه له پاره او په کومو ځانګړو وختونو کې ارقام وړاندې کوي او ولې.

ډیری دغه کسان چې د افغانستان په حکومت او دولت کې لوی یا واړه منصبونه لري، دوی په خپله، یا هغه سیاسي نظامي سازمانونه یا تنظیمونه چې دوی ور پورې اړه لري او یا یې دوی په سهمیه کې پر ټاکلو څوکیو ډډې لګولې دي؛ دوی هغه ډلې او هغه کسان وو چې په کلونو، کلونو یې د سواد زدکړې ستې رنګې کړې، ښونکي یې حلال کړي او د کورس شاملین یې په بمونو الوزولي دي، هغه وخت دوی دا کار د جهاد په نامه د ثواب د ګټلو په موخه تر سره کاوه؛ خو اوس د دیموکراسۍ شمال ته همدغه کسان شړقنده څنې اړوي او غواړي هغه څوک باسواده کړي چې د همدوی د ثواب ګټلو په اړودوړ کې د سواد زدکړې له نعمت نه محروم شوي دي او لکه د چا خبر ړانده دي او څه لوستلای نه شي.

د سواد د نه درلودونکو د ارقامو په باب یو د افغانستان د اړوندو مقاماتو شمیرې دي او بل د نړیولې ټولنې د ځینو اړوندو مقاماتو ارقام. که دا دواړه سره پرتله شي، ډیر توپیر په کې لیدل کیږي. دولتي مقامات یوازې د ښارونو د شمیرنو له مخې ارقام وړاندې کوي چې د هغو له مخې د بیسوادو شمیر شپیته سلنه ښوول کیږي، خو نړیوالې منابع په اټکلي ډول وایي چې په کلو او باندو کې د بیسوادو سلنه څو ځلې تر ښاري ارقامو لوړه ده.

په یوه ډیر نوي راپور کې راغلي دي چې:

«... د یونسکو رییسې او استازې پیتریشیا مک فیلیپس وویل، د زده کړو په برخه کې له بې وقفې هڅو سره سره، لا هم تر ۱۵ کلونو کشر ۱۱ ملیون تنه لیک لوست نه شي کولی او په ابتدایي حساب نه پوهېږي.
دې همداراز وویل، په افغانستان کې د سواد د ملي پلان پر اساس په سلو کې ۳۴ نارینه او په سلو کې ۱۸ ښځو په ټیټه سویه سواد زده کړی دی.

په کلیوالي سیمو کې په سلو کې ۹۰ ښځې او په سلو کې ۶۳ نارینه لیک لوست نه شي کولی.
په دې غونډه کې د افغانستان د پوهنې وزیر اسد الله حنیف وویل چې په سلو کې ۴۰ افغانان بې سواده دي.»

دغه راز د ملګرو ملتونو د یونسکو ادارې په یوه راپور کې چې په همدې نږدې ورځو کې خپور شوی، داسې راغلي دي:

«یونېسکو: لاهم ۱۱ میلیونه افغانان له بې سوادیه کړېږي،
د یونېسکو د شمېرو له مخې یوازې ۳۴ په سلو کې نارینه او ۱۸ په سلو کې ښځینه له کافي سواده برخمن دي. د یونېسکو یا د ملګرو ملتونو علمي او فرهنګي سازمان وایي ۱۱ میلیونه افغانان اوس هم له بې سوادۍ څخه کړېږي.»

له دې راپورونو او په ټولنه کې د عیني لیدنو او ستونزو د شتون له مخې لیدل کیږي چې د بیسوادۍ کچه څومره ده او پایلو یې څومره ستونزې رامنځ ته کړې دي؛ خو افغان مقامات د ستونزې د حل له پاره کوم خانګړی پروګرام او نوې پالیسي نه لري، همغه د څو کلونو زاړه پروګرامونه او شعارونه وړاندې کوي او د نویو ستونزو د حل له پاره د نویو امکاناتو نه د استفادې کومه نوې پالیسي، پروګرام او حل لاره نه لري.
د دې تر څنګه د ښونځیو په تعلمي نصاب کې هم ګڼې ستونزې شته. تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې په تعلمي نصاب کې د نورو هیوادونو، په تیره د ګاونډیو هیوادونو د تعلمي نصاب تاثیرات له وریه ښکاري.

له دوه زره لومړي (۲۰۰۱) کال نه بیا تر دوه زره څوارلسم (۲۰۱۴) کال پورې زماني واټن کې، که د افغانستان تعلمي نصاب پښتو او دري دواړو برخو ته نظر واچول شي، په هر ټولګي کې له شپږو نیولې تر لس دولس مضمونه چې د یو ټولګي له پاره په نظر کې نیول شوي دي، دوه، دري او کله لا څلور او پنځه په کې داسې مذهبي مضامین ځای پر ځای شوي دي چې له یوې خوا خپله ښونکي په هغه باندې سم نه پوهیږي او بل لوري ته که پوه هم شي د هغو مضامینو د محتویاتو د پوهیدو په پایله کې د ښونځیو له اتیا سلنې شاګردانو نه مذهبي افراطیون جوړیږي او اوس د همدې تبلیغاتو او تعلیمي نصاب د تطبیق په پایله کې، په ټولنه کې یې نظامي او غیر نظامي نتایج له ورایه محسوس دي چې هره ورځ څومره ورانی او وژنې روانې دي.

دغه راز په خصوصي ښونځیو کې، لیدل کیږي چې کټ مټ د نورو هیوادونو تعلمي نصاب تطبیقیږي، او د څارنې او پوښتنې یې هیڅ څوک نه شته. د روهي ویبپاڼې د ډیر نوي رپوټ له مخې همدا اوس د افغانستان په ځینو خصوصي ښونځیو کې پاکستانی نصاب تدرسیږي. په رپوټ کې راغلي دي:

«د طالبانو له سقوط راوروسته په افغانستان کې د ازاد بازار له برکته خصوصي ښوونځي دود شول، افغانستان، چې په دې برخه کې پوره کدر او ظرفیت نه درلود، نو هر خصوصي ښوونځي د پاکستاني ښوونکو سربېره، پاکستاني نصابونه هم له ځان سره راوړل.

ځینې داسې ښوونځي هم شته، چې د اکسفورډ او کمیرج د خصوصي ښوونځیو نصابونه، چې په پاکستان کې په ناقانونه توګه او په غلا بیا چاپ شوي، د ښوونځیو مالکینو په همدې پاکستانۍ بڼه دلته راوړل او په کابل او ولایتونو کې تدریسول.

اوس، چې خواله رسنیو کې د کوم خصوصي ښوونځي اړوند پاکستانی نصاب لاندې باندې کیږي دا نوې خبره نه ده، جمیل الکوزی د کابل ښار استوګن درې کاله وړاندې، د تکبیر له لیسې څخه خپل بچیان د همدې پاکستاني نصاب له کبله وویستل.

هلته د کمپیوټر ساینس په کتاب کې د قاید اعظم انځورونه او د ریاضي په کتاب کې کلداره انځور شوې وه، کله، چې یې یاده مساله د ښوونځي له اداري سره شریکه کړه، اداري ورته ویلي وو، دا مهمه ده، چې شاګرد څه زده کړي، نصاب پسې مه ګرځه.

د افغانستان ډیری خصوصي ښوونځي دا ستونزه لري، خو وزارت یې د کنترول وړتیا او امکانات نه لري، ان د پخواني وزیر فاروق وردګ په وخت کې ځینې پاکستانۍ نجونې د مشاور په توګه هم په یاد وزارت کې دندې درلودې، نو په داسې یو وضعیت کې به وزارت څرنګه څارنه وکړي.

د بېلګې په توګه په تایمني کې د هوسۍ اندر اړوند د دانش په نوم خصوصي ښوونځی هم یادولې شو، چې په کابل کې دا حال وي په ولایتونو کې به وضعیت څنګه وی؟!»

خصوصي پوهنتونه او ښوونځي دا مانا نه لري چې هغه دې یا د پردیو د جاسوسۍ ځالې شي، یا دې د تروریستانو پټنځایونه او سلاح کوټنونه ورنه جوړ شي او یا دې د پردیو د تعلمي نصاب د تطبیق او د هغو د کلتور د خپرولو یوه پته وګرځي. اړوندې اداري د دې مسولیت لري چې د هغوی ټول فعالیتونه او پروګرامونه د وطني ملي ګټو په نظر کې نیولو سره، تر نظر لاندې ونیسي.

په دې ډول لیدل کیږي چې په ټولنه کې د سواد د نه شته والي او په تعلیمي نصاب کې د نا انډولۍ او بې پروایۍ په پایله کې، ګڼ شمیر ستونزې رامنځ ته شوې دي او د تیرو څوارلسو کلنو په موده کې که د نړیوالې ټولنې د مرستو ګراف ته وکتل شي، لیدل کیږي چې د دې ستونزو د حل له پاره تر نورو وختونو افغانانو ښوامکاناتو ته لاسرسی درلود، خو سمه استفاده نه ده ور نه شوې.

اوس هم باید فکر وشي چې څنګه کیدای شي د دې ستونزو د لرې کولو له پاره له دې امکاناتو نه څنګه اعظمي استفاده وشي؟

زما له نظره یې بیړنۍ د حل لاره داسې ده چې:

ـ لومړی دې له میډیا سره په ګډې همکارۍ د سواد د ارزښت او ګټو له پاره په وطني کچه د تبلیغاتو یوه پراخه لړۍ د یوه ستر ملي او انساني نهضت په ډول په دوامداره توګه را پیل شي،

ـ په دویم ګام کې دې د تعلیمي او کلتوري ارګانونو د ادارو واک، له تنظیمي او سیاسي ویش(غنیمت) له دایرې را خلاص کړای شي،

ـ په دریم پړاو کې دې د تعلمي او کلتوري لوړو او عادي ادارو په رأس کې، د لوړو زدکړو او ښو تجربو درلودونکي مسلکي او زړه سواندي کسان وګمارل شي.

په دې ډول کیدای شي چې د سواد زدکړې نهضت داسې راپیل کړاي شي چې د وروستي بې سواده، د سواد تر زدکړې پورې دې، دې نهضت ته داسې دوام ورکړي چې په ټول هیواد کې یو نالوستی شخص پاتې نه شي او دا کار دې له یوې خوا اجباري کړي او له بل لوري دې د«غنم د کار په مقابل کې» د پروګرام په څیر داسې ټولګي ور ته جوړې کړې چې د سواد زدکړې د هر کورس مشمولینو ته یو څه د مرستې په نامه یا نقدې مرسته وکړل شي او یا دې یوه اندازه لومړني خوراکي مواد دولت پر ځان ومني او هر څومره چې د سواد د زدکړې د کورس ګډونکوني لوړ ټولګي ته ترقي کوي، په هماغه اندازې دې د مرستو اندازه هم لوړه کړای شي، څو ګډونکونکي په مینې سره د سواد زدکړې کوروسونه پای ته ورسوي.

په دې ډول به د سواد زدکړې د کورسونو د تعقیب په لړ کې هیڅ کله د کورس ګډونکونکي د دې شکایت و نه شي کړای چې دوی که د سواد زدکړې په کورس کې کیني، نو د کورنۍ او اولادونو د روزې پیدا کولو مسأله به څنګه شي؟

زموږ د کلي کتابتون
(د مطالعې دود او اړوندې ستونزې)

یولسمه مقاله

شپاړلس کاله او څو میاشتې کیږي چې زه د ډنمارک په جنوب کې، د جرمني پولې ته نږدې د هیدرسلیف په ښار کې ژوند کوم. دې ښار ته مې له راتګ نه څو ورځې وروسته د کتابتون لټه وکړه، پیدا مې کړ او ورغلم. د پښتو او درې ژبو د کتابونو پوښتنه مې چې وکړه، یوې میرمنې په ډنمارکي څه راته وویل، خو زه پوه نه شوم، بیا یې په انګلیسي راته وویل: «فالو مي!»
د کتابتون په دویم پوړ کې یې یوې اوسپنیزې الماری ته ودرولم او پوه یې کړم چې دا ستا مورد نظر کتابونه دي، وې ګوره، که دې کومه پوښتنه لرله، بیا هم ما ته راشه.
ما په بیړه کتابونه وکتل، څو ټوکه مې په کې خوښ کړل او د پور کولو له پروسې وروسته مې کور ته له ځان سره یوړل.
دا دی اوس وروسته له شپاړسو کلونو هغه د افغانستان د کتابونو الماری تشه پرته ده او لکه د چا خبره وتړل شوه، هغه هم په دې وجه چې افغانان یا سواد نه لري او یا هم له مطالعې سره مینه نه لري. په کور کې خو کتاب نه ساتو، که یې وساتو، نو بیا په ژوند کې د هغه پاڼې نه اړوو او په دې بڼه یې ساتو:

دلته په ډنمارک کې د زدکړو او مطالعې له پاره بیحده امکانات ډیر دي. دا امکانات په څلور واړو سکندنویاي هیوادو کې یو شان دي، چې هر ډول کتاب دې چې د نړۍ په هر ګوټ کې په کار وي، ځانګړني یې مسؤلین در نه غواړي، پته دې لیکي، په شلو ورځو یا یوې میاشت یا لږ و ډیره موده کې کتاب راپیدا کوي او تا ته یا ایمیل له لارې او یا هم لیکنی خبر درکوي چې ستاسو د اړتیا وړ کتاب مو را پیدا کړ کولای شئ کتابتون ته تشریف راوړئ او کتاب په امانت

ډول واخلئ؛ خو که کتاب مطالعه نه شي او څو تنه یې په امانت وانخلي، یانې له کتاب نه که استفاده و نه شي، بیرته یې په هماغسې بیړه ایسته کوي، ځای نه ورباندې بندوي، حتی کیدای شي په فزیکي ډول یې له منځه یوسي.
پخوا به په هرو شپږو یا اتو میاشتو کې د افغانستان الماری تشیده او لس یا شل ورځې وروسته به یې نور نوي کتابونه له مرکزي کتابتون څخه راوړل. دا راوړل شوي کتابونه به چې هر څومره ډیر پور کړای شول، هغومره ډیر به یې نور را پیدا کول، خو اوس د افغانستان کتابونو پورې اړوند الماری بیخي تشه پرته ده.
پخوا به د لسو یا دولسو تنو په شاو خوا کې افغانانو کتابتون ته سر وربښکاره کاوه او کتابونه به ویې د مطالعې له پاره وړل، وروسته بیا د وخت په تیریدو سره شمیر را لږیده، تر څو چې درې تنه پاتې شول: زه، زما میرمن او جنرال صاحب حسن خان.
د دې له پاره چې د کتابتون مسؤلین پوه شي چې دا کتابونه د مطالعې له پاره وړل کیږي، همدې دریو یادو اشخاصو به یو کتاب په شپږو میاشتو کې درې ځلې پور کړ. او دا کار په همدې شپاړسو کلونو کې دومره تکرار شو چې نور موږ د راوړي کتاب له عنوان او لیدلو څخه ستړي شوو او ښایي کتاب به له موږ څخه ستړی شوی وي.
اوس کار دې ته ورسید چې د افغانستان برخه لکه د چا خبره تعطیل شوه، دا مانا چې افغانان نوره هیڅ مطالعه نه کوي یا ښه ده و ویل شي چې اوس نو جنت ته رسیدلي دي ، نور نو مطالعه څه کوي او...
یوه ورځ په لاره کې د کتابتون یو مسؤله په مخه راغله وې درلوم په کتابتون کې یې د مهاجرو په باب یوې جوړیدونکې غونډې ته وبللم، ما هم له موقع نه په استفادې سره د افغانستان د کتابونو او د الماری د تشیدو ور یاده کړه. هغې و ویل چې د کتابتون په کمپیوتر کې دا ډیره موده یو داسې کتاب نه دې راجستر شوی چې د افغانستان له الماری نه دې چا پور کړی وي، د هغه له پاره مو هغه ټول کتابونه د بهرنیانو کتابتون ته ورستانه کړل، هغوی هم ښایي له منځه وړي وي، ځکه چې ساتل او پالل یې هم مصرف غواړي او موږ په هغه څه مصرف نه شو کولای چې د چا په کار نه وي. او دا یې هم زما د ډاډ له پاره ور اضافه کړه چې ته مه خپه کیږه، ستا که کوم کتاب په کار وي، د هغه فرمایش به موږ ولیږو او ډیر ژر به یې درته را وغواړو.
زه خو یې داسې انګیرم چې په کوربنو کې هیڅ نقص نه شته، ټوله ستونزه په موږ کې ده. موږ یو چې له مطالعې او پوهې تر لاسه کولو نه ډیر، هغه بندارونه خوښوو او ترجیح ورکوو چې نور پکې تور کارغان وباسو او ځانونو څخه سپینې کوترې جوړې کړو او...

«په هغه ځای کې چې انسانی عقل شتون ولری، هلته باید کتاب هم شتون ولري.»(ویکتور هوګو)



کتاب، مطالعه او مالیه

پر کتاب باندې د مالیې لوړول، د پوهې درمند ته اور اچول دي

دولسمه مقاله

زه نه غواړم یو ځل بیا دلته د کتاب، پوهې او مطالعې پر ارزښت بحث را پیل کړم او ستاسو ښاغلو او آغلو وخت ونیسم، خو دومره ویل غواړم چې:

له هغې ورځې چې ما د څه لیکلو په نیت قلم اوچت کړی دی او د نوي نسل د روزنې په موخه مې د کتاب لوستنې، ښونځې او پوهنځې ته د تګ له پاره خپل قلم، ګوتې او ماغزه ستړي کړي دي، زه خپلو دې هلو ځلو ته د یو را ټول کړي درمند په سترګه ګورم، خو دا دی کوم تور کالی او تور مغزی د علم او پوهې دښمن، افغانستان ته، افغان ته، انسان ته اور اچونکی؛ پر کتاب باندې مالیه لګوي، نوره یې هم پسې لوړوي او زما د ټول عمر کرلې او په ثمر رسیدلې کروندې ته له تیلو او اور سره راغلی، اور ور اچوي.
د نوي نسل د روزلو په موخه ما او ما مانندو څو خوارو قلموالو د څومره مقالو په لیکلو او خپرولو سره، ایله د یوه نسل یو څو تنه دې ته اړ ایستلي وو چې مطالعې ته مخه کړي، ځکه چې:

کتاب او مطالعه ژوند جوړي،

له عالم او نورو خلکو سره مو سیالۍ ته په پښو دروي،

او...

دا کاروان روان شوی دی، خو د تیارو استازي یې د مالیې په نامه مخه ډبوي او غواړي چې د دایمي مزدورۍ په موخه یې د تیارو په څادر کې ور و نغاړي او د تل له پاره یې په تیارو کې و ساتي.

زه د دُنیا له پای نه د یو بې لښکره امپراتور په څیر څه کولای شم؟

یوازې دومره ویلای شم چې:

که نابغه کړي وي، که کودن، زه کار نه ور سره لرم،

چا وکړل، څوک یې کوي او...

د جهالت د تور غوړیدلي څادر په توره دایره کې، که د نا پوهۍ د استازو دا پالیسي روانه وي تر دې به هم تور کارونه وشي، خو عاملین دې یې په دې پوه شي چې:

دا نه خدمت دی نه د اقتصاد غوړیدل، دا د مطالعې او پوهې کاروان ته یو ستر مزاحمت او خنډ جوړول دی، پر ټولنه باندې د یوه بل تور څادر غوړول دي.

که تاسو سل کاله د کتاب مالیه په صداقت سره ټوله هم کړئ، دومره به نه شي لکه د واک په دایره کې تاسو سره د یوه ناست ښاغلي؟ د مصرف کړې بریښنا د نه تحویل شوي بل نیمایي.

پر کتاب باندې مالیه لګول، د علم د کاروان په واټ کې د ډبرو د دیوال جوړول، د نا پوهۍ د ډول سُر کول او د دې ډول په لوړ آواز غږول دي.

نور مو خوښه چې څوک څه ډول پرتوګ ور ته سکنې.

دا د رڼا او تیارې جګړه ده،

دا جګړه پای نه لري

دویم څپرکی

د تعلیم د عامولو څو تنه مخکښې څېرې

(د تعلیم هغه مخکښان چې زموږ په ټولنه کې د ډیوو حیثیت لري)

ډوکتور محمد تنها

د افغانستان د تیارو له پاره یوه بله ډیوه

د محمد تنها پي اِچ ډي «PH.D»

دیارلسمه مقاله

زما په قهرمانانو کې یو محمد تنها دی

زما له پاره قهرمان هغه څوک نه دی چې د خدای مخلوق په عذابوي او د ژوند له نعمت څخه یې محروموي،
زما له پاره قهرمان هغه څوک دی چې د خدای مخلوق ته د ښه ژوند کولو او د وطن د آبادولو علمي لارې چارې ښیي او د ښه ژوند کولو، پرمختګ آسانتیاوې ورته برابروي او...
زما په دغو قهرمانانو کې یو محمد تنها دی.

محمد تنها درې کاله او اته میاشتې مخکې له خپل وطن افغانستان څخه، د امیدونو له یو کاروان سره د جرمني هنوور پوهنتون ته د لوړو زدکړو او نویو تجربو د تر لاسه کولو په پار راغلی و او دا دی اوس په هسکه غاړه او د خپلو خلکو او وطن له پاره لا نورو هیلو سره ډک لاس د خدمت له پاره چمتو شو.

محمد تنها نه یوازې د ځان او خپلې کورنۍ له پاره د ویاړ یوه شمله شوه، بلکې د ټولو افغانانو او ټول وطن له پاره ویاړ شو او له ټولو نه وړاندې د افغانستان د پوهنتوني کورنۍ او علمي کورنۍ او د هغوي د اصلي ټاټوبي کابل پوهنتون له پاره، چې په افغانستان کې د پوهنتونونو مور ګڼل کیږي؛ د ویاړ داسې هسکه څوکه ګڼل کیږي لکه د پامیر او شمشاد هسکې څوکې په څېر.

«PH.D » ډګري محمد تنها دفاع کړه، خوشاله زه یم ورته او داسې ورته خوشاله یم، لکه خپله مې چې دفاع کړې وي.

له تاندې ځواني نه را په دیخوا مې، د ژوند په لومړیتوبونو کې یو لومړیتوب د لوړو زدکړو سر ته رسول و، هغه هم د «PH.D» تر کچې. تر ام اې (M.A) پورې ورجګ شوم، په بریالیتوب سره مې هغه هم دفاع کړ، کوردننه هغه وخت د «PH.D» د زدکړو له پاره آسانتیاوې نه وې. بیا وروسته چې پتنګان؟ را ورسیدل هر څه سره ګډ وډ شول، د روزګار ناخوالو وچ کړل، د جفا ګانو بادونو په هوا کړل او...

اوس پوهنتوني او علمي کړیو ته ګران او ما ته ګران محمد تنها زما ارمان پوره کړ. نن (۲۰۱۷/۱۲/۰۱) سهار مې د ده د بریالۍ دفاع پر خبر سترګې خوږې شوې. کوم بل دوست لیکلې و، خو ما د ده فیسبوک پاڼې ته سر وربښکاره کړ، هلته مې د ده په قلم دا متن له څو عکسونو سره تر سترګو شو:

«پرون مې د آلمان هانوور پوهنتون د هستوي او وړانګو فزیک له څانګې څخه له پوره درې کاله او اته میاشتو څېړنیز او تدریسي کار وروسته، په اعلی درجه خپله ډوکټورا دفاع کړه. د ډوکټورا موضوع مې «د کابل او هغه ته څېرمه سیمو په تیږو، اوبو، خاوره او هوا کې د یورانیمو، توریمو، پوتاسیمو او راډون اندازې مالومول» وو.

په دې څانګه کې وروستۍ ډوکټورا له نن څخه پوره ۴۳ کاله دمخه، پوهاند ډاکټر عبدالحی نظیفي د پخوانۍ یوګوسلاویا د بلګراډ له ښار څخه اخیستې وه. په دې تړاو یو بل نامې خبر هم سته خو د ډیسمبر په ۱۲ به یې د پوهنتون له رسمي اعلان څخه وروسته درته ووایم. د کورنۍ، خپلوانو، خاصو نږدې ملګرو او مخلصو آشنایانو له مینې او اخلاص څخه جار سم چې په مادي او معنوي هڅو یې تر دې ځایه را ورسولم. خدای مو په عزتونو لره. توبیت مې زښته برابر ده، ورکړئ زړونه چې ډوکټوراوې ډېرې سي!»

«After 3 years and 8 months of research work, I successfully defended my PhD. Thank you all individuals who helped me in one way or another in reaching this milestone. Special thanks goes to my distinguished professors and lovely colleagues»

کله مې چې دا خبر تر پایه ولوست، د سترګو حویلی مې له خوښی نه را نمجنه شوه. په زړه کې مې او پر ژبه باندې مې پر له پسې داسې تکراریدل:

داسې یې انګیرم لکه خپله مې چې د ډوکتورا ډیګرې دفاع کړې وي او سند مې یې تر لاسه کړی وي.

استاد ډاکتر تنها ته د خپل ځان او خپلې کورنۍ له خوا، د افغانستان د علمي او پوهنتوني کورنۍ د یو غړي په توګه د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله څرګندوم چې په کومه انساني او وطني مینه چې ښاغلي تنها خپلې زدکړې پای ته ورسولې، په هماغې مینې سره خپلې همدا زدکړې د وطن او خلکو د آبادۍ او ښیرازۍ له پاره وکاروي او د وطن د نوي نسل په روزلو کې لا کارنده ونډه واخلي.

ما تر اوسه استاد ډاکتر محمد تنها له نږدې نه دی لیدلی، حتی د فیسبوک ملګرتیا هم نه سره لرو، ښایي ما هیڅ ونه پیژني؛ خو د میډیا او ځینو دوستانو له برکته د ده افکار او خبرې تر ما پورې هم کله، کله رسیدلي دي، زما پام وراوښتی دی، ډیرې ښې د کار خبرې او ډیر نوي علمي نظریات لري، په تیره له نوي نسل او د هغوی له زدکړو او روزنې سره د ده لیونۍ مینه ډیره د پاملرنې وړ مسأله ده.

ما پخوا هم په زړه کې غوټه کړې وه چې د استاد تنها په علمي شخصیت او د ځوان نسل له روزلو سره د ده پر مینې به داسې یوه څه لیکم لکه محمود مرهون، ثنا ساپی او... ته مې چې لیکلي و. اوس دا دی د استاد تنها د بریالي فراغت په پار به زه یوڅو کرښې ولیکم:

محمد تنها څوک دی؟

د استاد ډاکتر محمد تنها بیوګرافي هر چیرې چې په مخه راغلې، ما کاپي کړې ده. اوس مې چې پرتلیزه بیا کتنه پرې وکړه، تقریباً ټول هماغې یوې مرجع نه کاپي شوې ده. ما ته یې د لومړی ځل له پاره د ۲۰۱۵ کال د جون په اولسمه (۱۷) نیټه په لومړیتوب کې دغه متن په مخه راغی:

«محمد رحمت الله تنها اندړ د قضاوت پوه مولوي میرزاخان عاطفي زوي دی. نوموړی د کابل پوهنتون د ساینس په پوهنځي کې د فزیك په څانګه کې استاد دی او علمي رتبه یې پوهنیار ده.

افغان هستوي فزیکپوه محمد رحمت الله تنها د غزني ولایت د اندړو ولسوالي اصلي اوسیدونکی دی. خو د ۱۳۶۲ لمریز کال د سلواغې په دویمه نیټه یې د کابل په ښار کې دې نړۍ ته سترګی غړولي دي.

لومړنۍ او دیني زده کړې یې له خپل پلار څخه زده کړي او په یوولس کلنۍ کې د سویې د آزموینې په تیرولو سره اووم ټولګي ته تللی، مانا دا چې زده کړې یې په ښوونځي کې له اووم ټولګي څخه پیل کړې دي.

په ۲۰۰۰ زیږیدیز کال کې د خیرخانې مېني د غلام حیدرخان له عالي لیسې څخه وتلی او په ۲۰۰۱ کال کې یې د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي د فزیك په څانګه کې زده کړې پیل کړې. استاد په ۲۰۰۴ زیږدیز کال کې د همدې پوهنځي د فزیك له څانګې څخه په لوړه درجه وتلی او په ۲۰۰۵ زیږدیز کال کې یې په همدغه څانګه کې د استاد په بڼه په خپله دنده پیل کړی او تر اوسه هم په همدې دنده پاتې شوی دی. نوموړي د خپلې دندې په موده کې د نړیوالې اټومي انرژي اداري په بېلابېلو نړیوالو فیلوشیپونو کې ګډون کړی.

نوموړی په ۲۰۰۸ کال کې د یوه تحصیلي بورس څخه په استفادې سره د آلمان هیواد ته ولاړ چې هلته یې په هستوي فزیک کې خپل د ماسټري سند تر لاسه کړ او له ۲۰۱۱ تر ۲۰۱۴ پورې په کابل پوهنتون کې د استادي تر څنګ د افغانستان اټومي انرژي کمیسیون د هستوي ټکنالوژۍ مشر هم پاتې شوی. نوموړی له د ۲۰۱۴ کال له اپریل را په دېخوا د خپلو ډوکټورا زدکړو لپاره بیرته آلمان ته تللی او هلته د هانوور پوهنتون کې د علمي غړي او ډوکټورا محصل په حیث دنده تر سره کوي. نوموړي د ۲۰۱۴ اګست کې د آلمان فزیکپوهانو اداري لخوا جوړشوي سیمینار کې په ګډون او د خپلو څېړنو د پایلو په وړاندې کولو سره په لمړي ځل د یوه افغان په حیث د افغانستان په استازیتوب په نړیوالو هستوي څېړنو کې برخه واخیسته. د څېړنو پایلو یې چې د افغانستان په اړه وې د ګډونوالو خاص پام ځانته را واړاوه او په همدې سره یې ده ته د آلمان فزیکوالو اتحادیې غړیتوب هم ورکړ. استاد اټومي او هستوي فزیک پوه دی او له افغان هستوي فزیک پوه پوهاند ډاکتر عبدالحي نظیفي سره یې په ګډه د کابل پوهنتون لپاره د هستوي فزیك په اړه په پښتو ژبه دوه کتابونه لیکلي او چاپ شوي دي. د استاد تنها اندړ ګڼ شمېر مقالې په ځینو ملي او نړیوالو مجلو او ویبپاڼو کې خپرې شوي. استاد په ډېرو نړیوالو کانفرانسونو او سیمینارونو کې ګډون کړی او په ځینو هغو کې یې بشپړه ونډه اخیستې ده. نوموړي د یوه کال لپاره له ۲۰۱۰ تر ۲۰۱۱ پورې په برلین کې آلمان تر ټولو ستر او د نړۍ دریم ستر هستوي لابراتوار کې د یوه کال لپاره د څېړندوی په بڼه کار کړی، د نوموړي ځیني لیکنې د نړیوال اټومي انرژي آژانس په کتابتون کې هم د ماخذ په توګه کارېدلي دي. ډېری لیکنې یې د ده په مورنۍ ژبه پښتو باندې دي چې ډېری یې په پښتو ویبپاڼو لکه: بی بی سي او پښتو اخبارونو او مجلو کې خپرې شوې دي.

په پښتو، دري او انګریزي باندې روانې خبرې او لیکنې کولای شي او په عربي، آلماني او اردو ژبو پوهېږي، خو لیکنې نشي پرې کولای. نوموړی دا محال د آلمان هانوور پوهنتون کې د خپلو ډوکټورا زده کړو د ترسره کولو لپاره په څېړنو بوخت دی. په دې وروستیو کې د نوموړي په هڅو افغانستان د فزیکپوهانو د ټولنې غړیتوب ترلاسه کړ.»

زه خپله د نوي نسل د نوې او مدرنې روزنې سخت پلوي یم او ښایسته ډېر کار مې هم ورته کړی دی. ما چې له ۲۰۱۵ کال راپه دې خوا د استاد تنها نظریات لیدلي او تعقیب کړي دي، بیخي ډېره سلنه ورسره موافق یم.

د استاد ډاکتر محمد تنها کوم نظریات چې زما له نظره تیر شوي دي، د هغو په استناد ویلای شم چې استاد تنها یو ریښتینی او هیواد پال ښوونکی دی. پر نوي نسل باندې زړه سوی، له هغوی سره بیساري مینه او د هغوی د مدرنې او سالمې روزنې فکر؛ دا د استاد تنها د هلو ځلو هغه ځانګړنې دي چې ده هره ورځ عملي کړي دي.

په رسمي او شخصي ډول د پوهې د ترلاسه کولو دومره لیوال دی چې ما یې تر اوسه ساری نه دی لیدلی. د استاد تنها د همدې لیوالتیا څو بیلګې، چې ځینې یې انتقادي بڼه هم لري، دلته وړاندې کوم چې ما ډیر پخوا کاپي کړې او ساتلې وې:

«د آلمان او اُتریش اکاډمیکو همکاریو اداري د نړۍ ټولو هیوادونو له پوهنتونونو سره په څېړنیز ډګر کې اکاډمیکې همکارۍ لري، خو د افغانستان په برخه کې یې څراغ سور دی. مونږ ته یواځې خبرې او د بل تخریب را پاته دی، زما په ګډون د پوهنتون هر استاد فکر کوي چې دی جناب تر ټولو پوه دی، کله د ارستو خبرې په خپلو ویناوو کې کوټ کوي او کله هم د انشټاین، خو د څېړنو چې پوښتنه ورنه وکړی داسې ورته ښکاري لکه سړی چې په دوزخ کې له چا د شیریخ پوښتنه وکړئ.

مونږ د نړۍ په څېړنیزه او اکاډمیکه کورنۍ کې دایمي غیرحاضرین یو، که مو په دې ډګر کې حاضري پوره نکړه، نو بویه چې تر قیامته به خلک مونږ ته د پسونو په سترګه ګورئ»

«پښتون لالا!

ستا د اکثریت دعوه به هله ومنو چې ته تر نورو ډېر له ښوونځي او پوهنځي فارغ کړې، ډېر پوځ ته ولېږې او ډېرو مېرمنو ته په ټولنیزو او زدکړیزو چارو کې برخه ورکړې. داسې نو نه کېږي چې ډېر ښوونځي به ته سوځوې، په دې کمو محصلینو کې به دې نیم ځاندربي وي، په پوځ کې به په نشت حساب یې، مېرمن به دې کور کې تړلې وي او بیا به هم ته ګېله من یې چې ولې مې خلک په اکثریت نه مني.
لالا مې سې اکثریت او اقلیت د تنو په شمېر نه، د سرونو په شمېر منل کېږي، را ویښ سه یویشتمه پېړۍ سوې، اوس مټې نه ماغزه حکومت کوي.

پښتونه! رب خو دې نور پوه کړه، زړه دې را خوړین کړ.»

«... کوربان مو سم! د اسلامي امُت او اسلامي ورورګلوي په نامه ولاکه له سره څه موجود وي، که دې په ځان خوا بدېږي، نو له هر ممکن فرصت څخه په استفادې سره ځان په پیاوړي اقتصاد، ساینس او ټکنالوژي سمبال کړه، تر کله به د اسلامي ورورګلوي په نامه په خپل هیواد کې د عربو نیابتي جګړه کوو؟
په لیاز د خدای خپل افکار خو مو هسې وراسته دي، خو د نوي نسل افکار مه ورستوئ!!!»

افغان ساینسپوه محمد تنها د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په شپږمه د کوم څلوربول د لیکنې پر اساس په خپله پاڼه کې داسې ولیکل:

«نوې څېړنې ښیي چې که څوک مازي لیږ خاشه کوښښ وکړي، نو کولای شي ښه شین خر له ځانه جوړ کړي. نن مې د دغو څېړنو یو ژوندی مثال ولید، ځوان راته ویل چې ستا دا زدکړې هیڅ ګټه نلري، ځکه ته په کفري ملک کې زدکړې کوې.»

«دلته مې له پوهنتون سره چنې ووهلې چې د سوریایي کډوالو تر څنګ به زه دا خپل افغان کډوال هم درولم چې پوهنتون کې شامل شي، ول ښه. په روانه پښتو مې دوه اونۍ د مخه خبرتیا خپره کړه چې ملګرو راشئ چې د پوهنتون داخله کې مرسته درسره وکړم. پرون په ټاکلي وخت او ځای حاضر وم، یو ساعت تېر سو، ۷ سوري او ۴ ایرانیان راغلل، د افغانانو درک نه وو. د

دویم ساعت په پیل کې دوه هزاره وطنوال چې دلته یې مزدورکاري کوله راپیدا سول، د ختو پوزه یې را جوړه کړه، له پوهنتون څخه ناهیلی را ووتم په ځان او پښتنو مې لانت وایه چې د ګاډي تمځای مخې ته یوه کوټه افغان ځوانان ولاړ دي او د هرې تېرېدونکې نجلۍ په کالیو، بوټونو او کش و پش پوچ نظریات ورکوي، یوه ډله یې بیا کلک په سیاست کې نښتي چې هله غني د پښتنو حق په هزارو وخوړ او...

هې! په والله باالله چې هر څوک د تعلیم په ځای پښتون په خوسا قومي سیاست، ډزنو، سیاسي مظاهرو او ناندریو او تشو باتو باندې بوخت کړي، د پښتون تر ټولو ستر دښمن دی. دا ځوانان له چا الهام اخلي؟ خو له همدا یو څو بوتلانو چې د تعلیم او سړیتوب په ځای یې د خپلې شخصي عقدې په اساس خوسا سیاست کې ښکېل کړي.

پښتون لالا! نور په وچ زور دولتونه نه چلېږي، که غواړې هم دولت ولرې او هم عزت، تعلیم دې یواځینۍ لاره ده، که سیال نسوې، څوک دې په سړو کې نه شماري!

مړه دې وي بېغیرته غیرتیان»

«پښتون صیب، عرض شود به خدمت شما که...
سږ کال د کانکور آزموینې لپاره د غزني له جاغوري ولسوالۍ څخه ۴۰۰۰ کسانو چې ۱۸۰۰ یې نجونې دي نوم لیکنه کړې. په دې کې د آب بند شریف له جهادي ولسوالۍ ۴۰ کسانو او د ګیلان رحمته الله علیه له ولسوالۍ ۱۰۰ کسانو نوم لیکنه کړې چې ټول یې الحمد الله برېتور ځوانان دي او پېغله نسته پکې، همداسې یې د نورو پښتنو ولسوالیو درواخله.

آښه، نو چې ته د خپل ښوونځي سېځونکي ټالیب ته د ادې برستن کې شپه ورکوې، ته چې د خپل ښوونځي پیسو غله ته ملي او قومي مشر وایې، ته چې خپل او پردي د دین په متر اندازه کوې، ته چې په خپله په خپل ځان او مړوند خولې لګوې، ستا چې کابل او غرب مېشتی زدني فعال ټالیب دی (ټول نه)، ستا چې انجنیر، ډاکټر او آن د پوهنتون وستاذ د ټالیب چمچه وي، ته چې له هر حسابه په تعلیم کې وروسته او جګړه کې مخکې یې، نو په دې کې د هزاره، ازبک، تاجک او بل څه ګناه ده؟ ته ولې د خپلې ناراستۍ او سر ناخلاصۍ پړه پر بل اچوې ؟

پښتون لالا د خدای روی مې درورې! در جار مې کړې، ستا لمړی دښمن ښار مېشتی غل قومي مشر، کابل مېشتی مړ سترګی باتو زدني فعال او غرب مېشتی د کلیسا خیرات ته پروت ټالیب فکره پښتون دی، ته ولاکه په دې مخته ولاړ سې چې خپل ځان مظلوم او نور ظالم وښیې، تر هر چا دمخه ته په خپله په ځان ملامت یې، ته خپل سرلاری د پوهې او انسانیت په تله نه، بلکې د تعصب او دینکاري په تله تلې.

پښتونه! حال دې تر دغو بدتر سه»

په دا دومره موده کې چې زه د استاد ډاکتر محمد تنها علمي هڅې او لیکنې تعقیبوم، د نورو برخو تر څنګ یې درنه برخه د ده علمي لیکنې دي. زه د دې علمي صلاحیت نه لرم چې د یوه فزیک پوه په علمي مقالو او لیکنو د کره او نا کره یا علمي او غیر علمي قضاوت وکړم؛ خو د پوهې د لارې د یو لاروي په توګه مې تل د استاد تنها علمي مقالې په ډیره مینه لوستلې دي، ورنه مستفید شوی یم. دغه یې د څو علمي څیړنیزو مقالو بیلګې او پټې دي:

- لوړې زده کړې: د افغانستان په اکاډمیکه کورنۍ کې نااعلان شوې جګړه،
- د لوړو زده کړو پر بهیر د چاپېریال اروایي اغېز،
- د نوي درسي کال د پیل په پلمه،

ـ لوړې زدکړې: بورسونو ته کله غوښتنلیک ورکول مناسب دي،

ـ یو هېواد کله اټومي وسله جوړولای او کارولای شي؟

ـ لوړې زدکړې: په نړیوال څېړنیز او ملي فکري ډګر کې غیر حاضره کورنۍ،

او...

د ډاکتر تنها لیکنې او قلم زما ډېر خوښ دی. یو ځل ده په خپله د یو محصل په توګه د نوي تعلیمي کال د پیل له پاره داسې څه ولیکل:«

لوړې زده کړې

د افغان محصل تجربه، نوی کال نوی پیل

کله چې انسان له څو ځلې تکرار سره سره د یوه کار په ښه ترسره کولو کې پاتې راشي، نو اړوپوهان وایي چې د بد تر سره کولو په ځای یې نه ترسره کول غوره دي او دلته باید دمه وشي، خو له یوې دمې وروسته د یوه ښه او تازه پیل لپاره اړینه ده چې ټولې ممکنې آسانتیاوې، خنډونه او کړنلارې وڅېړل او یو کوټلی پلان یې ترسره کولو ته جوړ شي.

موږ تل په ژوندانه کې له داسې حالاتو سره ډېر مخامخ کېږو، د ځوان کهول لپاره د دغو اړینو کارونو له ډلې یو هم لوړو زده کړو ته لاره موندل دي.

ډېری وخت ځوانان بېلابېلو تحصیلي ادارو او بورسونو ته د کال په ترڅ کې درخواست ورکوي، خو د اسنادو او شرایطو نه بشپړتیا د دې لامل شي چې هیلې یې مړاوې او زده کړو ته یې تبه

پرې شي، دوی ډېری وخت خپلو نیمګړتیاوو ته په نه پام سره فکر کوي چې ستونزه په ټاکونکو ادارو یا اشخاصو کې ده نو ځکه ناهیلي او د لوړو زده کړو ترسره کولو څخه لاس په سر شي.

زما شخصي تجربه دا را ښیي چې دې چارې ته یو حل دا دی چې نوې ورځ، نوې اونۍ، نوې میاشت او یا هم نوی کال د خپلو هڅو بیا پیل لپاره یو نوی څپرکی وګڼو، دا کار دوه ګټې لري، یوه دا چې د دغې نوې نېټې تر راسېدو د کار اجرا لپاره په کافي اندازه پوټانیشیل انرژي زېرمه کېږي او دویم دا چې هم د نېټې نوی پیل او هم ستاسو د لوړو زده کړو نوی پیل تاسو په اروایي ډول دېته چمتو کوي چې د ژوند په دې پړاو کې نوی څپرکي پرانیستلو ته تیار یاست

هغه څه چې له ماسره یې د بورس په اخیستلو کې ډېره مرسته کړې هغه لوړو زدهکړو ته زما تنده، د بیا بیا ناکامېدو سره سره بیا بیا ځلي د درخواست هڅه، په دې لاره کې د نوي پیل لپاره نوې نېټه او نوی څپرکی پرانیستنه.

دا تجربه په ما کټ مټ تېره شوې، په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو کې مې بېلابېلو بورسونو ته درخواستونه ورکړي ول خو د شرایطو نه بشپړاوي له امله مې درخواستونه رد شوي او نا هیلی شوی وم، د ۲۰۰۵ کال ډسمبر میاشتې همدا شپې ورځې وې چې موږ د جرمني ورځبورګ پوهنتون لخوا د یوې لنډې مودې لپاره په علمي سفر دې پوهنتون ته را وبلل شو، دې لنډ سفر مې د لوړو زدکړو هغه پخوانۍ تبه بیا را پیدا کړه، له ځان سره مې هوډ وکړ چې نوی ۲۰۰۶ کال باید زما لپاره نوی پیل وي.

د کال پاتې څو شپو او ورځو کې مې د جرمني بورسونو په اړه ښه ځان ملا کړ، شرایط مې مکمل ولوستل او د اسنادو برابرولو ته مې تابیا وکړه، د نوی کال په پیل سره مې د مشرانو اُستادانو په مرسته او هڅونې د بورس اخیستلو چارې پیل او بالاخره مې له اوږده ځنډ وروسته بورس تر لاسه کړ.
هغه څه چې له ماسره یې د بورس په اخیستلو کې ډېره مرسته کړې هغه لوړو زدهکړو ته زما تنده، د بیا بیا ناکامېدو سره سره بیا بیا ځلي د درخواست هڅه، په دې لاره کې د نوي پیل لپاره نوې نېټه او نوی څپرکی پرانیستنه.

د درخواست په پروسه کې د اسنادو او شرایطو په اړه د مشرانو او تر ما مجربو کسانو څخه د مرستې غوښتنه، اسناد مکمل او په خپل وخت سپارل او تر ټولو مهمه دا چې یوې مرجع ته د درخواست په ورکولو اکتفا نه کول او بېلابېلو مراجعو ته مکرر درخواستونه ورکول.

ډېرې وخت ځوانان بېلابېلو تحصیلي ادارو او بورسونو ته د کال په ترڅ کې درخواست ورکوي، خو د اسنادو او شرایطو نه بشپړتیا د دې لامل شي چې هیلې یې مړاوې او زده کړو ته یې تبه پرې شي،
راځئ په خپل مینځ کې۲۰۱۶ کال د لوړو زدکړو کال ونوموو او ټول لوړو زدکړو ته لارې موندنې لپاره هڅې وکړو. . په دې هیله چې ۲۰۱۶ کال د افغان ځوانانو لپاره په ټولو ډګرونو په تېره بیا د نړۍ پوهنتونونوکې لوړو زده کړو ته د لارې موندنې تر ټولو بریالی کال وي.

نوی کال مو بختور شه!»

ډاکتر تنها ډېر ځلې خپل نظریات په خپله فیسبوکپاڼه کې لیکي:

د نوې ښوونې روزنې په باب د ډاکتر محمد تنها نظر:

د سوریې او افغانستان مهاجر په غیر قانوني ډول اروپا ته راشي، اروپایان یې ډودۍ، کالي او د ګلونو ګېډۍ په لاس یې هر کلی ته لارو ته را ووځي، بلې خواته یو بې وزلې افغان د اسلام غوړېدا مرکز سعودي او نورو عربي هیوادونو ته په رسمي کاري ویزه ولاړ سي خو عرب یې له سره د سړي زوی نه بولي، د یوې روپۍ انساني ارزښت نه ورکوي آن د س.پ.ي او .خ.ر.ه خطاب ورته کوي خو له کابله زما یارانو د اسلامي وروګلوي ډول غاړې ته اچولی او د اسلامي امُت په کې قصیدې وایي.

کوربان مو سم! د اسلامي امُت او اسلامي وروروګلوي په نامه ولاکه له سره څه موجود وي، که دې په ځان خوا بدېږي نو له هر ممکن فرصت څخه په استفادې سره ځان په پیاوړي اقتصاد، ساینس او ټکنالوژي سمبال کړه، تر کله به د اسلامي وروروګلوي په نامه په خپل هیواد کې د عربو نیابتي جګړه کوو؟ په لیاز د خدای خپل افکار خو مو هسې وراسته دي خو د نوي نسل افکار مه ورستوئ!!!

افغان او مطالعه:

د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر اولسمه تنها په خپل مخکتاب کې د افغان او مطالعې د اړیکو په باب داسې ولیکل:

«په ګاډي، بس او هوایي ډګر کې د افغان پېژندلو یوه ستره نښه دا ده چې نورو به مخ ته کتاب، مجله او یا اخبار نیولی وي خو افغان به یا ټلیپانه کې لوړ، لوړ غږېږي او یا به یې خپل پاسپورټ او ټیکټ را ایستلی وي او هغه ته به ګوري. په مونږ کې د مطالعې او معلوماتو حاصلولو هیڅ تنده نسته frown-humørikon همدا اوس مې څنګ ته یو ځوان په همدې کوایفو ناست ده.»

ما (آصف بهاند) لا ډېر پخوا په لار ورکو لارویانو کې داسې لیکلي وو:

«د ماسکو په مترو کې نور خلک مطالعه کوي د افغان لالا یو شی غم او بل شی یې شلغم کرار ناست وي د نجونو لغړو عکسونه ګوري.»

ډاکتر تنها سره له دې چې ساینس پوه دی، خو کله، کله د سیاسي، ټولنیزو او ادبي مسایلو په باب هم نظر ورکوي. په همدې لړ کې یې یو ځل د کوچنیانو د ادبیاتو په باب داسې یو څه خپاره کړل چې زه یې لا هک حیران کړم. هغه توري دا دی:

«زمونږ نسلونو د مثبتې فکري ودې نه کولو یو ستر لامل دا هم دی چې زمونږ د ماشوم ادبیات تر اوسه له مینه ناکو کیسو، ترانو او سندرو ندي مالامال شوي. په کتابونو او کورونو کې زمونږ ماشومانو ته اوس هم د زمریانو او لېوانو د ځناورتوب، کرکې او تبعیض کیسې

کیږي، زمونږ سندرې او شعرونه له جنسي لوړې بوغارې وهي، نږدې ګرده ادبي نثرونه مو پر نرواکي او ښځه ځپنه کې غوټې وهي. پداسې ادبي فقر کې له نوي نسل څخه د سړیتوب څه تمه لرې برخوداره؟
لیکوالو حضراتو؛ دا چاره بدلول غواړي!»

ما هم د ډاکتر تنها پر همدې ارزښتناکه خبرو یو مقاله ولیکله او په تاند او افغان جرمن آنلاین کې مې خپره کړه، بشپړ متن یې دا دی:

د کوچنیانو ادبیات د یوه ساینسپوه له نظره

«زمونږ نسلونو د مثبتې فکرې ودې نه کولو یو ستر لامل دا هم دی چې زمونږ د ماشوم ادبیات تر اوسه له مینه ناکو کیسو، ترانو او سندرو ندې مالامال شوي. په کتابونو او کورونو کې زمونږ ماشومانو ته اوس هم د زمریانو او لېوانو د ځناورتوب، کرکې او تبعیض کیسې کیږي، زمونږ سندرې او شعرونه له جنسي لوړې بوغارې وهي، نږدې ګرده ادبي نثرونه مو پر نرواکي او ښځه ځپنه کې غوټې وهي. پداسې ادبي فقر کې له نوي نسل څخه د سړیتوب څه تمه لرې برخوداره؟
لیکوالو حضراتو؛ دا چاره بدلول غواړي!» (دوکتور محمد تنها)

دا پاسنۍ خبرې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د ډوکتور تنها نوی نظر دی چې ډېر تازه یې په خپله فیسبوک پاڼه کې لیکلی دی.

استاد ډوکتور محمد تنها د «هستوي فزیک» په څانګه کې پي اچ ډي (PhD) کړې ده او اوس په همدې برخه کې، د جرمني هېواد په یوه پوهنتون کې تدریس هم کوي، خو د نوي نسل د تعلیم په برخه کې په عملي او نظري بڼه داسې فعاله دی لکه چې ټول ماشومان، کوچنیان او ځوانان یې د خپلې کورنۍ غړي او یا خپل اولادونه وي.
د خپل مسلک، زدکړو، په تېره لوړو زدکړو په برخه کې یې علمي لیکنې په بي بي سي پښتو ویبسایت کې خپرېږي. د لوړو زدکړو په برخه کې یې د څو علمي لیکنو سرلیکونه دا دی:

ـ د زدکړو په بهیر کې د باور بحران،

ـ له اوږده ځنډ وروسته بېرته ځنګه لوړو زدکړو ته مخه کړو؟

ـ په کومه برخه کې باید لوړې زده کړې وکړو؟

ما پخوا هم د استاد ډوکتور تنها پر ژوند، علمي شخصیت او افکارو باندې، د ده د ډوکتورا د بریالی دفاع د خوښی په پلمه یو مقاله لیکلې وه، چې تقریباً یو کال مخکې مې خپره کړه.

په فیسبوک کې یې د سیاست په برخه کې ژبه ډیره تونده ده، خو ډیره اصلاحي او را ویښونکې بڼه لري. د ډیری پوستونو مخاطبین یې ځوانان دي چې دی یې په بورسونو خبروي، ورته هڅوي یې او د فورمو د ډکولو لارې چارې ورښیي.

ډاکتر تنها دومره د نوي نسل د روزلو لیوال دی چې بل ساری یې ما نه دی لیدلی. دا یې د نوي نسل د روزلو سره د مینې یوه بېلګه ده:

«چې نن نه وم خوشاله نو کله به خوشاله وم ؟!
د خپلوانو له ډلې مو یو ځوان کورته راغلی وو، ول په ۱۴ کلنی کې له کلي یوازې را روان سوی یم او په خپل سر مې خوشال خان لېسه پیدا کړې، هلته مې سبک ویلی، اوس باختر پوهنتون کې د انجینري تر څنګ په آمریکایي پوهنتون کې د ټافل آزموینې ته تیاری نیسم او غواړم چې هارورډ کې لوړې زدکړې وکړم. ول پلار مې په دوبی کې نانوایي لري او بیسواده دی خو زما د تعلیم خرڅې ته چې هر رقم وي پیسې پیدا کوي او را لېږي یې. چې داسې کیسې اورم نو د خوشالی تر څنګ مې دې هیواد ته مظبوطه هیله پیدا شي.
دا وګړي ډېر کړې خدایه!»

خو په دې نږدې ورځو کې یې د نوي نسل د روزلو د افکارو او پلانونو د وړاندې کولو په لړ کې، د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې داسې یوه ټکي ته اشاره کړې ده چې: لکه د چا خبره «ټک او پتری» خبره یې کړېده. دا د ده د یاد پوست بشپړ متن دی:

«زمونږ نسلونو د مثبتې فکري ودې نه کولو یو ستر لامل دا هم دی چې زمونږ د ماشوم ادبیات تر اوسه له مینه ناکو کیسو، ترانو او سندرو ندې مالامال شوي. په کتابونو او کورونو کې زمونږ ماشومانو ته اوس هم د زمریانو او لېوانو د ځناورتوب، کرکې او تبعیض کیسې کیږي، زمونږ سندرې او شعرونه له جنسي لوړې بوغارې وهي، نږدې ګرده ادبي نثرونه مو پر نرواکي او ښځه ځپنه کې غوټې وهي. پداسې ادبي فقر کې له نوي نسل څخه د سرپیتوب څه تمه لرې برخوداره؟
لیکوالو حضراتو؛ دا چاره بدلول غواړي!»

تنها سره له دې چې ساینتست دی، خو بیا یې هم په خپل دې پوست کې د ماشومانو او کوچنیانو د ادبیاتو د روانپېژندنې په نظر کې نیولو سره، داسې ټکي ته اشاره کړې ده چې ډیره اساسي او ټاکونکې ده.

تر څو چې په درسي کتابونو او یا د کوچنیانو له پاره په نورو ځانګړو کتابونو کې خپلو بچو ته تشدد او دوښمني ورزده کوو، د وژلو او وینو تویولو سلسله جاري ساتو؛ نو د خپل هیواد د نوي نسل د ذهن په کروندو کې به د کرکې، وینو او وژنو تخم شیندو.

د کوچنیانو ادبیاتو لیکوالو سره ښایی چې د ماشومانو له پاره مینه، وطنپالنه ، انسان او ژوند خوښونه او راتلونکې ته امید وښیو او داسې کړکۍ ورته پرانیزو چې د نوي تکنالوژۍ او د نویو زدکړو او تمدن په لوري د حرکت یوه لاره وي، تر څو به په خامو تارنو کې بند یو او د پخوانیو

هغو افکارو په دایره کې ښورو چې نورو ملتونو لا پخوا خپل ځان او خپله ټولنه او خپل نوی نسل د هغو له دایرې نه را ایستلي دي او د پوهې ډیوه په لاس د نوي او متمدن ژوند په لوري روان دي.

ما چې له ډیرو کلونو راپه دیخوا د نوي نسل د روزلو په سلسله کې د کوچنیانو پر ادبیاتو کار او پام کړی دی، د هغو د تجربو په رڼا کې د استاد ډوکتور تنها دا نظر تایدوم، خو دا یادونه هم اړینه ګڼم چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره کوم آثار چې زموږ قلموالو تخلیق کړي یا ژباړلي دي، تر ډېره پورې یې دې مسالې ته پام ساتلی دی، په تېره په دې وروستیو کلونو کې رامنځ ته شوي آثار؛ خو د افغانستان د معارف وزارت د نصاب په برخه کې د ښاغلي تنها خبره صدق کوي، چې ما په خپلو ځینو اړوندو مقالو کې د هغو ځینو نیمګړتیاوو ته اشارې کړې دي. تقریبا دیارلس میاشتې مخکې مې د «د تعلیمي نصاب پښتو کتابونه» تر سرلیک لاندې مقاله خپره کړه. هلته ما داسې لیکلي وو:

«پرته له شکه چې اوسنی تعلیمي نصاب بیشمیره ستونزې او نیمګړتیاوې لري چې هغه باید د سمون په نیت په نښه شي. زما د دې تورو لیکل دا مانا نه رسوي چې دا تعلیمي نصاب زما د تایید وړ دی، زه کوالی شم چې د هر ټولګي د درسي کتابونو او تعلمي نصاب په باب مقاله نه،، بلکې مقالې ولیکم؛ خو د نه لیکلو یوه وجه یې دا ده چې نه یې څوک لولي او نه یې تطبیقوي.
په درسی نصاب کې د بهرنیانو په غوښتنه او لاسوهنې سره، د ګوندنونو اوتنظیمونو په فرمایش داسې درسي نصاب جوړ، چاپ او تطبیق کړای شوی چې له ګڼو تیروتنو سره یې د وږي افغانستان په ملیونونو ډالره په چاپ او خپرولو باندې ولګیدل. هر ډول چې دی، اوس خو د تعلیمي نصاب په نامه د وطن نوي نسل ته په مخ کې ایښودل شوی دی...»

د داسې یوه نیمګړي تعلیمي نصاب د سمونې په خاطر او د هغو قلموالو له پاره چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره قلم چلوي، د تنها د اصلاحي نظر او دې ته ورته نظریاتو په پام کې نیول او د هغو تطبیقول یو اړین کار دی.

نجیبه لیمه

کوچنیان او د لـلو، لـلو «Lallo Lallo» کیسې

(د ماشومانو له پاره د نجیبه لیمه ځانګړې کیسې)

څوارلسمه مقاله

د نجیبه لیمه پېژندنه:

ما چې د نجیبه لیمه په بیوګرافۍ پسې لټه پیل کړه، په ویکیپیدیا کې د دې په باب مالومات په مخه راغی چې زه یې لنډیز دلته وړاندې کوم:

نجیبه لیمه د بي بي سي پښتو راډیو یوه خبریاله او ویانده ده. نوموړې په لندن کې د خبریالۍ په څانګه کې زده کړې کړي او له ډېرو کلونو نه راپدېخوا د بي بي سي پښتو راډیو کارکوونکې ده.

اغلې نجیبه لیمه په ۱۳۴۷ لمریز کال د قوس یا لیندۍ پر نه ویشتمه (۲۹) نېټه د کابل په ښار کې د ډاکټر صالح محمد زیري په کور کې سترګې دې نړۍ ته پرانستې.

زده کړې:

د ښوونځي لمړنۍ زده کړې یې په کابل کې تر سره کړې او لوړې زده کړې یې د مسکو په دولتي پوهنتون کې کړي. په ۱۹۹۰ ز. کال کې د ژورنالیزم په څانګه کې د ماسټرۍ بریلیک تر لاسه کړ.

دندې:

لمړۍ دنده یې په ۱۹۹۱ کې په باختراژانس کې وه . د ۱۹۹۲ ز. کال د مې په میاشت کې د بي بي سي د فارسي او پښتو څانګو سره په کار پیل کړی او تر همدې دمه یې د بي بي سي د پښتو، فارسي، روسي او انګلیسي څانګو سره د ویاندې او خبریالي په توګه کار کړی. د بې بې سي راډیو سره د اغلي نجیبې د کار ځینې بېلګې په دې توګه په ګوته کولاي شو:

د ماشومانو له پاره راډیویي داستانونه او د خیالي کرکټر "خړکی سویکي"جوړونه،
د راډیویي لنډو کیسو لیکنه. په دغه لړۍ کې یې تر سلو ډېرې کېسې لیکلې او د خیالي کرکټرې "خړکۍ" سره یې ثبت کړي. د دغو کیسو یوه ټولګه په ۲۰۰۰ کال کې په پېښور کې چاپ شوې ده.

د بي بي سي مرکچي:

نجیبې لېمې د بي بي سي راډیو لپاره د مرکچي په توګه دنده هم ترسره کړې او په دې توګه د یو شمېر مخورو سره یې مرکې ترسره کړي:

ـ په ۱۹۹۷د طالبانو د واکمنۍ پر محال په جلال آباد کې د ختیځ زون له مسول ملا نیازی سره مخامخ مرکه.

ـ د ۲۰۰۱ زکال داکتوبر پر (۹) د برتانیا د لمړي وزیر تونی بلیر سره د "ډاونینګ سټریت" په ماڼي کې مخامخ مرکه،

ـ د ۲۰۰۱ ز کال د نوومبر په میاشت کې د امریکا د ولسمشر د ویاند ډیک چیني سره په سپینه مانۍ کې مرکه .

ـ همدا ډول یې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر اخوند په ګډون د حامد کرزی او نورو افغان لوړ پوړو دولتي چارواکو سره مرکې د یادولو وړ دي.

رسمي سفرونه:

په ۱۹۹۷کال کې یې د پښتونخوا د کوټې او پېښور ښارونو ته سفر وکړ او د پښتنو ښځو د رواني ناروغیو په اړه یې د راديويي پروګرامونو یوه ځانګړې لړۍ جوړه کړه. د همدې راډیویي خپرونې څخه دا دردونکې پاېله اخیستل کېده چې په ډېرو پېښو کې د مېرمنو د عقلي او عصبي ناروغیو درملنه د روغتوني درملنې پرځای په زیارتونو کې کیدی. د همدې سفر په ترځ کې یې جلال اباد ته هم سفر وکړ او د یوشمیر طالبو مشرانو سره یې مرکې هم وکړې .

اغلي نجیبې د یوې فعالې او پېژندل شوې ژورنالیستې په توګه د افغانستان په اړوند په یو شمیر نړیوالو کنفرانسونو کې ګډون کړی:

ـ په ۱۹۷۱ ز کال په ژنو کښې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونوکنفرانس،.

ـ په ۲۰۰۱ ز کال یې کابل ته کاری سفر کړی،

ـ په ۲۰۰۱ ز کال د توکیو په ښار کې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو نړیوال کنفرانس،

ـ په ۲۰۰۳ او ۲۰۰٦ کلونو کی په روم کي د افغانستان د قانون جوړولو نړېوالو غونډو کي ګډون.

د نړۍ په یو شمېر هیوادونو کي د کنفرانس د جوړونکي او ویناوالي په توګه سفرونه:

ـ په ۲۰۱۳ ز کال کی په هانګ کانګ کي د چینایي ژبي د کنفرانس جوړول،

ـ په ۲۰۱۴ ز کال کی د چین ګوانجو ایالت ته د چیني ژبي او ژورنالیزم کنفرانس،

ـ په ۲۰۱۴ ز کال د بي بي سي د اکاډیمي د هندی ویبپاڼي د جوړولو له پاره هغه هیواد ته سفر،

له ۲۰۰۸ ز کال نه تر همدا نن پوري د بي بي سی اکاډمي د هغو ژبو له پاره د ځانګړو ویبسایټونو د جوړولو کار پیل کړ چي بي بي سي خپرونې پرې لري. اغلې نجیبه وایي:

د دغه کار له پاره مې استدلال دا و چي د بي بي سي خبریالان په خپله مورنۍ ژبه خبرونه لیکي او وړاندي کوي یې، ځکه نو اړینه ده چي د دغو ژبو د ملاتړ ځانګړي ویبپاڼي جوړې سی. بي بي سي اکاډمی د پښتو تر څنګ اوس مهال د ۲٦ نورو ژبو ویبپاڼي لری. اغلې نجیبه لیمه له ۲۰۰۸ تر اوسه د بي بي سي اکاډمي د ژورنالیزم په پوهنځی کي د نړیوالو ویبپاڼو مسولیت پر غاړه لري.

ستاینه او هڅونه:

تراوسه اغلې نجیبه لیمه درې ځله ستایل شوېده:

ـ په ۲۰۰۱ ز کال کښي د توني بلېر د مرکي وروسته د راډیو سونی ډالۍ."Sony Award"
ـ د ۲۰۱۰ ز کال د اګست ۱۹ مه په سویډن کښي د دوستۍ فرهنګی ټولنې د مشرتابه لخوا ستاینلیک،
ـ په ۲۰۱۴ کال کی په لندن کي د مسلکي افغانانو له خوا ډالۍ.

اغلې نجیبې لیمې په ۱۹۹۱ ز، کال انګلستان ته کډواله شوه. د واده ثمره یې دوې لوڼې دي، اوس د خپلي کورنۍ سره یو ځای په لندن کي ژوندکوي.

نجیبه لیمه له ډېر پخوا نه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د کیسو لیکل پیل کړي و، خو د ۲۰۱۷ ام کال په دسمبر کي یې په بي بي سي کي د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د ځانګړو کیسو پیلیدل، د نوي نسل د روزلو او مورنۍ ژبي د ساتلو او پاللو په برخه کي، د دې د فعالیتونو په ډله کي داسي نوی باب دی چي د نه هیریدو او د ډېر قدر وړ کار دی. ما (آصف بهاند) د دې کیسو د ارزښت او د نجیبي د کار د قدرداني په پار په هماغه وخت کي لاندې مقاله ورته ولیکله:

لـلو، لـلو

«LalloLallo»

(د ماشومانو له پاره ځانګړې کیسې)

«للو، للو، للو
خوب دي درسي په لیمو
زرغونه ده ښه نجلۍ
ده تر ټولو ګلالۍ
خبرې نه کوي بیدیږي

سبا ګل غوندې ویښیږي
للو، للو، للو
خوب دې درسي په لیمو»

د ۲۰۱۷ کال د دسمبر په اتمه نیټه د بي بي سي له خوا په پښتو ژبه د ماشومانو له پاره د ځانګړو کیسو خپرېدل پیل شول. په دې باب بي بي سي پښتو داسې ولیکل:

«سر له ننه هره جمعه به تر راتلونکو ۱۰ اوونیو پورې له بي بي سي د للو للو په نامه ماشومانو لپاره ځانګړې کیسې خپرېږی.

د کیسو دغه لړۍ له بي بي سي پښتو او دغه راز افغانستان کې له شمشاد ټلویزیون او پاکستان کې له مشرق ټلویزیونونو کتلی شئ.

دغه لومړنۍ ګڼه د زرغونې او شاپېرۍ کیسه ده.»

دا یو ډېر اړین، په ځای او ښه عمل دی. زه د خپلې مقالې په پیل کې، د نوي نسل د روزلو د نهضت د یو لاروي او پلوي په توګه د دې پروګرام له جوړونکو، لیکونکو او خپرونکو نه مننه کوم، په ځانګړي ډول له آغلې «نجیبه لیمه» نه بیا، بیا مننه کوم چې دا کیسې لیکي او د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یې، د دوی له خوښې سره سم په خپل خواږه غږ کې اوروي.

کله چې په میډیا کې د دې خپرونې لومړني خبرونه راښکاره شول، زه ډېر خوشاله شوم، سمدلاسه په دې باب د یوې مقالې د لیکلو فکر راته پیدا شو، نو مې په لومړي سر کې دغه جملات ولیکل:

په دې نږدې وختونو کې د بي بي سي پښتو له لوري د ماشومانو له پاره د کیسو ځانګړې خپرونه « للو، للو (LalloLallo) د ماشومانو له پاره ځانګړې کیسې» پیل کیدونکې ده. د دې پروګرام په مسؤلینو کې د پښتو آنلاین مشر اسمعیل میاخیل او د بي بي سي اکاډمۍ نړیوالو پاڼو مشرې نجیبې لیمې نومونه یاد شوي دي.

د دې زیري له خپرېدو سره سم، د نوي نسل د روزلو ځینو پلویانو چې شمیر یې بیخي لږ دي خپل نظریات څرګند کړل. د څو تنو نظریات را اخلم:
کریمه نعیمي داسې ولیکل:«

<<للو للو>>
د کوچینانو لپاره کیسې چې نجیبې لیمې لیکي او وړاندې کوي یې - نن د بي بي سي تر خبرې خپرونې وروسته پر شمشاد 📺 تلویزیون : په کوچینانو یې لیدل مه هېروئ👧👧 .»

بیا ثنا ساپۍ داسې ولیکل:

«که خپل بچي او په کور کې ماشومان لرئ دا کیسې پرې ګورئ. نجیبه جانې پرې ډېره خواري کړې ده👍👏👌 .
#تعلیم_فرض_دی ☮ #LiterateAfg»

په خپله نجیبه لیمه هم له بي بي سي سره په مرکه کې وویل او هم یې په خپله فیسبوک پاڼه کې د دې کیسو په باب ولیکل:

«للو للو، د ماشومانو لپاره د بي بي سي پښتو ځانګړې کیسې
هر جمعه پر بي بي سي پښتو پاڼو، شمشاد او مشرق تلویزیون»

#PashtoChildrenStories#للوللو#LalloLallo #
ډیر ژر له بي بي سي نه

دکوچنیانو له پاره د کیسو نوې لړۍ:

Starting soon! A new series of bedtime stories for children on BBC Pashto, Online and TV.»

د دې پروګرام او د دې کیسو د شکل او محتوا په باب د بي بي سي او د دې کیسو ځینو مسؤلینو خپل نظریات داسې څرګند کړي دي:

«د بي بي سي افغان څانګې مشره مینه بکتاش یې په اړه وایي:

زموږ دغه نوې لړۍ د ماشومانو لپاره ده او هدف یې دا دی، چې دوی ترې خوند واخلي او زده کړه وکړي. دغه راز دا کیسې د ماشومانو د مېندو او پلرونو لپاره هم دي، چې هیلمن یوو زموږ خپرونې په فعاله توګه وګوري، واوري او له محتوا یې برخمنې شي.

د دې پروژې مشر او د بي بي سي پښتو ډیجټل څانګې ایډیټر اسمعیل میاخېل په دې اړه وایي:

پښتو ژبه کې د ماشومانو لپاره د دغه ډول مطالبو لږوالی له ورایه لیدل کېږي. له دغې نوې لړۍ سره چې په انځوریز او ویډیویي بڼې په زړه پورې کیسې په کې وړاندې کېږي، موږ هغو نویو مخاطبینو ته رسېږو چې له دغه ډول موادو لږ برخمن دي
د للو للو لړۍ کیسې په اسانه، روانه او پسته ژبه ویل شوې دي. دغه کیسې نجیبې لېمې لیکلي چې د بي بي سي اکاډمۍ نړیوالو وېبپاڼو ایډیټره ده او له بي بي سي سره یې پښتو برخه کې د ژورنالیستې په توګه دنده پیل کړې وه.

په دغو کیسو کې د رښتینولۍ، په لارو کوڅو کې د خوندیتوب لارښوونو، لاس مینځلو او غاښونو پاکولو اهمیت په هکله خبرې شوې او دا له ماشومانو سره مرسته کوي، چې خپل شاوخوا چاپېریال ښه وپېژني.
د کیسو لپاره انځورونه کابل مېشتې ځوانې انځورګرې نسیمې محمدي کښلي دي، دغو خوځنده تصویرونو د کیسې ویلو پر مهال د نجیبې ګرد چاپېره داسې چاپېریال جوړ کړی چې د ماشومانو لپاره خوندور او زړه وړونکی دی.»

د جګړې د سونامې او له هغې سونامې د رازیږدلو ناخوالو په دایره کې، زموږ د ټولنې د ډېرې وګړو، په تیره ماشومانو او کوچنیانو د ذهن په هر کونج او پیچومې کې، د وینې په هر څاڅکي کې، په کتلو او حرکاتو کې یې او لا په هر تنفس کې یې، تاوتریخوالی، وهل ټکول، وژل، د وسلې کارول، ویر او... له ورایه ښکاریږي او احساسیږي.

د ټولو خلکو او په تیره ماشومانو او کوچنیانو له ذهن نه د دغو شیانو توږل، پاکول او لرې کول یوې سترې عاطفې ته اړتیا لري او دا عاطفه یوازې د ادبیاتو له لارې کیدای شي چې ماشوم ته، کوچني ته او نوي نسل ته ور ډالۍ شي.

اوس چې بي بي سي د ماشومانو له پاره د کیسو ویلو او وړاندې کولو دا لړۍ پیل کړې ده، ډیر امید دی چې دا هیله به پوره کوي او په معنوي لحاظ به د افغان ماشوم عاطفي لاسنیوی کوي.

او س چې د یوویشتمې پېړۍ د دویمې لسیزې په نیمایي کې د تکنالوژۍ له دومره امکاناتو سره ژوند کوو، نولازمه ده چې هغه قلموال چې د کوچنیانو د ادبیاتو په باب فکر کوي او څه تخلیقوي،

داسې څه دې ولیکي چې هغه د کوچنیانو له پاره د درک او پوهیدو وړ وي، یعنې ساده او د هغوی په ژبه لیکل ورته وکړي.
هغه لیکوال او شاعران چې کوچنیانو ته څه لیکي، باید د کوچنیانو دنیا ته ور ننوزي، ځان هلته احساس کړي، کوچنی درک کړي او بیا د هغه له غوښتنو سره سم قلم وچلوي او داسې څه ورته ولیکي چې کوچني ته د اوسنۍ زماني له غوښتنو او پوښتنو سره سم څه ورکړي، هغه څه ورکړي چې د کوچني په راتلونکي ژوند کې له هغه سره د لارښود په ډول مرسته وکړي.

ما ولیدل او ګورم یې، له هغې ورځې چې زه په ښه او بد پوه شوی یم، له هغې ورځې مې چې قلم چلول زده کړي دي، په تیره بیا له هغې ورځې مې چې د کوچنیانو په باب، د هغوی د روزنې په باب او د هغوی د دنیا او ادبیاتو په باب فکر کړی؛ موږ ډیر وخت او امکانات له لاسه ورکړي دي چې اوس یې په ارزښت پوه خلک، حسرت او افسوس کوي، خو تش حسرت او افسوس کول څه ګټه نه کوي. موږ باید له اوسنیو امکاناتو او ټولو تجربو څخه استفادې وکړو، په خپله کورنۍ او ټولنه کې ماشومان او کوچنیان وپیژنو، د هغوی روان او دنیا درک کړو او د نوي زمان له غوښتنو سره سم هغوی ته د کوچنیانو د ادبیاتو په نامه داسې څه ولیکو چې کوچنی د خیال او هوس له نړۍ نه ورو- ورو را وباسو او د ده په ژوند کې د راتلونکې نړۍ نه یې خبر کړو.

موږ باید له کوچنیانو سره په خپل چلن کې ژور بدلون راولوو. په ډیری افغان کورنیو کې ماشومان په ډار او تهدید ویده کولو ته اړ ایستل کیږي، چې دا د هغه په ذهن او راتلونکي ژوند باندې ژور منفي اثر بریباسي. هغه ته باید د خوب په وخت کې کیسې و ویل شي یا ولوستل شي، خو زموږ په ټولنه کې ډیری کورنۍ د خراب اقتصاد له کبله، د سواد د نشتوالي له کبله او د نه پوهیدنې په وجه ماشوم باندې د خوب په وخت کې نه یوازې پټکې کوي، بلکې د راتلونکې ورځې د جبري فزیکي کار او نویو ستونزو یادونه هم ورته کوي او کوچنی د ستونزو له یوه درانه بار، روحي فشار، تشویش او ډار سره ویده کیږي.

په پرمخ تللو هیوادونو کې د ماشوم د پالنې، روزنې، خوب خوراک او هر څه له پاره امکانات برابر دي او له پروګرام سره سم تطبیقیږي هم. په دې دلیل چې د ټولنې د پوهې کچه او د کورنیو او میندو پلرونو د پوهې سطحه لوړه ده . کوچنی پیژني درک کوي یې او هر هغه څه چې ورته اړین دي، هغسې یې ورته برابروي او هماغسې ورسره کوي، خو زموږ په هیواد کې او زموږ په ټولنه کې په دې برخه کې یا قوانین نه شته او که کوم قانون وي هم، هغه څوک نه تطبیقوي او زموږ د ټولنې ماشوم ته او بیا زموږ د ټولنې کوچني او تنکي زلمي ته د پرمخ تللو ټولنو د امکاناتو دوه درې یا پنځه سلنه هم نه وي برابر او پر ټولنه باندې د ډیر پخواني حاکم کلچر په دایره کې ماشوم او کوچنی د ژوند په داسې یو مجبور او تنګ چاپیریال کې را ګیر کیږي چې کوچنی له فزیکي او رواني پلوه د تباهۍ کندې ته ور پورې وهل کیږي.

په دغسې یو منفي او بد چاپیریال کې د کوچني د جسمي ودې مخه نیول کیږي، د ذهني جوړښت تهداب یې خرابیږي او د هغه د راتلونکي ژوند د تباهۍ بنسټ ایښودل کیږي. کله چې کوچنی په دغسې یو جسمي او ذهني خراب حالت کې لوی شي چې د هغه د کوچنیتوب د حق دوه سلنه هم ور نه کړل شي، بیا نو هیڅ څوک حق نه لري چې له هغه نه د مثبت عمل او کومې ښیګڼې تمه ولري. نه مور پلار، نه کورنۍ او نه هم ټولنه.

په هغو هیوادونو کې چې د ماشومانو اوکوچنیانو په ارزښت پوهیږي، کوچني ته او د هغو ادبیاتو ته دومره پاملرنه شوې چې د نوې تکنالوژۍ د نویو امکاناتو په چوکاټ کې، که په کمپیوتر کې یوازې ولیکل شي:«د کوچنیانو ادبیات» او کلیک شي، د کوچنیانو له پاره په سل ګونو او لا زر ګونو کیسې او شعرونه تر لاسه کیدای شي. په یادو هیوادونو کې د کوچنیانو په مورنۍ ژبه په سل ګونو کارتوني فلمونه او نور امکانات شته دي.

دا ټول د دې ګواهي ورکوي چې په هغو ټولنو کې ماشوم، کوچنی او د هغو نړۍ او روان پیژندل شوې او درناوی یې کیږي، د پالنې او روزنې لازم چاپیریال ورته برابریږي، د هغوی له عمر او غوښتنو سره سم اړین کتابونه، کیسې او فلمونه ورته برابریږي. دا په حقیقت کې د هغو ټولنو هغه پانګونه ده چې راتلونکو نسلونو او راتلونکو ټولنو له پاره یې کوي. سم یې روزي چې په راتلونکې کې یو سالم او روغ کارګر، پوه انجنیر، سم ښوونکی، زیرک طبیب ... او په وطن او خلکو مین رهبر ولري.

اوس چې بي بي سي پښتو د ماشومانو له پاره د کیسو دا لړلی پیل کړې ده، هیله ده چې د هغوی د کیسو او پروګرامونو د وړاندې کولو له لارې د یادو ښیګڼو څو سلنه زموږ د ټولنې ماشومانو ته ور په برخه شي.

«للو، للو، للو

خوب دې درسي په لیمو

زرغونه ده ښه نجلۍ

ده تر ټولو ګلالۍ

خبرې نه کوي بیدیږي

سبا ګل غوندې ویښیږي

للو، للو، للو

خوب دې درسي په لیمو»

زموږ په هیواد کې د للو للو په شان کیسو تاریخي پس منظر ته یوه کتنه:

پخوا له دې چې په افغانستان کې جګړه او له جګړې نه را زیږیدلې سونامي ګانې پیل شي، د کوچنیانو ادبیاتو ته د هغه وخت د پوهې او امکاناتو په چوکاټ کې پاملرنه شوې وه. کوچنیانو خپروني درلودې، کیسې او شعرونه ورته چاپیدل، ځانګړې مجلې یې درلودې او په رادیو افغانستان کې د کوچنیانو په نامه مطالب خپریدل او د کوچنیانو د روزلو په نامه ټاکلی وخت ورته ځانګړی شوی و.

زما د خپل تنکي زلمیتوب وخت په یاد دی چې رادیو د کوچنیانو د پروګرام نه علاوه، ماښام مهال د ماشومانو د ویده کیدو په وخت کې د ماشومانو په ژبه، په ډیر خوږ او مهربانه انداز سره د پنځو دقیقو له پاره د کوچنیانو د آرامه ویده کیدو په غرض یوه کیسه خپروله او زه خپله سره له دې چې د کوچنیتوب دوره مې نوره پای ته رسیدلې وه، خو دې کیسو دومره خوند راکاوه چې ما به ټول کارونه پریښودل او د ماشومانو او کوچنیانو په ډله کې به ورته ناست وم، غوږ به مې ورته نیوه او حتی د هغو کیسو په فکر او خیال کې به ویده کیدمه، خو اوس...

د ظاهر خان او داود خان د واکمنۍ په وخت کې، په هماغه وروسته پاتې زمانه کې او د ډیرو لږو امکاناتو نه په استفادې سره د کوچنیانو غم تر یوې اندازې خوړل کیده. یعنې هیر نه وو، خو د سرو، شنو، سپینو او اوس لا تورو بادونو له را الوتلو سره سم د کوچنیانو له پاره هغه پروګرامونه، فکرونه او پلانونه لاړل په اوبو لاهو شول.

د کوچنیانو پروګرامونه لا څه کوي چې خپله کوچنیانو باندې څه راغلل او څه به ور باندې راشي. د ادبیاتو اوروزنې غم خو نه شته چې نه شته، د یوې مړۍ ډوډۍ او ژوندي پاتې کیدو سوال یې را مخته شوی دی.
ما (آصف بهاند) د کوچنیانو د ادبیاتو په باب په خپل یو اثر (د کوچنیانو ادبیات، دویم ټوک، ۳۲ ـ ۳۴ مخونه) کې د یوې اوږدې څېړنې په پایله کې لیکلي دي چې:

د ظاهر شاه او دواود خان د واکدارۍ په زمانه کې د کوچنیانو له پاره ټاکلې چاپي خپرونې او په رادیو کې د کوچنیانو له پاره له ټاکلې پروګرام نه علاوه، ماښامنۍ کیسې اورول کیدې. پخوا یې زما د کار کوونکو نومونه لا په یاد وو، خو اوس مې یوازې د آغلې **ستاره امیني** نوم په یاد ده، هغه هم بل چا را په یاد کړ.
کله مې چې د کوچنیانو د ادبیاتو د مقالو پر همدې لړۍ او همدې برخې باندې څېړنه کوله، د ستاره امیني نوم مې هم هیر شوی و، نو مې لطیف لالا(ډوکتور لطیف بهاند) ته په چت کې ولیکل:

سلامونه، پخوا له انقلاب نه په رادیو کې یوه میرمن وه چې د ماښام له خوا به یې د پنځو د قیقو له پاره ماشومانو ته، د ماشومانو په ژبه د خوب په وخت کې کیسې کولې، هغه څه نومیده؟
لالا بیرته راته داسې ولیکل:

«سلامونه ، یوه خو ستاره امیني وه او لږ بوډۍ زلیخا فخري. له هېواد دوسته هم وپوښته. هغه کله، کله د ماشومانو خپرونې ته ورته.»
بیا مې پر کاره فرهنګي، ښاغلي یوسف هیواد دوست سره د تیلیفون له لارې دا موضوع مطرح کړه او وریاده مې کړه چې د ستاره امیني کیسه کول دې په یاد دي که نه؟

هیواد دوست صاحب لطف وکړ او له ستاره امیني نه ور وړاندې یې څه نور خلک را یاد کړل او په دې باب یې مفصل ځواب را کړ. لنډیز یې په دې ډول دی:

«په ۱۳۴۶ او ۱۳۴۷ کلونو کې:

ـ د سالار زي په نامه څوک و چې د ماشومانو له پاره به یې کیسې کولې،

ـ بله میرمن ظریفه نومیده چې د وړو له پاره به یې نصیحت ډوله کیسې او نکلونه برابرول او اورول،

ـ وروسته بیا کاکا منجاني را پیدا شو چې همدا اوسنی مرزا قلم یا استاد امان اشکریز دی چې د ماشومانو په ژبه به یې دوی ته خوږې کیسې کولې،

ـ بیا د ویاند په نامه هم چا کیسې کولې،

ـ بیا بل څوک راغی چې طوطاخیل نومیده او همدا د کوچنیانو پروګرام یې چلاوه،

ـ وروسته بیا صایمه مقصودي راغله او څه موده یې دا پروګرام وچلاوه،

ـ بیا همدا ستاره امیني راغله او ښایسته ډیره موده یې په ډیره ښه وجه د ماشومانو د کیسو پروګرام پر مخ بیوه،

ـ له ستارې نه وروسته بیا خپله ماشومانو ته وخت برابر شو او تمثیل به یې کاوه او په خپل غږ او هڅو سره یې د کوچنیانو د خوښې وړ مطالب برابرول او خپریده به.»

وروسته له هغه چې په وطن کې د ټوپک شپیلۍ سُر شوه، نو لکه سونامي چې راغلې وو هر څه ګډوډ شول چې تر یوې اندازې یې ما جریان د کوچنیانو ادبیات دویم ټوک کې لیکلی دی.

وروسته له هغه چې په ۱۹۹۲ ام کال کې زه له خپلې کورنۍ سره د وطن پرېښودلو ته اړ شوم، نو مې د کوچنیانو بد حالت ته په پام سره او د نوي نسل د روزلو د نهضت د بیا خوځولو په غرض د یو لړ مقالو لیکل پیل کړل او چې بیا ډنمارک ته را ورسیدم او لکه د چا خبره لږه مې دمه جوړه شوه، نو د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزلو په نیامت مې خپله مطالعه او خپل لیکل سم منظم کړل چې د پایلو یوه برخه یې د کوچنیانو ادبیات دویم ټوک دی.

اوس چې د بي بي سي درنو همکارانو دا سلسله راپیل کړه، نو زما د هیلو یو بله غوټۍ هم وغوړیده، خو له ډیرو ښیګڼو سره دې نه یوازې د بي بي سي د همکارانو دې ستونزې ته پام وي چې د دوی خواري او غږ د افغانستان تر ټولو ماشومانو او کوچنیانو پورې نه رسیږي، او د دې په باب بیا فکر کول په کار دی. زه فکر کوم چې په رادیو او تلویزیون کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د کیسو ویل له ډیرو اړخونو نه تر کتاب ښه دي او د دې پروګرام د لیکونکو، او مسؤلینو پام دغو ټکو ته را اړوم:

ـ ښه لار مو انتخاب کړې چې دا کیسې په وړیا ډول پرته له مصرف نه تر ماشومانو او کوچنیانو پورې رسیږي،

ـ که سواد ولري که یې ونه لري، هغوی په پښتو باندې پوهیږي او د کیسه ویونکې مطلب اخیستلای شي،

ـ مهمه دا ده چې داسې مواد او کیسې ورته برابرې کړای شي چې له یوې خوا هغوی ته په زړه پورې وي له بلې خوا د جګړې، کرکې او نفرت بوی او فکر د هغوی د ککرې له دایرې نه وباسي،

ـ او دا کار داسې کیدای شي چې کیسې د معلوماتي اړخ تر څنګ باید ډیر عاطفي اړخ هم ولري یعنې ډیره عاطفه په کې نغښتې وي،

ـ دا مسأله ډیره سلنه میندو پلرونو پورې اړه لري چې ماشومان او کوچنیان د رادیو له اوریدلو سره او د تلویزیون له لیدلو سره عادت کړي، په تیره د دې کیسو له اوریدلو سره یې بلد کړي او ارزښت یې ورته بیان کړي،

ـ هغه ماشومان او کوچنیان چې د تلویزیون د لیدلو امکانات نه لري، باید د بي بي سي د کیسو دا لړۍ د محلي رادیو ګانو له څپو نه، له ځانګړو توضیحاتو سره مل خپاره شي.

څنګه چې پاس یادونه وشوه د ماشومانو له پاره د کیسو د دې لړۍ لومړنۍ کیسه «زرغونه او ښاپیرۍ» نومیږي چې د ۲۰۱۷ کال د دسمبر په اتمه نیټه خپره شوه. په دې کیسه کې ماشومانو ته د عاطفي مسایلو تر څنګ د ریښتیا ویلو او له مور پلار سره د ښو اړیکو یو لوی درس نغښتی دی. او نجیبه لیمه یې هم په داسې ماشومانه انداز او د ماشومانو په ژبه وایي چې هر ماشوم فکر کوي چې نجیبه هم ماشومه ده او له دوی سره ډیره صمیمي ملګرې هم ده.

د کیسې په پای کې داسې ښکلي منظوم جملات راوړل شوي دي چې ماشوم په ډیر آرام ډول ورسره ویده کیدای شي. دا شعر ډوله جملات د ښاپیرۍ له خوا ماشومې زرغونې ته داسې ویل کیږي:

«للو، للو، للو

خوب دې درسي په لیمو

زرغونه ده ښه نجلی

ده تر ټولو ګلالۍ

خبرې نه کوي بیدیږي

سبا ګل غوندې ویښیږي

للو، للو، للو

خوب دې درسي په لیمو»

زه فکر کوم چې نجیبه لیمه د ستاره امیني او زلبخا فخري ځایناستي ده او له نوي تکنالوژۍ او نویو امکاناتو سره او د همدې امکاناتو پر مټ په هر کور کې او د هر ماشوم په څنګ کې ناسته ده او ماشومانو ته کوي.

دا ماشوم ته پاملرنه ده،

دا کوچني ته پاملرنه ده،

دا نوي نسل ته پاملرنه ده،

او دا د وطن راتلونکې ته پاملرنه ده.

د لیمې قلم، غږ او فکر دې تل تاند او مهربانه وي چې زموږ ماشومان، زموږ کوچنیان او زموږ نوی نسل په نوې بڼه، تاند او ښیرازه وروزي.

په پای کې زما هیله دا ده چې د للو للو د پروګرام مسؤلین باید د بې بې سي له ټولو امکاناتو نه په استفادې سره، چې د دوی په واک کې دي، د دې کیسو لړلۍ وغځوي او د نورو لیکوالو له لیکنو، تجربو او ټولو لاس لرلو امکاناتو څخه دې، د افغان ماشوم او افغان کوچني په روزلو کې خپله انساني او افغاني دنده تر سره کړي.

د لیمې له قلمه د دې کیسو د لیکلو پس منظر:

بیبو، بیبو ښایسته ده

دا د مور د زړه ټوټه ده

خپل غاښونه برسوي

غاښ له درده، ځان ساتي

بیبوګکه اوس بیدیږي

سبا ګل غوندې ویښیږي

للو،للو، للو

خوب دې درسي په له لیمو

مخکې له دې چې زه په اصل مطلب پیل وکړم، د دې خبرې یادول راته اړین دي چې د للو للو په لومړۍ برخه کې د «زموږ په هیواد کې د داسې کیسو تاریخي پس منظر ته یوه کتنه» تر سر لیک لاندې د دې کیسو پر لومړنیو تومنو غږیدلی وم. هلته مې دا موضوع هیره شوه چې دلته یې یادم:

په پخوانیو وختو کې به په ځینو کورنیو کې د کورنۍ مشرانو د ماخوستن له خوا ځینې کیسې کولې لکه: آدم خان درخانۍ، شرین فرهاد، بودرۍ جماله، او ...

او کله کله به یې د دیوانو او پیریانو ډارونکې کیسې هم کولې. دا کیسې به کله، کله دومره ډارونکې وې چې تر کیسو وروسته به ماشومان له ډاره له کوټې نه هم نه شوای وتلی چې په دې صورت کې د دې کیسو له ګټې نه تاوان ډیر و او له رواني پلوه به یې ماشومانو ته ضربه ور رسوله.

او اوس هم د للو للو دویمه برخه:

د للو للو لومړۍ او دویمه برخه چې ما ولیدلې او د زړه په غوږ مې واوریدې، دا کیسې په خورا دقت او نوې بڼه د ماشومانو او کوچنیانو له روحیې او غوښتنوسره سمې لیکل شوې دي. دا چې نجیبې لېمې ځنګه د ماشومانو کیسو لیکلو ته مخه کړه دا په خپله د دې کیسو د لیکلو د انګیزې په باب په ډیره هنري او ښکلې بڼه داسې لیکلي دي:

«له خړکۍ تر للوللو:

د خړکۍ د کیسو نه وروسته چې ۱٦ کاله مخکې مې لیکلې په منظمو لیکنو کې اوږده وقفه راغلې وه، ځان ته مې لیکلې خو د خپرېدو کار یې پاته و.

زه د د بي بي سي پښتو انلاین مشر اسماعیل میاخېل نه منندویه یم چې د کیسو د لیکلو غږ یې راباندی وکړ.

میاخېل صاحب د تل په شاني د نوښت په ډګر کې تر موږ ټولو دمخه دی، هغه راته د ټلویزیوني ستېدیو، نوي ډیزاین، پر ډیجیټلي نړۍ او ټلویزیون د خپرېدو او وروسته د کتاب انځور مخ ته کېښود، د ده د الوتنو کچ او لیوالتیا چې مې ولیده نو ما هم ورته تکل وکړ.

یو وار بیا مې هغه لمبه را په زړه شوه کله چې مې خړکۍ ته کیسې پېل کولې، هغه وخت دوو پېښو پر ما خورا سخت اغېز کړی و.

ځنګه مې خړکۍ ته پام شو؟

په کابل کې د ۱۹۹۰ کلونو د کورنیو جګړو پر مهال مې څو کوچنیانو ته کتل، زه په دوهم پوړ کې ولاړه وم او د څلورو پنځو کلونو کوچنیانو لاندې د بلاک مخ ته لوبې کولې. دوي منډې وهلې، خندل یې او یو بل یې پوري وهل، خو چې غوږ مې ورته ونیوې نو د دوي خبرې د ماشومانو په شان وې، د سوځېدلي ټوټه شوي کابل جګړو د دوي خبرې هم اغېزمنې کړې وې. د دوي په منځ کې یو څلور کلن هلک پروت و، د همدغه عمر نجلۍ نارې وهلې " ژوندۍ به پاته شې، امبولانس راوغواړئ".

بل کوچني هلک بیا ویل" ډېره وینه یې نه ده توې شوې، که خدای کول پاته به شي." او بیا بله نجلۍ د امبولانس په شان د "تیو تیو" په غږ کې راغله.

دوهمه خاطره مې د بلوچستان د سرانانو د کمپ ده، د افغان کډوالو یوې کوټې ته ننوتم، څلور پینځه کوچنیان مې شاوخوا ولاړ وو، د دوي ویښتان د لمر په شان ځلېدل، بس په ټوله کوټه کې هم دغه رنګ و، د دوي مخونه لاسونه د یخ له امله نسواري رنګه خیږ نیولی و، کالي یې شلېدلي او خیرن وو، شاو خوا په کوټه کې هر څه خړ پړ وو، د دغو کوچنیانو د شنو سترګو له پاره په دې کوټه کې رنګ نه و، هم هلته مې دا هیله را وټوکېدله چې کاشکې رنګه کتابونه راسره وای کاشکې د کوچنیانو کیسې راسره وای.
لندن ته له را رستنېدو وروسته مې د کوچنیانو کیسې پیل کړې.

نن ورځ که په افغانستان او پښتونخوا کې په پښتو ژبه خبرې رسنیو، او ټلویزیونونو پرمختګ کړې خو په پښتو ژبه د ماشومانو له پاره د لیکنو ډېره اړتیا لیدل کېږي.

هیله لرم د "للو للو" دغه لړۍ تر کوچنیانو ورسېږي. د کیسو انځورګره مې د کابل یوه ۱۹ کلنه نسیمه محمدي ده چې زما کرکټرونو ته یې په خورا مینه مخونه ورکړی. د میندو او پلرونو نه مو هیله دا ده چې د کوچنیانو غبرګون په ویډیویي توګه تر موږ راورسوي، چې د راتلونکو لیکنو پر مهال یې په پام کې ونیسو».

د للو للو په دویمه برخه کې لیمې د بیزوګۍ کیسه د ماشومانو او کوچنیانو په ژبه او د دوی له دنیاګۍ سره برابره او په ماهرانه ډول یې ماشومانو او کوچنیانو ته په خطاب کې ویلې هم ده. په دې کیسه کې د میندو پلرونو او ماشومانو په منځ کې د باور موضوع چې د وړو په راتلونکې ژوند کې ډیره د ارزښت وړ موضوع بلل کیږي، مطرح شوې او دغه راز د پاکوالي په برخه کې د غاښونو ساتل او مخکې له خوبه د غاښونو برسول هم مطرح شوي دي. بیبو یا وړه بیوزوګۍ چې د غاښونو د نه ساتلو او نه پاکولو په منفي پایلو باندې پوهیږي، بیا نو د ډاکتر او مور خبرې مني او غاښونه پاکوي او ساتني ته یې تل پام کوي، نو مور هم په ډیرې مهربانۍ سره له خوبه مخکې دا ترانه ورته وایي:

بیبو، بیبو ښایسته ده

دا د مور د زړه ټوټه ده

خپل غاښونه برسوي

غاښ له درده، ځان ساتي

بیبوګکه اوس بیدیږي

سبا ګل غوندې ویښیږي

للو،للو، للو

خوب دې درسي په له لیمو

د للو للو د کیسو په پیل کې لیمې او بې بې سي ویلي وو چې څه لنډه موده به دا کیسې په امتحاني بڼه خپرېږي، خو ښايي د ښو پایلو او د خلکو د غوښتنې له مخې نورې هم پسې وغځېدې او کله چې یې خبره یوه کال ته ورسېده، لیمې او بې بې سي هم څه یادونې پرې وکړې، خو ما د دې ډېرې ښې سلسلې د لا تشویق په پار د «للو، للو» کیسو یو کلن سفر تر سر لیک لاندې بیا یوه مقاله ورته ولیکله او په تاند او افغام جرمن آنلاین کې مې خپره کړه. دلته یې هم بشپړ متن را اخلم:

د «للو، للو» کیسو یو کلن سفر

لـلو، لـلو

«LalloLallo»

(د ماشومانو له پاره ځانګړې کیسې)

لومړی کلیزه

په بې بې سي پښتو کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د کیسو ځانګړې خپرونه «للو، للو» که یو ماشوم وګڼو، نو دا دی یو کلن شو. په دې یوه کال کې یې له خاپوړو نه په مینې سره لاس ونیول شو، پر پښو ودرید، قدم یې واخیست او د لیمې په بې پایه هڅو او خواریو سره (په ځانګړې سبک لیکلو او په یو استثنایي ستایل لوستلو) یې د څو کلونو مزل، په یوه کال کې وواهه او د دې یو کال په اوږدو کې یې بیشمیره ملګري، دوستان او خواخوږي پیدا کړل.

ما آصف بهاند د نوي نسل د روزلو د یو پلوي په توګه او د کوچنیانو د ادبیاتو د یو خدمتګار په ډول یو کال مخکې د «للو، للو» خپرونې په هماغه پیل کې، د دې پروګرام د مهم والي او په ځانګړي ډول د لیکنې او بیا د کیسو د ویلو او وړاندې کولو د ستایل په باب یوه اوږده مقاله ولیکله چې په دریو:

ـ لومړی،

ـ دویمه،

ـ دریمه.

برخو کې مې خپره کړه.

ما لا په هماغه پیل کې د کیسو پر مهموالي باندې او تر ماشومانو او کوچنیانو پورې یې د رسولو پر موضوع ټینګار کړی و. اوس چې د «للو، للو» د کیسو د لیکلو، وړاندې کولو او تر ماشومانو او کوچنیانو پورې یې د رسولو یو کال پوره شو او لړۍ یې په لا بریالي ډول روانه ده؛ زما له پاره ډېر د خوښۍ او ویاړ ځای دی چې، په نوې بڼه د ماشومانو او کوچنیانو د روزلو له پاره یو شمیر خلک په ټینګار سره ولاړ دي.

زه د بي بي سي له ټولو هغو کارکونو مننه کوم چې دا لړۍ یې پیل او تر دې ځایه پورې را ورسوله. زما هیله دا ده چې دا نیک کار به نور هم وغځوي، له لیمې نه بیا ـ بیا مننه کوم چې په پراخې حوصلې سره د دې کیسو لیکلو باندې او موضوعاتو یې په نوې بڼه فکر کوي او په ځانګړي ډول یې وړاندې کوي.

د «للو، للو» د لومړۍ کلیزې په درناوي ثنا ساپۍ له لیمې سره غږېدلې ده. ثنا جانې په فیسبوک پاڼه کې داسې لیکلې دي:

«د ماشومانو لپاره د للو للو کیسو د خپرولو یو کال پوره کېږي. دا کیسې نجیبه لیمې لیکلې نن مو فیسبوک لایف کې مېلمنه ده. پوښتنې راسره شریکې کړئ.»

یاده انتریو ما په ویدیویي بڼه ولیدله، بیا مې مهم ټکې ورنه را یادداشت او ټیپ کړل، لنډیز یې دا دی:«

ثنا: د کیسو په باب غبرګونونه څنګه وو؟

لیمه: ما ته تر ټولو ښه غبرګون د ماشومانو و.

د یو ماشوم خور خط را استولی و او ویلي یې و چې زه په اسمان کې پر ټولو فرشتو ګران یم، د یوې نوم لیمه دی او هغه ما ته هر جمعه کیسې وایي،

ما ته ډېره مهمه ده چې کیسه ماشوم ته ورسېږي او ماشوم یې واوري،
یو چا راته وویل چې کله بیا ځلې خپلو کوچنیانو ته دا کیسې کوو، کوچنیان وایي چې داسې یې ووایه لکه لیمه یې چې وایي.

ثنا: تاسو تقریبا شل کاله مخکې د «خړکۍ» په نامه یو پروګرام پرمخ بیوه، آیا دا اوسنۍ کیسې د «خړکۍ» ادامه ده، که څنګه؟

لیمه: د اوسنیو کیسو په پیل کې د پروګرام پرودیوسر مانه هیله وکړه چې د کوچنیاو له پاره د تیر په څیر کیسې ولیکم، ما ورته وویل چې هغه وختونه بیل وو، د دې کیسو او د هغو کیسو توپیر په دې کې دی چې هغه کیسې ما لس کلنو ته لیکلې او دا کیسې پنځه کلنو ته په نظر کې نیول شوي دي. دا هیجان نه راولي، دا د شپې کیسې دي، دا باید ماشوم ته ارامتیا ورکړي، ځکه چې د خوب د وخت له پاره دي، په لنډه ډول ویلی شم چې دا کیسې تقریباً د هغو کیسو دوام دی.

ثنا: په کیسو کې څه ډول مسایل یادوئ؟

لیمه: څلور موضوعګانو ته ما پاملرنه کړې ده:

۱ ـ روغتیا،

۲ ـ د ځینو اړینو قوانینو یادونه لکه: ترافیکي قوانین،

۳ ـ د تعلیم مسآله،

۴ ـ اخلاقي مسایل لکه: پر خوار باندې مه خانده، له خلکو سره مرسته کوه او...

ثنا: دا کیسې د کومو عمرونو له پاره دي؟

لیمه: خپرونه خو د پنځه کلنو له پاره په پام کې نیول شوې ده، خو کوم نظرونه چې ما ته راغلي له هغو نه پوه شوم چې حتی لس کلن یې هم اوري. د هغه له پاره هڅه کوم چې تر پنځه کلن د لوړ عمر کوچنیان هم په پارم کې ولرم.

ثنا: کوم چا پوښتنه را لیږلې وه چې: ایا کیسې مو خپلې دي که یې له کوم کتاب څخه را اخلئ؟
لیمه: کیسې مې خپلې دي.

ثنا: تر اوسه مو څو کیسې لیکلې دي؟
لیمه: تر اوسه مې شپیته کیسې لیکلې دي چې دري پنځوس یې خپرې شوې دي.
ثنا: آیا دا کیسې د کتاب په بڼه هم لیکئ؟
لیمه: هو د کتاب په بڼه یې هم برابروم او کار مې پیل کړی دی.
ثنا: ایا په راتلونکې کې تاسو پلان لرئ چې ځینې تاریخي مسایل کیسو ته ور داخل کړئ لکه د میوندي ملالې کیسه، د نازو انا کیسه؟
لیمه: هو، دا کار کوم، خو زما هیله دا ده چې که وکولای شم یو وخت پښتو کارتوني فلمونه جوړ کړو ځکه چې کله چې د نورو کارتوني فلمونه پښتو ته راژباړل کېږي، هغه بل محیط دی، ستا د پښتو محیط نه دی، ماشوم یې سم نه شي درک کولای.
او...»
دا کیسې مې لکه یو ماشوم، له پیل نه تر اوسه ـ هغسې چې په تانده ځوانۍ کې مې له رادیو افغانستان څخه د ستاره امیني له خولې د ماشومانو کیسې اورېدلې ـ نه یوازې اورېدلې او لیدلې دي، بلکې له پیل نه تر اوسه مې د هرې کیسې سرلیک او لینک د خپلو راتلونکو څېړنو له پاره په جلا ځای کې خوندي کړي دی.

للو للو: د وړانګې ښاپیرۍ کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45450678

للو للو: د موږک کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45526056

للو للو: د باز کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45609083

للو للو: د سوېې کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45687213

للو للو: د غاښونو مینځل
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45946834

للو للو: ژړانو چنګاښ
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45998760

للو للو: د زرلښتي کیسه
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-46075313

للو للو: له ناروغ څنګه ځان وساتو
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-46240052

د ټولو کیسو منځپانګه زموږ د ټولنې د غوښتنو له مخې پر هغو مسایلو راڅرځي چې ورځنۍ اړتیا ده، لکه: تعلیم، اخلاق، روزنیز مسایل او...

زه د نوي نسل د روزلو د نهضت د یو ټینګ پلوي او د ماشومانو او کوچنیانو د ادبیاتو د خدمتګار په حیث د ځان له لوري، د خپلې کورنۍ او ټولو هغو قلموالو چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره عملاً فعال دي په استازولۍ لیمې جانې او همګارانو ته یې، د دې بریالي انساني مسؤلیت د تر سره کولو په پار مبارکې وایم او د لا بریالیتوبونو هیله ورته کوم. په دې زیري باندې زښت ډیر خوشاله شوم چې دا کیسې نورې هم غځېږي او هیله مې پیدا شوه چې پښتنو ماشومانو او کوچنیانو ته د دوی په ژبې او د دوی له روان سره برابر، د کیسې ویلو یو ادرس شته.

دا هم د «للو، للو» په یوې کیسې کې د ماشومانو او کوچنیانو په روحیې او ذوق برابر یو شعر:

بیبو، بیبو ښایسته ده
دا د مور د زړه ټوټه ده

خپل غاښونه برسوي
غاښ له درده، ځان ساتي

بیبوګکه اوس بیدیږي
سبا ګل غونډې ویښیږي

للو،للو، للو
خوب دې درسي په لیمو

د «للو، للو» لومړۍ کلیزه دې بختوره وي!

د دې کیسو د لا غوړېدو او غځېدو په هیله!

محمود مرهون

او د کوچنیانو ادبیات

پنځه لسمه مقاله

په پیل کي د مرهون بیوګرافي، د مرهون په قلم:«

#دچهار سو د دکاندار زوی څنګه د کابل پوهنتون استاد سو؟

له نن څخه اوویشت کاله دمخه دې ناکراره نړۍ ته یو ناکرار کوچنی و زېږدی خلکو ویل هلک دی تر اوسه هلک یم خو یوازي غټ سوی یم.

په کوچني والي ډېر شوخ وم تر لس ځله مي ډېر سر مات سوی، دواړه لاسونه مي مات کړي د مرغانو بچي مي له ځالګیو څخه را اخستي لوی کړي مي دي، مردکي مي کړي بجلي مي کړي .

زموږ په کورنۍ کي تر دېرش ډېر یوازي هلکان وه تر ټولو ډېر وهل ما خوړلي.

په کوچنوالي مي له هر چا سره ډېر دلایل ویل هغه به یې تر په خوا لا ډېر ووهلم.د ډېري شوخۍ له لاسه په کوچني والي ډېر مردار خور هم وم مګر د شپږو خوندو او یوې مهذبي مور زوی وم نو هره ورځ به د لمبول کېدلو سره وهل کېدلم هم.

په اول صنف کي د پنځو شپږو کالو وم په امام ابوحنیفه مدرسه کي ناکامه سوم وروسته بیا خبر سوم چي سراج الدین خان ته مي مشر ورور ویلي وه چي دئ ډېر کوچنی دئ اول بیا تکرار په

و واياست، دوه د اکا زامن مي چي يو يو نيم کال بل دونيم کاله تر ما مشران دي همېشني سيالان وه.

پخواني البيروني اوسني ظاهرشاهي ليسه کي په شپږم صنف کي شامل سوم، يو کال مي تېر کړ د فټبال لوبي ليونۍ ميني احمدشاه بابا ليسې ته کش کړم فټبالونه مي هم کول او د کندهار د ورزشي ستديوم نطاق هم وم، له دې مخکي مي د اکا له زامنو سره افغان ترک ليسې ته امتحان ورکړ دوی کاميابه سوه زه ناکامه، يو ځل بيا مي ورکړ چي کاميابه سوم افغان ترک و تړل سو. دريم ځل چي مي امتحان ورکړی په شپږو زرو کسانو کي دوهم راغلی وم، بيا مي په څنګ کي عملي نرسينګ شروع کړی يو نيم کال مي په ميرويس روغتون ساري وارد کي کار و کئ، له هغه وروسته د معارف رياست د غونډو وياند او د مجلې مرستيال و ټاکل سوم.

بيا مي د يو خصوصي شرکت مشرتوب پر غاړه سو له دې مخکي د يونسف له خوا د جنوب غرب حوزې د ځوانانو مشاور و ټاکل سوم. په يولسم صنف کي به وم شايد پنځلس کلن به وم چي لومړی کتاب انځور مي چاپ سو. له کوچني والي مي بخت نه درلودی پلار مي درې سره ورونه له ځان سره بېلابيلو هيوادونو او ولايتونو ته له ځان سره بېول زه يې هيڅ وخت نه يم بيولی، مور مي کيسه کوي چي څو ځله دي په کوچني والي هم زکندن تېر کړی دئ، کابل ته راغلم په تګ او راتګ کي مي درې ځله موټر چپه سوی شپږ اوه ځله طالبانو نيولي يو دوه درې ځله په جنګ کي ختلي يو، داسي اونۍ راغلې ده چي په لس افغانۍ به ګذاره وه، د افغانستان د ځوانانو پارلمان رياست ته کانديد سوم اته نيوي رايي مي درلودلې په اول پړاو کي کاميابه سوم، راسره کانديد د يوه وکيل زوی په دوهم پړاو کي يې ناکامه کړم بيا په دوهم ځل انتخاباتو کي رئيس سوم خو په دوې مياشتي کي د پارلمان پروژه لغوه سوه، د کابل پوهنتون د ممتازو محصلينو مشر و ټاکل سوم او د محصل ږغ مجلې مسول مدير سوم، څلور کاله پره پسې مي د کابل پوهنتون عمومي اولنمرګي و ساتل، قواره مي مغروره ده او خبري مي سيده او ساده دي نو ځکه هر ځای له ټکر سره مخامخ يم او وم ديپلوماسي درواغ را معلومېږي نو ځکه هر ځای خلک راڅخه خوابدي وي، خوابتيا مي چي ډېره سي يو ساعت ده، په پوهنتون کي له دونه مشکلاتو سره مخامخ سوی يم چي شايد ليکل يې ما ستړی او لوستل يې تاسي ستړي کړي.

اوويشت کاله مي د ژوند تېر دي خلک وايي چي ژوند ژر تېرېږي مګر پر ما اوويشت پېړۍ تېر سوی دئ، شا ته چي ګورم دونه کارونه مي کړي چي زما تر عمر بيخي ډېر دي، شايد ډېر به يې غلط وي خو زه هغه څه کوم چي ښه راته ايسي اکثره وخت غلط ښه راته ايسدلي دي.

پر اوويشت کلنۍ شاوخوت اتيا کتاب خپل ترجمه او ليکلي چاپ لرم.

د کابل پوهنتون استاد سوی يم.

ماسټري مي کړې.

په څو ژبو پوهېږم د هيواد په نږدې ټولو ولايتو کي ملګري لرم، پر نړۍ ګرځېدلی يم، هغه کارونه چي خلک په پنځوس کلنۍ کي کوي ما په اوويشت کلنۍ کي کړي او دا مي د ژوند تر ټولو ستره اشتباه ده تاسي ته مي مشوره دا ده چي هر څه پر خپل وخت وکړئ کنې زما په څېر به هر څه لرئ مګر د نړۍ تر ټولو سرګردانه انسان به ياست.

پورته شيان زما له ژونده مشت نمونه يې خروار وه، کي درته اوږدې کم تردې مي لا نور خراب کارونه هم کړي دي، خو دغونه بدۍ به مي ښې وي چي ياران پند ځيني واخلي.
بلاخره : د هر چا په کار کال مه لرئ، له کورنۍ هيڅکله مه ليري کېږئ، له هيواده بهر هيڅکله د ډېر وخت له پاره مه پاته کېږئ کوښښ و کئ چي له کورنيو څخه په هيڅ صورت و نه وځئ، هيڅکله ځان مه درڅخه ورکوی چي پيدا کول يې بيا وختونه غواړي.»

محمود مرهون په دې کم عمر کې د پاملرنې وړ فرهنګي کارونه تر سره کړي دي. له هغې ډلې نه یې څه چې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کړي دي، د ځانګړې پاملرنې وړ دي. د همدې له پاره ما د کوچنیانو ادبیاتو د مقالو په سلسله کې څو مقالې یوازې دې ته ځانګړې کړې دي چې د کوچنیانو د ادب په برخه کې د مرهون کړو کارونو ته یو ځغلند نظر وکړم.

ما محمود مرهون له نږدې نه و لیدلی، یوازې مې د میډیا له لارې پیژانده. کله، کله به یې مقالې په «لر اوبر» ویبپاڼه کې راتلې. کله مې چې د ۲۰۱۵ کال په اپریل کې کابل ته سفر وکړ، نومې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې ولید. سره ومو پیژندل، ښه روغبړ مو وکړ. ده اجمل ښکلي او د علمي کدر څو تنو نورو نوو او ځوانو غړو چې ما نه پیژندل په دقت سره غوږ نیولی و چې زه به څه وایم.

کله چې لږ د استادانو او زده کوونکو ګڼه ګوڼه کمه شوه، مرهون مې ورو خوا ته راغی او را ته و ې ویل:

«استاده ما هم د کوچنیانو له پاره یو څه کار کړی دی، اوس هم لګیا یم کار کوم او...»

څو مجله ډوله غیر ستندرد کتابونه یې په لاس کې را ته ونیول او وې ویل:

«دا مې د کار بیلګې دي، دا وړې کیسې مې د کوچنیانو له پاره ژباړلې دي او...»

ما کتابونه په مینه ورنه واخیستل، عنوانونه مې له نظره تیر کړل. په رښتیا ډیر خوشاله شوم چې په یوه وار د کوچنیانو له پاره دومره کتابونه، هغه هم د لسو ټوکو په شمیر. نو سمدلاسه مې ورته وویل:

مبارک دې شه، په ځوانۍ دې برکت شه چې تا دومره کار کړی دی، هغه هم دکوچنیانو له پاره چې د ډیرو هیر، خو ستا په یاد دي. د اوږدې مرکې په پای کې یې بیا را ته وویل:

«دې ته ورته نور کتابونه مې هم تر کار لاندې دي، که ژوند باقي و، نو بشپړ به یې کړم.»

کله چې د ده خبرې خلاصې شوې، ما ورته وویل چې زه به د کوچنیانو له پاره ستا پر کارونو او په ځانګړې ډول پر دې کتابونو یو څه لیکم.

کله چې ما د کوچنیانو ادبیاتو د مقالو پنځلسمه برخه خپره کړه، نو مرهون راته د فیسبوک له لارې ولیکل:

«استاده سلام!

هغه زما د کتابو په اړه به دې سه نه وي لیکلې؟»

ما بیرته داسې ورته ولیکل:

مرهون صاحب درناوی مې د ځان او ټولو همکارانو له پاره ومنه!

ستا سو کتابونه مې له دروند والي سره، سره تر ډنمارکه پورې را رسولي دي، یو څه یاد داشتونه مې ستا او ځینو هغو کتابونو په باب لیکلي هم دي چې سر سري مې لوستلي دي، خو له بده مرغه چې ټول لیکلي شیان مې په یوه آر ډسک کې پراته و او اوس هغه آر ډسک ما ته د نا مالوم دلیل له مخې تړل شوی دی.

همدا پرون مې یو چا ته وسپاره چې خلاص یې کړي. که مواد په لاس راغلل هم ستاسو د کتابونو په باب یو څه لیکم او که آر ډسک خلاص نه شو هم یې لیکم، خو زما ژوند او نورو فرهنګي کارونو ته په کتو سره یو څه وخت ته اړتیا لري.

څنګه چې بحث د مرهون پر هغو کارنو باندې دی چې ده د کوچنیانو له پاره کړي دي، نو د دې له پاره چې زه خپله او درانه لوستونکي یو څه له مرهون سره آشنا او بیا یې پر کړو ادبي کارونو څه وایو، نو ما د فیسبوک د چت خونې له لارې له ده نه د ده د بیوګرافۍ غوښتنه وکړه:

مرهون صاحب که دې یوه لنډه بیوګرافي را ولیږې، خوشاله به شم!

ده هم د غفور لیوال هغه لیکنه په لاس راکړه چې لیوال صاحب په شاعرانه انداز او هنرمندانه ډول د ده په باب د ۲۰۰۹ کال د جون د میاشتې په اته ویشتمه نیټه په «ټول افغان» ویبپاڼه کې خپره کړې وه. د هغې لیکنې په یوه برخه کې د مرهون په باب داسې راغلي دي:

«هغه ورځې، چې له شماله جنوب ته راپاڅیدلي بادونه د ونو وروستۍ پاڼې توږي، او انار په خپلو ریښو کې د نویو ګلونو د غوړولو لپاره اوبه پټوي، نو چې د بابا صاحب زیارت ته وخیژې ښکلی ارغنداو یو بل رنګ لري، شل کاله پخوا (۱۹۸۹میلادي) د همداسې یوه دسمبر په ۱۳مه یوه ښکلي ماشوم د ښاغلي آغا محمد محرابي کور روښانه کړ، د بارکزو د شیرزیو (خړزیو) په محرابخیلو کې یو بل بارکزی ورزیات شو. دنیکه ملاولي احمد محرابي او غور نیکه محمد امین محرابي د کاله نغری پر یوه تنکي محمود تود شو، چې کلونه وروسته د خپلو ادبي او فرهنګي هڅو له برکته په محمود مرهون مشهور شو.»

اوس محمود مرهون د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې په علمي کدر کې تر ټولو ځوان غړی دی.

مرهون یو فعاله ځوان علمي کدر دی چې ادبیاتو پوهنځي کې یې د زدکړې او تدریس تر څنګه ډیرې نورې فرهنګي پروژې او کارونه را پیل کړې دي. د ژورنالیزم په برخه کې فعالیت لري او د «سراج الملت» په نامه جریده خپروي چې تر اوسه پورې یې دوې ګڼې زما له نظره تیرې شوې دي، په آنلاین ډول یې د پښتو ژبې تدریس (راځئ چې پښتو زده کړو، بیاید پښتو بیاموزیم) ته متې را نغښتلې دي چې په آنلاین ډول تر لاسه کیدای شي.

د کتابونو لیکل او ژباړل یې په یوه عادت بدل شوي دي. له ټاټوبي اونیزې سره یې د خپلو چاپ شوو آثارو په باب داسې ویلي وو:

«تر دې دمه مې ۳۱ عنوانه بېلابېل کتابونه په هیواد کې دننه او له هیواده بهر چاپ سوي دي او انشاالله په نږدې راتلونکي کې به دغه شمېر ۳۵ ته ورسېږي.»

زه د اوس له پاره د ده پر نورو فرهنګي کارونو باندې څه نه وایم، یوازې یې هغه کارونه دلته معرفي کوم چې د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې د کوچنیانو او ماشومانو له پاره کړي دي.

هغه کتابونه چې مرهون ما ته په کابل کې را وسپارل، عنوانونه یې دا دي:

ـ مهربانه سپی او د چرګې ژړ چیچان،

ـ درې نانۍ پیشو ګیانې،

ـ وحشي خرس او هوښیار هلک،

ـ د ځنګل د مانۍ راز،

ـ د سرو زرو هګۍ او جادویي بیزوګۍ،

ـ لویشتکی،

ـ د علاالدین څراغ،

ـ هوښیاران خور او ورور،

ـ بامي،

ـ بیرندونکی شوپرک.

د کتابونو نومونه څنګه چې د کتاب پر پشتۍ باندې چاپ شوي دي، ما هغسې ثبت کړل. دا کتابونه د ډیرو ښیګڼو تر څنګ یو څو «خو» ګانې هم لري، په دې ډول:

ـ د کتاب لیکوالان نه دي ښودل شوي،

ـ په ژباړل شوي متن کې د کتاب منبع نه ده راوړل شوې،

ـ د چاپ کال او ځای نه ده ښودل شوی،

ـ د ځینو کتابونو پر وروستۍ پشتي باندې لیکلي دي: انتشارات مستقبل او پر ځینو یې بیا لیکلي دي: کتاب فروشي علمي، خو د ناشر او خپرونکي توري ورسره نه شته او سړی نه شي کولای پوه شي چې ناشر څوک دی او له کوم آدرس نه خپاره شوي دي.

ـ د ژباړې ژبه یو څه ځیږه ښکاریږي چې د پښتو د یوې لهجې رنګ په کې غالب دی.

د دغو پاسنیو نیمګړتیاوو په باب مې له مرهون سره د چت په خونه کې سوال ځواب کړی دی چې د ځینو پوښتنو او نیمګړتیاوو ځوابونه په کې موندل کیدای شي:

آصف بهاند:

په ښه وخت په لاس راغلې!

دا لس کتابونه دي چې ما ته راکړي، دا ټول ژباړل شوي آثار دي، د دې منبع او ژبه نه ده ښودل شوې چې له کومې منبع او کومې ژبې نه را ژباړل شوي دي؟

په یوه کتاب (مهربانه سپی او د چرګې ژړ چیچان) کې د کتاب پر مخ ژباړن محمود مرهون ښودل شوی دی او په دریم مخ کې یې ژباړن ساحل مرهون ښودل شوی دی. آیا ساحل مرهون او محمود مرهون یو شخص دی که جلا، جلا اشخاص دي؟

محمود مرهون:

سلامونه!

هغه یو اشتباه ده دواړه یو کس دي.
دواړه محمود مرهون دی.

او بل دا د انګلیسي متن څخه ترجمه سوي دي مګر رسامی یې...

آصف بهاند:

نور ۴۰ ټوکه دې چې چاپ ته لیږل، زما مصلحت دا دی چې ټاکلي منبع (مآخذ) یې ور سره ولیکه چې ستا مسولیت هم تر سره شي او په راتلونکو کې ځیرونکي هم له ستونزو خلاص وي. په هر څه کې مآخذ، سر چینه، ریفرینس، لینک، آدرس ښودل ډیره اړینه موضوع ده، بیا تا غوندې یو شخص ته چې استاد او ځیرونکی یې.

محمود مرهون:

پر دواړو سترګو،
استاده دې ټکي ته مې فکر دی.

زما هیله دا ده چې چې مرهون صاحب په خپلو راتلونکو کارونو کې دې نیمګړتیاوو ته په پام سره دا کمبود شیان ور اضافه کړي.

د اوس له پاره یې پرتلنه ځکه نه شي کیدلای چې اصل متن په لاس کې نه شته او په هر اړخیزه توګه یې نقد ته هم زړه نه شم ښه کولای. د اوس له پاره د کوچنیانو د ادب په برخه کې همدومره کار که نیمګړتیا هم ولري، غنیمت یې ګڼم چې یو مور او پلار یوه ماشوم ته د دې کتابونو یوه کیسه په مینې سره واوروي او یا کوم کوچني ته له دې کتابونو څخه یو د لوستلو له پاره په لاس کې ورکړل شي او که هیڅ شی نه وای نو...

د کتابونو موضوعات د کوچنیانو د ژوند او عمر په سطحه برابر دي او که تر ماشومانو او کوچنیانو پورې ورسیږي، ډیر ګټور دي او کوچنیان به ډیر څه ورنه زده کړي.

د لس عنوانه کتابونو له ډلې نه مرهون د ځینو کتابونو په پیل کې د کوچنیانو په ژبه له هغوی سره د زړه خواله کوي چې دا د زړه خواله ماشومان او کوچنیان نور هم مطالعې ته هڅوي او له دې کتابونو سره یې مینه زیاتوي. څو بیلګې یې دا دي:

«خوږو او ګلالیو کوچنیانو! دا دی تاسې ته مې نن یوه ډیره پخوانۍ او ډیره عجبه کیسه راوړې ده. دا کیسه یوه خورا مشهوره کیسه ده چې دیر کلونه پخوا پیښه شوې ده. تاسو به دا کیسه لولئ، خپلو نورو شریکانو ته به یې واياست او بیا به یې په خپلو کتابچو کې لیکئ. که چیرې مو کوم ځای سر نه خلاصیدئ، بیا به نو خپل ګران پلار جان اویا مور جانې ته و واياست چې در ته مانا یې کړي ...» (مرهون،محمود (ژباړن)، وحشي خرس او هوښیار هلک، لومړی مخ)

«ګرانو کوچنیانو سلامونه!

دا دی نن د یوې نوې کیسې سره راغلی یم. دا کیسه د چین په اړه ده. تاسو دا کیسه له سره تر پایه و واياست، په یاد یې کړئ او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ...» (مرهون،محمود (ژباړن)، د سرو زرو هګۍ او جادویي بیزوګۍ، لومړی مخ)

کتابونه ټول له رنګه انځورونوسره چاپ شوي دي چې دا نور هم کتابونه او د هغو موضوعات د کوچنیانو له پاره په زړه پورې کوي او په لوستلو کې مرسته ورسره کوي.

خو اصلي خبره دا ده چې دا کتابونه به اوس تر ماشومو اوکوچنیو لو ستونکو پورې څوک څه ډول ور رسوي. ما د د کوچنیانو ادبیاتو په پنځه لسمه برخه کې همدې ستونزې ته اشاره کړې وه چې دومره مواد، کتابونه، مجلې چې ما په څو برخو کې معرفي کړل، څنګه به تر کوچنیو لوستونکو پورې ورسیږي.

د مرهون صاحب د دې کتابونو مسآله هم همدې ستونزې سره مخ ده چې دا ښایسته او د ماشومانو او کوچنیانو له پاره په زړه پورې کتابونه به څنګه او څوک تر خپل ځای، یانې د کوچنیانوتر نازکو لاسونو پورې ورسوي؟

کله چې ما په کابل پوهنتون کې له مرهون سره ولیدل د نورو خبرو تر څنګه مې همدا موضوع ورته یاده کړه چې دا کتابونه به څنګه تر کوچنیانو پورې ورسیږي؟ او وړاندیز مې ور ته وکړ چې ښه لاره یې دا ده چې په کومه ویبپاڼه کې آنلاین شي، څو هغه کورنۍ چې انترنت ته لاس رسی لري په وړیا او آسانه استفاده ځینې وکړي. ده را ته و ویل چې سمه ده. او اوس یې یوازې

د فیسبوک پر یوه ځانګړې پاڼه باندې یو څو کتابونه آنلاین کړي دي چې ښايي ټول خلک به ور ته لاس رسی و نه لري.

که ښاغلی مرهون که له ځینو داسې ویبپاڼو سره چې دا کتابونه انلاین کولای شي، په تماس کې شي، ډیره به موثره وي. هغه څو پاڼې دا دي:

ـ کتابونه دات کام (ketabton.com)

ـ کتابونه دات کام (kitabtoon.com)

ـ پل دات، تاند دات کام (pal.taand.com)

دوه لومړني یې جلا جلا ویبپاڼې دي چې دواړه په خپل کتابتون کې د کوچنیانو د ادب او ماشومانو او کوچنیانو کتابونو له پاره جلا برخې او ځایونه لري. او دریمه ویبپاڼه (پل) د ماشومانو، کوچنیانو او د هغوی د کورنیو له پاره ځانګړې ویبپاڼه ده، که دا او دې ته ورته کتابونه په خپله لمن کې ولري، ډیر په ځای او مناسب کار به وي.

محمود مرهون د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په پنځلسمه نیټه په خپله فیسبوک پاڼه کې ولیکل چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یې څلویښت نوي آثار له چاپه راوتلي دي. د ځینو چاپ شوو کتابونو د لومړي مخ عکسونه یې په خپله پاڼه کې ایښی وو. دغه یې درې بیلګې دي:







د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د محمود مرهون د لومړنیو لسو چاپ شوو کتابونو په باب مې چې کومه مقاله لیکلې وه، هلته مې دا یادونه کړې ده چې دا چاپ شوي مواد به اوس تر وړو لوستونکو پورې څوک او څنګه رسوي؟

د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د ښاغلي محمود مرهون د نوو چاپ شوو آثارو په برخه کې بیا په تکرار سره وایم چې: دا چاپ شوي مواد به اوس تر وړو لوستونکو پورې څوک او څنګه رسوي؟

زما په نظر تر ماشومانو او کوچنیانو پورې رسیدل یې د میندو او پلرونو د پوهې د کچې د ټیټوالي، بې تفاوتۍ او د کورنیو د بد اقتصادي حالت په دلیل، کله ګران او کله نا شونی وي.

خیر چې هرډول وي، وې دې. زما له پاره دا د خوشالۍ خبره ده چې زموږ د ټولنې د یو هیر شوي قشر له پاره یو څه نه، بلکې ډیر څه له چاپه را و وتل.

اوس پوښتنه دا ده چې دا کتابونه چا ته چاپ شوي دي:

ـ هغه چا ته چې د راتلونکې ټولنې یوه اصلي سټه ده،

ـ هغه چا ته چې راتلونکې ټولنه باید وچلوي،

ـ هغه چا ته چې راتلوکې یا ښه کوي، یا یې بربادوي،

که مو ښه وروزه، ښه به شي او که بد مو وروزه نو پایله یې همدا اوس مالومه ده، یعنې بربادي. زه د دې کتابونو چاپ او خپریدل، د نوي نسل په روزلو کې له اساسي ګامونو نه یو ګام ګڼم.

محمود مرهون په خپل فیسبوک کې د نویو کتابونو د چاپ له پاره داسې لیکلي دي:

«خپلو نانیو شریکانو ته زیری!

دا واري مې تاسې ته (٤٠) دانې کتابونه در جوړ کړي دي، پلرو ته مو و وایاست چې خامخا یې در پیدا کې څلوېښت دانې د خوړو کیسو کتابونه ټول رنګه»

په ځینو ځایونو کې داسې هم تر سترګو شوي دي چې د نویو چاپ شوو کتابونو شمیر څلوېښت نه، بلکې پنځه څلوېښت عنوانه دي. د دې کتابونو په باب تر ټولو کره او وروستی مالومات، مرهون له ښاغلي احمد شاه اعظمي سره په یوې مرکې کې وړاندې کړ چې د مشال او آزادۍ رادیو له لارې په غږیزه بڼه خپور شو. د آزادۍ رادیو په یوه یاد داشت کې داسې راغلي دي:

«د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي ځوان ښوونکي محمود مرهون د ماشومانو لپاره ۴۵ کتابونه لیکلي او ژباړلي دي.

نوموړی وایي، د هر کتاب هره پاڼه یې د متن تر څنګ په ښکلو انځورونو پسوللې تر څو ماشومان په اسانه زدکړه ورڅخه وکړي او په کیسه ځان پوه کړي. د ده په خبره، ماشوم ته باید وښودل شي چې رنګینه نړۍ د کاغذ پرمخ هم شته. نوموړی زیاتوي، پلان لري، په نږدو وختونو کې د ماشومانو لپاره شپږ جلده دایرت المعارف هم ولیکي.

له محمود مرهون سره زموږ همکار احمد شاه اعظمي مرکه کړې او په لومړي سر کې یې ورڅخه پوښتلي چې د ماشومانو لپاره یې د کتابونو لیکلو او ژباړلو ته څنګه پام ور اوښتی؟»

http://www.mashaalradio.org/content/article/27420950.html

کومې څرګندونې چې ښاغلي مرهون آزادۍ او مشآل راديو ته کړي دي، هلته يې ويلي دي چې په دې پنځه څلويښت کتابونو کې اوه(۷) ټوکه ټولونه او ليکنه ده او نور ټول ژباړل شوي دي. دا کتابونه د کاينات نشراتي مرکز په مالي مرسته چاپ شوي دي.

ټول پنځه څلويښت کتابونه زما له نظره نه دي تير شوي چې زه يې خپل تقصير ګڼم، خو يو څلويښت عنوانه يې ما ليدلي دي، چې دلته يې درنو لوستونکو ته ور پيژنم:

۱ـ شرمښ او سره بزه، محمود مرهون،

۲ـ جګ بابا، ليکوال: جين وبستر، مترجم: محمود مرهون،

۳ـ د آسمانو شاپيرۍ، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۴ـ د واورو ملکه، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۵ ـ د اُز د ښار جادو ګر، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۶ ـ سورکۍ، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۷ ـ ملاله په عجبه دنيا کې، ليکوال: لوييس کارول، مترجم: محمود مرهون،

۸ ـ اورلګيت خرڅونکې نجلۍ، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، مترجم: محمود مرهون،

۹ ـ د ماشيني انسانانو سره جنګ، ليکوال: فرانک با اُوم، مترجم: محمود مرهون،

۱۰ ـ د باچا نوي کالي، محمود مرهون،

۱۱ـ قهرمان هلک او جادوګر، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۲ـ د ځنګله د مانۍ راز، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۳ـ شين طوطي، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۴ـ سارا سرور، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۵ـ شپږ ورونه او يو سوی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۶ـ نيک بخته شاهزاده، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۷ـ مغروره باز(او يوه بله کيسه)، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۸ـ چالاکه پيشي، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۹ـ د ريدي وفاداره سپی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۲۰ـ سرتيری او وحشي ديب، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۲۱ـ د ګيدړې شيطان چيچی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۲۲ـ اروا وړی سپی (څو نورې کيسې)،

۲۳ـ د کلي عجيبه سپی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۲۴ـ انګوړ و منګوړ او چيچي مچونګړ، محمود مرهون،

۲۵ـ ښکار او ښکاري(او یوه بله کیسه)، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۲۶ـ مچمچکه، لیکوال: بن زلس، مترجم: محمود مرهون،

۲۷ـ هوايي هیلی، لیکوال: هانس کریستن اندرسن، مترجم: محمود مرهون،

۲۸ـ د کوچنیو انسانانو دنیا، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۲۹ـ آسماني نجلی، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۳۰ـ لنډیان او خفاف(بوټ ګنډونکی)، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۳۱ـ نازو او جادوګر، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۳۲ـ مهربانه نجلی، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۳۳ـ شین سترګې ارزو، لیکوال: لوسی م مونټګمري، مترجم: محمود مرهون،

۳۴ـ ماریا او زمری شاهزاده، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۳۵ـ نازو او جادوګر باچا، لیکوال: فرانک با اُوم، مترجم: محمود مرهون،

۳۶ـ علي بابا او څلویښت غله، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۳۷ـ هوښیار سوی او بد رنګه راکون، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۳۸ـ دري سترګی دیب او کوچنی بوټیه، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۳۹ـ د زمریالي وفا داره سپی، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۴۰ـ د هیلی بد رنګه چیچی، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

۴۱ـ وحشي خرس او هوښیار هلک، لیکوال: شاګاهیراتا، مترجم: محمود مرهون،

زما د مالوماتو له مخې تر اوسه پورې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره په افغانستان کې، هغه هم په پښتو ژبه، هیڅ چا دومره کتابونه نه لیکلي، نه یې ژباړلی او نه یې هم چاپ کړي دي، خو ښاغلي محمود مرهون د لیکولو، ژباړلو، او چاپولو چارې او نور ټول مسایل په یوازې توګه تر سره کړي دي. زه فکر کوم دا به په دې برخه کې د افغانستان په کچه یو ریکارد وي.

کله چې د کوچنیانو له پاره د محمود مرهون د نویو کتابونو د چاپ خبر میډیا ته راووت، ورسره د محمود مرهون ځینو دوستانو او د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزلو په ارزښت باندې آګاه خلکو خپل عکس العملونه او نظرونه څرګند کړل چې زه یې دلته د بیلګې په توګه څو نمونې را اخلم:

ښاغلي مطیع الله روهیال د دوه زره پنځه لسم کال د دسمبر په څلورمه نیټه داسې ولیکل:

«زما ګران مرهونه دوا دي سه!

د پښتني ټولنې ډېرې میندې او پلرونه د کابل پوهنتون د ځوان استاد ښاغلي محمود مرهون د کار او زیار پوروړي دي. زما دغه ګران ځوان او پرکاره لیکوال په ځوانه ځواني د هغوی لونو او زامنو ته تر پنځوسو زیات کتابونه ترجمه کړي او لیکلي دي. د دغه ځوان د هڅو قدر وکئ او په درنه سترګه ورته وګورئ، زه باوري یم، چې د پښتني کهول د کوچنیانو له پاره د کتابونو لویه تشه به د دغه ځوان د قلم او ګوتو په زور ډکه سي!

زما ګرانه!

پر قلم، هڅو او زیار دي برکت، خدای او خندا دي ملګري اوسه!»

ښاغلي خالد هادي د ۲۰۱۵ کال د دسمبر په ۶مه نیټه د مرهون د همدې فعالیتونو په باب داسې ولیکل:
« ښائې دا به په پښتو کې لومړنۍ هڅه وي:

چې یوځوان راولاړیږي او دافغان ماشوم راتلونکي په اړه دونه ستر فکر او خدمت ته ملاتړي

زموږ د تنکي نسلونو لویه ستونزه داده چې ماشوم مو په مورنۍ ژبه د فکري تکامل لپاره د بنسټزو مواد بې برخي پاته وي . ترڅو چې دماشومانو ادبیات ته کار ونسي ترهغو به د یو سالم او با احساسه نوي نسل د رامنځه کیدو ټولي هڅې بی معنا وي.

زه په خپل وار د کابل پوهنتون د استاد پوهنیار محمود مرهون دغه چاره ستایم چې په مورنۍ ژبه ئې په لومړي ځل د ماشوم د ادبیاتو ۴۵ بیلابیل کتابونه لیکلي او راټول کړي دي چې زیات شمیر ئې چاپ سوي هم دي.

اوس نو دا په پلرونو او مېندو پوري تړلې ده چې ماشوم له کتاب سره اشنا ساتل غواړي او که له پلاستکي ټوپک او توپنچو سره؟

په دې هیله چې تر شعرونو او کیسو مو لیکوال د ماشوم د ادبیاتو دغه لویې تشې ته متوجه وواوسي او خپله انرژي په دې لاره کې وکاروي.

مرهون دي خدای ژوندی لري چې داسې نور سترخدمتونه ټولنې ته وړاندې کړي.»

یو چیرې مې د مرهون د دې بیسارو هڅو په باب په یوار په دریو ژبو یو نظر ولوست، تاسو یې سره یې هم شریکوم:

«کتاب! نه تفنګ!
برای اولین بار پس از ۲۳ سال در افغانستان کتاب قصه برای کودکان توسط یك استاد پوهنتون کابل به نام محمود مرهون به چاپ رسید.

این کتاب ها که ترجمه افسانه های مشهور دنیا برای کودکان به زبان پشتو است به زودترین فرصت به تمام ولایات افغانستان توزیع خواهد شد.

شخص خودم ادمین ۲ به چنین افراد افتخار میکنمsmile-humørikon

په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره یوه ځوان پر یوه ځای د کوچنیانو له پاره پنځه څلوېښت کتابونه چاپ کړي دي، دا ځوان محمود مرهون نومیږي د کابل پوهنتون استاد دی، دی وایي چې دا ټول پنځه څلوېښت زره جلده کتابونه به د افغانستان په ټولو ولایتونو کې وویشي.

For the first time in Afghanistan, a young professor has published 45,000 children’s books (45 different stories) in Pashto language. Professor Mahmood Marhoon, who is teaching at the Faculty of Languages and Literature of Kabul University, says the books will be distributed allover Afghanistan very soon.»
«WHادمین ۲

محمود مرهون له ځوان وجود سره ځوان او تاند فکر هم لري، د زدکړو، پوهې او عملي کار ډیرو برخو ته یې لاس اچولی دی؛ او زه یې چې جدیت، هوډ او کار ته ګورم، هیله لرم چې بریالی ورنه راووزي، خو له ځینو عکس العملونو نه یې داسې ښکاري چې کارونه یې دومره نه په عذابوي، بلکې د ده د ځینو قلموالو دوستانو نه همکاري یې ستړی کوي. د همدې تر بحث لاندې کتابونو لیکل، ژباړل، برابرول، چاپول او... هر څه ته ده یوازې اوږه ورکړې ده، خو د تصحیح له پاره د یو ځل لوستلو اوږه چا نه ده ور کړې، نو دی هم حق لري چې یو ځل شکایت ډوله داسې ولیکي:

«زموږ خلګو ته یوازې انتقاد ور رسېدلی دی!

له سهاره مې یولسو کسو ته ویلي دي چې د کوچنیانو د کتابونو په تصحیح کې مرسته را سره و کړئ ټولو یې په یوه او بله بهانه ځان کښلئ دئ او دوئ ټوله هغه کسان دي چې زما د کتابونو له چاپ وروسته تر ټولو ډېر انتفاد دوئ راباندې کړئ دي چې ولې دي په کتابونو کې املایي تیروتنې موجودې وي. د کتاب چاپوني یو اصل دا دی چې خپل کتاب به خپله نه تصحیح کوې ځکه ستا لیکلی متن ستا په مغز کې لیکل سوی دی تې د املایي تیروتنې تصور ځکه نه سې کولای چې تې له خپله مغزه وایې نه له کاغذه، خو عصاب مې ځکه خراب دي چې خبرې مو ډیرې دي عمل مو لږ خاص مخاطب ډېر لرم.»

تر هغه ځایه چې زه مرهون پیژنم دی ډیر مصروف سړی دی. که یې د کارونو لست ته څوک په ځیر سره وګوري، نو حیران پاتې کیږي چې دی څنګه دومره پیل کړو کارونو او پروژو ته رسیدګي کولای شي:

ـ په ادبیاتو پوهنځي کې تدریس کوي،

ـ په ادبیاتو پوهنځي کې د ماسترۍ پروګرام تعقیبوي،

ـ د یوه ژورنالست په توګه عملاً کارکوي (د «سراج الملت» په نامه اخبار مسول چلونکی دی)،

ـ مولف دی، کتابونه تالیفوي،

ـ مترجم دی، ژباړل شوي کتابونه یې چاپ شوي دي،

ـ په پراخې حوصلې سره د «راځئ چې پښتو زده کړو، بیاید پښتو بیاموزیم» د تدریس کار په ژوندۍ ویدیویي بڼه په خپل مخکتاب کې پر مخ بیایي،

ـ د کاینات د نشراتي مرکز مشري کوي،
او...

دا هم د یادولو وړ ده چې ښاغلي مرهون آزادۍ او مشال رادیو سره د مرکې په ترڅ کې ویلي دي چې د دې کتابونو له خپریدو وروسته په نظر کې لري چې د کوچنیانو له پاره شپږ ټوکه دایرت المعارف هم ولیکي او خپاره یې کړي چې اوس یې کار روان دی.

د دې څلویښتو کتابونو په برخه کې یې بیا په تکرار سره وایم چې که غواړئ چې دا کتابونه تر خپلو لوستونکو پورې ورسیږي، یا یې په همدغو پتو یا نورو آدرسونو چې تاسې ته مالومې وي، انلاین کړئ او یا یې د ویش له پاره نور زحمت هم پر ځان وګالئ.

د کوچنیانو او ماشومانو له پاره د محمود مرهون د دغو نوو چاپ شوو او خپاره شوو کتابونو د چاپ او خپریدو په خاطر، زه له خپله آدرسه او د نوي نسل د روزلو د پلویانو له آدرسه، لومړی ده ته مبارکې وایم، بیا مننه ور نه کوم چې ده زموږ د ټولنې د یوه هیر شوي قشر له پاره خپل

مادي او معنوي امکانات وقف کړي دي. هیله مې دا ده چې خپل ټول مثبت کارونونه پسې وغځوي په تیره د کوچنیانو او ماشومانو د کتابونو د تآلیف، ترجمې او ویشلو لړۍ خو دې بیخي نه هیروي.

د الفبا نوی کتاب او د محمود مرهون نوې هڅې

(د نوی نسل د روزلو له پاره ګدايي)

د نــوي نسل د روزلو له پاره هــر پل چې
اوچــتـیـږي، زه یــې داسې انګیرم چې
د نـوي ژوند د کلا پر دیواله یوه
نــوې او زرینه خښته
ایښودل کیږي.

محمود مرهون په اوسنیو متعهدو قلموالو کې هغه څوک دی چې تر ټولو نورو قلموالو یې د ماشومانو او کوچنیانو ادبیاتو ته پاملرنه او عملي کار کړی دی. ما (آصف بهاند) د ده د عملي کارونو او لیکلو کتابونو په باب څو مقالې لیکلې دي او د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزلو په برخه کې مې د ده پر کړو کارونو مفصله رڼا اچولې ده.(د کوچنیانو ادبیات، دویم ټوک، ۹۸ ـ ۱۰۹ مخونه)

ما د مرهون په باب په خپله لومړنۍ مقاله کې داسې لیکلي وو:

«محمود مرهون په دې کم عمر کې د پاملرنې وړ فرهنګي کارونه تر سره کړي دي. له هغې ډلې نه یې څه چې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کړي دي، د ځانګړې پاملرنې وړ دي. د همدې له پاره ما د کوچنیانو ادبیاتو د مقالو په سلسله کې دا مقاله (شپاړسمه برخه) یوازې دې ته ځانګړې کړې ده چې د کوچنیانو د ادب په برخه کې د مرهون کړو کارونو ته یو ځغلند نظر وکړم.

ما محمود مرهون له نږدې نه و لیدلی، یوازې مې د میډیا له لارې پیژانده. کله، کله به یې مقالې په «لر اوبر» ویبپاڼه کې راتلې.

کله مې چې د ۲۰۱۵ کال په اپریل کې کابل ته سفر وکړ، نومې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې ولید. سره ومو پیژندل، ښه روغبړ مو وکړ. ده اجمل ښکلي او د علمي کدر څو تنو نورو نوو او ځوانو غړو چې ما نه پیژندل په دقت سره غوږ نیولی و چې زه به څه وایم . کله چې لږ د استادانو او زده کوونکو ګڼه ګوڼه کمه شوه، مرهون مې ورو خوا ته راغی او را ته و ې ویل:

«استاده ما هم د کوچنیانو له پاره یو څه کار کړی دی، اوس هم لګیا یم کار کوم او...»
څو مجله ډوله... کتابونه یې په لاس کې را ته ونیول او وې ویل:

«دا مې د کار بیلګې دي، دا وړې کیسې مې د کوچنیانو له پاره ژباړلې دي او...»

ما کتابونه په مینه ور نه واخستل، عنوانونه مې له نظره تیر کړل. په رښتیا ډیر خوشاله شوم چې په یوه وار د کوچنیانو له پاره دومره کتابونه، هغه هم د لسو ټوکو په شمیر. نو سمدلاسه مې ورته و ویل:

مبارک دې شه، په ځوانۍ دې برکت شه چې تا دومره کار کړی دی، هغه هم د کوچنیانو له پاره چې د ډیرو هیر، خو ستا په یاد دي. د اوږدې مرکې په پای کې یې بیا را ته و ویل:

«دې ته ورته نور کتابونه مې هم تر کار لاندې دي، که ژوند باقي و، نو بشپړ به یې کړم.»
کله چې د ده خبرې خلاصې شوې، ما ورته وویل چې زه به د کوچنیانو له پاره ستا پر کارونو او په ځانګړي ډول پر دې کتابونو یوڅه لیکم.»

بیا مې په ډیرې حوصلې سره د مرهون د ټولو هغو کارونو په باب ګڼې مقالې ولیکلې چې ده د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې او د نوي نسل د روزلو له پاره کړي وو.

زما د معلوماتو له مخې محمود مرهون تر اوسه پورې د ماشومانو او کوچنیان له پاره شپږ پنځوس (۵۶) کتابونه لیکلي، ژباړلي او خپاره کړي دي. له دې نه ورآخوا د ډیرو نورو کتابونو د لیکلو او ژباړلو تر څنګ، د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې تدریس کوي او د ژورنالیزم او خپرونو په برخه کې هم فعاله دی، په میډیا کې هم د خپل وطن او خلکو پر درد ناري سورې وهي.

اوس مرهون د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزلو له پاره یوه نوې تابیا کړې ده او د خلکو د غوښتنې له مخې یې له نویو او علمي اصولو سره سم د الفبا یو نوي کتاب برابر کړی دی. څومره یې چې خپل وس و، هغه یې کړي دي، د چاپ او ویشلو او د ماشومانو او کوچنیانو تر نازکو ګوتو پورې یې د رسولو په غرض، مرستې ته اړتیا لري. ده خپله غوښتنه دوه ځلې داسې مطرح کړې ده:

«#خیر له پښتنو څخه د پښتو له پاره غواړم
د کوچنیانو د پنځه څلوېښت کیسه ائیزو کتاب له چاپ او وېشلو وروسته ډېرو مشرانو او دوستان د الفبا په اړه د کتابونو له نشتون څخه شکایت کوی، په ډېرو تکلیفو او مشکلاتو مې دغه کتاب و لیکئ له خپل درویشت زره افغانۍ معاش څخه مې دیرلس زره ډیزاینر ته ورکړې چې کتاب یې را ډیزاین کړئ، ولې په دې خیر باقي باید تاسې راسره شریک سئ او مالي مرسته وکړی چې دا کتاب چاپ کړو، هغه پلرونه او مندې چې د اولادونو د ښئې راتلونکې فکر ورسره دئ دا د هغو له پاره یو ښه پیل کېدای سي، کتابفروشیانو ته مې ځکه ورنکړی چې یو کتاب تقریباً په دونیم سوه افغانۍ تمامېدی، نو کتابفروش به حتماً په درې سوه خرڅوی نو بیا هم زموږ بېچاره

خلکو ته نه رسیږي، نو کومه دي نامیان او د افغاني نسل د باسواده کولو شوقیان بنده تر خپله وسه پړ دئ هر څونه چي مو وس وي مرسته وکړئ.

#تاسي که بله مرسته نه سئ کولای شېر یې کړی چي تر نورو خلکو خو و رسیږي.»
او بیا یې یوه ورځ وروسته د پاسني پوست په ادامه، دا متن پوست کړ:
«#د یارانو صدقې لره یې غواړم
هسي نه چي په دنیا پسي زهیر یم
افغان کوچنیانو ته په فقر او مرسته غوښتنه کي چندان شرم نسته، د افغان کوچنیانو له پاره د کوچنیانو د الفبا د کتابونو سخته نیستي ده، دغه تشه مو نږدي ډکه کړي مالي مرستي ته اړتیا لرو دغه کتاب په یو سل او څلور څلوېښت رنګه اې فور مخونو کي چاپو... ستاسي سخت ملاتړ ته اړتیا ده...

#خپل کوچنیان مو روڼ سباوون له پاره په زده کړو سمبال کړئ»

زه یې د دې کار او دې وړاندیز ملاتړ کوم او په دې عقیده یم چي: د نوي نسل د روزلو له پاره هر پل چي اوچتیږي، زه یې داسي انګیرم چي د نوي ژوند د کلا پر دیواله یوه نوې او زرینه خښته ایښودل کیږي.
په دې کار کي د محمود مرهون ملاتړ یو اړین کار دی، هیله ده چي مرسته ورسره وکړي!

دا د محمود مرهون د نوي برابر کړي کتاب څو مخونه دي:

احمد ولي اڅکزی

او

د کوچنیانو ادب

شپاړسمه مقاله

د ماشومانو او کوچنیانو د پالنې او روزنې له پاره او د هغوی د ادبیاتو له پاره هغسې چې ښایي کار نه دی شوی او د هغوی مورنۍ ژبې ته پاملرنه نه ده شوې؛ خو اوس اوس چې کوم کارونه او هڅې د ځینو اشخاصو او غیر دولتي آدرسونو له لوري روانې دي، زموږ د ټولنې ستونزو، د پرمختګ څرنګوالي او شرایطو ته په کتو سره یې زه داسې ارزوم چې په ښه او مثبت لوري روانې دي او له تمې نه لا زیات کارونه د تر سره کیدو په حال کې دي. ښې بیلګې یې د کوچنیانو

د ادبیاتو په څېړنیزه او تخلیقي برخه کې لیدل کیږي، په بیلابیلو ویبپاڼو کې چاپیږي او تر ټولو ښې پټې یې دا دي:

ـ «پل» ویبپاڼه، (http://pal.taand.com)،

ـ د ماشوم د ادبیاتو کور فیسبوک پاڼه،

https://www.facebook.com/-خانه-ادبیات-کودک-د-ماشوم-د-ادبیاتو-کور-1474829949511421/?fref=ts

ـ په دې ورستیو کې د «د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالستانو ټولنه» ټولنې له خوا د ګڼ شمیر لیکوالو او فرهنګیانو په ګډون «د ماشوم د ادبیاتو جشن» تر سر لیک لاندې د یو سیمینار جوړیدل ې بله ښه بیلګه کیدای شي.

ـ دغه راز په ځینو ویبپاڼو کې د نورو خبرې او فرهنګي مطالبو تر څنګ، د ماشومانو او کوچنیانو کړکۍ هم پرانستل شوې چې هلته د کوچنیانو له پاره کتابونه، د کوچنیانو د ادبیاتو او کارونو په باب څېړنیزې مقالې او د کوچنیانو له خوا یا د کوچنیاو له پاره لیکل شوې شعرونه او کیسې انلاین کیږي، لکه د لر او بر ویبپاڼې د «د ماشوم نړۍ» برخه:
http://larawbar.net/category/c_25

د کوچنیانو د ادبیاتو تخلیقي برخې ته که پام وشي، لیدل کیږي چې په دې برخه کې په ډېر لنډ وخت کې ګڼ شمیر نوي قلموال را پیدا شوي دي چې د کوچنیانو له پاره یې شعرونه، داستانونه تخلیق کړي دي او یا یې له نورو ژبو د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یو څه را ژباړلي دي.

د هغو لیکوالو او قلموالو په ډله کې چې له څه مودې نه را په دې خوا یې کوچنیانو او د هغو ادبیاتو ته پام ور اړولی دی، یو هم پیاوړی او نه ستړی کیدونکی فرهنګي شخصیت احمد ولي اڅکزی دی. د احمد ولي اڅکزي نوم، د ده د تر سره کړو فرهنګي کارونو په وجه، هر افغان باید اوریدلی وي او لږ قلموال به وي چې د ده له فرهنګي کارونو څخه یې استفاده نه وې کړې. د قاموسونه دات کام (qamosoona.com) په اوریدو سره د هر افغان په ذهن کې د احمد ولي اڅکزي نوم او تر سره کړي فرهنګي کارونه تداعي کیږي، د هر پښتو لغات پوښتنه که څوک کوي او مانا یې غواړي، نو وایي:

قاموسونه دات کام ته دې سر ور ښکاره کړی که نه؟ او قاموسونه دات کام د احمد ولي اڅکزي د نه ستړو کیدونکو هلو ځلو له برکته نن ورځ د ټولو لوستونکو په خدمت کې دی.

زه دلته نه غواړم چې د احمد ولي اڅکزي پر ټولو تر سره شوو فرهنګي کارونو باندې خبرې او بحث وکړم او یا د ده قاموسونو آنلاین پروژې باندې نقد او څېړنه وکړم، دا ځانته اوږد بحث او څېړنه غواړي. زه په اوسني بحث کې یوازې د احمد ولي اڅکزي پر هغو فعالیتونو رڼا اچوم چې ده د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کړي دي، د همدې له پاره مخکې له هر څه، د ده د پیژندنې په باب:

کله مې چې د دې مقالې عمومي جوړښت په باب فکر وکړ، د احمد ولي اڅکزي د بیوګرافۍ او ځینو نورو اړینو مالوماتو په فکر کې شوم. ما سوچ وکړ که لومړی لاس مواد پیدا کړای شم ښه به وي، نو مې د ۲۰۱۶ کال د اپریل په پنځمه نیټه د احمد ولي اڅکزي په پټه دا لیک ور ولیږه:

ښاغلی احمد ولي اڅکزی سلامونه او درناوی مې ومنه!

ستاسو فرهنګي کارونه نن سبا لکه لمر داسې روښانه دي او د ډیرو افغانانو د لارې د ډیوې په توګه کار ور نه اخیستل کیږي، په تیره ستاسو د قاموسونو له غنیمت او ګټورې پروژې نه.
څو ځلې مې له استاد هوتک سره د خبرو په لړ کې یاد کړې او اوس ځان نیکمرغه ګڼم چې مخامخ یو څه تاسو بزرګوار ته لیکم.

تاسو خبر یاست چې د کوچنیانو ادبیاتو له پاره ما پخوا هم کار کړی دی او اوس هم په دې برخه کې پر تازه چاپیدونکو موادو او لیکوالو باندې کار او څیړه کوم، ستاسو فرهنګي کارونه هر یو په خپل وار سره زما له پاره د قدر وړ دي، خو سمدستي زه غواړم ستاسو د هغو کارونو په باب څه ولیکم چې له نیکه مرغه تاسو د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کړي دي. که مهرباني وکړئ را ته و وایاست چې:

ـ د کوچنیانو له پاره مو څومره تخلیق او ژباړې کړې دي، انګیزه یې څه وه او له کوم وخته مو د کوچنیانو له پاره تخلیق او ژباړه پیل کړې ده؟

ـ د کوچنیانو له پاره ستاسو لیکلي او ژباړلي مواد په کوم آدرس کې چاپ یا آنلاین شوي دي؟

ـ زما د مقالو د غِنا په خاطر که خپله یوه لنډه بیوګرافي هم را ولیږئ، زما لیکنه او یادداشتونه به د لوستونکو له پاره لا جالب او غنیمت وي.

ستاسو د لا بریالیتوب په هیله
پوهندوی آصف بهاند

ښاغلي احمد ولي اڅکزي په هماغې ورځې زما د لیک په ځواب کې داسې را ته ولیکل:

«محترم او قدرمن ښاغلي بهاند صاحبه! وعلیکم سلام، تاسو او ستاسو درنې کورنۍ او دوستانو ته سلامونه او نیکي هیلې وړاندې کوم. ستاسو له مهربانیو او پېرزوینو ډک پیغام څخه یوه نړۍ مننه. صرف دا به و وایم چې الله دې ما په رشتیا هغسې جوړ کړي، لکه څنګه چې تاسو زما په هکله فکر کوئ.

زه په آلمان کې ژوند کوم او الله په درو ماشومانو نازولی یم چې عمرونه یې شپږ، څلور او یونیم کالونه دي. دا چې په مجموع کې د ماشومانو سره زښته زیاته مینه لرم، نو مې هیله دا ده چې د ماشومانو له پاره په پښتو کې لیکل سوي ادبیات پر انټرنټ وړاندې کړل سي. داسې چې هر مور او پلار یې په آسانۍ سره په خپل موبایل تلیفون او انټرنټ لرونکو نورو آلو کې خپلو ماشومانو ته و ویلای سي، چې دغه ماشومان له کوچنیوالي څخه لا د پښتو سره اړیکه او تماس پیدا کړي. زما په فکر د یوې ژبې د ژوندي پاته کېدو له پاره دا ډېره مهمه ده چې یوه ژبه و خپلو ویونکو ته ګټوره وي. تر دې بله لویه ګټه به څه وي چې یوه ژبه نانې زړګیان د ښکلو اشعارو او کیسو په مرسته وروزي، هم یې ساعت ورتېر کړي او هم ورته ښوونه وکړي.

د مسافرۍ ستړی ژوند دی، چې څوک د خپل اولاد له پاره هومره وخت نه سي موندلای، لکه چې اړتیا یې وي، خو زه بیا هم کوښښ کوم چې هره شپه خپلو ماشومانو ته یو نکل وکړم. ما کوښښ وکړ چې د ماشومانو له پاره په پښتو انځورین کتابونه پیدا کړم، خو له بده مرغه چې بریالی نه سوم. حتی ساده متنونه مې هم پیدا نه کړلای سوای. حال دا چې په کتابخانه کې په آلماني ژبه په زرهاوو، یو تر بل ښکلي او ګټور کتابونه موندل کیدلای سي.

همدا ؤ چې اراده مې وکړه چې زه یوه انټرنټ پاڼه جوړه کړم چې هم په ږغ کې او هم په انځور او متن کې، پکښې د بېل عمر لرونکو ماشومانو له پاره په پښتو ژبه مواد پراته وي. د دې کار پېل مې تقریبا یو دوې درې میاشتې تر مخه وکړ او د کوچنۍ ټکۍ کام په نوم مې انټرنټ پاڼه جوړه کړه:

(www.kochnai.com)

خو دا چې زه ورته یوازې یم او یو شمېر نورې وظیفې هم په غاړه لرم، نو لا تر اوسه نه یم توانېدلی چې د پاڼې جوړښت د ماشومانو د عمر پر کاټیګوریانو تنظیم او پکښې ږغیز او انځورین مواد زیات کړم.

زه... د پښتو ادبیاتو په ساحه کې ډېر بې تجربې یم، خو د پاڼې په جوړولو سره مې هیله دا ده چې دغه به د نورو لیکوالانو له پاره یو ډول پلېټ فارم وګرځي.

زه په آلمان کې رالوی سوی یم او یو صنف پښتو مې هم نه ده لوستې، او په خپله مې تر یوې اندازې د پښتو لیک او لوست زده کړی دی. له بده مرغه چې زه له افغانستان سره هم زیاتې اړیکې نه لرم او له همدې کبله ستاسو او نورو ټولو درنو مشرانو څخه هیله او خواست کوم، چې د ماشومانو له پاره د موادو په راټولولو، د آنلاین کولو له پاره د لیکوالانو د اجازه تر لاسه کولو او ورته مواردو کې راسره کومک وکړئ او راته مشورې راکړئ.

ما او زما یو بل ملګری چې محمد نسیم صابر نومیږي، یو څه وخت تر مخه د ګریم ورونو په ژباړه پېل وکړ، خو له بده مرغه چې کار مو ډېر ځنډنی دی او پکښې تر اوسه مو زیات پرمختګ نه دی کړی. ما په خپله یو څو نکلونه لیکلي چې بعضې یې آنلاین سوي، خو بعضې یې لا د آنلاین کېدو به انتظار دي. د ماشومانو له پاره دغه نکلونه او یو څو نظمونه تر اوسه چاپ سوي نه دي.

وبخښئ چې پیغام زښت راڅخه اوږد سو او ښه به وي چې نور یې دلته رالنډ کړم.

ستاسو له مهربان پیغام څخه بیا یوه نړۍ مننه کوم او هیله ده چې د کوچني تکی کام په غني کولو کې راته خپلې مشورې او نکلونه راولېږئ.

ستاسو کشر ورور
احمدولي»

ما یې بیرته په ځوا کې داسې ور ته ولیکل:

دا چې دومره په بیړه مو زما د لیک ځواب ولیکه، ډیره مننه کوم.

زه فکر کوم چې موږ په یوه کښتۍ کې سپاره یو، کولای شو یو بل ښه درک کړو او یو بل سره ښه مرسته وکړو. د دې له پاره چې زموږ وطنوال ستاسو د فرهنګي هڅو پر دې مهم اړخ هم خبر شي او کوچنیانو ته د لا ښې پاملرنې په موخه به زه سمدلاسه ستاسو پر هغو موادو یوه معلوماتي مقاله ولیکم چې تاسو تر اوسه خپاره کړي دي او ما له بیلابیلو آدرسونو تر لاسه کړې دي.

او راغلو ستاسو نوې جوړې کړې ویبپاڼې کوچنی ټکی کام (kochnai.com) ته، له نوې ویبپاڼې سره مو نه یوازې دا چې موافق یم او تایدوم یې، بلکې کولای شم تاسو سره خپلې تجربې او مشورې شریکې کړم. د اوس له پاره همدومره، تر بیا.

د همدې مقالې په لومړۍ برخه کې مې د ښاغلي احمد ولي اڅکزي د قاموسونه دات کام انګلیسي لیکښه له ویکیپیدیا نه په نا سمه توګه را اخیستې وه، په ښښې سره سمه ښه یې داسې ده:
(qamosona.com)
ما د خپل لیک په یوه برخه کې له ده څخه د ده د بیوګرافۍ غوښتنه کړې وه، هغه په ځواب کې را ته ولیکل:

«تاسو راځخه د ژوند لیک پوښتنه کړې وه. نو د هغه له پاره به د ویکیپیډیا هغه لینک درولیږم چې زما یو ملګري پکښې زما په تړاو لږ معلومات لیکلي دي.»

په ویکي پیدیا کې د احمد ولي اڅکزي بیوګرافي ایښودل شوې ده، خو د ویکیپیدیا په سبک، کوم ټکي یې چې زه مهم ګڼم، هغه را اخلم:«

ـ **احمدولي اڅکزی** (۱۰ د اکتوبر، ۱۹۸۱ -) *(په انګریزي: Ahmad Wali Achakzai)* د قاموسونه ټکی کام یا (qamosona.com) د پروژې بنسټګر، د یو شمېر سیندونو لیکونکی، د راډیو یو اماتور ژورنالسټ او څېړونکی هم دی.

ـ احمدولي اڅکزی په توبه اڅکزی کې زېږېدلی دی. دی پښتون دی او د اڅکزو د ترهټ زو د معدادزیو په کورنۍ پورې تړاو لري چې د ډیورنډ کرښې پر دواړو اړخونو ودان دي. احمدولي اڅکزی د حاجي شاولي خان اڅکزي زوی د پښتو او پارسي ژبو د شاعر مرزا محمد ایوب خان لمسی او دغازي مېداد خان اڅکزي کړوسی دی.

ـ احمدولي اڅکزي تر لسو کالو څخه زیات وخت دیني زده کړې کړي دي او د دې تر څنګ یې د لسم ټولګي پورې د سویلي پښتونخوا په ښار کوټه کې ښوونځی لوستی دی. د ده پلار، دی د لوړو زدکړو لپاره المان ته ولېږه، چیرې چې ده د باکلوریا د بري لیک ترلاسه کولو وروسته د انجینرۍ په پوهنځي کې لوړې زده کړې پېل کړې. اڅکزی د ۲۰۰۲ م کال راهیسې د المان غږ دویچه وېله راډیو په پښتو څانګه کې د ژورنالست په توګه کار کوي. د دې تر څنګ نوموړي د دویچه وېله راډیو د آلماني او د سویلي آسیا د انګریزي او اوردو ژبو د ځانګړو څانګو او د آلمانۍ راډیو(WDR) سره هم همکاري کړېده. اڅکزی د خپلې مورنۍ ژبې پښتو تر څنګ په انګریزي، آلماني، اردو، روسي او پارسي هم خبري کولی شي. دی تر یوې کچې په هسپانیاوي، سانسکرېټ او پنجابي ژبو هم پوهیږي.

ـ احمدولي اڅکزی چې د ۲۰۰۱ م زېږدي کال راهیسې د پښتو ژبې د پانګې په راټولولو بوخت دی او ورباندې څېړنه کوي، په ۲۰۰۳ م زېږدي کال یې د قاموسونه ټکی کام انټرنټي پروژې بنسټ کېښود. په دغه انټرنټ پاڼه کې تر اوسه پورې څه ورباندې پنځوس پښتو قاموسونه ځای پر ځای شوي دي چې پکې د پښتو مشهوره قاموسونه لکه پښتو تشریحي قاموس، دریاب او افغان قاموس هم شامله دي. ده په قاموسونه ټکی کام کې څه ورباندې یو لک او اتیا زره مصرعې، پښتو شعرونه هم راټول کړي دي چې لا ورباندې کار روان دی. پداسې حال کې چې قاموسونه ټکی کام د پښتو ویونو او سیندونو یوه بېسارې پانګه ده، نو دغې پاڼې او د پاڼې بنسټګر په ګڼ شمېر پښتنو ځوانانو کې ډېر مینه وال پیدا کړي دي. اڅکزي سره په څنګ کې یو شمېر نورو افغان ځوانان چې په اروپا او د نړۍ په نورور لویو وچو کې مېشت دي هم خپلې هلې ځلې کړي دي او د قاموسونه پروژې په بډاینه کې د هغوی رول د یادولو وړ دی. د وېبپاڼې په تخنیکي اړخ کې د مصطفی سادات چې د ریښتوني افغان وېب پاڼه چلوونکی پاتې شوی په نیوزیلېنډ کې اوسېږي هم د یادولو وړ دی. اڅکزي په ۲۰۱۰ م زېږدي کال د آزادۍ راډیو سره په یوه مرکه کې وویل چې ده د پښتو ژبې په لسګونو زره داسې ویونه راټول کړي دي چې تر اوسه پورې په هیڅ پښتو قاموس کې نه وو، خو پښتانه یې په خپلو لیکونو او خبرو کې کاروي...»

د احمد ولي اڅکزي د ژوند لیک او فرهنګي کارونو په باب زما له دې لیکنې نه مخکې هم لیکنې شوې دي، یوه یې همدا د ویکیپیدیا مالومات و چې ما یې مهم ټکي را نقل کړل او بل د ښاغلي نظرمحمد سلطانزی ځدرانِ لیکنه ده چې د احمد ولي اڅکزي په باب یې کړې ده. ځدرانِ صاحب خپلې لیکنې ته داسې سر لیک ټاکلی دی:

«د قاموسونو بنسټګر احمد ولي اڅکزي په ویاړ».

د ښاغلي نظرمحمد سلطانزی ځد رانِ د لیکنې ځینې ټکي دا دي:

«... د دې کتاب لیکوال مې څه موده د مخه، د عبدالباري جهاني په ملاقات کې وپیژاند. دلته خو خبرې د احمد ولي اڅکزي په هکله رواني دي. د ملاقات په ترڅ کې راته ثبوت شوه چې دغه تنکی ځوان ډیرصادق، مینه ناک، منونکی، متواضع، ادبناک او خواریکښ کرکټرلري. الله تعالی داسې نېک صفتونه ور په برخه کړي دي چې د مشرانو احترام کوي، حتی ځان ورڅخه قربان کوي او په کشرانو باندې مهرباني کوي.

برسیره پردې هغه د پښتو ژبې یو بې ساری خدمتګار او تکړه فرهنګي شخصیت دی. دا ځکه چې په خپله احمد ولي اڅکزی نه یوازې دا چې د ساینس په څانګه کې یې لوړ تحصیلات بشپړکړیدي، بلکې هغه د قاموسونه ټکی کام یا (www.qamosona.com) د پروژې بنسټګر، نوښتګر، د یو شمېر سیندونو لیکونکی، د راډیو یو اماتور ژورنالسټ او څېړونکی هم دی. همدا اوس یې د قاموسونو ټکی کام انټرنټي پاڼې پنځوس پښتو قاموسونه آنلاین کړي دي. زما په اند احمد ولي اڅکزي د پښتو ژبې د علمي کولو او پرمختګ په لاره کې د هیواد یو بې ساری ځلانده ستوری دی.

هغه د خپلې مورنۍ ژبې پښتو تر څنګ، په انګریزي، آلماني، اردو، روسي او پارسي هم خبرې کولی شي. دی تر یوې کچې په هسپانوي، سانسکریټ او پنجابي ژبو هم پوهیږي...»

په دې نږدې ورځو (د ۲۰۱۹ کال د فبرورۍ د پیل ورځې) کې، ما (آصف بهاند) له احمد ولي اڅکزي نه هیله وکړه چې په ډنمارک کې، د مورنۍ ژبې د ورځې لمانځلو په پار جوړېدونکي سیمینار ته د یوې مقالې په چوکاټ کې یو څه ولیکي. ده هم په ډېره مینه ومنله او د «قاموسونه ټکی کام او کوچنی ټکی کام» تر سرلیک لاندې یې یوه غنیمت مقاله ولیکله چې زه یې دلته د ده او د ده د فرهنګي کارونو د لا ښې پېژندنې په پار کټ مټ را اخلم:«

قاموسونه ټکی کام
او
کوچنی ټکی کام

(د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په ویاړ په ډنمارک د جوړ شوي سیمینار له پاره)

درنو مشرانو، دوستانو، آغلو او ښاغلو!
تاسو ټولو ته خپل د مینې او احترام ډک سلامونه وړاندې کوم.

ښاغلي او عالیقدر استاد محمد آصف بهاند صاحب او د دغه سمینار له نورو ټولو درنو منتظمینو څخه مننه کوم چې ماته یې دعوت راکړ چې تاسو قدرمنو دوستانو ته د خپلو دوو پروژو یعنې قاموسونه ټکی کام او کوچنی ټکی کام په تړاو لنډ معلومات درکړم.

زه دمګړی په آلمان کې ژوند کوم چیرې چې زه د یو آزاد خبریال په توګه د بیلو رسنیو سره همکاري لرم او تر څنګ یې د مهندسۍ یا ارکیټېکچر یو دفتر هم لرم. ما خپلې لوړې زدکړې په هم دغه رشته یعنې آرکیټېکچر کې په آلمان کې بشپړه کړې دي.

کله چې زه آلمان ته راغلم نو لا یو ژنګی وم او دلته مې د درو میاشتو له پاره د آلماني ژبې یو کورس ولوست او د هغه وروسته مې په نهم ټولګي کې خپلې زدکړې پیل کړې. ما زښت زیات زیار ایستی او په نژدې ټولو مضامینو کې مې تر نورو ټولو ټولګیوالو ښه نمرې اخیستې خو د

آلماني ژبي بشپړه زدکړه راته یوه لویه ننګونه وه. په زیاته مي د پښتو او آلماني د یو قاموس اړتیا ډېره زیاته احساسوله. خو هر څومره چي مي تلاښ وکړ، بیا هم ونه توانېدم چي د پښتو آلماني یا آلماني پښتو کوم قاموس پیدا کړم. زما د هغه وخت اړتیا او د کمښت احساس د دې لامل سو چي د قاموسونو سره زما یوه د حسرت او ارمان اړیکه پیدا سي.

۱ ـ قاموسونه ټکی کام:

د افغانستان له پاره په جوړ سوي یو سمینار کي د یو ختیځ پوه سره معرفي سوم. د مجلس په جریان کي مي له هغه څخه د یو بې تجربې ځوان په توګه وپوښتل چي په آلمان کي نژدې د افغانستان د ټولو ګاونډیو ژبو تدریس کیږي، خو د پښتو د زدکړې نه کوم خاص امکانات سته او نه هم کوم ځانګړی انستیتیوت، دا ولي؟ هغه چي کوم جواب ماته راکړ ښایي مطلب یې ماته پیغور راکول نه ؤ، خو ما د هغه دغه جواب د یو پیغور په شان احساس کړ. دغه آلماني ختیځ پوه چي په افغانستان او ګاونډي هیوادونو کي یې وخت هم تېر کړی ؤ راته وویل چي پښتو خو اړین معیاري کتابونه او مواد نه لري چي پر اساس یې کوم انستیتیوت یا ورته تدریسي یا څېړنیزه اداره جوړه سي. د هغه په وینا پښتو حتی یو داسي قاموس لا نه لري چي پر معیار پوره وي... د دغه آلماني ختیځ پوه دغه خبره د دې لامل سوه چي د قاموسونو سره پیدا سوې زما د حسرت او ارمان مخکنۍ اړیکه لا ژوره سي.

دا هغه وخت ؤ چي انټرنټ تازه د عامېدو په حال کي ؤ او حتی بعضي لومړۍ پښتو انټرنټپاڼي هم جوړي سوي وې. ما هم اراده وکړه چي داسي یوه انټرنټ پاڼه جوړه کړم چي پکښي یو پښتو انګریزي قاموس پروت وي او چي هر څوک ورڅخه کار واخیستلای سي. که څه چي زه د کمپیوتر سره تر یوې اندازې بلد وم خو د انټرنټ پاڼې جوړولو هیڅ تجربه او اړینه پوهه مي نه درلوده. د انټرنټ په برکت په نیوزیلاند کي د یو بل ځوان افغان سره اشنا سوم چي هغه د انټرنټ پاڼو په جوړولو کي تجربه لرله. سید مصطفی سادات چي هغه وخت یې د real afghan یا ریښتوني افغان په نوم وېبپاڼه چلوله راسره کومک وکړ چي د قاموسونه ټکی کام په نوم یوه پاڼه جوړه کړم. د یاسیني په نوم یو بل ځوان راته د علومو د اکاډمۍ د انګریزي پښتو قاموس یو ورډ فایل راکړ چي لغتونه او معناوي یې ما او مصطفی جان لغت په لغت د قاموسونه ټکی پاڼي ته وراضافه کړې. هغه ورځ راته له خوشالیو ډکه ورځ وه کله چي یاد قاموس په بشپړه توګه آنلاین سو او هر چا کولای سوای چي په وړیا توګه پر قاموسونه ټکی کام ورڅخه کار واخلي. زما په خیال چي دغه ۲۰۰۰ مېلادي کال ؤ چي پر قاموسونه ټکی کام لومړی بشپړ قاموس آنلاین سو. په یاد قاموس کي نژدې ۲۳ زره انګریزي لغتونه په پښتو ژباړل سوي ول.

د قاموسونه ټکی کام د آنلاین قاموس ګټه دا وه چي په پرتلیزه توګه تر چاپ سوي قاموس پکښي په لږ وخت کي د لغتونو معناوي لټول کیدلای او د نورو معناو سره پرتله کیدلای سوای. ښایي همدا وجه وه چي د دغې پاڼې کاروونکي ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو سول. ما په تیرو ۱۸ کالو کي نژدې هره ورځ څو څو ساعته وخت وقف کړ چي دغه پاڼه او قاموسونه یې لا غني کړلای سم. زیات وختونه داسي راغلي چي په یوه شپه مي لومړی تر ناوخته پر کوم قاموس کار کړی او د هغه وروسته مي د هغه امتحان له پاره چمتو والی نیول پېل کړي چي په دا سبا به راته په مخ کي ؤ. اخترونه، مېلې، د ملګرو بنډارونه او مجلسونه او په همدې شان حتی سپورټ او ورزش مي د دغې پروژې له پاره هیر کړي او په کالونو کالونو پرې ایښي ول.

د تخنیکي ستونزو، تخنیکي ناپوهۍ، اړینو امکاناتو د نه شتون، د هیکري بریدونو، ویروسونو او ورته ستونزو له کبله څو ځله نه یوازي د قاموسونه ټکی کام وېبپاڼه راڅخه ورانه سوې، بلکه څو ځله راڅخه زیات قاموسونه او په زیات زحمت چمتو سوي د لغتونو لیستونه راڅخه ورک سوي او د کالونو کالونو خوارۍ مي عبس سوي دي.

د اتلس کالو کار او زحمت وروسته اوس په قاموسونه ټکی کام کي په ټولیزه توګه ۴۲ داسي قاموسونه آنلاین دي چي یوه ژبه یي پښتو او دویمه یي انګریزي، آلماني، ایټالوي، فرانسوي، هسپانوي، ترکي، ناروېژي، روسي، لاتیني، اندونیزیایي، هالندي، چینایي، سانسکریت، یوناني او یا داسي نوري دي. پر دغه پاڼه دمګړی نژدې یو اعشاریه یو ملیون یا یولس لکه لغتونه د هغوی د زیات شمېر معناؤ سره آنلاین دي. په دغو آنلاین قاموسونو کي د مشهورو پښتو چاپي قاموسونو لکه پښتو تشریحي قاموس، دریاب او نورو تر څنګ یو شمېر داسي قاموسونه هم سته چي ما پخپله د دغې پروژې په ترڅ کي لیکلي دي او یا مي د نورو لیکوالانو یا ادارو سره په همکارۍ جوړ کړي دي. البته ما هیڅکله له قاموسونه ټکی کام څخه تجارتي ګټه نه ده اخیستي، نه مي له کوم شخص او نه هم کومي دولتي یا غېر دولتي ادارې څخه ورته پیسې غوښتي یا ترلاسه کړي دي.

ما په تیرو اتلسو کالونو کي د پښتو زیات شمېر داسي لغتونه راټول کړي چي تر اوسه په هیڅ کوم قاموس کي نه دي راغلي. که زه وتوانېدم چي له یادو لغتونو او مخکني په قاموسونو کي موجودو لغتونو څخه جوړ سوی یو قاموس بشپړ کړم، نو دا به انشاالله د پښتو تر ټولو لوی قاموس وي. ما پر دغه قاموس د تیرو زیاتو کالونو راهیسي کار پېل کړی او ښایي زیات کالونه لا راڅخه کار وغواړي. د دې تر څنګ تر ۲۰ زیات نور قاموسونه چي یوه ژبه یي پښتو او دویمه ژبه یي نوري بهرنۍ ژبي دي، لومړۍ بڼې یي بشپړه سوي او د اصلاح کېدنې او وروسته آنلاین کېدنې په انتظار دي.

تکړه ځوان پروګرامر اجمل حمزه د قاموسونه ټکی کام وېبپاڼي له پاره د اندروید او اېپل موبایل اېپس یا پروګرامونه هم جوړ کړي ول چي له بده مرغه اوس د تخنیکي ستونزو له کبله وران سوي دي. اجمل جان هم زیات مصروف دی چي دغه سیستمونه بېرته فعال کړي. خو زه د دغو اېپس د نوو بڼو جوړولو له پاره په هلو ځلو اخته یم.

که ووایم چي قاموسونه ټکی کام په پښتو وېبپاڼو کي له زیاتو کارېدونکو وېبپاڼو څخه یوه ده، نو انشاالله ناسمه ادعا به نه وي. په تیرو اتلسو کالونو کي په لسهاؤ ملیونه واري په قاموسونه ټکی کام کي د لغتونو معناوي لټول سوي او اوس هم هره ورځ په لسهاؤ زره انسانان دغې پاڼي ته مراجعه کوي. خو له بده مرغه چي په ژوند کي د مسؤلیتونو د زیاتېدو او زما د تخنیکي امکاناتو او پوهې د لا محدودېدو له کبله کارونه هغسي په چټکۍ پر مخ نه دي روان، لکه چي زما یې ارمان دی.

۲ ـ کوچنی ټکی کام:

ستاسو په اجازه به زه درته په لنډه توګه د خپلي یوې بلې پروژې په تړاو هم معلومات درکړم کومه چي ما د پښتنو ماشومانو له پاره جوړه کړې ده. د دغې پاڼي نوم کوچنی ټکی کام دی چي ما تقریبا د ۲۰۱۶ کال په پسرلي کي پېل کړه. دا ځکه چي له هیواد څخه د لیري ژوند کوونکي یو مسافر په توګه ماته ډېره مشکله وه چي د خپلو ماشومانو له پاره په پښتو ژبه د هغوی د عمر سره برابر کتابونه پیدا کړم. نو ما فکر وکړ چي کومه ستونزه چي زه لرم، نو خامخا به یي نور خلک هم لري. همدا ؤ چي ما د کوچنی ټکی کام په نوم پاڼه پېل کړه چي پکښي د ماشومانو له پاره خپل نکلونه، شعرونه او په همدې شان د نورو کسانو له خوا لیکل سوي نکلونه خپرول پېل کړل.
دغه پاڼه اوس نژدې یو اعشاریه درې ملیون ځله لوستل سوې او هره ورځ ورته اوسطا ۲۵۰۰ کسان راځي او نکلونه پکښي لولي، اوري یا پکښي ویډیویي نکلونه ګوري.
دمګړی په دغه پاڼه کي تر ۳۰۰ زیات نکلونه په لیکلي، ږغیزه یا ویدیویي بڼه آنلاین دي. البته د نکلونو ورزیاتولو دغه پروسه لا نه ده بشپړه سوې او د وخت په تېرېدو به د دغو نکلونو شمېر نور هم زیات سي.

ټول مطالب چې ما په دغه پاڼه کې د ماشومانو له پاره انتخاب کړي او راټول کړي دي، هغوی داسې مطالب یا نکلونه دي چې ماشومان ورڅخه د خپلې مورنۍ ژبې د زدکولو تر څنګ د ژوند له پاره نور ګټور پندونه او درسونه هم زده کولای سي.

د کوچنۍ ټکی کام د پاڼې جوړښت داسې سوی دی چې ټول نکلونه یې ځانګړي ټپګونه لري او په دې توګه پر کاټیګوریانو وېشل سوي دي. د دغو ټپګونو په مرسته څوک د مثال په توګه د ځانګړو لیکوالانو نکلونه بېلولای سي، یا د ځانګړي عمر لرونکو ماشومانو له پاره غوره نکلونه بېلولای سي او یا هم د متن د اوږدوالي له مخې د نکلونو ځانګړی لیست جوړولای او لوستلای سي.

د دغې پاڼې ډیزاین داسې جوړ سوی چې پخپله ماشومان یې په آساني سره پر موبایل یا کمپیوتر بېله دې چې لیک او لوست یې زده وي، پرانستلای سي. دا چې د دغې پاڼې زیات نکلونه ږغیزه یا ویډیویي بڼه هم لري، نو واړه ماشومان هم ورڅخه ګټه پورته کولای سي.

زه په دې خوشال یم چې هره ورځ په لسهاؤ زره کسان د قاموسونه ټکی کام له وېبپاڼې څخه کار اخلي او اوسطا ۲۵۰۰ ځله له کوچنۍ ټکی کام څخه و خوږ ماشومانو ته په پښتو ژبه نکلونه لوستل کیږي.

د یادو دواړو پروژو له بریالیتوب څخه موږ تاسو ته دا ثابتیږي چې که حتی زما په شان په اړونده ډګرونو کې یو غیر مسلکي کس **د کار ټینګه اراده وکړي نو د خپلې مورنۍ ژبې له پاره په یو ډګر نه په یو ډګر کې خامخا یوه ښېګڼه رامنځ ته کولای سي.**

یادې دواړې پروژې موږ تاسو ته دا ثابتوي چې بېله دولتي او غیر دولتي مرستو او بودیجې هم عملي کار کول ممکن دي.

خدای دې موږ تاسو ټولو ته وس راکړي چې په لومړي سر کې خپلو بچیانو ته د خپلې مورنۍ ژبې د زدکړې امکانات برابر کړو، ورته د ماشومانو له پاره د پښتو ژبې ادبیات ور وپېژنو، د پښتو د لیک او لوست ښوونه ورته وکړو او تر څنګ یې د نورو ټولو ژبو او ولسونو د احترام ډیوه هم په سینه کې ور بله کړو.

په دویم قدم کې باید د زیاتو خبرو پر ځای و عملي کار کولو ته ترجیح او زیاته توجه ورکړو.

ستاسو له حوصلې څخه یوه نړۍ مننه
تل آباد او خوشال اوسئ!

احمدولي اڅکزی،
د ۲۰۱۹ کال د فبروری نهمه نېټه،
بون»

احمد ولي اڅکزي د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې دغه کارونه تر سره کړي دي:

۱ـ خپل تخلیقات یې:

الف: کیسې (نثر)،

ب : شعرونه،

۲ـ ژباړې،

۳ـ د ماشومانو له پاره ویبسایت (kochnai.com):

د کوچنیانو له پاره د احمد ولي اڅکزي لیکنې مې د لومړي ځل له پاره د لر او بر په ویبپاڼه کې تر سترګو شوې. څو منظومې او منثورې لیکنې مې یې چې له نظره تیرې کړې، نو و مې پتیله چې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د یو مطرح لیکوال او شاعر په توګه څه ور باندې ولیکم، نو مې د ده لیکنې او شعرونه او د ده په باب د مالوماتو په را ټولولو پیل وکړ.

احمد ولي اڅکزي لکه څنګه چې د قاموسونو په برخه کې په شعوري ډول د یوې عیني اړتیا له مخې د قاموسونو پروژه پیل کړې ده، دغسې یې په شعوري ډول د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې دې نیمګړتیا ته پام شوی او د دې نیمګړتیا د پوره کولو په غرض یې لومړی د کوچنیانو له پاره د شعر او نثر په ژبه تخلیقات کړي دي. دا یې د نظم او نثر یوه یوه بیلګه ده:

سهار سو

(د ماشومانو شعر)

سترګې کړه خلاصې شپه سوه تېره
د لمر وړانګې سوې چار چاپېره
د تیارې لیرې سوې څادرې
عندلیب نه وایي سندرې
واوره ګُوګُو کوي کوترې
د سایرې واوره بدلې
پاڅه او حمد و ثنا وایه
وایه چې شکر دی اې خدایه
چې هم بالښت هم بستره وه
شپه ښه آرامه آسوده وه
اوس یوه بله ورځ پېلیږي
ټول ماشومان نور راویښیږي
مخونه پرېولې ښه تازه سي
بیا د مکتب پر لور پیاده سي
هلته دوستان دي همصنفیان دي
ټوله د علم پټنګان دي
څوک چې وختي پاڅي سهار کي
وي بریالی په خپل هر کار کي
چګې کړه خلاصې شپه سوه تېره

د لمر رڼا سوه چار چاپېره

د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ ۴مه نېټه، بون

وی وی وی نانۍ نجلۍ

(د ماشومانونکل)

چي وه یوه نانۍ انجلۍ وه. دغه نانۍ انجلۍ پر خپل مور او پلار بیخي ډېره ګرانه وه. پلار به یې همیشه ورته ویل: « آ زما خوږکۍ لوري، راسه خپل بابا ته راسه.» مور به یې ورته ویل: « آ زما پستکۍ لوري، راسه خپلې مور ته راسه.» پر نانۍ انجلۍ هم خپل مور او پلار بیخي ډېر ګران ول. هغې به همیشه واوا چمونه کول او مور او پلار به همېشه ورڅخه خوشحاله ول. خو د دغې نانۍ انجلۍ خواږه شیان ډېر خوښ ول. مور به یې ویل: « آ زما خوږکۍ لوري، ډېر خواږه شیان مه خوره، غاښونه به دي خراب سي.» خو نانۍ انجلۍ به همیشه د پلار څخه خواږه شیان غوښتل او هغه به یې بالاخره مجبوره کړ چي خواږه شیان ور رانیسي.

یوه ورځ دغه نانۍ انجلۍ ناجوړه سوه. د هغې زړه نه غوښتی چي لوبي (بازۍ) وکړي. د هغې زړه نه غوښتی چي د کلکین څخه دباندي د آسمان ښایستو وریځو ته وګوري. د هغې زړه نه غوښتی چي چاکلېټ وخوري. د نانۍ انجلۍ پر غاښ درد ؤ.

پلار یې نانۍ انجلۍ ډاکټر ته بوتله. ډاکټر د نانۍ انجلۍ څخه پوښتنه وکړه: « اې نانۍ انجلۍ، نن دي څه شي خوړلي دي؟» نانۍ انجلۍ ورته وویل: « چاکلېټ» ډاکټر ورته وویل: «نن دي بل څه شي خوړلي دي؟» نانۍ انجلۍ ورته ویل: « پلمېټ» ډاکټر حیران سو، وویل: « پرون دي څه شي خوړلي ول؟» نانۍ انجلۍ ورته وویل: « چاکلېټ او پلمېټ»

بیا ډاکټر ویل: « اې نانۍ انجلۍ، خوله دي خلاصه کړه چي زه یې وګورم.» نانۍ انجلۍ خوله خلاصه کړه. ډاکټر چي د نانۍ انجلۍ خولې او غاښو ته د څراغ رڼا برابره کړه، نو یې وویل: «وی وی وی!» اوس د ډاکټر خوله هم خلاصه سوه او سترګي یې پورته او کښته کش سوې. ډاکټر د نانۍ انجلۍ پلار ته مخ واړاوه، ویل: «وی وی وی!»

ډاکټر وویل: « اې نانۍ انجلۍ، تا ډېر چاکلېټ او خواږه شیان خوړلي دي. ستا غاښونو چینجیان کړي دي. تک تور سوي دي. تا خپله خوله او غاښونه نه دي پاک کړي. تا سابه او مېوې نه دي خوړلي. تا تر اندازې زیات خواږه شیان خوړلي دي. ته باید همیشه سهار او ماښام خوله په اوبو پاکه پرېولې. ته باید په غاښو کلک شیان مات نه کړې.» بیا ډاکټر ولاړ سو او د الماری څخه یې د غاښو یو نانۍ او ډېر ښایسته برس او د نانیانو لپاره د غاښو کریم او یو نانۍ پوست مسواک راواخیستل. ډاکټر نانۍ انجلۍ ته وویل: « د غاښو دغه برس، کریم او مسواک واخله او هر سهار او ماښام خوله په مینځه. انشالله بیا به ژر نه ناجوړه کېږې.»

بیا ډاکټر ولاړ سو او یوه لویه پېچکارۍ یې راواخیسته. د انجلۍ پلار ویل: « اې سپینه چینه لرونکي ډاکټره، ایا غواړې چي زما پستکۍ لور ته داسي غټه پېچکارۍ ور ولګوې.» ډاکټر ویل: « اې د نانۍ انجلۍ پلاره، نانۍ انجلۍ ته تا ډېر چاکلېټ ورکړي دي او باید چي اوس تاته دغه غټه پېچکارۍ در ولګول سي.» د نانۍ انجلۍ پلار وویل: «وی وی وی!»

د لیکنې په پای کی د دغه نکل اوډیو هم اورېدلای سئ!

احمد ولي اڅکزي د نثر او شعر په قالب کې د کوچنیانو له پاره ډیر څه لیکلي او پر لیکه کړي دي چې د ځینو سر لیکونه یې دا دي:

ـ ننداره ده ننداره (شعر)

ـ اې سپینې واورې (شعر)

ـ د ملالۍ نانۍ خور (شعر)

ـ سهار سو (شعر)

ـ ترپ و تروپ دی (شعر)

ـ میاؤ میاؤ پستکۍ (د ماشومانو نکل)

ـ وۍ وۍ وۍ نانۍ انجلۍ (د ماشومانو نکل)، لیک او غږ،

ـ پینتو نکل، د باچا لور او چونګښه (د ماشومانو نکل) لیک او غږ، ژباړه او زیاتونې،

ـ د ملالۍ نانۍ خور(د ماشومانو شعر)،

ـ وۍ وۍ وۍ نانۍ انجلۍ (د ماشومانو نکل)

ـ د پاچا لور او چونګښه(نکل) لیک او غږ،

ځینې کیسې او شعرونه یې د لیک سره په غږیزه بڼه هم آنلاین کړي دي لکه: د پاچا لور او چونګښه،
چې دا خپله یو بل زحمت ته اړتیا لري او د کوچنیانو له پاره کیسه او شعر نور هم آسانه او جالبه کوي.
دا امانت داري یې هم ساتلې ده چې د ځینو شعرونو الهام یې چې له یوې منبع نه اخیستی دی، نو هغه یې د شعر په پای کې په امانت ډول لیکلي دي لکه د «اې سپینې واورې نومې شعر په پای کې. دا د ده خپله یادونه ده:

«یادونه: د دغه شعر الهام مي د آلماني ژبې د ماشومانو له شعر Schneeflöckchen weißröckchen څخه اخیستی دی.»

پاسنی یاد شعر به د نمونې په ډول را واخلم:

اې سپینې واورې

اې سپینې واورې سپین لمنې

ولې نه اورې زموږ پر کلي

منم چې لاره دې اوږده ده

پر هسکه وریځه دې دېره ده

خو راسه راسه واورېږه

په خپلو ستورو وځلېږه

پرېوزه پر بوټو ښه یې اوبه کړه

تر سپین غلاف لاندي یې بېده کړه

ماشومان ټول په انتظار دي

ناني چیګان یې ستا پر لار دي

چې یخه پخه واوره راسي

پر مځکه، غر خوره ښکلا سي

راسه زموږ پر کلي راسه

بیا هر څه سپین کړه راسه راسه

اې سپیني واوري سپین لمنې

ولي نه اورې زموږ پر کلي

دغه راز هغه کیسې یې چې ژباړلې دي، د هغو یادونه یې هم کړې ده، څه یې ور باندې ور اضافه کړي دي. د «د باچا لور او چونګښه» د کیسې په پیل او پای کې یې داسې لیکلي دي:

«د ګریم ورونو د «چونګښه باچا» د نکل پښتو ژباړه، زیاتونې او ږغ: احمد ولي اڅکزی...

لیکونکي: ګریم ورونه

د نکل نوم: باچا چونګښه

د نکل اصلي ژبه: آلماني»

دا هم د یادې کیسې «د باچا لور او چونګښه» یوه برخه:

«... یو وخت یو باچا ؤ. دغه باچا ډېري لوڼې درلودې چې ټولې ښایستې وې. خو تر ټولو کشره لور یې تر نورو ټولو لوڼو زیاته ښایسته وه. حتی لمر چې ډېر زیات شیان یې لیدلي ول، د دغې شهزادګۍ په ډول ښایسته انجلۍ یې بل هیڅ چیرې نه وه لیدلې. د باچا دغه لور دومره ښایسته وه چې لمر به یې ښایست ته حیران پاته سو، کله چې به یې وړانګې د دغې شهزادګۍ پر مخ وځلېدې. د باچا و مانۍ ته نژدې یو ګڼ ځنګل ؤ. پدغه ځنګل کې د یوې زړې ونې لاندې د اوبو یو څاه ؤ. کله چې به په دوبې کې موسم ډېر ګرم سو، نو د باچا کشره لور به و دغه یخ څاه ته ورغله او پر غاړه به یې کښېنستله. دغې شهزادګۍ به د ساعت تېرې لپاره خپل طلایي غونډاری پورته وغورځاوه او بیا به یې بېرته ونیوی. د هغې دغه لوبه تر نورو ټولو لوبو زیاته خوښه وه.

یوه ورځ شهزادګۍ د څاه پر څنډه ناسته وه او په خپل طلایي غونډاري (ګېند) یې لوبې کولې. هغې یو ځل غونډاری داسې پورته وغورځاوه، چې بېرته یې ونه نیولای سوای. همدا ؤ چې غونډاری د څاه د څنډې سره ولګېدی او د څاه اوبو ته ولولېدی. د باچا لور ولیدل چې غونډاری د څاه به اوبو کې ډوب سو. شهزادګۍ هم جرأت نه سوای کولای چې په غونډاري پسې د څاه په اوبو کې لټون وکړي ولې چې څاه دومره ژور ؤ چې حتی پای یې نه معلومېدی. همدا ؤ چې د باچا لور ډېره غمګینه سوه او په زوره په زوره یې ژړا شروع کړه. هغې چې هر څومره هم په لوړ ږغ وژړل خو زړه یې سپک نه سو. پدغه وخت کې هغې یو ږغ واورېدی چې ویل یې:

«کشري د باچا لوري

ډېره په ارمان ژاړې

تا ته څه در پېښه ده؟

ولې په خفګان ژاړې؟»

شهزادګی شاوخوا وکتل چې ځان ته معلومه کړي چې دا ږغ د چا دی. هغې ولیدل چې یوې چنګښې د څا د اوبو څخه خپل بدشکله او پنډ سر را ایستلی دی او خبري کوي. شهزادګی و چنګښې ته وویل:
« ښه! دا ته یې چې ګفتار کړې؟

په اوبو کې شړپهار کړې

زه چې ژاړم په سګلو کې

ګیند مې ډوب سو په اوبو کې»

چونګښې ورته په جواب کې وویل:

« کشري د باچا لوري

مه ژاړه آرامه سه

لږ خو مهربانه سه

ما ته که څه راکړې

ګیند به دې پیدا کړې.»

شهزادګی ورته په جواب کې وویل:

« زه به یې درته درکړم

ته چې هر څه غواړې

طلا به درته درکړم

غمې که یې هم غواړې

غونډاری مې پیدا کړه

وعدې که زما غواړې»

خو چونګښې ورته وویل: «ستا طلایي تاج، ستا ملغلري او ستا غمې زما ندې پکار. خو که ته ما خپله ملګرې وګرځوې او زما سره لوبې وکړې، ما پر سترخوان تر خپل څنګ کښېنوې، راته په خپل طلایي غاب کې خواړه راکړې، راته په خپل جام کې اوبه راکړې او په خپل بستر کې مې بیده کړې، نو زه به همدا اوس څاه ته ورکښته سم او ستا غونډاری به راوباسم.»
شهزادګی ورته وویل: « سمه ده، هر شی چې غواړې هغه به درته درکړم. خو اوس راته غونډاری راوباسه.» شهزادګی په زړه کې د ځان سره وویل: « دغه ساده چونګښه څنګه بېځایه خبرې کوي؟ دا به څنګه د یوه انسان سره ملګرتیا او دوستي وکړلای سي، حال دا چې د کواک کواک ږغونه کوي او په اوبو کې د خپل ځان په ډول نورو چونګښو سره اوسیږي.»

کله چي چونګښي واورېدل چي شهزادګۍ ورسره هر شرط ومنی، نو د څاه و اوبو ته ور وغورځېده او پکښي غوټه سوه ...»

کوچنی ټکی کام(kochnai.com)،

د کوچنیانو ادبیاتو له پاره یوه بله پته:



احمد ولي اخکزي د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې درې د یادونې وړ کارونه کړي دي:

۱ ـ د کوچنیانو له پاره یې کیسې او شعرونه لیکلي دي،

۲ ـ د کوچنیانو د ادبیاتو له پاره یې ځانګړې ویبپاڼه جوړه کړې او پر لیکه کړې ده،

۳ـ په نوې پر لیکه کړې ویبپاڼه کې یې د کوچنیانو له پاره د نورو لیکوالو لیکنې او شعرونه هم را ټول کړي دي.

احمد ولي اخکزی د کوچنیانو له پاره د خپلو لومړنیو منظومو او منثور تخلیقاتو او ژباړو په لړ کې دې ته متوجه شو چې دا موضوع د ده له عادي تخلیقاتو نه نوره هم لا مهمه ده، نو یې دې ته ملا وتړله چې د کوچنیانو له پاره یو پاڼه پر لیکه کړي. دا کار یې د خپل علم او تجربې پر مټ وکړ، هلته یې د کوچنیانو له پاره خپل تخلیقات پر لیکه کړل او تر وسې پورې یې د کوچنیانو له پاره د نورو لیکوالو او شاعرانو آثار هم را ټول او پر لیکه کړل، نو د دې له پاره ویلای شم چې کوچنی ټکی کام د کوچنیانو ادبیاتو له پاره یوه بله نوې غني پته ده.

کله یې چې د کوچنی ټکی کام «kochnai.com» پروژه پیل کوله، نو داسې یې ور ته ولیکل:

«کوچنی ټکی کام پروژه پیل شوه:

د خپرېدنې نېټه: 09 JANUARY 2016

هیله: لطفا دغه اعلان په تولنیزو رسنیو لکه فیسبوک او نورو رسنیو کې شریک یا share کړئ چې لا زیات د ماشومانو مور او پلار په خبر سي.

ماشومان د هرې ټولنې او ملت راتلونکی او مستقبل وي. هر ملت او قوم چې د ماشومانو په روزنه کې ځان ستړی کوي، هغه د خپل ځان او خپلو راتلونکو نسلونو له پاره د هوسايي بنياد ايږدي. د ماشومانو په روزنه او تربيه کې د هغوی مورنۍ ژبه ډېر اهميت لري او د پيداګوژۍ کارپوهان پر دې خبره سره هم نظره دي چې و ماشومانو ته د هغوی د مورنۍ ژبې وربښودنه په هغوی کې د نوو ژبو د زدکړو قابليت او وړتيا لا زياتوي او پراخوي يې. د همدغه مقصد له پاره د کوچنۍ ټکی کام آنلاين پروژه **په امتحاني توګه** پيلوم او هيله ده چې د پښتو ژبو ماشومانو او مېندو او پلرونو سره يوه مرسته او کومک ثابته سي. په دغه پاڼه کې اوس ښايي بعضې تخنيکي او نوري ستونزې وجود ولري، خو انشاالله د وخت په تېرېدو سره به يې ستاسو سره په ګډه ليري کړم.

د ټولو دوستانو څخه هيله کوم چې راسره خپل رغنده نظرونه شريک کړي چې دغه پروژه ګټوره او کاميابه سي. د رغنده نظر څخه مې مقصد دا هم دی چې دوستان د امکان تر حد پورې راته داسې وړانديزونه وکړي چې د دغو وړانديزونو په عملي کولو کې پخپله هم برخه اخيستلو ته تيار وي. ستاسو ټولو څخه هيله کوم چې که تاسو پخپله د ماشومانو له پاره ادبي توکي ليکلي وي او يا مو په کوم کتاب کې لوستلي يا له چا اورېدلي وي، نو هيله ده چې زما سره يې شريک کړئ چې پر دغه پاڼه يې آنلاين کړو. دغه پروژه يوازې په هغه صورت کې بريالۍ کېدلای سي چې پکښې تر يو کس څخه د زياتو کسانو زيار، افکار او نظرونه دخيل وي.
په پام کې لرم چې پر دغه پاڼه داسې مواد خپاره کړم چې د ماشومانو د عمر سره تړلي وي. يعنې دا چې تر څلورو کالو پورې عمر لرونکي ماشومان جلا مواد ولري او د ۴ او ۶ کالو تر منځ ماشومان نور... خو پر دغه موضوع بايد د کارپوهانو او ليکوالانو سره مشورې وسي چې کوم تقسيم به زيات منطقي وي.

د دغې پاڼې مقصد يوازې د ماشومانو مصروفول نه دي بلکه په دغه پاڼه کې بايد داسې مواد خپاره سي چې دساعت تېرې تر څنګ پکښې د زدکړې او ښوونې عنصرونه هم شامله وي. که نکل او کيسه وي او که منظومه مواد وي بايد چې يو روزنيز او ښوونيز مقصد ولري. په دې ترڅ کې د سيمې کلتوري او ديني مواد چې د ماشومانو له پاره د پوهاوي وړ وي، چمتو کول به يې د تګلارې برخه وي.

دغه پروژه په پام کې نه لري چې له حکومتي يا غير حکومتي منابعو او يا هم اشخاصو څخه مالي مرستې تر لاسه کړي. د دغې پروژې مقصد صرف د افغان ماشومانو په روزنه کې يو کومک وړاندې کول دي. په دې ترڅ کې د ليکوالانو، شاعرانو، د پيداګوژۍ د پوهانو او استادانو عملي مرستې ته په هيله يم.

د دغې پروژې د پيلولو يو دليل دا هم ؤ چې د افغانستان څخه دباندې مېشت زيات افغان ماشومان په خپلو مورنيو ژبو اړينو ادبي توکو ته لاس رسی نه لري. دغه کمښت او يا حتی نشته والی د دې سبب ګرځېدلای سي چې د دغو کوچنيانو اړيکې له خپلې ژبې، کتلور او هيواد سره وشليږي. هيله ده چې د دغې پروژې په ترڅ کې دغه ماشومان له وړوکوالي څخه لا د خپلې ژبې، کلتور او پلرنې ټاټوبي سره اړيکې او مينه پيدا کړي.

ستاسو د وړانديزونو، نکلونو، اشعارو او د ماشومانو له پاره د نورو ادبي توکو د راليږلو په انتظار.

ستاسو ورور احمدولي اڅکزی

د ۲۰۱۶م کال د جنورۍ ۹مه نېټه

هیله: لطفا دغه اعلان شریک یا share کړئ چې لا زیات د ماشومانو مور او پلار او یا هم د دغې پاڼې احتمالي راتلونکي همکاران او لیکوالان په خبر سي.»

په کوچنی دات کام کې د ۲۰۱۶ کال د اپریل تر اتمې نیټې پورې ټول یوسلو دوه مطلبه (منثور او منظوم) پر لیکه شوي دي او د ټولو مطالبو له لوستلو وروسته انسان قضاوت کولای شي چې په رښتیا احمد ولي اخګزي په یوازې صورت دومره مطالب لیکلي، ژباړلي او یا یې نورې ویبپاڼې وریپسې کتلي دي او د کوچنیانو له پاره یې دومره په زړه پورې کیسې را ټولې کړې او په دې آدرس یې د کوچنیانو او د هغو کورنیو ته په تیاره ایښې دي چې هغوی یې یا په کو چنیانو ولولي او یا یې ور ته واوروي.

په کوچنی ټکی کام(kochnai.com) یې کې د خپلو مطالبو تر څنګ د نورو قلموالو آثار او ژباړې هم را اخیستې دي چې د مثال په ډول د دغو ښاغلو او آغلو نومونه د یادولو دي:

اتل ترین، بریښنا صابر، محمد سرور وکیلي، سمیع الله خالد سهاک، محمد قاهر دردمند، سلیم پیمان عابد، عطا محمد میاخیل، اجمل تورمان او ...

د کوچنی دا ت کام په پاڼه کې تر ټولو ډیر او په زړه پورې مطالب د ښاغلي اتل ترین دي چې ډیره سلنه یې له نورو ژبو را ژباړلي دي چې د ځینو سر لیکونه یې دا دي:
آس او زمری، بزه او پړانګ، آس او هوسۍ، بزه، شرموښ او ګیدړه، پیشي او موږک، پړانګ، هوسۍ او مار، پړانګ او د ګیدړې بچی، چغال او اوښ او ...

د کوچنی ټکی کام په پاڼه کې د نورو لیکوالو د آثارو په برخه کې باید و وایم چې مطالب یې ډیر په زړه پورې او جالب دي او که کوچنیانو ته ولوستل شي او یا یې خپله ولولي، ډیر ګټور هم دي.

په دې پاڼه کې د ځینو ژباړل شوو مطالبو په پای کې کوم مآخذونه چې ښودل شوي دي، هغه یو څه ستونزې لري. د ساري په توګه ډیری ځایو کې لیکل شوي دي چې:

له فرانسوي منابعو څخه، له افریقایي منابعو څخه، له ایتالوي منابعو څخه، له یوناني سر چینې څخه، له جورجیا هیواد څخه، د چین هیواد څخه او...

له بده مرغه چې د را ژباړل شوې کیسې ټاکلي منبع نه ده ښودل شوې او دا هم نه ده مالومه چې دا کیسه له کومې ژبې نه پښتو ته را ژباړل شوې ده. د منابعو په برخه کې چې یوازې د هیوادونو نومونه یاد شوي دي، ښایي له یادو هیوادونو نه یې موخه دا وي چې را ژباړل شوې کیسه د یادو هیوادونو د خلکو نکلونه دي او د هغوی د فولکلور یوه برخه وي، چې د دې مالومول ځان ته جلا بحث او څیړنه غواړي.

دغه راز یې له نورو ویبپاڼو نه هم په منتخب ډول د کوچنیانو له پاره خپاره شوي مطالب غوره کړي دي او ښیګڼه خو یې لا دا ده چې له هر ځای نه یې چې مطلب ر ا اخیستی دی په پای کې یې مرجع یا منبع ښودلې ده او لینک یې ور ته ایښی دی لکه:

ـ لر اوبر دات کام (Larawbar.com)،

ـ خیبر دات اورګ (khyber.org)،

ـ سمسور دات کام (samsoor.com)،

ـ سپوږمۍ دات کام (sporghay.com).

د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د احمد ولي اڅکزي تخلیقات او ژباړې که له ژبني پلوه او د محتوا له مخې وڅیړل شي، لیدل کیږي چې ده د ماشومانو د ادبیاتو د اصولو په پیروۍ په ډیره ښکلې او ساده ژبه لیکنې کړې دي چې د کوچنیانو له پاره د پوهیدو وړ دی او د محتوا له پلوه یې هم د کوچنیانو روان په نظر کې نیولی دی او داسې موضوعات یې ورته انتخاب کړي دي چې کوچنیانو ته هم مالومات ورکوي او هم ورته د درک او پوهیدو وړ دي. د مثال له پاره دا شعر وګورئ چې ډیر په ساده او د کوچنینو له پاره د درک وړ ژبه باندې د څلورو فصلونو مالومات وړاندې کوي:

څلور دي کال کې موسمونه

(د ماشومانو شعر)

څلور دي کال کې موسمونه

هر یو جلا لري خوندونه

لنډي سي شپې ورځې اوږدې سي

په دوبي ټول خولې خولې سي

له اوبو ډک چې یخ منګی وي

په دوبي یخ د چا زړګی وي

چې دوبی ولاړ سي، راسي منی

په وچو پاڼو ډک سي کلی

زنګوي وني تېز بادونه

ور رژوي یې وچ بلګونه

بیا ژمی راسي شپې اوږدې سي

ورځې سي لنډي او سړې سي

واوره اوریږي یا یخیان وي

پر صندلي راټول کوچنیان وي

بیا پسرلی سي وني شنې سي

په شنو وښو مځکې ښایستې سي

چیچیان راوزي له هګیو

چو چو کوي له ځالګیو

څلور دي کال کې موسمونه

هر یو جلا لري خوندونه

ښاغلي احمد ولي اڅکزي ته زما وړاندیز دا دی چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره دې خپل لیکلي شعرونه، کیسې او ژباړل شوي مواد په کتابي بڼه برابر کړي او که د چاپ مالي توان یې لري، نو دې چاپ کړي او د نوي نسل د پلویانو پخ مرسته دې په ټول افغانستان کې و ویشي، څو له دې لارې نه د کوچنیانو دغه مواد تر دوی پورې ورسیږي او که یې د چاپ توان نه لري، نو دې د یوې ټولګې په ډول برابر او په څو ویبپاڼو کې په بریښنایي بڼه د لوستونکو له پاره وړاندې کړي. دا د دې له پاره چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره لیکلي ټول مواد باید تر دوی پورې ورسول شي.

د کوچنیانو له پاره د احمد ولي اڅکزي په کیسو او شعرونو کې یوه بله ډیر ښه ځانګړنه دا ده چې په شعوري ډول داسې موضوعاتو ته پام شوی دی چې ماشوم او کوچنی د تحرک، کار او زدکړو خوا ته هڅول کیږي، په شعرونو او کیسو کې داسې څه پر ځای شوی چې د ماشوم او کوچني په ذهن کې د کار او تولید مسآله ور په یاد کوي. دغه شعر ته پام وکړئ:

سهار سو

(د ماشومانو شعر)

سترګې کړه خلاصې شپه سوه تېره
د لمر وړانګې سوې چار چاپېره
د تیارې لیرې سوې څادرې
عندلیب نه وایي سندرې
واوره ګوګو کوي کوترې
د سایرې واوره بدلې
پاڅه او حمد و ثنا وایه
وایه چې شکر دی اې خدایه
چې هم بالښت هم بستره وه
شپه ښه آرامه آسوده وه
اوس یوه بله ورځ پېلیږي
ټول ماشومان نور راویښیږي
مخونه پرېولې ښه تازه سې
بیا د مکتب پر لور پیاده سې
هلته دوستان دي همصنفیان دي
ټوله د علم پټنګان دي
څوک چې وختې پاڅې سهار کې
وي بریالی په خپل هر کار کې

چګي کړه خلاصي شپه سوه تېره

د لمر رڼا سوه چار چاپېره

په افغانستان کې پخوا له دې چې د جګړې بلا پر ټولنه او خلکو مسلطه شي، د هغه وخت په معارف او درسي کتابونو کې هم همداسې موضوعاتو ته چې ماشوم او کوچنی کار ته و هڅوی، پام شوی و، خو له بده مرغه چې هر څه د جګړې بلا او اور وخواړه او ایرې یې کړل. د هغه وخت په درسي کتابونو کې د راغلي شعر یوه برخه داسې ده:

«زویکه لمر ختلی

جهان یې ټول نیولی...»

دلته لیدل کیږي چې مور زوی هڅوی چې جګ شي د یو څه کولو ته ځان چمتو کړي. که په هره زمانه کې د کوچنیانو ادبیاتو قلم وال داسې څه د کوچنیانو مخ کې کیږدي چې هغوی کار او ژوند ته وهڅوي، نو د ټولنې دا غړي به په کار عادت شي او په ټول کې به د یوې تولیدي ټولنې د رامنځ ته کیدو فکر لا له کوچنیوالي څخه ماشوم ته ولیږدول شي او که په راتلتونکې کې زموږ نوی نسل هم لکه موږ د استهلاکي ټولنې غړي اوسي، نو:

«... ور په غاړه به وي پړي لکه موږه.»

د بحث د دې برخې په پای کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د احمد ولي اڅکزي د شعر یوه بیلګه:

د ملالۍ نانۍ خور

(د ماشومانو شعر)

ملالۍ وایي خپلې مور ته

چې له مکتبه راسم کور ته

زما همصنفیاني مې یادیږي

کور کې مې زړه ډېر په تنګیږي

کاشکې مې مشره خور لرلای

زه به یې ډېره نازولای

درسونه ما به پر ویلای

امرونه ما به پر کولای

اخیستای ما به یې ګوډیاني

څوک مېلمنې څوک یې ناویاني

لوبې به موږ سره کولای

وخت به مې ښکلی تېرېدلای

خو اوس مي خور ډېره نانۍ ده
زه یم پر مشره دا کوچنۍ ده
بس ټوله ورځ دا او ژړا وي
یا وي بیده یا یې ګاګا وي
نه د مجلس ده نه د لوبو
لا تللای نه سي پر خاپوڅو
کاشکي مي مشره خور لرلای
موږ به بازۍ سره کولای
مور ویل ګراني زما لوري
زما خوږې زما شکري
اوس که نانۍ ده هم ستا خور ده
خوږه پیشو زموږ د کور ده
ګاګا چي وایي دا مجلس دی
ژړا چي کړي تنګ یې نفس دی
خور که دي نن ډېره نانۍ ده
د لوبو نه ده لا کوچنۍ ده
خدای به یې لو کړي ستا خورکه
درڅخه غواړي به نانځکه
ته به ور وښیې درسونه
ښایسته اخلاق او ښه چمونه
ملګرې ستا به وي ستا خور
هم په مکتب کي هم پر کور
وایاست به ګډ سره درسونه
د زړه ارمان د زړه حالونه
وګوره څنګه درته ګوري
ټالۍ وهي دا ستا پر لوري
وای راته وکړه مجلسونه
راته تکرار کړه خپل درسونه

زه به گاگا گاگا کومه

ځان به پر تا زه گرانومه

ته زما خور زما زړگی یې

لویه نانځکه پستکی یې

شکر چې مشره خور لرمه

لوبې به زه درسره کړمه

د احمد ولي اڅکزي کوچنی ټکی کام

او د کوچنیانو له پاره دوه سوه نکلونه

احمد ولي اڅکزی زموږ د د اوسني نسل په استازیتوب د پښتو ژبې او ادب له پاره داسې خدمت کړی دی چې له اټکل او تصور نه وتلی دی، په تیره بیا د پښتو ژبې د خوندیتوب او بډایني په برخه کې یې د قاموسونو را ټول او آنلاین کول او د نوي نسل د روزلو په برخه کې یې د «kochnai.com» د پاڼې تاسیس او په دې پاڼه کې یې د کوچنیانو له پاره د دوی په ژبه او له ذهن او دنیا گی سره برابر د موادو را ټولونه او په تیره بیا د شعر او کیسو په برخه کې د ده خپل تخلیقات او په بیلابیلو آدرسونو کې یې د کوچنیانو له پاره آنلاین کول.

د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې ما لا هغه وخت پر ده باندې څیړنه پیل کړه، چې د کوچنیانو له پاره مې د ده تخلیقاتو ته پام شو. د ماشومانو او کوچنیانو له پاره مې د احمد ولي اڅکزي د کارونو څیړني ته جلا باب پرانست او سر لیک مې ور ته «احمد ولي اڅکزی او د کوچنیانو ادب» وټاکه، ښایسته اوږده څیړنه مې پرې وکړه او په پنځو برخو کې مې خپره کړه. په هغې څیړنه کې مې د احمد ولي اڅکزي په باب داسې لیکلي وو:

«د هغو لیکوالو او قلموالو په ډله کې چې له څه مودې نه را په دې خوا یې کوچنیانو او د هغو ادبیاتو ته پام ور اړولی دی، یو هم پیاوړی او نه ستړی کیدونکی فرهنگي، احمد ولي اڅکزی دی. د احمد ولي اڅکزي نوم، د ده د تر سره کړو فرهنگي کارونو په وجه، هر افغان باید اوریدلی وي او لږ قلموال به وي چې د ده له فرهنگي کارونو څخه یې استفاده نه وي کړې. د قاموسونه دات کام (com.qamosoona) په اوریدو سره د هر افغان په ذهن کې د احمد ولي اڅکزي نوم او تر سره کړي فرهنگي کارونه تداعي کیږي، د هر پښتو لغات پوښتنه که څوک کوي او مانا یې غواړي، نو وایي: قاموسونه دات کام ته دې سر ور ښکاره کړی که نه؟ او قاموسونه دات کام د احمد ولي اڅکزي د نه ستړو کیدونکو هلو ځلو له برکته نن ورځ د ټولو لوستونکو په خدمت کې دی.»

احمد ولي اڅکزی په رښتیا په خپل کړی هوډ ودرید او د قاموسونو پروژه او کوچنی ټکی کام یې داسې وچلول او غني یې کړل چې اوس دی لا څه کوي چې د نوي نسل د روزنې ډیری پلویان ور باندې ویاړي. هغه مقالې چې پخوا ما د ده په باب لیکلې وې، هلته مې د کوچنیانو له پاره د ده کارونه داسې سره شمیرلي وو:

«احمد ولي اڅکزي د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې دغه کارونه تر سره کړي دي:

۱ـ خپل تخلیقات یې:

الف: نثر (کیسې)،

ب: شعرونه

۲ـ ژباړې،

۳ـ د ماشومانو له پاره ویبسایت (com.qamosoona)

د کوچنیانو له پاره د احمد ولي اڅکزي لیکنې مې د لومړي ځل له پاره د لر او بر په ویبپاڼه کې تر سترګو شوې. څو منظومې او منثورې لیکنې مې یې چې له نظره تیرې کړې، نو و مې پتیله چې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د یو مطرح لیکوال او شاعر په توګه څه ور باندې ولیکم، نو مې د ده لیکنې او شعرونه او د ده په باب د مالوماتو په را ټولولو پیل وکړ.»

د احمد ولي اڅکزي په باب چې کومه څیړنه ما پخوا کړې وه، وروستۍ مقاله مې د ۲۰۱۶ کال د مارچ په سپاړسمه نیټه خپره کړه؛ له هغې نیټې بیا تر نن پورې احمد ولي اڅکزي په kochnai.com. کې خپلو هلو ځلو ته نور هم په ډیرې حوصلې سره دوام ورکړ او پایله یې دا شوه چې ده په یاده پاڼه کې د خپرو شو کیسو او شعرونو شمیر تر دوو سو (۲۰۰) واوښت.

احمد ولي اڅکزي په «kochnai.com » کې د خپرو شو کیسو او شعرونو بشپړ لست خپور. البته دا لست له لاندې خوا ځکه ترتیب شوی دی چې په ترتیب سره لومړی، دویم او بیا تر دوه سوه دریم (۲۰۳) پورې یې شمیره جګه شوې ده چې د مقالې په دې برخه کې به یې د پنځوس مطلبونو سرلیکونه او لینکونه کیښودل شي او نور به د مقالو په نورو برخو کې راوړل شي:

203 - د هوښیارۍ ګټه [http://bit.ly/2ohMnx8]

202 - د غرور تاوان [http://bit.ly/2p9CaXJ]

201 - بې غرضه نېکي [http://bit.ly/2ohMkkW]

200 - له کاره ویره [http://bit.ly/2ohMj0m]

199 - د اتفاق زور [http://bit.ly/2p9ozjc]

198 - زړۀ او ژبه [http://bit.ly/2pt65a2]

197 - څلورکلن بوډا
[http://bit.ly/2p9JcvJ]

196 - وړی شتمن [http://bit.ly/2pt9y8D]

195 - هوښیار سړی [http://bit.ly/2nUoW0N]

194 - ناپوه هلک
[http://bit.ly/2oFto22]

193 - مغرور میړی [http://bit.ly/2pIgwpL]

192 - غلاجنه بیزو [http://bit.ly/2nUkxuz]

191 - دوه ورونه [http://bit.ly/2omhyql]

190 - د وزیر لور [http://bit.ly/2omoS5e]

189 - د هنر دولت [http://bit.ly/2pIbBoT]

188 - د سرلوړی تاج [http://bit.ly/2oFBsA9]

187 - د خیالونو مانۍ [http://bit.ly/2ppFIVw]

186 - د توتي نصیحت [http://bit.ly/2ohPq8E]

185 - خاوره او اوسپنه [http://bit.ly/2oOMuTZ]

184 - باد او لمر [http://bit.ly/2pIhsua]

183 - اووهٔ سړي خوري [http://bit.ly/2ohPl4Q]

182 - آزاد [http://bit.ly/2omjOOc]

181 - د انسان او شیطان فرق ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2ppmlfi]

180 - دري نانۍ پیشوګیاني ـ فلیپ کتاب [http://bit.ly/2lXbgkl]

179 - لړم او کشپ ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2p9vnxh]

178 - نافرمان که با همت؟ ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2p9xocD]

177 - الف تر یې نظم [http://bit.ly/2p9yCod]

176 - الف بې ـ سندره [http://bit.ly/2oDbgEm]

175 - بېرندونکي انجلۍ ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2oD4Uoy]

174 - ناروغ لېوه ـ نظم [http://bit.ly/2pppY4C]

173 - لېوه او سپی ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2omqrQB]

172 - آس او خر [http://bit.ly/2oP1TUb]

171 - ګیدړي او سوی [http://bit.ly/2ohEMyr]

170 - د سپي وفا [http://bit.ly/2oDg5h7]

169 - ګیدړه او چرګه [http://bit.ly/2nUgbnj]

168 - برابر وېش [http://bit.ly/2ptdNRF]

167 - وزرماتي مرغی [http://bit.ly/2pI9hhy]

166 - د ګیدړي کواله [http://bit.ly/2oOUsMJ]

165 - نوکر او آس [http://bit.ly/2p9sNXW]

164 - زوړ سپی [http://bit.ly/2oP1AbZ]

163 - ګیدړه او بزه [http://bit.ly/2oP2h57]

162 - لېوه او پسه [http://bit.ly/2ohQ7yw]

161 - د درواغو دعوه [http://bit.ly/2nUm6ZO]

160 - سپی او کوتی [http://bit.ly/2oOKjjl]

159 - مېږه او لېوه [http://bit.ly/2oOLxej]

158 - لېوه او سپی[http://bit.ly/2oDbVpi]

157 - غله او چرګ [http://bit.ly/2pIaAgk]

156 - بلبل او باز [http://bit.ly/2pt3vB6]

155 - ګیدړه او لېوه [http://bit.ly/2omcPVK]

154 - توره مچی او چرچرکه [http://bit.ly/2oFpUMY]

153 - دا وېش دي له چا نه زده کړ [http://bit.ly/2pt6iKr]

152 - لېوه او زانی [http://bit.ly/2p9w0qr]

151 - د چرګ هوښیاري [http://bit.ly/2ohURUU]

150 - زمری او غویی [http://bit.ly/2oCR0TC]

احمد ولي اڅکزي د kochnai.com د خپرو شو مطالبو لست د ۲۰۱۷ کال د اپریل په اوه لسمه نیټه په خپل فیسبوک کې خپور کړ. دا د ده د مطالبو د خپریدو زیری دی:

«زېری! زېری ! (لطفا شریک یا share یې کړئ!)

که غواړئ چې ماشومان مو په وړکتوب لا د پښتو ژبې سره مینه پیدا کړي، نو ورته په پښتو ژبه نکلونه ولولئ. درته زېری درکول کیږي چې د کوچنی ټکی کام www.kochnai.com پر وېبپاڼه د ماشومانو د نکلونو شمېر تر ۲۰۰۰ هم واوښت او تاسو کولای سئ له دغې وېبپاڼې څخه خپلو ماشومانو ته پښتو منثور او منظوم نکلونه ولولئ. پر دغه پاڼه بعضې ږغیز نکلونه هم موندلای سئ. که تاسو د ماشومانو له پاره ښکلي منثور یا منظوم نکلونه خپله لیکلي یا چیري لوستلي وي، نو هیله ده چې پر دغه تماس باکس http://bit.ly/2ppCyRJ یې راسره شریک کړئ. لطفا د فیسبوک دغه پوست د امکان تر حده زیات شریک یا sharee کړئ تر څو لا زیات مور او پلار له دغې پروژې خبر او په دې توګه بچیان یې مستفید سي.

ستاسو له کومک څخه یوه نړۍ مننه

د کوچنی ټکی کام چلوونکی

احمدولي اڅکزی»

دا یې هم په پاڼه کې د راغلو کیسو او مطالبو د بلې برخې سرلیکونه او لینکونه:

149 - حریص محروم دئ [http://bit.ly/2ohlzxa]

148 - خرس او زمری [http://bit.ly/2ohNpcn]

147 - د ونې شاهدي [http://bit.ly/2pt9WEk]

146 - موړکان او پیشي [http://bit.ly/2nUlqDz]

145 - د زمري قانون [http://bit.ly/2oP03mf]
144 - لېوه د پسه په جامه کښې [http://bit.ly/2oFvlM2]
143 - توتي [http://bit.ly/2omdzdg]
142 - خر او سپی [http://bit.ly/2p9lxvk]
141 - مغرور ایږ (پښتو نارویژي) [http://bit.ly/2ppjiU5]
140 - زیارکښ هلک ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2oFGjB3]
139 - درواغجن هلک او لېوه ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2pIl1kb]
138 ـ د نخود پر سر شهزادګی [http://bit.ly/2oONJ5z]
137 - ول ول جانه او درې ایران [http://bit.ly/2oFqP0b]
136 - ورور که پنیر ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2oFyVFU]
135 - د کټ خېژونه ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2psXuUK]
134 - موړک او زمری [http://bit.ly/2p9mjbE]
133 - پر نس مې درد دئ الوئ ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2p9FZwb]
132 - مچمچۍ او زمری ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2pIn3AH]
131 - خواږه شیان ـ منظوم نکل [http://bit.ly/2ohkKEA]
130 - د لمونځ فرضونه ـ نظم [http://bit.ly/2oDbN9e]

129 - د ښامار هګۍ - منظوم نکل [http://bit.ly/2oDcf7H]
128 - د اسلام پنځه بناوي - نظم [http://bit.ly/2pth1EX]
127 - د سپي او بیزو پاچهي - منظوم نکل [http://bit.ly/2omoW4M]
126 - موږک پهلوان - منظوم نکل [http://bit.ly/2oD7xqj]
125 - اوه بزګري او شرمُښ - منظوم نکل [http://bit.ly/2ohJOel]
124 - پیرۍ - منظوم نکل [http://bit.ly/2ohMcSn]
123 - ایکاروس - منظوم نکل [http://bit.ly/2ppmhMr]
122 - پردۍ ښکي - منظوم نکل [http://bit.ly/2p9tale]
121 - کارغه او ګیدړه - منظوم نکل [http://bit.ly/2pI8CwB]
120 - دم دم آدم دم دم پیشو [http://bit.ly/2pppbkq]
119 - غاښ مي ښوري - نظم [http://bit.ly/2ohBR8X]
118 - آس غواړم! [http://bit.ly/2omozqU]
117 - پشتکۍ پستکۍ پنډکۍ [http://bit.ly/2oDcnEc]
116 - منظوم نکل - سوی او کیشپ [http://bit.ly/2ohv2Vf]
115 - منظوم نکل - دېب په بوتل کي [http://bit.ly/1seKoLK]
114 - منظوم نکل - کټه چونګښه [http://bit.ly/1WWnrYJ]
113 - یوازي نانۍ - منظوم نکل [http://bit.ly/2pIrUlc]
112 - پاولینه او د هغي پشکي [http://bit.ly/2ohyejA]
111 - نانځکه مې - شعر [http://bit.ly/2pIiaHT]
110 - سپرلۍ - شعر [http://bit.ly/2ohIs3t]
109 - پنځه حسه - شعر [http://bit.ly/24cVi21]
108 - د مرغاوۍ بد رنګه چورګوړۍ [http://bit.ly/2ohURnM]
107 - د امپراتور نوي جامي [http://bit.ly/2oD95AL]
106 - آللو، للو زویه [http://bit.ly/2ptlmrp]
105 - یو دوه [http://bit.ly/2p9xgtN]
104 - دوه سادګان [http://bit.ly/2pIfRnZ]
103 - لس موږکان [http://bit.ly/1Syx6Pc]
102 - میاؤ میاؤ پستکۍ [http://bit.ly/2oFniyU]
101 - منظوم نکل - ننداره ده ننداره [http://bit.ly/2pIjLgN]
100 - منظوم نکل - پاچا، وزیر، غلام او ړوند سړی [http://bit.ly/2ppylx9]
99 - منظوم نکل - زمری او نانۍ موږک [http://bit.ly/2oFl4zk]
98 - شعر - څلور دي کال کي موسمونه [http://bit.ly/2ppryU4]
097 - شعر - د ملالۍ نانۍ خور [http://bit.ly/2pIlB16]
096 - شعر - سهار سو [http://bit.ly/2pt5ENe]
095 - شعر - ترپ و تروپ دی [http://bit.ly/2oOOYlo]
094 - شعر - اې سپیني واوري [http://bit.ly/2ohMB7i]
093 - د پاچا لور او چونګښه [http://bit.ly/2oFn0bm]
092 - وی وی وی نانۍ انجلۍ [http://bit.ly/2nUeG8P]
091 - طوطي او سوداګر [http://bit.ly/2omchz6]
090 - د نرګس نانزکه [http://bit.ly/2ohSMs9]
089 - منظوم نکل - د وزي او د لیوه کیسه [http://bit.ly/2omtOXJ]
088 - بزُه او پړانګ [http://bit.ly/2p9jR4W]
087 - آس او زمری [http://bit.ly/2pIle6Y]
086 - بُزه، شرموښ او ګیدړه [http://bit.ly/2oDfxrC]

085 - بُزه او د سپینو زرو زنګوله [http://bit.ly/2p9jwPD]
084 - آس او هوسۍ [http://bit.ly/2oD6AOT]
083 - بومان او کاغۍ [http://bit.ly/2nUqR5B]
082 - پړانګ او د ګیدړي بچی [http://bit.ly/2ppht9R]
081 - پړانګ، هوسۍ او مار [http://bit.ly/2omjPlp]

د افغانستان د فرهنګ خزان وهلي بڼ د خدمت په غرض، د احمد ولي اڅکزي ګڼو فعالیتونو ته چې ولیدل شي او ور سره د ده نه ستړي کیدونکي هڅې او له فرهنګي کار سره د ده مینه دا ښیي چې دی څومره د نوي نسل د روزنې په فکر کې دی.

د ماشومانو، کوچنیانو او په ټول کې د نوي نسل د پالنې او روزنې په برخه کې د احمد ولي اڅکزي او ور سره د ځینو نورو فرهنګیانو هڅې دا هیلې په زړونو کې را پیدا کوي چې دا خلک او دا ټولنه له دومره جنګونو، طوفانونو، انقلابونو، جفا ګانو او ناخوالو سره، سره د ژوند او تکامل په فکر کې دي، غواړي نوی نسل وروزي او په دې ډول د تمدن له نړیوال کاروان سره ځان مل کړي، که داسې نه وای شوې او یا دا کار همداسې په جدیت سره پرمخ ولاړ نه شي، نو موږ به له سیالانو نه وروسته او د تمدن له کاروان نه به پاتې یو.

د ماشومانو او کوچنیانو د سالمې او علمي روزنې په برخه کې، او په تیره د کوچنیانو ادبیاتو ته د کمیت او کیفیت له پلوه د احمد ولي اڅکزي دومره ډیره، ښه او علمي پاملرنه، په رښتیا سره د ستایلو وړ ده او زه د نوي نسل د روزلو د نهضت د یو لاروي په توګه او د کوچنیانو ادبیاتو د یو څیړونکي په توګه، د کوچنیانو د ادبیاتو په غني کولو، عامولو او ټولو ته د رسولو په پار له احمد ولي اڅکزي نه د زړه له تل نه مننه کوم.
دا هم د کوچنیانو له پاره د ده د دوه سوه نکلونه د پاتې برخې سر لیکونه او لینکونه:

080 - پیشي او موږک [http://bit.ly/2omn2Bo]
079 - پړانګ، چنګښې او هوسۍ [http://bit.ly/2nUq9Ft]
078 - چرګ او باچا [http://bit.ly/2oOEz9m]
077 - توتکی څنګه باز خطاایستی؟ [http://bit.ly/2oFdODw]
076 - پیشي، پړانګ او انسان [http://bit.ly/2oFoCll]
075 - چغال او اوښ [http://bit.ly/2omij2A]
074 - چرګ، ښامار او زنزه [http://bit.ly/2ppiDll]
073 - چغال او زمری [http://bit.ly/2pploDD]
072 - ګیدړي څنګه حیوانان څرځای ته بېول؟ [http://bit.ly/2p9vqJ8]
071 - چغال، شکونډ او څاه [http://bit.ly/2omqHPw]
070 - چنګاښ او بیزو [http://bit.ly/2oFiVUg]
069 - درواغ او زخم [http://bit.ly/2nUkbEu]
068 - چغال، پړانګ، زمری او زړور وزګړی [http://bit.ly/2ppfFh5]
067 - درې وریان او شرمُښ [http://bit.ly/2nU3xVo]
066 - درې کبان [http://bit.ly/2omk67Y]
065 - دوې چنګښې او د پیروي پیاله [http://bit.ly/2oOFWVc]
064 - زمری او د هغه شورا [http://bit.ly/2pp5adS]
063 - سوی، فیل او د اوبو آس [http://bit.ly/2pIeDt5]
062 - ګیدړه او آس [http://bit.ly/2oD0HBe]
061 - ګیدړه او انګور [http://bit.ly/2psYo3J]
060 - سوی او غوا [http://bit.ly/2nUfxGB]

059 - سوی او مار [http://bit.ly/2oFidq4]
058 - سوی او هنډواني [http://bit.ly/2p9vc57]
057 - سوی او کشپ [http://bit.ly/2nU3jh6]
056 - ګیدړه او زمری [http://bit.ly/2omlnf7]
055 - ګیدړه او باز [http://bit.ly/2oFiN7j]
054 - ګیدړه او کوتان [http://bit.ly/2psUMyA]
053 - زمری، شرمښ او ګیدړه [http://bit.ly/2oFhW6w]
052 - بزه، شرمښ او اووه مرغومي [http://bit.ly/2p9tFfd]
051 - زمری او نجار [http://bit.ly/2nU2Tr2]
050 - زمری او دري غوايي [http://bit.ly/2ohvdj8]
049 - زمری، غوماشه او غنه [http://bit.ly/2oFlkyd]
048 - سویان او چنګښي [http://bit.ly/2ppgFlz]
047 - شرمښ او د سپي طوق [http://bit.ly/2omiWt8]
046 - شرمښ، ګیدړه او موشخرما [http://bit.ly/2nU7gCf]
045 - شرمښ او سوی [http://bit.ly/2oOEMsO]
044 - شرمښ او د هغه چلم [http://bit.ly/2oFcvVo]
043 - شرمښ او کوتان [http://bit.ly/2nUaKEM]
042 - شرمښ او وری [http://bit.ly/2oFz1gF]
041 - شرمښ او زوړ سپی [http://bit.ly/2pIb0Dn]
040 - غوماښه او خزدکه [http://bit.ly/2pHYbJr]
039 - شرمښ، سوی او مشخرما [http://bit.ly/2ppfYst]
038 - شکونړ او زمری [http://bit.ly/2nUbBFH]
037 - ولي غنه په کونج کي کښېني او مچان نیسي؟ [http://bit.ly/2oFsHWz]
036 - غني او کېلې [http://bit.ly/2omniQZ]
035 - چالاکه پیشي، پُسه او شرموښان [http://bit.ly/2oFGVXx]
034 - څرنګه سوی او ګیدړي ماهیان ونیول [http://bit.ly/2omo6VJ]
033 - څنګه پیشي د موږک سره اتڼ وکړ [http://bit.ly/2oCYSEk]
032 - بې عقل ملخ او هوښیار مېږی [http://bit.ly/2p9oCeR]
031 - په څه ډول نکلونه پیدا سول [http://bit.ly/2om8TUU]
030 - څرنګه زیرګی پیدا سو [http://bit.ly/2nUm1Ft]
029 - څرنګه وحشي چرګ کورنی چرګ سو [http://bit.ly/2pHYWlI]
028 - څرنګه سوی د فیل سره جنګ وکړ [http://bit.ly/2pHUpQ6]
027 - خر، سپی موږک او شیطانه بزه [http://bit.ly/2oOCrOH]
026 - خرس او ملخ [http://bit.ly/2ohPLbe]
025 - د جاپان دوي چونګښي [http://bit.ly/2p9iJy6]
024 - د برېمن موسیقي پوهان [http://bit.ly/2ohB5c9]
023 - د پاچا نوي کالي [http://bit.ly/2oCLr7B]
022 - طلايي کاسه [http://bit.ly/2oD0VIu]
021 - د سرو زرو خزانه [http://bit.ly/2pHPrmr]
020 - کوتره او د ګلاب ګُل [http://bit.ly/2oOG4UU]
019 - د ځنګل پاچا څوک دی؟ [http://bit.ly/2omnBuS]
018 - شعر ماشومان [http://bit.ly/2oFeQzs]
017 - ګیدړه او بڼ [http://bit.ly/2oD0yO6]
016 - توتي [http://bit.ly/2p9fGpy]

015 - پیشو غواړي کبان ونیسي [http://bit.ly/2nUcuxS]
014 - لږ حوصلې موږک [http://bit.ly/2oOGF8Y]
013 - کوچنۍ سمندري ښاپېرۍ [http://bit.ly/2psXxA0]
012 - کوچنۍ کلاوس او لوی کلاوس [http://bit.ly/2pHSUS9]
011 - اورلګیت [http://bit.ly/2pt0yAh]
010 - هوښیار وزیر او د خلکو قضاوت [http://bit.ly/2oFe5X8]
009 - سور ګیدړ [http://bit.ly/2ohtmea]
008 - بُلبُل [http://bit.ly/2oCNkkD]
007 - پتنګ او د وریښمو غوزه [http://bit.ly/2oD1MsZ]
006 - ښکاري او مرغۍ [http://bit.ly/2oCUjKg]
005 - دیوه لیوه او زاړې لنډه کیسه [http://bit.ly/2pHNzKH]
004 - د بزګر لور [http://bit.ly/2p9z99Z]
003 - توتکۍ [http://bit.ly/2oD0bmR]
002 - د سرو ستورو کلی [http://bit.ly/2nU7hWZ]
001 - دوې وزې [http://bit.ly/2ohEg3v]

ثنا صافی

د تعلیم ډیوه

اوه لسمه مقاله

ثنا ساپی د تعلیم مور ده!

ثنا ساپی د تعلیم د لارې قهرمانه ده!

په افغانستان کې د ورستیو څلورو لسیزو د ستونزو هر اړخ ته چې نظر واچول شي، د رامنځ ته کیدو عوامل او منفي پایلې یې موږ ته وایي چې د تعلیم نشتوالی د ټولو ستونزو د رامنځ ته کیدو مور او لامل ده. نو پر دې بنا د هر ډول تحلیل پایله دا وایي چې په افغانستان کې یو ژور تعلیمي بدلون ته اړتیا لیدل کیږي.

ډیری روڼ اندي په دې فکر دی چې څو په ټولنه او خلکو کې بنیادي فکري بدلون را منځ ته نه شي، په ټولنه او عیني عملي ژوند کې د مثبت بدلون تمه یو نا سم کار دی. په مثبت لوري د خلکو د ژوند د هر اړخیز بدلون له پاره یوازینی لار تعلیم دی، د همدې دلیل له مخې باید په تعلیم او زدکړه باندې ډیر ټینګار وشي، که ډیر په ابتدایي بڼه هم وي.

څنګه چې لیدل کیږي د پاسنۍ انساني هیلې د پوره کیدو له پاره په عملي او نظري ډول یو شمیر فرهنګیانو له اوږدې مودې را په دې خوا هلې ځلې پیل کړې دي او هر کله یې خپل نظریات د رسنیو، بیلابیلو مجالسو، لکچرونو مقالو او کتابونو د لیکلو له لارې د نورو تر غوږونو او سترګو پورې رسولي دي، په دې لاره کې به ډیرو آغلو او ښاغلو هلې ځلې کړې وي، چې یوه په کې تر نورو ډیره عملاً فعاله ثنا ساپۍ ده.

د تعلیم د نظریې د عامیدو له پاره په دې مقاله کې د اوس له پاره زه یوازې د ثنا ساپۍ پر فعالیتونو لنډې خبرې کوم.

زه په دې عقیده یم چې په متمدنه بڼه د نوې ټولنې جوړول یوازې د نوي نسل په نوې او متمدنې روزنې سره ممکن کیدای شي؛ د همدې له پاره مې له پخوا نه دا هوډ وکړ چې د نوي نسل په روزنې پسې به متې را نغاړم، تبلیغ به ورته کوم، خپله به عملاً دا کار کوم، مقالې او کتابونه به ور ته لیکم او...

په همدې لړ کې مې لومړی «د کوچنیانو ادبیات» تر سر لیک لاندې کتاب ولیکه چې په ۱۳۶۶ کال په کابل کې چاپ شو، بیا مې د مهاجرت په چاپیریال کې نور هم د نوي نسل د روزلو اړتیا او کمبود احساس کړ، نو مې د «پردی چاپیریال او د نوي نسل روزنه» تر سرلیک لاندې د مقالو د لیکلو او خپرولو سلسله له ۱۹۹۴ کال نه را په دې خوا پیل کړه چې تر اوسه دوام لري، بیا مې د نوي نسل د نوې روزنې په موخه د مطالعې د دود د عامیدو په غرض د مقالو بله لړۍ را پیل کړه چې تر اوسه پورې دوام لري، وروسته له هغه مې بیا هم د نوي نسل د روزلو په په موخه د کوچنیانو د ادبیاتو د مقالو سلسله بیرته را پیل کړه او ټولې هغه منابع، آدرسونه او اشخاص چې د ماشومانو او کوچنیانو د روزلو او د کوچنیانو د ادبیاتو له پاره کار کوي، د لاس لرلو موادو له مخې په مستند ډول، له خپلو نظریاتو سره یو ځای معرفي کړي او د خلکو د لا پوهاوي او د یادو قلموالو او آدرسونو د تشویق له پاره مې مقالې ولیکلې چې دا سلسله اوس هم دوام لري.

بیا مې هوډ وکړ چې د هغو ښاغلو او آغلو په باب یو څه ولیکم چې زما په شان د نوې ټولنې د جوړیدو په موخه له هر څه نه تعلیم ته ډیر ارزښت ور کوي، چې د ځینو دلایلو په وجه مې تر ډیرو پورې دا کار ونه کړ، خو د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۲۳ مه نیټه مې په فیسبوک کې د ثنا صافۍ دا توري تر سترګو شول:

«یوه دوست دا راسره شریک کړل:

"یو فسبوک وال لیکلي: یو ملا د جمعې پر ورځ خطبه کې ویل چې تعلیم په نر او ښځه فرض دی. یو دوه فیسبوکیان ور ته ناست وو. یو بل ته یې و ویل: ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچي ته ګوره#تعلیم_فرض_دی» ".

د دې جملو په لیدلو او لوستلو سره اړ وتم چې د ثنا صافۍ او د ثنا ډوله خلکو، چې د تعلیم د عامیدو په سلسله کې د نوي نسل د نوې روزنې له پاره هلې ځلې کوي، ملا ور وتړم، نو دا دی تر ټولو مخکې د ثنا ساپۍ د فعالیتونو او نظریاتو په پیژندلو او معرفي باندې پیل کوم او له هر څه مخکې وایم:

زه چې د هر فرهنګي او قلموال د فعالیتونو په باب څه لیکم، هڅه کوم چې د لومړي لاس موادو د تر لاسه کولو له پاره په خپله له شخص سره اړیکې ټینګې کړم، خو د دې کرښو د لیکولو له پاره مې په دې خاطر له ثنا ساپۍ نه د مالوماتو غوښتنه ونه کړه چې ښایي ثنا نوره د افغانانو له په ځای او بې ځایه ایمیلونو، تیلیفونونو، پوستونو او مخامخ یا پسې شا خبرو نه ستړې شوې وي، که ما هم د دې په پټه د یو ایمل له لارې څه ور ته لیکلي وای یا مې د مالوماتو غوښتنه کړې وای، دې به څه فکر کړی وای؛ د همدې دلیل له مخې مې پر خپلو را ټولو کړو موادو

تکیه وکړه، خپلې تبصرې، تجربې او نظریات مې ور سره ګډ کړل او دا دی ستاسو لوستلو ته یې وړاندې کوم:

کله چې ما د ثنا ساپۍ په بیوګرافي پسې ګوګل ته مراجعه وکړه، یوازې دغه جمله یې په لاس راکړه:

«**ثنا ساپی** *(په انګرېزي Sana Safi) :* د بي بي سي راډیو د پښتو څانګې خبریاله او ویاند ده.»

خو زما د مالوماتو له مخې ثنا ساپۍ د کار تر څنګه په زدکړو هم بوخته ده. پخوا له دې چې ثنا ساپۍ د لوړو زدکړو له پاره بهر ته لاړه شي، په مشرقي کې یې په کومه راديو کې د ویاندې په ډول کار کړی دی، دا چې څنګه دې ته په بهر کې د لوړو زدکړو چانس ور په برخه شوی دی، هغه بیله کیسه ده چې زه نه یم ور باندې خبر، خو کله چې بهر ته روانیږي د هغې شیبې یا هغې ورځې خاطره، په خپله ثنا داسې لیکلې ده:

«د ۲۰۰۷ کال نومبر یو سوړ سهار و. کورنۍ سره مې مخه ښه وکړه. د کابل هوایي ډګر ته روانه شوم. لندن ته ترې تلم. د مور سترګو کې مې اوښکې وې. په دې نه چې زه ترې تلم. په دې چې خدای خبر کله به مې بیا ویني. هغه وخت د ټولو افغانانو دا حال و. له نا باورۍ ډک حالت. د هوایي ډګر پر لور سړکونه اوبو نیولي وو. داسې ته وا ټول کابل کې سېلاب راغلی وي. ډېر باران شوی و.

ډاډه یم، زما په شان تاسې هم ورسره آشنا یاست. ما د ژوند لومړي ۱۸ کلونه افغانستان کې تېر کړي: ۱۹۸۰ مه لسیزه د کمونیزم واکمنۍ کې (چې ډېر لږ څه یې اوس را ته په یاد دي)، د ۱۹۹۰لسیزې کورنۍ جګړه (چې تر اوسه مې ځوروي) او طالبان چې ماشومتوب یې را نه

واخیست. ساعتونه مې پر سړک تېر شول. بلاخره هوایي ډګر ته ورسېدم او نورو مسافرو سره یوځای شوم. الوتکه کې مې له څوکۍ کابل ته وروستی ځل وکتل. وروستی څیز چې مې ولید د هوایي ډګر شاوخوا په واورو پوښلي غرونه وو. یوازې، له ډېرو لږو کالو او پیسو سره پردي هېواد ته روانه وم. لندن ته. هغه ځای چې نه دوست، آشنا او نه مې خپل پکې پېژاند.»

زه ثنا سافي ډیره نه پېژنم، خو څومره مې چې د میډیا په بیلابیلو برخو کې د دې فرهنګي هلې ځلې له نظره تیرې شوې دي، د هغو له مخې د دې فرهنګي فعالیتونه زه د اوس له پاره په دغو برخو ویشم:

ـ د لنډیو کیسو لیکواله ثنا سافي،

ـ ژورنالسته ثنا سافي،

ـ مدني فعاله ثنا سافي،

ـ او د نوي نسل د روزلو د نهضت یوه فعاله غړې ثنا سافي.

ثنا سافي د عملي ژورنالیستي کار تر څنګ له یوه عملي مدني فعاله هم ده او په خپلو لیکنو او پوستونو سره، خپلو ملګرو او مخاطبینو ته خپل پیامونه لیږي، له بلې خوا د لنډو کیسو لیکواله هم ده او ښایسته ډیرې لنډې کیسې یې هم لیکلې دي. د څو خپرو شو لنډوکیسو سرلیکونه او پټې یې دا دي:

ـ میلمستیا (لنډه کیسه)،

ـ مساپر(لنډه کیسه)،

ـ وخت(لنډه کیسه)،

ـ حیا عزت(لنډه کیسه)،

ـ د ښځو ورځ (لنډه کیسه).
ثنا د خپلو لنډو کیسو یوه ټولګه خپره کړې ده چې «د تېمز له غاړې» نومیږي:



ما ته یې تر اوسه د لنډو کیسو دا ټولګه په لاس نه ده راغلې، خو څو لنډې کیسې یې چې خورې ورې په بیلابیلو ځایونو کې په مخه راغلې دي، لوستلې مې دي او په هغو کې له ورایه ښکاري چې ثنا څنګه خپله ټولنه او د خپلې ټولنې او خلکو دردونه او ستونزې انځوروي. د ثنا ساپۍ د کیسو او د نثر په باب په تاند کې د همدې ټولګې (د تېمز له غاړې) د چاپیدو په پلمه داسې راغلې وو:

«د کیسه لیکوالې او خبریالې ثنا ساپۍ د لنډو کیسو لومړۍ ټولګه د سالنګ کتاب خپروونکي له لوري چاپ شوه.

دغه کتاب د تېمز له غاړې نومېږي چې ټولټال ۲۰ کیسې پکې راغلې دي او ۸۸ مخونه لري.

ثنا ساپۍ په کیسو کې خپله لاره لري او ډېرې کیسې یې د افغانستان د ټولنیزو ناخوالو را سپړلو او له هغو څخه را ولاړېدونکو ستونزو ته ځانګړې کړې دي.

څنګه چې آغلې ساپۍ په هلمند، کندهار او ننګرهار کې ژوند کړی دی له همدې کبله یې کیسې هم د دې هېواد د ډېرو سیمو د خلکو، په تېره بیا ښځو ژوند ښه منعکسوي.

په یو شمېر کیسو کې یې کلتوري مسایلو په تېره بیا په لرې پرتو سیمو او نالوستو ټولنو کې د ښځو ژوند ته پام کړی دی چې په دې توګه د کتاب ارزښت نور هم زیات شوی دی...»

د ثنا ساپۍ د لنډو کیسو دا ټولګه ما ته په لاس نه ده راغلې چې له دې زیات څه پرې و وایم. که د ثنا ساپۍ نورې څېړنیزې یا تخلیقي لیکنې چاپ شوې او خپرې شوې یا چیرې پر لیکه شوې وي او ما یې یادونه نه وي کړې، دا زما نیګړتیا ده او زه همدا اوس ښښنه غواړم.
تر هغه ځایه چې په عملي ژورنالیزم کې ما د ثنا کارونه، په ځانګړي ډول په تلویزیون کې ویندویي لیدلې او تعقیب کړې ده، دا ډېر بریالی ده، دومره بریالی چې زما له اټکل او امید نه هم لا لوړه. که یې د همدې کارونو د لیدلو هیله لرئ، یوه وروستۍ بیلګه یې ما دلته را خوندي کړې ده، په دې لینک باندې کلیک وکړئ، وې ګورئ او بیا قضاوت پرې وکړئ.

د دې د دومره فرهنګي فعالتونو سره، سره د دې پر ځای چې خپل هیواد وال یې ویاړ پرې وکړي او د نورو نجونو او میرمنو له پاره یې د یو مثال په ډول معرفي کړي، په توهین وزمه ډول یو بله ته وایي:

«ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچي ته ګوره»

زما د مالوماتو له مخې ثنا تر اوسه واده نه دی کړی چې بچي ولري، خو ځینو بې مسؤلیته ځوانانو د تمسخر په ډول، بل هغه چا ته چې د ثنا د تعلیم د لارې له پاره یې یوه جمله له خولې را وتلې ده، د ثنا د بچی خطاب کړی دی: (ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچي ته ګوره).

دوی ته باید و ویل شي: له هغه وخته چې ثنا ساپۍ د خلکو او وطن د پرمختګ او نیکمرغۍ له پاره د تعلیم لار غوره کړې ده او د تعلیم د عامیدو له پاره یې مبارزه، کار او تبلیغ پیل کړی دی، که چا اوریدلی وي او عمل یې پرې کړی وي، زه هغه ټول د ثنا معنوي بچیان ګڼم دغه ځوانان او نور خلک یې چې هر ډول انګیري، هغه د دوی کار دی.

زموږ ځینې هیواد وال، د دې پر ځای چې پر ثنا ساپۍ ویاړ وکړي او ځان او کورنۍ ته یې د نمونې په ډول سر مشق وګرځوي چې څنګه یوه وړه نجلۍ په یوازې ځان د علم او پوهې په حاصلولو پسې بډې وهي او داسې ځان کامیابوي چې د نورو هیوادونو ټولیګیوال او همکاران یې ورته حیران وي؛ دوی ورته لګیا دي چې: سر دې پټ کړه او موږ غیرت لرو او موږ دا لرو او هغه لرو او...

د ثنا ساپۍ په وینا، دا په ټولنیزو رسنیو کې څلور سوه زره ملګري لري، یعنې څلور سوه زره خولې ور خلاصې دي چې څومره به ښې خبرې ورته کوي او څومره به د غیرت؟ تر نامه لاندې څه او څه ورته لیکي او وایي، خو دا لکه غر ورته ولاړه ده او په پراخه حوصله یې ښه هم ښه ګڼي او بدو ته یې هم استدلال وړاندې کوي. دا د ثنا د استدلال یوه بیلګه ده:

«که زه کله د خلکو د ناسم چلند په اړه لیکنه کوم دلیل یې دا نه دی چې ټول افغانان همداسې دي. له لاندینیو څو تبصرو وروسته بیخي ډېر د ملاتړ، تشویق، انسان دوستۍ او مینې پیغامونه راغلل. د ټولو دې کور ودان وي. زه تل وایم او بیا یې هم وایم. زما په دې څه باندې ۴۰۰ زرو ملګرو کې یې ښایي ۵ زره سخت دریځه، له خولې سپک، بې منطقه او هغسې کسان وي چې د پرمختګ ضد دي. دا نور ټول هغه څه غواړي چې د خپلو خلکو خیر یې پکې دی. نو د ښو تله مو تل درنه وه او ده. د څو کسانو سپکاوی مو باید د خپلې ټولنې د بدو دودونو او اړخونو له نقده او ورته د حل له لټولو را ونه ګرځوي#تعلیم .»

ثنا ساپۍ د یوې ژورنالستې په توګه پراخه حوصله او زغم لري، خو دا پراخه حوصله او زغم خو داسې نه وي لکه د بکوا دښته، د بکوا دښته به هم سر او پای لري، مګر د ثنا ساپۍ حوصله تر هغې هم ډېره ده، خو کله، کله ځینو لیکنو او پیامونو ته بیا د ثنا ساپۍ څه چې، آن د لویو، لویو حوصلو خاوندانو د حوصلې دښتې هم پای ته رسیږي. یو واري مې چیرې له نظره تیر شول چې څنګه د ثنا ساپۍ د حوصلې دښته د جهالت په غضب لړلو، ځینو خلکو پای ته رسولې وه. دا د ثنا ساپۍ د حوصلې د پای ته رسیدو یوه بیلګه ده:

«فېسبوک ته مې مسېج راغی. تړنګ ته مې یې پام شو. د یوه افغان و. په اروپا کې اوسېږي نه سلام نه کلام، لیکي: نجلۍ ته دې ورځو کې ډېره آزاده شوې یې. تا ته نه ښایي چې د سړو په کارونو کې ګوتې و وهې. خپل سینګار کوه او ژاولې ژوه. ستا یې له نظر سره څه چې پر هر څه دې خوله را خلاصه کړې وي، کړتېږې مسېج مې بند کړ. ټوله کیسه د تېرې ورځې تبصرې وه. ما په خپل فېسبوک لیکلي و چې که کومه غوټه په لاس خلاصېږي، په خوله یې ولې خلاصوئ، جنګ بس کړئ. د فېسبوک نوي مسج غصه کړم. ځواب مې ور نه کړ. قهرېدلې په دې وم چې د ماشومې په سترګه یې را ته کتلي و او داسې یې لیکلي و لکه زه چې یې د کور له غړو څخه یم...»

په ژورنالیزم کې د ثنا زدکړې او په ژورنالیزم کې د دې فعالیتونه یو جلا او پراخ بحث ته اړتیا لري چې زه دلته نه ور باندې غږیږم.

دا چې څنګه ثنا د یوې مدني فعالې په توګه له بیلابیلو لارو نه تل هڅه کړې چې په خلکو کې د نوي نسل د روزلو له پاره د تعلیم عامیدلو نظریه رامنځ ته کړي، د دې بحث اصلي موضوع جوړوي.

ثنا ساپۍ د یوې مدني فعالې او ژورنالستې په توګه په خپل هر پوست کې د بیلګو په وړاندې کولو سره د تعلیم پلوي کړې ده. د دې له لیکنو او پوستونو نه ښکاري چې دا هم د افغانانو د ستونزو د حل او د پر مختګ یوازینی حل لاره په تعلیم او زدکړو کې لټوي.

ثنا ساپۍ هر څه په تعلیم پورې تړي، چې رښتیا هم همداسې ده. چې تعلیم نه وي نو، څوک څه نه شي تر لاسه کولی:

«اوس په ټوله نړۍ کې یو میلیارد خلک وټس اپ کاروي. که پر موبایل انټرنېټ ولرئ او دا اپ در سره وي نو د نړۍ هر ځای کې چې غواړئ له بل کس سره (چې وټس اپ ولري) وړیا خبرې کولی شئ#تعلیم .#علم #ساینس »

د ثنا ساپۍ هر پیام هم له اخطارونو ډک دی او هم له امیدونو. د هرې ستونزې ریښې په نه تعلیم کې وینې او د حل لاره یې هم تعلیم ګڼې، دغه لنډ پیام ته پام وکړئ:

«وایي "تر هغو چې دې ښځه، لور، زوی او لمسی کور کې لکه چرګان ساتلې وي او#تعلیم نه پرې کوې - خپلې ژبې، وطن او خلکو ته د خدمت نارې دې بې ځایه، بې مانا او بې ګټې دي".»

که د تاریخ پاڼو ته ښه ځیر شو، ډیر ځلې زموږ سیاسي او ادبي تاریخ پردیو لیکلی دی، او پردي یې چې لیکي خپله یوه موخه خو به په کې لټوي او ځوانه ثنا همدا نیمګړتیا یوازې په دغو لنډو تورو کې نوي نسل ته په مخکې ږدي، وګورئ:

«که #تعلیم نه وي، خپله کیسه خپله نشئ لیکلی نو ځکه یې نور درته لیکي او له خپلې اجنډا سره سم مو هر ډول چې غواړي رنګوي#افغانستان»
ثنا ساپۍ د یوې متمدنې محصلې او ژورنالستې په صفت هر څه چې ګوري، یا یې لولي، د هغو پایله په ډیر هنرمندانه ډول د یوه ډیر لنډ، خو با مانا پیام په ډول له خپلو هیواد والو سره په ټولنیزو رسنیو کې شریکوي.

ثنا کوم کتاب لوستی دی چې د فرانسې پرمختګ څنګه رامنځ ته شو او وروسته پاتې فرانسه څنګه په اوسنۍ پرمختللې فرانسې بدله شوه. ثنا له یوې خوا د لوی کتاب پیام په لنډ ډول له خپلو هیواد والو سره شریکوي او له بلې خوا بیا هم په عیني ډول ثابتوي چې هر ډول پرمختګ او نیکمرغي د تعلیم کولو په پایله کې را منځ ته کیږي، د فرانسې د پرمختګ اوږد تاریخ یې په څو کرښو کې بیان کړی دی او په پای کې یې لیکلي دي: تعلیم او رښتیا هم چې د یو ملي پروګرام له مخې د پرمختګ پلان په تعلیم سره تر لاسه کیدای شي. دا یې هغه لنډ مطلب:

«د یوه رومانیایي – امریکایي تاریخپوه، یوجین وېبر(Eugen Weber) کتاب لولم، نوم یې دی: د فرانسې له بزګرو فرانسویان جوړول (Peasants into Frenchmen) وایي له ۱۸۷۰ کاله وړاندې تر میلیون لږو فرانسویانو فرانسوي ژبه زده وه او هېڅ د یوه ملت په نامه څه نه و موجود. همدې، پاریس کې د ټولنې مشران مجبوره کړل چې لاس په کار شي او یوه واحده پېژندګلوي او یو ملت جوړ کړي. درې کاره یې وکړل:

اول: د هېواد په لر و بر(که ښار و او که لرې پراته او شاته پاتې کلي) کې یې وړیا لومړنۍ زده کړې (پر دواړو نر او ښځه)، هغه هم په ستنډرډ فرانسوۍ ژبه جبري کړلې. د حکومت ادارې (پوځ، قانون، د پولو ساتل او د وګړو شمېرنه) یې په ټول هېواد کې فعالې کړې.

دویم: د اقتصاد ښه کولو لپاره یې، سړکونه، کارېزونه، تیلیفوني، پوستي سیستمونه، یوه پیسه، یو بازار، او ګمرکونه جوړ کړل او له خلکو یې د مالیې ټولول ځان ته اسانه کړل.

دریم: کلتوري یوالی یې را منځ ته کړ. ادارو کې یوه رسمي ژبه، په ستنډرډ فرانسوۍ ژبې د کتابونو، او ورځپاڼو چاپول، ملي اکاډمۍ، ملي ګلرۍ، موزیمونه، او پوهنتونونه پرانیستل. د ملي خوښیو او غم ورځو لمانځل او یاد یې پیل کړ – داسې چې ټول ملت (که ښارۍ/ی و او که کلیواله/ل) برخه پکې اخیستی شوی.
دا هر څه د حکومت، مدني ټولنو او ولس په همکارۍ وشول. نو پایله یې اوسنۍ فرانسه ده چې هر کال د نړۍ تر بل هر هېواد ډېر سپلانیان ورځي - ۲۰۱۴ کال کې یې د مېلمنو شمېر څه کم ۸۵ میلیونه و#افغانستان .#تعلیم»

ثنا ساپۍ په خپله فیسبوک پاڼه کې هره ورځ دې ته ور ته پیامونه آنلاین کوي چې شمیر یې ښایي سلګونو ته ورسیږي او ما یې دلته د بیلګې په ډول څو نمونې را واخیستې.

په هر صورت او هر حالت کې چې وي، ثنا خپله خبره په زړه کې او ککره کې نه ساتي، وايي يې او له ټولو سره يې شريکوي او په رښتيا هم هر پوست يې د يو کتاب په شان پيام لري. په لاندې پوست کې به وګورئ چې د يو پروفيسر د خولې خبرې را اخلي او نن ورځ دغه خبرې زموږ په وطن کې پر هغو خلکو عملي رواني دي چې ځان اکثريت ګڼي، خو په پوهه او تعليم کې يې ځان او خپل خلک داسې په اقليت کې ساتلی دی چې ښايي نسبت نورو ته په دوربين او ذره بين کې هم ښکاره نه شي، نوهمدلته دی چې د پوهې او تعليم د نه تر لاسه کولو په صورت کې په تدريجي ډول د خپل ځان، خپلې کورنۍ، خپل قوم او خپلو خلکو د بربادۍ سند په خپله امضا کوي. دا هم د ثنا او د هغې د پروفيسر خبرې:

«د سياسي چارو له يوه انګرېز پروفېسر سره مې خبرې کولې – موضوع پر سياسي تاوتريخوالي، ټولنې او خلکو باندې وه. يوه خبره يې اشنا ښکاره شوه. ويل يې، "که#تعليم و نه کړي، سياسي تله يې نوره هم سپکه کېږي، خپله لويه ونډه له لاسه ورکوي ځکه د نفوس له پلوه به اکثريت وي خو د پوهې له پلوه به اقليت شي او هغه اقليت چې په سيستماتيک ډول يې له تعليمي پلوه ځان رسولی دی واکمن به وي. کلتور، ژبه او ارزښتونه به يې هېڅ وزن نلري او نه به څوک ری پرې وهي. نړيوال به هم هېڅ ليوالتيا ورسره نه لري ځکه هېڅا سره دومره وخت نشته چې پر يو شاته پاتې قوم يا ولس يې ضايع کړي. که غواړي چې لکه رمه يې نور و نه پالي نو بايد له مشره نيولې تر کشره (دواړه ښځې او سړي) تعليم وکړي که نه کيسه يې مفته ده. دا کار بايد ډېر ژر پيل کړي ځکه ډېر وخت ورسره نشته".»

په ټولنه کې هيڅ داسې ستونزه او بد مرغي به نه وي چې د تعليم په نه شتون پورې اړه و نه لري، او ثنا ساپۍ د ټولنې ستونزې يو په يو په نښه کوي او له دلايلو سره يې وايي چې که تعليم نه وي ، نو همداسې ستونزو سره به لاس ګريوان يو، ځکه نو د هر پوسټ په پای کې وايي او ليکي: تعليم، وګورئ:
«د #پکتيکا دې حالت ته د انسان زړه ټوټه ټوټه شي. خو د ځينو دا دليل چې 'ته پر خپلې لور تعليم و نه کړې، داکټره به له کومه کوې؟' هم پر ځای دی. نو ځکه دغه حال دی#تعليم_فرض_دی» .

د تعليم د عامولو په لاره کې ثنا ساپۍ د خپلې لارې د نورو ملګرو په فعاليتونو هم خبره ده او د هغو په فعاليتونو دومره خوشاله ده چې لا خپله ګټلې جايزه هم هغو ته ورکوي. دا خپله جايزه د «قلملار» ټولنې ويسا ورونو ته ډالۍ کوي چې هغوی هم د علم او مطالعې د عامولو له پاره د ګدايي کچکول په غاړه کور په کور، کلي په کلي او ښار په ښار ګرځي د کتابونو درويزه کوي او بيا يې اړو ماشومانو ځوانانو او د مطالعې اهل ته رسوي. ويسا ورونو ته ثنا داسې ليکي:

«په لندن کې د افغان غږ په نامه راډيو ۵مه کليزه وه. په اړه يې يوه غونډه وه او مشرانو يې دا جايزه را ډالۍ کړه... د افغان غږ راډيو د ټولو ملګرو او بنسټ ايښودونکي غرغښت غرغښت له پېرزويني مننه. ژوندي دې وي. ما خپله ونشوی کړی غونډې ته ورشم نو همکار اسماعيل مياخېل مرسته وکړه او اوارډ يې زما پر ځای واخيست. زه غواړم دا جايزه هغه کس ته ډالۍ کړم چې په رښتيا يې وړتيا لري او د قلم په برخه کې عملي کار کوي ـ مطيع الله ويسا. ښاغلی ويسا او کورنۍ يې عملاً د وطن بېلا بېلو سيمو ته ځي، د بندو ښوونځيو د پرانيستو هڅه کوي، کتابتونونه جوړوي او له تعليمه پاتې ماشومانو په غم کې دي. د هغه افغانستان په هيله چې ټول وګړي يې #تعليم ولري او قلم ورته نور نا اشنا نه وي.

«Matiullah Wesa

تر هغه ځايه چې ما ته مالوم وو، پر ځينو هغو اشخاصو مې مقالې ليکلې دي چې د نوي نسل د روزنې اود هغوی پرتعليم باندې يې ټينګار کړی دی، د تعليم د عامولو له پاره يې فکر او کار

کړی دی، خو پر تعلیم باندې د ثنا ساپی ټینګار او په دې لارې کې نظري او عملي کار بې جوړې دی. تر نن پورې مې هیڅ بل تن نه لیدلی او نه مې اوریدلی چې د ثنا غوندې دې پر تعلیم ټینګار وکړي او دومره تبلیغ دې ور ته وکړي، ثنا د نوي ژوند او نوې ټولنې جوړول او د نوي انسان روزل په تعلیم پورې تړلي ګڼي او ټول ټینګار یې پر دې باندې دی چې هر څه په تعلیم سمیږي. پرته له استثنا هره ورځ یو دوه پوستونه داسې لیکي او تر ټولو یې رسوي چې اوس یې په غیاب کې د تعلیم مور ګڼي او څوک چې چیرې د تعلیم نوم واخلي نو ځینې غږ پسې کوي چې:

«ته اوس دې د ثنا ساپی بچي ته ګوره»

ثنا ساپی ډیره ځوانه ده خو څنګه چې له یوې خوا یې د تعلیم د عامیدو له پاره فعالیتونو او عملي هلو ځلو ته ګورم او له بل پلوه خلک هم غوښتي او نا غوښتي وایي چې د تعلیم له پاره مبلغین د ثنا ساپی زامن دي (ته اوس دې د ثنا ساپی بچي ته ګوره) نو زه یې اړینه ګڼم چې سر له همدې اوسه و ویل شي:

ثنا ساپی د تعلیم مور ده!

ثنا ساپی د تعلیم د لارې قهرمانه ده!

لیدل شوي دي چې سیاسیون او د ټوپک او وژنو د لارې لارویان خپلو مشرانو ته د ټوپکوالی او وژنو په خاطر قهرماني ورکوي، زه خو هم حق لرم چې د یو ښونکي او قلموال په توګه، یو قلموال ته، د انسانیت او انسان روزنې په لاره کې د کړو خدمتونو په پار قهرمان و وایم، نو سر له همدې اوسه زه وایم چې:

ثنا ساپی د تعلیم د لارې قهرمانه او د اوسني تعلیم مور ده.

د مقالې د ښه پای له پاره د ثنا په تعلیم پورې اړوند څو خبرې:

«که زما خور بې تعلیمه وي زما ورور ارامه او خوشاله ژوند نشي کولی. تل به یې کور وران، عزت تالا او ماغزه ناکراره وي. د نجونو او مېرمنو #تعلیم د ټولې کورنۍ په ګټه دی نو خپله پښه په خپله په تبر مه وهئ.»

«وایي که ښه اقتصاد غواړې باید تعلیم کړي خلک ولرې چې پوه شي څه کار و بارونه پیل کړي. اقتصاد پوهانو ته اړ یئ چې پوه شي کومه اقتصادي تګلاره یې وطن ته ښه ده. او پوه خلک دې پکار دي چې سیستم جاري وساتي. دواړه نارینه او ښځینه باید کار وکړي چې هماغسې یې سیال وساتي. د بریتانیا ټول نفوس نژدې 64 میلیونه دی. ښځې تر سړو ډېرې دي. 38 میلیونه خلک یې کار کوي. که یې ښځې په کور کښېنې #اقصاد به یې هم ورسره خراب شي. بیا به نه د نړۍ پنځم اقتصاد وي او نه به له نړیوالو مشرانو یادېږي. سیالي داسې نه کېږي چې هغه بل دې شپه او ورځ خولې تویوي او نور دې کور کې بې #تعلیمه، بې مسولیته او بې کاره پښه اړولې ناست وي. که څوک تعلیم نه کوي بیا دې شکایت هم نه کوي#تعلیم_فرض_دی» .
«#تعلیم چې دې وکړ (لارې ګودرې دې ولیدې) د خپل حق غوښتلو په چل هم پوهېږي. #افغانستان»
«په #افغانستان کې که ماشوم ښوونځی نلري پېره او حل یې دواړه له ما او تا سره دی. خپګان نه، کار غواړي#تعلیم_فرض_دی .»

«تر هغو چې مو ښځې پر خپلو پښو و نه درېږي ټولنه مو له روانو بدبختیو نه خلاصېږي. حل یې پر ښځه او نر #تعلیم دی.»

«ویاړلي او د ستایلو سړي داسې وي. تر هغو چې مو ښځې پر خپلو پښو و نه درېږي ټولنه مو له روانو بدبختیو نه خلاصېږي. حل یې پر ښځه او نر #تعلیم دی».

ثنا په ټولنیزو شبکو کې ډېره مثبته فعاله ده او هر پوست کې یې د یو کتاب په انداز مفاهیم نغښتي وي چې د نوي نسل په روزلو کې او د تعلیم په عامېدو کې یې زه ډېر لوړ او مثبت ارزوم. د ثنا د څو پوستونو بېلګې دا دي:

«په #افغانستان کې مې د څو تلویزیونونو اختریز پروګرامونه ولیدل چې له پخوا د کیفیت، ستایل، او ټول جوړښت له پلوه ډېر ښه شوي دي. څو ټکو ته مې پام شو:

- عمده رول پکې ځوانان اجرا کوي چې دا ډېر ښه خبر دی .
- تر ډېره د یوالي هڅه کېږي چې بیخي عالي کار دی .
- د موسیقۍ پروګرامونه دي، سندرغاړې هم مېرمنې وي خو ورته ناست ټول 90 % سړي دي. دا بده خبره نه ده خو همدغه ښاغلي کولی شي چې خپل یوه خور، مور، مېرمن او یا لور هم ورسره ورولي. د دې ګټه دا ده چې ورو ورو به د ټولنې واکمن دودیز سیستم یو څه بدل شوی وي او هم به مو د کور ښځو ته یو څه تفریح شوې وي .
- د فارسۍ په پرتله په پښتو پروګرامونو کې ګډونوالي ښځې داسې راته ښکاره شوې چې نور هم ډېرې زړه ورې کېدی شي. نجونو او مېرمنو که دا لیکنه لولئ، په چا ری مه وهئ!!هغومره چې د بل چا حق دی چې په ټولنه کې فعال واوسي، هماغومره حق ستاسې هم دی نو مه پرېږدئ چې د نورو د تاثیر/ اغېز لاندې راشئ. زه دا خبر تل خپلو خویندو ته هم کوم.

#تعلیم_فرض_دی#LiterateAfg ☮☮ «

«که زه د ګ.#حکمتیار پر ځای وای نو ویل به مې چې یاره اشنا ښه ژوند دې وکړ، نړۍ دې ولیده، خلک دې وپېژندل، بچې دې غټان دي، هر یو خپل ژوند لري، د پیسې مېسو غم دې هم نور نشته، جګړه او سوله دې هم وکړه. ژوند ډېر لنډ دی نو ایله ۳۰ کاله نور به دې پاتې وي. نه واک غواړم، نه سیاست کوم. نه اولاد، بل کس یا ځان لپاره خپل ځان په عذابوم. را پاڅېږم او په ټول #افغانستان کې تعلیم لپاره کار کوم چې هر افغانه ښځه او سړی تعلیم وکړي. له دې سره به هم افغانستان له کړاونو خلاص شي او هم به مې داسې څه په میراث پرې ایښې وي چې له مرګ وروسته به مې خلک په جګړه نه بلکې په سوله یادوي او وایي به چې هغه سړی چې سوله یې وکړه او بیا یې داسې یو کار وکړ چې زموږ ننني بریا یې ممکنه کړه. زموږ نسلونه یې له بربادۍ وژغورل. ښایي په همدې کار د سولې نوبل جایزه هم وګټم. تر هغو چې مو هر افغانه او #افغان تعلیم و نه کړي ستونزې مو نه حل کېږي – لیکلي یې در واخلئ .
#تعلیم_فرض_دی#LiterateAfg ☮☮

«پاکستان کې ۶۰ فیصده خلک لیک لوست کولی شي

افغانستان کې ۳۸ فیصده خلک لیک لوست کولی شي

ایران کې نژدې ۹۰۰ فیصده خلک لیک لوست کولی شي

نو له #پاکستان، #ایران او نورې نړۍ سره په سیالۍ کې موږ تر هغو ناکامه یو چې پر خپلو خلکو لیک لوست و نه کړو. راځئ له خبرو تېر شو او اصلي مبارزه، سیالي او وطنپالنه پیل کړو. هر داسې کس ته لیک لوست ور زده کړو چې اوس یې نه دی زده. په دې ډول به تاسې

هم خپلې دې دنیا او هم هغې دنیا ته کار کړی وي. #تعلیم_فرض_دی ☮ ☮ #LiterateAfg»

«کله چې پاکستان لارې وتړلې او احساساتي خلکو د مظاهرو تکل وکړ، نو ثنا جاني داسې ولیکل:
چې ډنګ شي وایي د #پاکستان او #ایران پر ضد مظاهره کوو. ښه و یې کړه خو دا لنډ مهالي کارونه
دي .حل نه دی. که غواړې سم اعتراض وکړې پر ښځه او نر دې تعلیم وکړه چې بیا په ټول عمر پورته درته و نه ګورې. هغوی ولې تر تا دومره مخکې دي؟ بل هېڅ کمال نلري، تش په تعلیم یې خپل خلک رسولي. دا مظاهره دې هر یو له خپل کوره پیل کړي، بیا یې نتیجه ګوره .#افغانستان او افغانان په اوسني حالت کې شتمني نه لري ځکه د هېچا سترګه نه ترې سوځي. پیسې، تعلیم کړی ولس، لوړ کلتور، بل سمبولیک ارزښت لکه د بریتانیا شاهي کورنۍ او تاریخ یې، او په سیالۍ کې مخکې والي (لکه امریکا) ته شتمني وایي.

#تعلیم_فرض_دی ☮ ☮
«#LiterateAfg

د مورنۍ ژبې د ورځې خبرې تر هغو بې مانا دي چې تعلیم و نه کړئ او پر ښځه او نر عام نشي. ژبه په
ویلو نه ساتل کېږي. په لیکلو ساتل کېږي او خلک هعه وخت لیکل کولی شي چې تعلیم وکړي .#پښتو مړه ده. که خانان همداسې روان وي، دا څه سا چې لري هغه یې هم په درېدو ده .پښتو بل څوک نه وژني، موږ خپله پسې را اخیستې ده .#تعلیم_فرض_دی ☮ ☮

#LiterateAfg

«په دې کې باید موږ مخکې وی ځکه کال ۱۲ میاشتې ښه پریمانه او ګرم لمر لرو خو غم دا دی چې د دې
شي چل نه راځي!! د بې تعلیمۍ نتیجه خو ګورئ! تر هغو چې د دې غاړې او هغې غاړې پښتانه پر ښځه او نر تعلیم و نه کړي همداسې به کړېږي، په خپله شتمنۍ کې به بې عزته، په خپل لویوالي کې پرېوتی، په خپل ژمي کې له یخنۍ مړه، او خپل کور کې بې کوره وي .
#تعلیم_فرض_دیLiterateAfg# ☮ ☮

«دې پروګرام کې برخه واخلئ او نومونه ورسره ولیکئ لطفاً. که یې وړتیا ولرئ خامخا به دنده پیدا کړئ او که دا ځل ونشو پر ځان لا نور کار وکړئ چې شرایط یې پوره کړئ - اخر به وشي. نور ملګري هم خبر کړئ لطفاً خو پام مو وي چې بې تعلیمه هېڅ هم نه کېږي .

#تعلیم_فرض_دی ☮ ☮
«#LiterateAfg

مریم امرخیله

د مریم امرخیلي غږ

اتلسمه مقاله

«زه د هغو پیغلو دردیدلي چیغه یم، چې په ستوني کې خپ، خپ
ژاړي او چیغې یې هیڅوک نه اوري. غواړم د هغوی
پټه، پټه ژړا په داسې یاغې چیغې بدله کړم، چې
له شرقه تر غربه یې ناره د ټولې نړۍ تر
غوږونو پورې و رسیږي.»

(مریم امرخیل)

مریم امرخیل زما له نظره د تعلیم کار او زیار یوه داسې ژوندۍ بیلګه ده چې هر څوک باید ور باندې و ویاړي، ځکه چې زموږ د ټولنې په دې روان اړو و دوړ کې، د یوې کلیوالې نجلۍ له پاره د دومره ستومنزمنو کارونو تر سره کول ګران نه، بلکې نا شوني دي، خو مریم د هر راز ستړیاوو او خطرونو په منلو سره دا ویاړمن کارونه تر سره کړي دي، د تعلیم او نوي ژوند له پاره یې د بیلګې په ډول داسې لار آواره کړې چې په دې پسې راتلونکي نسلونه به په آرامۍ او

پرته له کوم ډار نه ور باندې روان وي. د دومره خطرونو او زیارونو په ګاللو سره مریم امرخیل وښوده چې پر خپلو پښو د دریدو او پر ځان د بسیا کیدو یوه غوره او ژوندۍ بیلګه ده.
د مریم امرخیلې د لنډ ژوند لیک له لوستلو پوه شوم چې، مریم له تیارو راوتلې ډیوه ده او دا ډیوه په خپل استعداد او همت سره توانیدلې ده چې د زماني له بادونو، طوفانونو او نادودو سره مبارزه وکړي او ځان د ژوند هغې پوړۍ ته ورسوي چې اکثریت خلک یې په ډیر اوږده عمر کې هم نه شي ور رسولای.
د مریم امرخیل بیوګرافي په ځینو آدرسونو کې په لنډه او اوږده بڼه خپره شوې ده، خو ما تر هر څه د مخه له دې سره د فیسبوک له لارې اړیکې ونیولې او د بیوګرافۍ د لا بشپړتیا په پار مې څو پوښتنې د دې په آدرس ور ولیږلې، زما د لیک او پوښتنو متن دا دی:
زما سلامونه او نیکې هیلې ومنئ!
هیله ده هر څه ښه وي.
ستړې مه شې، هر کله راشې!
تاسو له تورو تیارو څخه زدکړې او هلې ځلې را پیل کړې دي او اوس هر چا ته پته ده چې د خپل مزله لاره مو تر څو پټه پایو پورې په بریالیتوب سره وهلې ده.
د تعلیم د نهضت د لا پراختیا او د زدکړو له پاره د نورو ځوانانو د ښه تشویق په پار، ما وغوښتل چې لکه د ثنا ساپۍ غوندې ستاسو پر کامیابو فعالیتونو باندې هم یو څه ولیکم او دا وښیم چې تاسو د تعلیم او کار تر ټولو ځوانه او کامیابه بیلګه یاست او د نورو ځوانانو او پیغلو له پاره به سر مشق هم شي. که د مقالې د لا غنا له پاره زما دغو پوښتنو ته لنډ ځوابونه راکړئ، مهرباني به مو وي:
ـ که مو چیرې بیوګرافي خپره شوې وي، لینک یې را ولیږئ او که نه، نو ډیره لنډه بیوګرافي مو را ته ولیکئ،
ـ څومره او څه مو تر اوسه د تخلیق یا تحقیق په برخه کې لیکلي او خپاره کړي دي؟ که مو کړي وي چیرې؟ لینک یې را ته ولیږئ،
ـ کله مو د لیسانس دوره پای ته ورسوله، د مونوګراف موضوع مو څه وه؟

ـ کوم مدني فعالیتونه مو تر سره کړي دي؟
ـ د زر تار کیسه هم لنډه راته ولیکئ،
ـ د سولې جایزې ته چې کاندیده وې، هغه څنګه شوه؟
ـ آیا اوس رسمي دنده لرئ؟ که یې لرئ، څه دنده تر سره کوئ؟
ـ په راتلونکې کې د نورو زدکړو او مدني فعالیتونو په برخه کې څه پلان لرئ؟
د اوس له پاره همدومره.
بریالیتوب مو غواړم،
تر بیا
او مریم امرخیلې په ډیرې حوصلې او مهربانۍ سره د خپل ژوند، بیوګرافۍ، کارونو او زدکړو په باب زما په پته مالومات را ولیږه، زه یې په امانتدارۍ سره دلته ږدم:

«سلامونه!

بهاند صیب مننه کوم بیا هم،

د ویکي پیدیا په دغه لینک کې زما د لیکنو په اړه ټول معلومات شته،

په ۱۳۹۴ کال کې مې د لیسانس دوره پای ته ورسېدله.

کله چې مې ښوونځي له پاره درې کاله تېر کړل، زیاته به خفه کېدم خو دا هر څه مې د خپل راتلوونکي او د نورو هغو نجونو چې په کلي کې وې. ټولو به راته همدا خبره کوله چې ته

یوازېنی کس زموږ له ډلی څخه یاست نو د همدې په خاطر به مې هره سختي زغمله او مور پلار ته به مې د خپل خفګان یا نور هیڅ نه ویل. کلي ته به چې لاړم د پخوا غوندې شوخه خندانه نه وم، خو مور پلار ته به مې ویل زما درسونه زیات دي ځکه له جسمي لحاظه زیاته کمزورې کېدمه، خو هیڅکله مې خپلې موخې په هیڅ قیمت نه غوښتل بې برخې شم او زه پوهېدم که غواړم د نورو سره مرسته وکړم نو یوازې تعلیم او علم حاصلول دي چې باید تر آخرې سلګۍ ورته زیار وباسم ښونځی مې د ماما کور کې پای ته ورساوه، نور مې غوښتل باید خپلې خویندې ورونه او د تره اولادونه لږ تر لږه کابل ته راولم، نو خیاطي مې فکر ته راغله او دغه کار مې ټول پلان جوړ کړ. پنځه سوه روپۍ مې له خپلوانو پور کړې او لومړنی عاید مې څلور زره افغانۍ او دغه شان وروسته، وروسته دومره په ځان بسیا سوم چې ما به د شل زرو زیات او کم میاشتنی عاید و، نو هغه ما وغوښتل دغه مسلک عام کړم او نورو ښځو سره مې دغې برخه کې مرسته وکړه. د هغوی له پاره مې لومړی خام مواد او نور واخیستل، بیا به ما ورته پلورل، تر څو دوی کابل کې پاتې شي. د دوی لونې او زامن باید له درس څخه بې برخې نه شي.

کله چې سږکال زه وپوهېدمه چې کولی شم یوه وړه کمپنۍ جوړه کړم، نو د زرتار په نوم شرکت مې جوړ کړ او دا مې د ننګرهار، کاپیسا، لغمان، غزني، پکتیا، میدان وردګ ولایت او خپله مرکز یې کابل کې و، چې د دغو ولایاتو نه ما تر خپلې وسې دیرش او څلویښت میرمنې په کار کې ونیولې لومړی مې ورته خام مواد واخیستل او بیا مې د هر ولایت له پاره یو نماینده چې نجلۍ وه، ټاکلې وه. هلته مو دا مواد ورکول هغوی جوړول او موږ بازار کې ورته پلورل چې د هغې له برکته به هرې میرمنې د میاشتې درې تر شپږ زرو افغانیو معاش اخیسته چې د ټولو مجموع ۲۵۰ میرمنو ته رسیږي، خو اوس یې زیاتره میرمنو ته دهغوی خپل خاوند، ورور یا بل څوک پلوري او دغه شان زه کوښښ کوم د دې لاسي کارونو له پاره د نړیوال بازار پام را جلب کړم چې اوس په همدې کارونو بوخته یمه.

د سولې جایزې ته ځیني دوستانو نومانده کړم کمپاین هم ډېر ښه و، تر دې حده چې زما پروفایل د اوو ملکو په نمایندګانو کې زیاتو کسانو لوستی او خوښ کړی و؛ خو له بده مرغه چې زموږ د ګروپ نه یوه پاکستانۍ نجلۍ بریالۍ شوه چې دغې جایزې درې برخې لرلې چې له افغانستان څخه یوازې حبیبه سرابي وکړلی شول دغه جایزه تر لاسه کړي.

زه دومره پوهیږم چې تر آخره زیاته ډاډه وم او که د کمپاین خبره وه تر هر چا مخکې وم خو خیر دا هر څه ژوند کې راځي او د دې پایله واضح وي، یا به یې ګټې، یا به یې بایلې؛ نو دا دومره ستونزمنه خبره نه ده راته. ځکه زما دریځ معلوم دی او زه تل غواړم یوازې خپلو خلکو او هېواد ته تر خپلې وسې، وسې زیات کار وکړم.

تر اوسه کومه رسمي دنده نه لرم او نه کوم پلان ورته لرم چې رسمي دنده تر سره کړم. زه غواړم ډېره آزاده و اوسم او وکولی شمه خپل پلانونه او کارونه په ښه او عالي توګه تر سره کړم.

خو بیا هم د چنار راډیو سره کار کوم تر څو لرې پرتو او نا امنو سیمو ته ښې خپرونې و رسیږي، چې د ښځو د ستونزو په حل کولو کې فعاله ونډه ولري.

زما ټول پلان د افغان ماشومانو په تعلیم باندې را څرخي او دغه شان د میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا له پاره نوې طرحې او پلانونه لرم، چې تطبیق یې کړم.

خدای دې وکړي بهاند صیب کوم څه چې تاسې پوښتلي وو، د هغو اړوند مې ځواب درکړی وي.

تاسې دې هم خدای آباد او خوشحاله لري.

مننه»

وروسته له هغې چې مریم امرخیل د سولې جایزې ته کاندیده شوه، د میډیا پام ډیر ور وا وښت، په افغنستان کې د ننه او له افغانستان نه د باندې لیکنې ورباندې و شوې. هغه څه چې زما له نظره تیر شوي دي او د مریم په باب زما د څو میاشتنیو څیړنو په ترڅ کې ما تر لاسه کړي دي د هغو په رڼا کې به د مریم په باب دا مقاله و لیکم.

هغومره چې ما له هیواد والو، په خپله له مریم امرخیل او میډیا نه د مریم امرخیل په باب اوریدلي وو، د ا مالومات ما ته د قناعت وړ ونه ګرځید، نو ځکه مې د یوه څیړونکي په توګه د نوي نسل د روزنې د دې پیاوړې غړې او لا سر لارې د ښې پیژندنې په موخه، نورو پټو ته هم سر ور ښکاره کړ. په نوو آدرسونو کې ډیری مالومات د دې په باب هماغه وو، چې د دې له لوري را لیږل شوي وو، خو په ځینو آدرسونو کې مې د دې په هکله دا نوي شیان و موندل:

دلته په اروپا کې د لومړي ځل له پاره د مریم امرخیل په باب کومه لیکنه او مالومات چې زما تر سترګو شول، هغه په «afghanasamai » ویبپاڼه کې د ښاغلي حمید عبیدي په قلم په هنرمندانه ډول هغه لیکل شوې مقاله وه چې د مریم د ژوند ډیرو مهمو برخو ته یې اشاره کړې وه. ده په اروپا کې له هر چا مخکې د مریم امرخیل د ژوند، زدکړو، کارونو او ستونزو په باب، د مریم له عیني ژوندانه او بیوګرافۍ او ښایي انتریوګانو نه په استفادې سره یوه داسې مقاله برابره کړې ده چې هم حقیقت لري او هم په ماهرانه ډول د هنر تومنه ور اضافه شوې ده. ښاغلي عبیدي دا مقاله په افغان آسمایي ویبپاڼه کې خپره کړې ده. زه یې دلته د اړتیا له مخې ډیره برخه را اخلم:«

مریم و کلید های جادویی اش:

کودکی و فرصت بازی های کودکانه را فقر از مریم ربوده بود. «از مکتب که میآمدم و نان چاشت را میخوردم با زنان و کودکان همسایه به قالینبافی می پرداختم. پس از آن میرفتم و علف جمعآوری میکردم. شب در نور چراغک تیلی دست ساخت مادرم درس هایم را میخواندم».

او که در کمپ مهاجران افغان در پیشاور زنده گی می کرد از طریق مسجد با مکتب آشنا شد. «زمانی که پدرم مرا به مسجد نزدیک خانه برد تا نزد ملا قرائت قران شریف را بیاموزم با زینب آشنا شدم. زینب به مکتب هم می رفت. او از مکتب قصه هایی میکرد که در دلم شوق رفتن به مکتب را بر انگیخت.

یک روز ملای مسجد از لیاقت و کوشش من نزد پدرم توصیف بسیار نموده بود. پدرم وقتی به خانه آمد برایم گفت هر تحفه یی که از او خواسته باشم برایم تهیه خواهد کرد. من گفتم که هیچ تحفه یی نمیخواهم و خواهش کردم که مرا به مکتب داخل کند. پدرم خواهشم را پذیرفت . در همان سال اول نه تنها اول نمرهٔ صنف شدم ، بل چون هر متنی را میتوانستم روان بخوانم ، به نام بلبل شهرت یافتم».

وقتی خانواده تصمیم گرفت تا به افغانستان برگردد، ذهن مریم را این پرسش نیش میزد که در افغانستان مکتب وجود دارد یا خیر. هنگام وداع معلمانش او را در آغوش گرفته و گریسته بودند. و او خود نیز نگران بود. شش خانواده دار و ندار شان را در یک لاری بار کردند و در حالی که خود بر فراز بارها نشسته بودند، به سوی افغانستان حرکت کردند. مریم هفت ساله نیز در حالی که کتاب های مکتب و پارچهٔ اول نمره گی فراغت از صنف اول را در آغوش میفشرد، در کنار خانواده اش نشسته بود. «هر جا که پولیس ها برای تفتیش به موتر بالا میشدند، من پشتی کتاب ها و پارچهٔ مکتبم را برای شان نشان میدادم. در تمام راه ترانه هایی را که در مکتب یاد گرفته بودم میخواندم و گرچه عابرین کنار جاده را نمی شناختم با آنان خداحافظی

میکردم. ما به وطن بر میگشتیم . آن وقت هنوز تعریفی برای وطن نداشتم. و اما این قدر میدانستم که ما چون افغان هستیم به افغانستان تعلق داریم و افغانستان به ما تعلق دارد».

وقتی به دهکدهٔ آبایی اش در وردک رسیدند، مریم در جستجوی مکتب شد. «خوشبختانه در آن حوالی مکتب وجود داشت؛ و اما، بسیار دور از خانهٔ ما. از سه قریه باید میگذشتم تا به مکتب برسم. فاصله یگانه مشکل رفتن دختران قریهٔ ما به مکتب نبود. از قریهٔ های همجوار یک تعداد دختران به مکتب می رفتند. و اما، از قریهٔ ما هیچ دختری به مکتب نمی رفت. برخی افراد با نفوذ بر پدرم نیز فشار می آوردند تا نگذارد من به مکتب بروم. دلیل شان این بود که دختران اگر مکتب بروند ، چشم سفید خواهند شد. در این جا نیز مانند زمان مهاجرت به علاوهٔ مکتب، به مسجد نیز می رفتم و علاوه از آوردن علف برای گاو مان، به کار بافنده گی نیز میپرداختم. ملای مسجد ما از این که میدید من نتنها قرآن شریف را درست قرائت میکنم ، بل همچنان کتاب های دیگر چون گلستان ، بوستان و پنج گنج را هم میخوانم، مرا مورد تشویق قرار داد.

ملا به مردان قریهٔ ما میگفت که هیچ بچه یی- حتا آنانی که چند سال از او بزرگتر اند- در درس به مریم رسیده نمیتواند. همان بود که گپ های من و پدرم برای تشویق مردم به خاطر فرستادن دختران شان به مکتب گوش های شنوا یافت. به این ترتیب میان خانواده ها نوعی مسابقه و همچشمی برای فرستادن دختران شان به مکتب آغاز گردید- نتیجه این که همه دختران قریهٔما شامل مکتب شدند».

او در دنیای آرزوهای خود غرق بود که مصیبت دیگری سر راهش پدید آمد. «یک روز صبح که با دختران دیگر با شوخی و بازی و خوشی و خنده راهی مکتب بودم، در نیمهٔ راه مرد بد خلقی با تندی به ما گفت : خوب شد که مکتب را برای تان سوختاندند . حالا پیش از این که برای خود تان هم چیزی واقع شود بروید به خانه های تان. دختران دیگر از ترس و وحشت به سوی خانه های شان رفتند. من با یک خواهرخوانده ام با دلهره راه مان را به طرف مکتب ادامه دادیم. به مکتب که رسیدیم دیدم که خیمه ها،سطرنجی ها ، تعمیر ادارهٔ مکتب و تحویلخانه در کام آتش سوخته بودند. ما را نمی گذاشتند که داخل محوطهٔ مکتب شویم . و اما من با سر معلم یک جا داخل مکتب گردیدم. آن جا کنار نل آب نشستم و تا میتوانستم گریه کردم». بلی در سال ۱۳۸۶ طالبان مکتب را به آتش کشیدند و خوشی و امید مریم و ۱۱۰۰ دختر دیگر هم مکتبی اش را به غم مبدل ساختند. پس از این حادثه اکثریت دختران از ترس دیگر به مکتب نرفتند. به این ترتیب شمار شاگردان هر صنف از بیست تن به چهار تن کاهش یافت. مریم در صنف نهم بود که ریاست معارف دروازهٔ مکتب را بست و گفت توانایی پرداخت معاشات معلمان را برای تعداد اندک شاگرد ندارد.

و اما، مریم تسلیم سرنوشت نشد، بل سعی کرد بار دیگر خود سرنوشت خویش را رقم بزند. او به کابل رفت تا در آن جا مکتب را تمام کند. ولی دخترک دهاتی با استعداد و عاشق درس و مکتب در کابل با دشواری های دیگری رو به رو گردید . «زمانی که به کابل آمدم ، دختران جرار و جسور کابلی ، جرأتم را نیز از من گرفتند- نه بر زبان دری تسلط داشتم ، نه لباس و بکس شیک و نه قلم و کتابچه های خوب و فیشنی.

در چپن کلان و کهنه یی که نمی دانم مادرم از کجا تهیه کرده بود، خودم هم خود را گم کرده بودم. از نظر سن و سال نیز نسبت به همصنفانم خوردسال تر بودم.

با آن ریخت و لباس ، من موضوع شوخی و ریشخند همصنفانم شدم. اذیت و آزار به حدی بود که مرا به جان آورد. و اما، در این جا معلمان نه وقت داشتند و نه علاقه تا به مشکلات شاگردان برسند. زمانی که در کابل شامل مکتب شدم، به امتحانات زمان کمی مانده بود. تصمیم گرفتم بروم نزد معلم زبان پشتو – زیرا فکر کردم کم از کم او گپم را بهتر خواهد فهمید. ولی از طالع

بد، با سرمعلمه مواجه شدم. او بدون گپ و سخن یک سیلی بر رویم زد و گفت: تو این جا چی میکنی؟!

کوشیدم برایش بفهمانم که من تازهٔ شامل این مکتب شده ام. او با حیرت پرسید که با این سن و سال کم چه گونه ممکن است من شاگرد آن مکتب باشم. خوب به هر رو، با هم صحبت کردیم ...».
و مریم که عادت نداشت در برابر مشکلات تسلیم شود، برای هر مشکلی راه حلی می یافت. او که در خامکدوزی و خیاطی مهارت داشت، میکوشید تا نیازمندی های مکتب – از لباس تا پول کتاب و کتابچه و نیازمندی های دیگر- را از فروش محصولات دستی خودش تأمین کند. زبان را هم یاد گرفت. «پیوسته جملات تازه یی را که از دیگران میشنیدم با خود تکرار میکردم: خوب استی، جور استی، کجا میروی، نام تو چیست، نام من مریم است... و چنین بود که بالاخره زبان را یاد گرفتم.»
آنچه در کابل میدید برایش تازه گی داشت. «این که دختران با پتلون گشت و گذار میکردند و کسی برای شان چیزی نمی گفت برایم بسیار جالب بود. آرایش موهای معلمان ما هم مرا حیرت زده میساخت. جالب ترین سرگرمی برایم دیدن تلویزیون بود...»

وقتی مریم مکتب را تمام کرد و با سپری کردن امتحان کانکور شامل پوهنتون شد، مشکل دیگری سر راهش قرار گرفت؛ و اما، او این مشکل را به چانسی برای تمام خانواده اش مبدل ساخت. «پدرم از این که من به جای طب شامل فاکولتهٔ ادبیات شده بودم سخت ناراض بود. ادبیات انتخاب دلخواه خودم بود و به جای تسلیم شدن به خواهش پدرم، تسلیم خواست دل خودم شده بودم. پدرم نمی خواست به من اجازه بدهد که در کابل بمانم و به تحصیل در رشتهٔ ادبیات بپردازم. من پیشنهاد غافلگیر کننده یی به پدرم کردم. گفتم در کابل خانه گکی را به کرایه خواهم گرفت تا او هم با مادرم و خواهران و برادرانم به کابل بیایند. این طرح از نظر پدرم بیخی غیر عملی بود. مسالهٔ اصلی برای او این بود که پول کرایهٔ خانه و مصارف خانواده را از چه مدرکی تهیه خواهیم کرد. پولی را که از فروش محصولات خیاطی به دست آورده بودم، پیشش نهادم و گفتم در آینده نیز میتوانیم از این راه و کارهای مناسب دیگر پول کرایهٔ خانه و نیازمندی های دیگر را تهیه کنیم. او میدانست که گزافه گو و بی سنجش نیستم. بالاخره راضی شد. همه چیز را از صفر شروع کردیم و کم، کم توانستیم خانه گکی را که حالا داریم بسازیم. در این میان پدرم نیز که مکتب را پس از صنف نهم در اثر مشکلات پیش آمده ترک کرده بود، دو باره درس خواند و بالاخره دارالمعلمین را تمام کرد و اکنون در مکتبی که به کوشش خودش تاسیس شده به حیث تحویدار کار میکند. خواهران و برادارانم نیز مصروف درس و تحصیل اند. میتوانم بگویم که ما یک خانوادهٔ خوشبخت هستیم. خوب یگانه کمبودی که داریم دوری از پدر و مادر است. پدرم و مادرم به زنده گی دهاتی عادت دارند و در کابل دلتنگ میشوند. آنان ترجیح داده اند تا در همان دهکدهٔ آبایی مان زنده گی کنند.»

مریم که بیست بهار را پس از بیست زمستان دیده، سال گذشته از فاکولتهٔ ادبیات فارغ گردید. او اکنون در یک رادیوی محلی که در ولایات پکتیا، پکتیکا و خوست شنیده می‌شود، دو برنامه برای زنان دارد: یکی در مورد مشکلات خانواده گی و دیگری برای مصاحبه با فعالان حقوق زن و فعالان جامعهٔ مدنی. او همچنان مالک و مدیر یک شرکت خیاطی است. «دستگاه خیاطی را با استفاده از قرضهٔ کوچک یکی از خویشاوندانم زمانی که هنوز در مکتب بودم ایجاد کردم. حالا این شرکت خیاطی برای۲۵۰ زن که در مناطق دور افتاده و نا امن زنده گی میکنند، زمینه کار را فراهم ساخته است. شرکت برای این زنان مواد خام تهیه کرده و محصولات معین خامکدوزی و خیاطی را فرمایش میدهد و این محصولات را در بازار به فروش می رساند. از پول فروش محصولات هم مزد کار این زنان پرداخت میگردد و هم برای شان مواد خام مورد نیاز تهیه و فرستاده میشود. اکنون تولیدات شرکت « زرتار» به علاوهٔ بازار داخلی در یک

پیمانهٔ کوچک در هند، استرالیا، اوکراین و روسیه نیز به فروش میرسد. خوب امیدوارم با توسعهٔ بازار فروش تولیدات شرکت، باز هم بتوانم برای تعداد بیشتر زنان زمینهٔ کار را مساعد بسازم».

رنج و ناداری که مریم خود مزهٔ آن را چشیده در او رویای کشور و جامعه یی را ایجاد کرد که همه در آن از رفاه برخوردار باشند. «در کودکی بزرگترین آرزویم این بود که پادشاه شوم و آن گاه برای مردم خانه بسازم. پیرامون خانه ها باغ ها و پارک های سبز بسازم که در وسط آن ها مکاتب باشند تا دختران و پسران بتوانند با جرأت و خوشی به مکتب بروند. در خیالاتم در باغ ها کشتزارهای شفتل نیز وجود داشتند تا گاوها در آن ها بچرند و کودکان و زنان برای آوردن علوفه برای گاوها به زحمت نشوند. ساختن فابریکات و فروشگاه ها و چیزهای دیگر که هم برای همه کار ایجاد شود و هم نیازمندی های مردم مرفوع گردند نیز شامل خیالاتم بودند. کوتاه این که آدم خیالپرداز و خوشبین بودم. حالا که بزرگ شدم ام میدانم که تنها در حد توانم میتوانم برای خودم و دیگران کار مفیدی انجام بدهم. میدانم که هیچ کس و حتا پادشاهان و زمامداران نیز به تنهایی نمی توانند همهٔ این کارها را انجام بدهند. امروز رویاهای واقعبینانه تری دارم. آرزویم این است که زنان توانایی های خود را دریابند، این توانایی ها را به کار بیندازند و اطمینان به نفس کسب کنند. زنان باید این پنداشت نادرست را که آنان را «ناقص العقل» تعریف میکند از ذهن بزدایند. زنان با تبارز و اثبات توانایی های خود موفق خواهند شد این پنداشت نادرست را از ذهنیت جامعه نیز بزدایند. زنان میتوانند زنده گی خود، خانواده و جامعه را تغیر بدهند. من از روی تجربه خود اگر بگویم میتوانم بر آرزو، اراده، آموزش و استواری به حیث کلید باز کردن راه به سوی آینده تأکید ورزم...»

پاس مې د مریم امر خیلې په باب د ښاغلي حمید عبیدي د لیکنې یوه برخه را واخیسته چې د باندې له افغانستانه لیکل شوې او خپره شوې وه، اوس به وګورو چې په نورو آدرسونو کې د مریم په باب څه لیکل شوي او څومره مالومات وړاندې شوی دی:

په ویکیپیدیا کې هم د مریم امرخیل د زوکړې، زدکړو، هڅو او کارونو په باب مالومات شته چې زه یې په لنډه توګه د دې ځیرنې د بشپړتیا له پاره را اخلم:

د زدکړو په باب یې ویکیپیدیا داسې را ته وایي:

«اغلې مریم خپلې ابتدایه زده کړې په پیښور زاخیلو نومې سیمه کې د افغان کډوالو په یوه لومړني ښونځي کې پیل کړې.

په ۱۳۸۲ کال یې له پیښور څخه خپل هېواد ته کډه وکړه او دلته د میدان ښار د ده افغانان د نسوان د لیسې په پنځم ټولګي کې شامله شوه. تر نهم ټولګي پورې یې په نوموړې لیسه کې درس

و وایه، خو کله چې یې لیسه وسوځول شوه، کابل ښار ته کډه شوه او پاتې زده کړې یې د زرغونې په عالي لیسه کې تر بکلوریا پورې بشپړې کړې.

په ۱۳۹۱ کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه کې شامله او په ۱۳۹۴ کال له دغه پوهنتون څخه په غوره درجه فارغ التحصیله شوه.»

د مریم د دندو په باب باید و وایم چې مریم په خپلو تازه مالوماتو کې لیکلي دي چې اوس بیکاره ده، خو میدیا وایي چې پخوا یې دا دندې تر سره کړې دي:«

ـ په ۱۳۹۲ کال د قومونو او قبایلو چارو وزارت د دفتر په ریاست کې ماموره.

ـ په ۱۳۹۳ کال د ګوګل ژباړن پروګرام په انکشافي پروګرام کې د ایډیټرې په توګه.

ـ په ۱۹۹۳ کې د سرخط نومي ورځپاڼې د ښځو د برخې متصدي او لیکواله.

ـ په ۱۳۹۳ کال کې د چنار په نوم د راډیو د ښځو د پروګرامونو پروډیوسره او د خبرونو ایډیټره.

ـ د یوه شخصي سوداګریز شرکت مؤسسه او رئیسه.»

په مدني فعالیتونو کې د عملي ګام اوچتولو څو بیلګې یې دا دي:«

ـ د وردګو ولایت هغو ماشومانو سره په تعلیمي بهیر کې مرسته کول، چې ښونځي یې په جګړو کې سوځل شوي وو.

ـ په ۱۳۹۱ کال ۲۵ هغو کورنیو ته د کار زمینه برابرول چې غوښتل یې خپل ماشومان ښونځي ته ولیږي.

ـ له میدان وردګ ولایت څخه بې وزله ماشومان کابل ته د تعلیم د حصول په موخه انتقالول.

ـ د ۱۳۹۵ کال له پیل څخه هغو ۲۵۰ مېرمنو ته د لاسي صنایعو په برخه کې د کار زمینه مساعدول چې په بدل کې یې خپل ماشومان ښونځي ته ولیږي.

ـ د کابل ښار یو شمیر له رواني ستونزو سره مخامخ ځوانان د اروا پوهنې ځانګړو تربیوي کورسونو ته معرفي کول.

ـ د ښځینه قشر د ذهني کچې د لوړولو په موخه په لرې او نا امنه سیمو کې د راډیویي تعلیمي فیچرونو او پروګرامونو جوړول او خپرول.

ـ د میرمنو د ادبي او فرهنګي فعالیتونو د تقویت په موخه په کابل ښار کې د (میرمن ادبي بهیر) په پروګرامونو کې همیشنی ګډون.

ـ د ښځو د حقونو له پاره په مختلفو ټولنیزو برخو کې دوامداراو هر اړخیز فعالیت.»

زه به د مریم امر خیلې د قلم او لیکنو په باب وروسته خپل مالومات او تبصرې وړاندې کړم، سمدلاسه ګورو چې د دې د لیکنو په هکله ویکیپیدیا څه او څومره لیکلي دي:«

ـ په بدو کې د ښځو ورکړه،

ـ د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالي،

ـ د ښځینه تعلیمي بهیر د تنویر او د ښځو پر اقتصادي پیاوړتیا او د ځوان نسل د بیدارۍ په باب په لسګونومقالې،

ـ راډیوي خپرونې،

ـ د سیمنارونو له پاره ځیړنیزې لیکنې،

او د ورځپاڼو له پاره د راپورونو جوړول د اغلې امرخیل د لیکنو تر ټولو ستره منځ پانګه جوړوي.»

له «غمي» راديو سره د مريم امرخيلې يوه ځانګړې مرکه:

غمی، د بي بي سي روغتیایي راديويي مجله ده، له بي بي سي نه خپريږي، خو د يونيسف له خوا تمويليږي چې په اونۍ کې څلور ځلې خپريږي. اصلي موخه يې د کوچنيانو او د کورنۍ د غړو د ښې روغتيا او د ژوندانه د نېکمرغۍ اړوندې مشورې او عملي مهارتونه دي. مريم امرخيلې له غمي اونيزې راديو سره په يوه مرکه کې د خپلو کارونو، ستونزو، برياليتوبونو، لاسته راوړنو او نويو هيلو په باب څرګندونې کړې دي او دا خبرې د «غمي» راډيويي خپرونې په ۲۳ مه ګڼه کې د ۲۰۱۶ کال د دسمبر په ديارلسمه نيټه ايښودل شوې وې چې د فيسبوک په پاڼو کې زما پاملرنه ور واوښته، هلته له غمي راديو سره د مريم امر خيلې ياده انتريو په غږيزه بڼه ايښودل شوې وه، ما واوريدله، را ته په زړه پورې وه، ځکه ور ته ولګيدم او له غږيزې بڼې نه مې ليکنۍ بڼې ته واړوله، دا يې د انتريو يوه برخه ده:

«... زما ژوند داسې يو ژوند و، چې له ډيرو کړاوونو سره مخ شوې يم، باور مې نه کيده چې زه به خپلې زدکړې پای ته ورسوم...

زما په لويو لاسته راوړنو کې، يوّ هغه زما د ليسانس تر کچې زما زدکړې دي او بله لاسته راوړنه مې د «زرتار» کمپنۍ جوړول دي، چې زه يې خپله تر ټولو لويه لاسته راوړنه ګڼم.

کله چې په پاکستان کې وو، زما يادېږي چې زه شپږ کلنه وم، پلار به مې له ډير کار سره، سره ډير لږ مزد تر لاسه کاوه، نو ما به د خرما له پاڼو نه وا ړه ګلان جوړول او په دې ډول به مې د کور په اقتصاد کې مرسته کوله، کله چې افغانستان ته راغلو، زموږ په سيمه کې يوه نجلۍ هم ښونځي ته نه پريښودل کيده، زه لومړنۍ جلۍ وم چې ښونځي ته لاړم، ښونځي ته زما له تګ نه وروسته ښونځي ته د نورو نجونو تګ هم پيل شو. ښونځي ته د تګ په څنګ کې مې هم په کور کې او هم له کور نه د باندې له مور پلار سره په کارونو کې مرسته کوله، له ښونځي او تعليم سره زما مينه د دې سبب شوه چې د پلار په مرسته مې په تعليم پسې پښه کابل ته ورسيده.

لاسې کارونه هغه څه وو چې زه يې پر خپلو پښو ودرولم، په دې ډول و توانيدم چې په کابل کې ځانته کور په کرايه ونيسم او د تعليم له پاره خپلې خويندې او خپل ورونه کابل ته راولم. ما نه غوښتل چې هغوی له تعليم نه پاتې شي او له هغه نه مې وروسته د تره اولادونه هم د تعليم له پاره کابل ته راوستل.

ژوند کې مې تر ټولو ښه خاطره دا ده چې د سولې جايزې ته نومانده کړای شوم. يو سهار مې د خپل فيسبوک ور پرانست، که ګورم چې ليکلي:

«مريم امر خيله به د سولې جايزې ته کانديده کړو.»

زما باور نه کيده، ما ويل چې دا به څوک وي؟ ښايي کومه بله مريم امرخيله به وي، نو مې خپلې يوې ټولګې والې ته وليکل چې دا څوک ده؟ هغې را ته وليکل چې همدا ته يې کنه!

نو زه په دې ډیره خوشاله ځکه شوم چې ما ویل دې جایزې ته به زما کاندیدیدل د نورو نجونو له پاره یو سر مشق شي، ځکه هغوی په داسې چاپیریال کې ژوند کړی او ژوند کوي چې فکر کوي دوی هیڅکله چیرته نه شي رسیدلای او زه خپل کاندیدیدل د هغوی له پاره یو مورال ګڼم.

یوه لویه هیله مې دا ده چې زما «زر تار» کمپنۍ، چې ما د میرمنو له پاره جوړه کړې ده، دومره لویه او پراخه شي چې د ټولو ولایتونونو اړ میرمنې په کې کار وکړي او دا میرمنې له اقتصادي پلوه پر ځان بسیا شي او همدا «زرتار» مې د نړۍ په سطحه د افغاني کلتور د معرفۍ او غوړیدا یو لوی مرکز شي.
او له دې نه وړاندې زما د زدکړو مسأله ده، غواړم په تعلیم کې نور هم پرمختګ وکړم او خپله ماستري او دوکتورا دیپلوم هم تر لاسه کړم.»

د مریم امر خیل د همدې مصاحبې نه لاندې په کامنټ کې زموږ د اوسني نسل د تعلیم د نهضت د پلوي سر لارې ثنا ساپۍ داسې ور ته لیکلي دي:

«مریم جانه زموږ ټولو ویاړ ده. یو څو نورې مریمې که ولرو، کار مو جوړ دی.»

زرتار:

زما له نظره د مریم امر خیلې په ژوند کې د «زرتار» جوړول او بیا د دې اقتصادي شرکت کامیابه پرمخ بیول به د مریم په اوسني او راتلونکې ژوند کې اساسي رول ولري. د مریم د کار او ژوند په باب مالومات دا ښیي چې دې د خپل ژوند په دې تانده ځواني کې د «زر تار» په نامه یوه اقتصادي موسسه جوړه کړې ده. د «زر تار» جوړونه او لارښوونه په اوسنۍ زمانه کې، بیا د افغانستان غوندې یوې دودیزې ټولنې کې، داسې یو نوښت دی چې مریم که له یوې خوا له اقتصادي پلوه پر ځان بسیا کیږي، نو له بلې خوا په لسګونو او لا سلګونو نورو نجونو او میرمنو ته د کار او ژوند زمینه برابرولای شي. کله چې مریم غواړي د نوي نسل په روزنه کې دایمي مبارزه وکړي، ژوند وکړي او لا له نورو هیوادوالو او نورو انسانانو سره مادي او معنوي مرسته وکړي، دا خو یو ښه او پیاوړي اقتصاد ته اړتیا لري، نو زه داسې نظر لرم چې:

که پر «زر تار» باندې ډیر تمرکز وکړي او هر کال یې بڼې ته او د کار کولو سیستم ته د زمان له غوښتنو سره سم بدلون ورکړي، دخل او خرچ یې تل تر نظر لاندې ولري، ډیر به ښه وي، بیا نو اقتصادي موانع او ستونزې د دې د نورو زدکړو، مطالعې، د نوي نسل په روزلو کې د مبارزې او نورو انساني پلانونو مخه نه شي ډبولای.

د مریم امر خیلې د قلم او لیکنو په باب، د دې مقالو په دریمه برخه کې ما د ویکیپیدیا مالومات را اخیستی و، اوس به خپل مالومات او تبصرې وړاندې کړم:

د مریم امرخیل لیکنې:

د مریم لیکنې په لومړي سر کې کیدای شي په دوو برخو و ویشل سي:

ـ په فیسبوک کې یې لیکلي او نظریات،

ـ مقالې او نورې لیکنې یې.

په فیسبوک کې د مریم امرخیل نظریات:

مریم امر خیل وروسته له ډیر ستونزو او مثبتو تجربو نه اوس کولای شي قلم وچلوي او ښه یې وچلوي او خپل نظریات د لنډو فیسبوکي مطالبو له لارې او د ښو علمي مقالو له لارې ولیکي او خپاره یې کړي.

په لومړي ګام کې د دې د لیکني فعالت په باب کوم څه چې ویکیپیدیا لیکلي وو، ما مخکې را نقل کړل او کیدای شي له هغې لیکنې وروسته هم مریم په بیلابیلو ځایونو کې خپلې لیکنې او تخلیقات خپاره کړي وي او زه به یې دلته په ځینو لیکنو باندې لږ تم شم:

په فیسبوک کې یې د نظریاتو ډیری برخه کار، زیار ، ښوني روزنې او د نوي نسل روزلو ته ځانګړې شوې ده. دلته به یې څو بیلګې راوخلو. پر افغاني او پښتني ټولنه باندې یې د ناوړو حاکمو دودونو د ځنځیرونو د ماتولو د مبارزې یو غوره بیلګه دا کیدای شي:

«اخ وروره خوږ دې کړم!

په چپ غوږ مې څه سم نه اورم

ستا ځپیږې او بې خوده وارونه

*****

د همدې له پاره د ځپیږو لایقه ده کنه!!

ځکه،

ستا خور له تا سره اوږه په اوږه روانه شوه

ستا خور د رواج ټول ځنځیرونه وشلول

هغه ستا د تعلیم له پاره

نن هرې دروازې ته ودریده

هغه بې کسه خور

ستا د مظلومیت حق

غواړي،

ستا را ویښول غواړي،

خو ته اوس هم په دې خور شرمیږې

ای وروره! په رښتیا ووایه

دا حق د اسلام او که د قام له پاره را نه غواړې!؟

که مې اسلام، که مې حجاب، که مې ایمان تر تا

سپیڅلی او قوي نه وو، بیا و وایه

زه د زړه له صدقه د خدمت په نوم راوځم

ته مې د اسلام نه، بلکې قام د ننګ په نوم

د تعلیم حق را نه غواړې.

ستا دې بې شعورۍ شعور کې...

نن زما د خویندو عزت لوټ شو،

نن یې ښځې را نه غرونو ته پنا کړې،

نن یې ماشوم بچی را حلال کړل،

په واټونو کې سوالګرې مې

سرتورې شوې؛

خو ته اوس هم عبرت نه اخلې

ته په کوم خوب ویده یې

ته په کوم هوس کې مست یې

چې اوس هم په بې احساسه لاسو

زما په مخ څپیړو دې،

زما غږ ګونګی کړ

خو نور نه!

دا کیسه به یا زما په مرګ

او یا ستا په تعلیم او پوهولو ختمه شي.»

(مریم امرخېل)

مریم د خپل فیسبوک په پوستونو کې تل داسې څه لیکي او خپروي، چې د ماشومانو، کوچنیانو او د نوي نسل په روزلو کې خامخا رول لري. له هرې زاویې نه چې ور ته وګورې، د دې ټینګار پر دې دی چې باید په هر ډول شرایطو کې د نوي نسل روزلو ته پاملرنه وشي، دا که د خپل ماشومتوب کیسه هم کوي، هغه په یو ډول له یادې موضوع سره غوټه کوي. دا یې څو ډیرې ښې بیلګې دي:

«زموږ ښوونځي کې یې د یاسن او د مینې په نوم د ماشومانو د کیسو کتابونه را کول چې دغو کتابونو لمړی، دوهمه او نورې برخې درلودلې. د هغو کتابونو بیا، بیا لوستلو سره هیڅ نه ستړې کېدو، ځکه د یاسین شاقه کارونه او بیا د کاکا مرستې چې هغو ظلمونو یې خلاصوي د موټر تیز چلول...

د مینې د ښوونځي د تګ مخنیوی او بیا د هغې وړتیا چې څنګه یې له خپلې کورنۍ سره مرسته کوله، خو د دې کیسو زیاته اغیزه هغه انځورونه کې وه چې موږ به زیات وخت یو بل ته تشریح کول چې غله څه ډول چرګان غلا کړل او مینه کوم کارونه کوي چې خلک دې ته مجبوروي ترڅو لوڼې مکتب کې داخلې کړي.

که موږ نور څه نشو کولی لږ تر لږه خپلو ماشومانو ته د کیسو کتابونه چې انځورونه لري، واخلو قیمت یې هم لوړ نه دی». (مریم امرخېل)

موږ هیڅ نه غوښتل بس تعلیم!

«زما د ښوونځي ماته تخته او سترنجیی، شلیدلې خیمې ته یې اور ورته کړ؛ خو موږ به بیا هم له کورونو ځان سره بوجیی وړلې او د هغې له پاسه به کیناستو، زموږ چت آسمان و چې د لمر سوزنده شغلو به ځمکه لاندې لکه اور راته سره کړه، خو بیا هم مکتب ته تګ مو نه پرېښوده.

د علم دښمنانو موږ ته د مرګ ګواښونه وکړل، نجونو ته یې خط کې ولیکل ستاسو عزت به درنه واخلو، تاسې به بدنامې کړو، موږ هغه وسیزل، چې د چا پلار یې ونه ګوري او ښوونځی را نه پاتې نه شي، دا خطونه د غیرت ټوټو پلرونو ته ورکړل نو بیا هیڅ نجلۍ د مکتب مخ ونه لیده. زما تعلیم ارمان پوره کېدل هم معجزه ده.»



«کلي ته ښایسته کابلۍ نجونې راغلې وې، ما غوا پټې کې تړلې وه، نورو نجونو به په پولو پیولې، خو ما به د دې له پاره چې د مکتب کتابونه سم ولولم، نو واښه به مې یوه کوټه ورته راوشکول او بیا به مې غوا هغه خوړل ما به خپل لیکل او لوستل کول چې هغه نجونې ما ته راغلې، عمرونه یې زما نه لوی وو، تر خوا مې کیناستې ما هم ښه راغلاست ورته وکړ. زما خط یې وکوت وایي دا خط تا کړی، حیران یې ورته کتل بیا یې را نه وپوښتل: څه غواړې چې مکتب دې ختم شي؟ نو ما ورته و ویل: زه غواړم پاچا شمه. دوی ما ته ډېر وخندل، ما ورته ویل ولې خاندئ، ښځه نه شي کولی پاچا شي.

خو دوی را ته و ویل: څه غوا دې وپیایه، دغه خوبونه دې هم کله چې ویالې نه اوبه راوړې، هلته و وایه.
خو د کانکور آزموینه مو په یوه ورځ شوه، کله چې پایلې اعلان شوې دواړه بې نتیجه وې. په هغې ورځ زه وپوهېدم چې د انسان وړتیا هیڅوک نه شي ورنه اخیستی او کوم خوبونه چې ویني که د هغه له پاره ریښتونې مبارزه د زړه له صدقه انسان وکړي، نو که ته شپنه وې که ملنګه، خو خدای پاک به تا له هغو خلکو هم څو چنده لویو هیلو ته ورسوي چې ان تا خپله یې په خوب کې فکر نه وي کړی.»

(مریم امرخېل)

او په پای کې د فیسبوک د ۲۰۱۶ کال یو وروستی پوست چې دا ډیره ور ته خوشاله ده چې په پکتیا کې له دولسم ټولګي نه د نجونو فراغت و. د داسې خوشالۍ څرګندول او په ټول کال کې یې د ښه خبر او زیری ګڼل، دا څرګندوي چې مریم له زدکړو سره، د نجونو له زدکړو سره او

په پای کې د نوي نسل له روزلو سره څومره مینه لري. دا د پوست متن دی: د ۲۰۱۶ کال د دسمبر ۲۹ مه:

«زما لپاره د 2016 زیږدیز کال تر ټولو ښه خبر همدا وه. په پکتیکا ولایت کې لومړی ځل دی چې د دولسم ټولګي څخه نجونې فارغیږي.

زموږ دهېواد ځواني اوس پیلیږي ځکه چې زما هره پیغله اوس د پوهې په ګاڼه سمبالیږي او په خپل لوړ فکر ملي احساس به د یوې کورنۍ، ټولنې، هېواد پالنه وکړي.»

د مریم امرخیل مقالې او نورې لیکنې:

د مریم امر خیل د مقالو او علمي لیکنو په برخه کې بابد و وایم چې ښایي مریم نورې علمي مقالې هم لیکلې او خپرې کړې وي، خو زما له نظره یې دوې وروستۍ مقالې چې په دوو معتبرو ویبپاڼو (بي بي سي پښتو او تاند) کې خپرې شوي دي، ډیرې درنې او علمي بڼه لري.

په دواړو مقالو کې مریم د ښځو په کار، زیاو او روزنه باندې خبرې کړې دي. لومړنۍ مقاله په بی بی سي پښتو کې د « پټه صنعتګره!» تر سرلیک لاندې د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر په لومړۍ نیټه خپره شوې ده.په دې مقاله کې مریم د ښځو په کار زیار او زدکړو باندې داسې بحث کړی دی:

«تېر کې زموږ د صنعت برخه کې ډېره پام وړ برخه د هغو ده، چې نوم یې هم پټ پاتې دی.

تاریخ راښیي، چې هغه صنعت چې له کبله یې زموږ د هېواد نوم پېژندل کیده او تولیدات به یې د وریښمو لارې په وسیله نړۍ ته لېږدول کېدل پام وړ برخه په کې د ښځو وه.

په دې برخه کې د ښځو نوښتونه او کار او زیار هم د تاریخ پاڼو کې ثبت دي.

هغه مهال چې پر افغانستان د عربانو واکمني وه دابن حوقل د وینا له مخې د خراسان تر ټولو نومیالي صادارت د (دابیوردونسا) یعنی د اوسنۍ میمنې د ښځو نخې او وریښمین صنایع وو.

د ګیدړو له پوستکیو څخه پوستینونه هم هلته جوړیدل او زغرې یې هم ډېرې مشهورې وې. په هرات کې تولید شوي وریښمن ښځینه ټوکرانو هم ډېر شهرت درلود.

هغه مهال چې د جنګ جګړو زمانه وه، د جنګیالیو لپاره خواړه، اوبه او د اړتیا نورو توکو چمتو کولو تر څنګ د دغو جنګیالیو لپاره ځانګړې کالې چې د پسونو له وړیو او د نورو حیواناتو له پوستکو جوړېدل،د دوی د لاس کار و.

دغو ښځوبه وړۍ وینځلې، له وچولو وروسته به یې څرخی کولې او بیا به یې بیلولې.

... اوس چې ښځې غواړي په اقتصادي ډګر کې ځان ثابت کړي، نو له نورو ګڼو خنډونو سره له مالي بیوزلۍ سره هم مخامخ دي.

دوی چې د بهر وتلو زړورتیا له لاسه ورکړې، تر کورنې او نړیوال بازاره د هغو لاسي صنایعو رسولو کې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي، چې په کور دننه یې چمتو کوي.

داسې شریکان نه مومي، چې سوداګریزې چارې ورسره په ګډه پرمخ بوځي.

دغه راز د تګ راتګ ستونزې هغه څه دي، چې د مېرمنو د لاسي صنعت پرمختګ پر وړاندې یې خنډونه او ځنډونه رامنځته کړي دي.

که د دغو ستونزو د حل لپاره جدي هڅه او هاند و نه شي، ښايي د صنعت ميدان بيا هم د اوس په څېر له افغان مېرمنو تش پاتې شي.»

د مريم امر خيلي بله مقاله «مبارزه» نوميږي چې په تاند کې خپره شوې ده. دا مقاله يې د زدکړو، کار او زيار په باب ډېره د پاملرنې او ارزښت وړه ده. د ټولنې د نادودو او د دې د مور پلار او د دې د مبارزو په پايله کې چې دا د تعليم حق تر لاسه کوي د هغې پايله د همدغې مقالې اصلي موضوع جوړوي. د دې مقالې په يوه برخه کې يې داسې راغلي دي:

«زه د هغو پيغلو دردېدلې چيغه يم، چې په ستوني کې خپ، خپ ژاړي او چيغې يې هيڅوک نه اوري.غواړم د هغوی پټه، پټه ژړا په داسې ياغې چيغې بدله کړم، چې له شرقه تر غربه يې ناره د ټولې نړۍ تر غوږونو پورې و رسيږي.»

دا يې له تعليم سره د مينې وروستی پيام دی:

«يو ځل بيا ښوونځي د فکر او رڼا کور د هوساينې د پرمختګ د ښکلا کور ته اور ورته شو دا ښوونځي وسوځېده خو خدای دې نکړي چې زما د ښوونځي د نجونو په شان دغه نجونې په کور کيني او ددوی هيلې هم ورسره وسوځيږي، دا له ولس او خلکو سره ښکاره دښمني ده چې درته وايي: ستا لور، خور، مور او هيڅ ميرمن پوه ليدلی نشي ځکه دوی پوهيږي د ټولنې ريښه اساس او بنسټ ميرمنې دي دوی پوهيږي چې ددغو پوه او ځېرکو اعتمادي او باورمنو ميندو به باوري، ځېرک او هوښار زامن وي چې دوی به بيا نشي کولی خپلې ناوړې موخې او اهداف دلته پوره کړي د خپلو ګټو په خاطر يې وکاروي.

زما ولس دې خپله لور او زوی دواړو د تعليم لپاره تر هر څه زياته هڅه وکړي دا او نور سوځيدلي بند ښوونځي دې بيرته ورته فعال کړي»

د کار زيار او زدکړو او په تيره د نوي نسل د روزلو په برخه کې بايد د نوي نسل د روزلو د نهضت د پياوړتيا له پاره د هر چا هڅې وستايل شي او د امکان تر بريده مرسته ور سره وشي په تيره د مريم امرخيل او مريم ته ور ته استعدادونو ته د ودې له پاره او په علمي ډول د نوي نسل د روزلو په موخه، د تعليم د نهضت د يو پلوي او يو فعال غړي استاد تنها نظريات را اخلم، چې څنګه دی د دې نهضت د پياوړتيا له پاره کار او هڅې کوي او څنګه د هغو خلکو پر ضد مبارزه کوي چې په پټه او ښکاره د استعدادونو مخه نيسي او د نوي د نسل د علمي روزلو له پاره خنډونه جوړوي.

د افغانستان د تعليمي نهضت يو لوی پلوی استاد محمد تنها د ۲۰۱۶ کال د دسمبر په ۱۳مه، په خپله فيسبوک پاڼه کې داسې ليکلي وو:

«د کمپيوټر په ډيسکټاپ مې د يوه داسې ښوونځي انځور پروت دی چې زدکړيالان په سپېره بېديا د يوې تختې مخې ته ناست او زدکړې کوي. نن مې يوې آلمانۍ همکارې ته په کمپيوټر کې د مطلب پروګرام يو کوډ ور ښوول چې د ډيسکټاپ انځور ته يې پام شو. ول لېونيه! ټول خلک په ډيسکټاپ د نړۍ ښايسته ځايونو انځورونه لګوي تر څو د دمې په وخت کې ورته په کتلو انرژي واخلي او تا څه د بېديا او دربدرۍ انځور لګولی 😢

مال بس ماته همدا انځور انرژی راکوي، ول ولې؟ مال لمړی خو چې زدکړو ته په وچ ډاګ ناستو دغو ماشومانو همت ته وګورم، نو چې هر څومره ټنبلۍ په مخه کړی يم، بېرته را بيدار سم، دوهم دا چې نغواړم دا مې هېر شي چې دا حالت بدلول غواړي او بدلول يې زما او نورو ځوانانو په اوږه دي نو بايد سمه خواري وباسو...

او دریم دا چې د دې انځور په هر ځل لېدو مې د خیالي ښوونځیو په نامه اخیستیل شویو او خوړول شویو پیسو څلورواکو ته د زړه له تله ښېرا له خولې را وزي، له وزیره تر پیاده چې هرچا د افغانستان معارف پیسې خوړلې او خیانت یې کړي وي رب دې اولاد د پولۍ ټک ته کېنوي چې د بل اولاد له درده خبر شي. تاسې وایاست آمین...!!!

زما مینې زما ځانه، ښایسته افغانستانه 🇦🇫💔AF »

د استاد تنها دې ارزښتمن مطلب ته په پام سره باید و وایم چې مریم له همداسې یوه ځای نه، له همداسې یوه ښونځي نه او له همداسې یوې سیمې او ولایت نه را وتلی استعداد دی او نن یې په خپلو زحمتونو او خواریو داسې ځای ځایګی خپل کړی دی چې د نورو له پاره یوه بیلګه ده.

د نوي نسل د روزلو له پاره استاد تنها کله، کله له دې هم په تندو کلماتو او بربنډه توګه د علم پر لوري د نوي نسل د حرکت له پاره خپل افکار بیان کړي دي، دا یې یوه بیلګه ده:

«د سوریې او افغانستان مهاجر په غیر قانوني ډول اروپا ته راشي، اروپایان یې ډودۍ، کالي او د ګلونو ګېډۍ په لاس، هر کلی ته لارو ته را ووځي، بلې خوا ته یو بې وزلې افغان د اسلام غوړېدا مرکز سعودي او نورو عربي هیوادونو ته په رسمي کاري ویزه ولاړ سي، خو عرب یې له سره د سړي زوی نه بولي، د یوې روپۍ انساني ارزښت نه ورکوي آن د س.پ.ي او .خ.ر.ه خطاب ورته کوي خو له کابله زما یارانو د اسلامي وروګلوي ډول غاړې ته اچولی او د اسلامي امُت په کې قصیدې وایي .

کوربان مو سم! د اسلامي امُت او اسلامي وروګلوي په نامه ولاکه له سره څه موجود وي، که دې په ځان خوا بدېږي نو له هر ممکن فرصت څخه په استفادې سره ځان په پیاوړي اقتصاد، ساینس او ټکنالوژي سمبال کړه، تر کله به د اسلامي وروګلوي په نامه په خپل هیواد کې د عربو نیابتي جګړه کوو؟ په لیاز د خدای خپل افکار خو مو هسې وراسته دي، خو د نوي نسل افکار مه ورستوئ!!!»

او بیا په بل ځای کې هم په تندو الفاظو د هغو خلکو ځواب وایي چې غواړي د لوړو زدکړو مخه ډب کړي:
«نوې څېړنې ښیي چې که څوک مازي لیږ خاشه کوښښ وکړئ، نو کولای شي ښه شین خر له ځانه جوړ کړي. نن مې د دغو څېړنو یو ژوندی مثال ولید، ځوان راته ویل چې ستا دا زدکړې هیڅ ګټه نلري ځکه ته په کفري ملک کې زدکړې کوې.»

څه موده مخکې مې د تعلیم د نهضت د یوې بلې سر لارې (ثنا ساپۍ) د فعالیتونو د ځلولو له پاره د «د تعلیم ډویوه» تر سر لیک لاندې مقاله کې لیکلي وه، د هغې مقالې په یوه برخه کې مې داسې لیکلي وو:

«ثنا ساپۍ ډېره ځوانه ده خو، څنګه چې له یوې خوا یې د تعلیم د عامیدو له پاره فعالیتونو او عملي هلو ځلو ته ګورم او له بل پلوه خلک هم غوښتي او نا غوښتي وایي چې د تعلیم له پاره مبلغین د ثنا ساپۍ زامن دي(ته اوس دې د ثنا ساپۍ بچي ته ګوره) نو زه یې اړینه ګڼم چې سر له همدې اوسه و ویل شي:

ثنا ساپۍ د تعلیم مور ده!

ثنا ساپۍ د تعلیم د لارې قهرمانه ده!

لیدل شوي دي چې سیاسیون او د ټوپک او وژنو د لارې لارویان خپلو مشرانو ته د ټوپکوالۍ او وژنو په خاطر قهرماني ورکوي، زه خو هم حق لرم چې د یو ښونکي او قلموال په توګه، یو

قلموال ته، د انسانیت او انسان روزنې په لاره کې د کړو خدمتونو په پار قهرمان و وایم، نو سر له همدا اوسه زه وایم چې:

ثنا ساپۍ د تعلیم د لارې قهرمانه او د اوسني تعلیم مور ده.»

د تعلیم د تر لاسه کولو، د مثبت ژوند پر لوري نه یوازې خپله حرکت، بلکې نور ځوانان هم ور ته تشویقول او عملاً یې د تعلیم کار او ژوند دایرې ته شاملول او په زیاتو خواریو سره د ژوند پرمخ بیولو تر څنګ د لوړو زدکړو لړۍ هم تعقیبول او... ته چې ګورم، زما له پاره مریم امر خیله هم زما د زمانې او د خپل نسل او زما د وطن د ټولو ځوانانو او نوي نسل له پاره یوه نمونه قهرمانه ده.

تاسو په پاسنیو کرښو کې ولوستل چې په راتلونکو کې مریم امرخیله څه هیلې او پلانونه لري، د دې له هیلو سره څنګ کې، زما هیله دا ده چې مریم خپلو دغو سترو انساني هیلو ته ورسیږي او د نوي ژوندانه، نوې تکنالوژۍ په دایره کې د خپلو هیلو د تر سره کیدو لړۍ تعقیب کړي او د نوي ژوند له نویو غوښتنو سره هم ځان او هم خپل نور هملاري عیار او برابر کړي.

د مریم امرخیل همدې لړو لیکنو ته هم که څوک ځیر شي، دا به په کې و مومي چې مریم له خپل عمر او تجربې نه وړاندې قدم ږدي او داسې نظریات وړاندې کوي چې د لویو سیاسي مشرانو لا ور ته پام نه وي.

دا لاندې یوه جمله یې یوه وړه بیلګه ده چې لنډ په لنډه، د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ په څلورمه نیټه په خپله پاڼه کې له لاندې عکس سره پوست کړه:

«یو خروار نظر نه یو مثقال عمل ښه دی.»

له قلم سره د مریم امرخیلي مرکه:

دا د مریم خپل لیکلي توري دي:

«ډېری ملګري مسنجر کې رانه پوښتي چې تا څه کړي؟ نو هغوی قدرمن کولی شي زما په اړه د قلم له خوا په شوو پوښتنو کې خپل کړي ځوابونه ومومي.

مرکه:

مریم امرخېل هغه پېغله چې تر پوهنتون ووته، خو لا هم پښتنه پاتې ده، ان خپل لباس یې هم ساتلی دی، قلم ورسره د ژوند او ښځینه فعالیتونه په اړه مرکه کړې، دلته یې لوستلی شئ!

قلم: مریم جانې ستړې مه شې، خدای دې مه خواروه چې زموږ بلنه دې ومنله، د ښوونځي د پیل کیسه راته وکړه؟

ځواب: کور ودان! زه تل د خپل هېواد او خلکو په خدمت کې یمه بیا په ځانګړې توګه د کتاب، قلم او تعلیم برخه کې خو هیڅکله خپل وخت نه سپموم.

ښوونځی مې د پاکستان یوه کمپ زاخیلو کې پیل کړ هغه وخت زما عمر شپږ کاله وه وړاندې له دې مې پلار نه غوښتل زه دې مکتب ته لاړه سم لکه د هر پښتون زما پلار ته د نجلۍ تګ ننګ او بې غیرتي ښکاریدله خو پردی ملک او زما ووړ عمر کې پلار ته لاس ورکول د دې لامل سول چې پلار خپل ټول دود او د خلکو خبرې یوې خوا او زما تعلیم یا زما ژوند اهمیت ورته مهم شي.

په ښوونځي کې مې د خرما د پاڼو نه په خپل لاس جوړ ګلان پلورل او د ګاونډیانو سره به مې غالۍ اوبدلې له دښتو واښه راوړل او نور کارونو زه هغو خلکو ته یوه معجزه غوندې نجلۍ ورپیژندلې وم،

اوس مې هم یادیږي ما قرانکریم تر ټولو ژر ختم کړ مور مې وایي ستا کارونه هغه وخت د یوه ځلویښت کلن سړي وه.

خو یو کال وروسته هر څه بدل شول موږ افغانستان ته راغلو او خپل غم راسره وه بس.

کډه مو لارۍ کې بار کړې وه موږ یې په سر کې ناست وو ما خپل کتابونه په غیږ کې ایښي وه چیرته به چې تلاشي کیدله نو ما به خپل کتابونه او ستاینلیک ورښودل چې افغانستان کې مکتب شته هغوی به وخندل او د لاساینې تر څنګ به یې شاباسی راته ووایه،

همدا چې کلي ته ورسیدو میاشت لا تیره نه وه چې ما د کلا نور ماشومانې زما ترلې ځان سره کړې او مکتب لټول مو پیل کړل وروسته موږ درې کلي اخوا یو د نسوان مکتب وموند، لاړم مدیر صیب سره کیناستم خبرې مې ورسره وکړې هغه زه باید دویم کې شامله کړې وم مګر زه یې په څلورم کې کینولم کور ته چې لاړم پلار راته غوسه وکړه اول یې نه پرېښودلم بیا یې وویل زه تر شپږم لاړه سه نور نه، ما وویل سمه ده خو ویل یې دویم کې به کینۍ زموږ مدیر مې پلار ته وویل تر پنځم ټولګي زموږ زده کوونکي یوازې الف با وایي او دا خو روان کتابونه ویلی شي انګلش یې هم روان لوستل زده دي نو باید چې ددې استعداد ونه سوزول شي نو پلار وویل ښه ده.

هغه کال ما د کلا نه پیل بیا تر کلي یوه نجلۍ هم پرینښودله ټولې مې ملګرې کړلې او بیا به مې د هغوی پلرونو سره خبرې کولې چې کاکا جانه خیر ده دوی پریږده اول کې زیاتو ستونزو سره مخ سوم خو پلار راسره ودریده او بل مهمه خبره دا وه چې ما قرانکریم ختم کړی وه زه ماجت کې د کلا له ټولو هغو چې زلمي وه مخکې وم ما قدري ویله زموږ د ماجت ملا په جار ویل مریم ته هیڅ ځوان نه رسیږي هغه ویل دا خلک زیات ظالم دي څنګه د یوې اوه کلنې ماشومې په اړه بد او ناوړه پریکړې کوي زموږ ور باندې به خلکو زما نوم سره فحش کلمات لیکل چې پلار به مې خفه کیده خو وروسته زموږ کلي کې یوه نجلۍ هم بې مکتبه پاتې نشوه تر لرې لرې کلو زما د بابا کلی چې بیخي زیات لرې دی د هغوی ماجت کې د منو تجارانو او یو ځل د اسلام تبلیغانو زما صفتونه کړي وه چې لایقه او پوه نجلۍ ده ښایسته تلاوت کوي نو هماغه وه چې نورو کلو کې هم خلکو لونې ښوونځیو ته واستولې دغه وخت چې زما پلار تر نهم ښوونځی لوستی وه ما له خپل پلار وغوښتل هغه وړې نجونې چې زموږ تر مکتب نشوې تللی هغوی ته یو ښوونځی په کلي کې جوړ کړي نو هماغه وه چې موږ ملي کې وړو نجونو او هلکانو ګډ ښوونځی جوړ کړ چې تر ۴۰۰ پورې یې تعداد رسیده.

قلم: ته د کلي نجلۍ یې، خو کلیو کې لا هم څوک دې ته زړه نه ښه کوي چې خپلې نجونې تعلیمي بنسټونو ته پرېږدي، ته دوی ته څنګه قناعت ورکولی شې؟

ځواب: داسې پوښتنې ته ځواب ویل سخت او هم اسانه دي زه ددې خبرې مخالف یمه چې خلک وایي پښتانه یا افغانان خپلې لونې ښوونځیو ته نه پرېږدي تاسې ته به ښه معلومه وي د ولسمشر حامد کرزي په لومړۍ دوره کې د ټول افغانستان ښوونځي فعال وو باور وکړئ هغه وخت زموږ ښوونځي ته د ولسوالۍ چې لرې ده نجونې چادریو کې راتللې مګر یو دم ۱۳۸۶ کال کې هر څه بدل شول دا د پردیو لاس دی چې ډول هر ډول ډنګوي افغانان هماغه شان ورته ګډیږي.

بله مسله زموږ کلتور، پخواني دودونه او نور دي چې موږ د یوه اصل په بڼه منلي ماتول یې راته مطلق کفر ښکاري، ما خپلو کلیوالو ته وویل چې الله ج لومړني نازل کړي ایتونه په اقرا – ولوله- پیل شوي او دا یوازې انسان ته راجع دي، بل خدای ج تعلیم په هر نارینه او ښځینه فرض کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي تاسې علم وکړئ که په چین کې هم وي.

زه خپلو خلکو ته وایمه تاسې دا هر څه ددې لپاره کوئ چې رب ته ګنهګار نشئ نو بیا ولې د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه فرمان او امر پر ځمکه غورځوئ چې په چین ته تللو امر کوي، ټولنه د ښو او بدو خلکو یا انسانانو مجموعه ده نو ولې باید د یوه یا دوه بدو لپاره ټول بد وګڼل شي؟

سره له دې چې نجونې پیغلې ښځې بیرون پټیو کې کار کوي تر غرونو خیږي بوټي راوړي وابښه او مالونه پیایي نو دغلته ولې اسلام نه یادونه نه کیږي چې د مکتب تګ دوی ته غیرت او اسلام پیغور وریادوي.
قلم: زموږ له خلکو سره یوه اندېښنه داده، چې کله نجلۍ لوستې شې نو هغه زموږ د کلتور او دودونو پر ضد درېږي، مثالونه یې ښایي فیسبوک کې ډېر وي، ته دې اندېښنې ته ځواب ویلی شې؟

ځواب: د فیسبوک په اړه نه! بلکې زه د یوې کلیوالې باسواده نجلۍ په حیث دې خبرې سره مطلق مخالفه یمه دا ځکه چې په یوه سنتي، پخوانیو دودونو ته مات او بل نر واکې ټولنه یو، نو داسې ذهنیت او ویره د هر سړي سره شته چې ښځې تر دوی هوښیارې شي بیا به له دوی واک واخلي زه غواړم درته یې واضح کړلی سمه د کور بې سواده ښځه کله چې ماشوم د ورځې هر کار کوي دا ورته وایي صبر مازدیګر دې پلار راشي تاسره به ګوري دا د یوه ماشوم د کرارولو صلاحیت نه لري زموږ کلي کې درې غټې ویالې او واړه لښتي خو بې شماره دي لوی سیند هم

لرو په داسې یوه کلي کې یوه مور وګورئ نه یې ماشوم نه یې د میړه کور او نه یې ځان نه یې خاوند پاک ساتلی نو دغه ښځه د کور نشوه ګور ته باید دا له نیک عمل سره لاړه شي. د دې ګور خو هم وران شو د دې ښځې میړه له پټې راځي هر امر یې چې وکړ ښځه یې پر ځای کوي د داسې ښځې ستره غوښتنه د خاوند څخه دا وي چې یوه ورځ یې د پلانکی کره پریږدي، خو بر عکس هغه ښځه یا مور چې تعلیم یې کړی وي د هغې کور، کالی، سلیقه هر څه بیا فرق لري غوښتنې یې دا وي چې دا هم کار وکړي د ماشومانو پرمختګ د کورنۍ پورته کول لاس ورکول په هر څه کې نظر ورکول د هر څه خوښول نه خوښول دا سړي ته ننګ او عار ښکاري چې یوه ښځه ولې دومره هوښیاره ده چې سړي ته عقل ورښیي او که هغه بیسواد میرمن یوه خبره هم وکړي خاوند یې ورته وایي څه د لیوني لوري ته سړي ته عقل ورښیي کمعقلي!

قلم: ته د یوې لوستې پېغلې په حیث، د ښځو لپاره د ښځو له لوري په رسنیو، حکومت او مدني بنسټونو کې اوسنۍ مبارزه څنګه ارزوې؟

ځواب: زه داسې فعالانې نه پیژنم چې هغوی دې واقیعت هم د نجونو یا د ښځو په وړاندې د ظلم لپاره غږ اوچت کړی وي ډېرې به وي خو زما تر کلیوالو نجونو او میرمنو نه دې رسیدلي زما هغه مظلومه ښځه چې کلونه کلونه د بندو دروازو شاته فریاد انګولا کوي وهل ډبول تېروي د تناره د دوخړو د نغري تر غاړې د دود په بهانه ترخې اوښکې څڅوي د هغوی اه او غږ یې نه دی اوریدلی.

مثلاً د فرخندې یا هغو ظلمونو په وړاندې چې ګونګیان هم په خبرو راځي نو دوی خو د ښځو د حقوق ګټیالی ځان ګڼي او په میلیونونو پیسې له بهرنیانو اخلي باید دومره خو وکړي چې د خپلو هغو پیسو لپاره یوه پلمه ولري.

قلم: په ژوند کې ایډیال لري، چې زړه دې وي ځان هغسې کړې، که هو نو څوک دی او ولې مو ټاکلی که نه نو ته باید څنګه څوک شې؟

ځواب: داسې څوک چې ووایم دغه مې ایډیال دی نشته ،خو هر څوک چې انسانیت او بشریت ته کار کوي زما خوښیږي زه غواړم تل مریم امرخیل واوسم تل مې همدغسې د پاک او سپیڅلي احساس نه معصومو مظلومو خلکو ته لاس ورکړم تل داسې یوه مریم واوسمه چې یمه.

قلم: فیسبوک کې لنډې تبصرې کوې، خو مقالې مو دې نه دې لیدلې، کتابونه خو ډېر لولې لیکنې کوې کنه؟
ځواب: کله نا کله بې بې سي یا نوروسایټونو، ورځپاڼو کې خپلې لیکلې مقالې خپروم زه عادت لرم د خپلې خوښې کار کوم که مرم هم چې ووایم دا پټې دې شین شي نو بیا تر هغو چې شین نشي نه یې پریږدم. له عملي کار کولو خوند اخلم کله چې باید لیکل وکړم هغه هم د مطالعې نه جار کړم، هو رښتیا لنډې کیسې مې زیاتې لیکلې خو تر اوسه مې چاته نه دې ښودلې او نه مې خپرې کړې.

قلم: ځینې ښځینه فعالانې له هېواده د باندې د افغان ښځو په اړه داسې څرګندونې کوي چې په لوی لاس د خلکو حساسیتونه را پاروي او مېرمنو ته لا قیودات زېږوي ته یې په اړه څه وایې؟

ځواب: هغه ښځې چې له هېواده بهر فعالیت کړي هغوی نړۍ ولیدله یا یې لیدلې تاسې ته معلومه ده څومره چې یو څوک زیات وخت ټولنه کې وي همغومره زیات خلک او ټولنه ښه پیژني نو دوی چې نړۍ ولیدله زموږ د میرمنو یا په ټوله کې د افغانانو ژوند ورته دننګ او عار پیغورونو ډک ژوند ښکاري ښایي ډېرې یې له ښه احساس غواړي د افغانانو ذهنیت ته وده ورکړي تر څو د حساسیتونو تیر شي خو دوی چې د بدلون یا د مبارزې کومه لاره غوره کړې دا زما نه ده خوښه کله چې غواړې افغانې ښځې د مظلومیت او بندو دروازو څخه ازادې کړې په زور او

سختو الفاظو خلکو ته خطاب کول یا خپل ټول خلک بد ګڼل دا مبارزه نه ده بلکې مبارزه طریقه لري دوی داسې تیزو او تندو خبرو باندې زموږ د ټولنې هغه نارینه چې د ښځې فعالیت کول ورته پیغور او ننګ ښکاري د تندو او بدو خبرو په کولو نور هم د هغوی عقده د ښځو د تعلیم او فعالیت په اړوند راپاروي چې زه دداسې مبارزې طرفداره نه یمه.

قلم: کور ودان.

ځواب: مننه

۱۳۹۶-۲-۲۷

مریم امرخیله اوس هم د نجونو د تعلیم او د میرمنو له پاره د کار د پیدا کولو په برخه کې ښه فعاله ده. څه موده پخوا یې د خپلو همدې هڅو په لړ کې د کابل له والي سره وکتل او هغه هم ورسره د مرستې وعده وکړه. دا لنډکی رپوټ دی:

«د تعلیم، سولې او د ښځو د اقتصادي بسیاینې پروګرامونو اړوندو مسایلو مې نن د کابل ولایت له والي ښاغلي محمد یعقوب "حیدري" صاحب سره ولیدل، ښاغلي حیدري صاحب زما د کارونو د تقدیر اوهڅونې تر څنګ د هر راز مرستو ژمنه وکړه په ځانګړې توګه د نجونو د تعلیم برخه کې چې اوس هم د کابل د ولسوالیو نجونه له زده کړو بې برخې دي خپله لیوالتیا څرګنده کړه چې دې برخه کې به پوره مرسته د کابل ولایت کې وکړي اوهیله یې وښوده چې زموږکارونه د هېواد د ابادۍ لپاره ګټور تمام شي.

مریم امرخیل

محمد یعقوب"حیدری" والی کابل با شماری از فعالین جامعه مدنی و خبرنگاران زن در دفتر کار شان دیدار و ملاقات نمود:

19 جوزا 1397

در این دیدار منیره یوسفزاده معاون امور اجتماعی ولایت کابل نیز حضور داشت.

نماینده گان فعالین جامعه مدنی ضمن تبریکی به منیره یوسفزاده معاون امور اجتماعی برای شان آرزو موفقیت نمود، ازتلاش های والی کابل برای ایجاد پست معاونیت امور اجتماعی و تقرر یک خانم در آن پست اظهار سپاس و قدردانی کردند.

همچنان در یک دیدار جداگانه محمد یعقوب حیدری والی کابل با مریم امرخیل که برای تعلیم دختران و شغل یابی زنان فعالیت می نماید ملاقات نمود، از فعالیت های ایشان در این راستا اظهار سپاس و قدردانی نموده به ایشان وعده هر نوع همکاری را سپرد.

#کابل

#اداره_مستقل_ارگانهای_محلي

#دسیمه_ئیزو_ارگانونو_خپلواکه_اداره

«#IDLG

و ګورئ د مریم امرخیلې له نظره د تعلیم ارزښت:

«بدلون:

هغه کوټه چې زه په کې لویه شوم، هماغه کوټه چې د لس کلن ماشوم سر به یې هم په دروازه لړېده، هماغه کوټه چې یوې وړې دریځې به یو ولیشت رڼا ترې رادننه کېدله، هماغه کوټه، چې نیمه سترنجۍ او نیلم ګیلم په کې هوار وه خو تاخچه یې زما له کتابونو او کتابچو ډکه ما به لوړ اواز په کې کتاب لوست، لیکل به مې په کې کول، قرانکریم به مې تلاوت کاوه، خپلو همزولو نجونو ته به مې سبق په کې ورکاوه، راډیو به مې اورېدله سندرو ته به نڅیدلمه، د څراغ ماتې ښیښې درز مې د خپل کمیس په خالونه ورسریښاوه چې د شپې سبق ورته ووایم ما په ځان باور درلوده په خپلو خیالونو او خوبونو مې باور درلوده نن چې هر څه یم او څومره نیکمرغه ځان ګڼم ټول مې د علم او تعلیم برکت دی دا ټول سهولتونه چې زما دي دا ماته زما همغو د څراغ بلې رڼا ته د شپې تر ناوخته لیکل او لوستل وه هغه کیسې چې مابه اسمان ته د ستورو په لیدو کولې او هر روڼ ستوری به مې ځان ګاڼه. زما تر باور او خیالاتو زیات الله ماته زما د تعلیم په برکت راکړل. مریم امرخیل

هیله ده زموږ ټول هېوادوال خپلې لونې او زامن زده کړو ته ولیږي ویې هڅوي او هر حالت کې د هغوی تعلیم ملاتړ وکړي تر څو راتلونکي کې نه یوازې ستاسې مسولیت ادا شوی وي بلکې د هغوی د پرمختګونو او هغو نیکمرغیو چې لري یې تاسې هم هوسا او په دروند نوم غوره پلار، ورور او کورنۍ یاده شئ.
#تعلیم_سوله_راولي»

ویسا ورونه

تعلیم، کتاب ویشنه، مطالعه

او قلملار ټولنه

نولسمه مقاله

زه په دې عقیده یم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي.

که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنی زماني له غوښتنو سره سم و نه روزل شي،

د ژوند چینه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ!

(آصف بهاند)

د اوسني بحث اصلي موضوع د قلم لار ټولنې د پروګرامونو او د دې ټولنې د فعالینو پر هلو ځلو باندې راڅرخي. د قلم لار ټولنې او د هغې د مسولینو هلې ځلې د تعلیم، د ترلو ښوونځیو بیرته پرانستنه، د کوچنیانو او ځوانانو د زدکړو، کتاب سره مینه او د مطالعې کلتور د عامولو په دایره کې تر سره کیږي. د سواد زدکړې، د پوهې تر لاسه کولو اصلي منبع کتاب دی، له کتاب سره مطالعه ترلې ده، نو ځکه دا موضوعات ژوندي دي او هیڅکله نه زړیږي.

په هیڅ ځای کې او په هیڅ ټولنه کې د مطالعې دود، نه زړیږي او نه هم خلک ور نه مړیږي، یوازینی شی چې بدلیږي هغه د مطالعې ډول او څرنګوالی دی، ځای بدلیږي او له کتاب یا لیکل شوو موادو نه د استفادې ډول یا څرنګوال دی چې بدلیږي یا د مطالعې مواد دي چې په زړیدو سره بدلیږي.

یو وار مې ویلي، اوس یې بیا هم وایم چې په نورو ټولنو کې د تکنالوژۍ له پر مختګ سره د ژوند کولو او ژوند جوړولو سیستم او وسایل او له هغو نه د استفادې څرنګوالی هم بدلیږي، خو زموږ په ټولنه کې یا نه بدلیږي او یا دا پروسه دومره پڅه ده چې هیڅ نه محسوسیږي، چې یو له هغو نه کتاب، کتاب لوستنه او مطالعه ده. زموږ د ټولنې په ډیره سلنه خلکو کې تر اوسه د کاغذي کتابونو د لوستلو دود نه دی رامنځ ته شوی، خو په نورو ټولنو کې له کاغذي کتابونو نه بریښنایي کتابونو ته خبره اوښتې ده او له بریښنایي کتاوبونو نه اوس، اوس خبره غږیزو کتابونو ته رسیدلې ده.

سره له دې چې نه شمیرل کیدونکې نا خوالې زموږ پر خلکو او ټولنې باندې ورتپل شوي دي او د هغو په سیوري او تیاره کې زموږ خلک لاس پښې ښوروي، خو څنګه چې لیدل کیږي د علم د خپرونې، د تعلیم د عامولو، کتاب لوستنې او مطالعې دود، زموږ په ټولنه کې له ستونزو

سره ـ سره ، ورځ تر بلې ډیـریـږي. ما څه موده وړاندې د مطالعې د عامېدو په خاطر د یوې مقالې په ترڅ داسې لیکلي وو:

«د خوشالۍ خبره ده چې د لوست، کتاب او مطالعې په لوري، د استادانو، شاګردانو او نوي نسل پام اوړي. هیله ده چې دا هڅې نورې هم ګړندۍ شي او د مطالعې کلتور دومره عام شي چې کوراکور د کتاب او مطالعې په ارزښت باندې خلک پوه شي. کله چې مطالعه وي، نو ورسره پوهه وي. چې پوهه وي د کتاب او مطالعې وال خپله لار د ښیګڼې او پرمختګ پر لوري پرانیـزي. کله چې کتاب او مطالعه وي، د نا پوهۍ او تیارې لمن ټولیـږي، د خلکو او ټولنې سترګې غړیـږي، بیا نو خپل منزل ته د رسیدو لار پیدا کولای شي. د کتاب، مطالعې او مطالعې ته د هڅونې په باب چې هر څومره وویل شي، ولیکل شي او خپاره شي، بې ګټې، تکراري او زاړه به نه وي.»

یو وار مې د یوې مقالې له لارې، له ښاغلي احسان آرینزي سره د زړه خواله کې، د څو نسلونو د سواد او مطالعې مسألې ته داسې اشاره کړې وه:

«هغه بدبخته نسل چې له ټولنې، پلار، نیکه او له تیرو واکدارانونه داسې ټولنه، شرایط، قوانین او طرز تفکر ورته په میراث پاتې دي، چې هغه نوي زیـږیدونکي ماشوم ته پرته له بیسوادۍ، ناپوهۍ او بدبختۍ بل څه په لاس نه شي ورکوالی. دا خو د ژړا او غم وړده، دا پوښتنه باید مطرح شي چې له دې خلکو او ټولنې سره دا جفا چا وکړه، دا هر څه له کوم آدرسه ورسره شوي او له کوم آدرسه همدا اوس کیدونکي دي ...

زه فکر کوم چې د بدخشان د باریک آب او د افغانستان په نورو سیمو کې د طبعي آفاتو په پیښیدو سره سترې انساني غمیزې رامنځ ته شوې، چې واقعاً د ژړلو وړدي او د هر با درده انسان له سترګو اوښکې بهوي، خو زه یې داسې ګڼم چې له دې ټولو غمیزو نه ستره غمیزه همدا د یوه نه، بلکې د څو نسلونو بیسواده پاتې کیدل دي، ټینګار کوم او وایم چې د یوه نه، د څو نسلونو بیسواده ساتل دي.»

ما د مطالعې په باب په خپله یوې مقاله کې، زموږ په ټولنه او خلکو کې د مطالعې د کلتور د نشتوالي یا ضَعیفوالي په باب دوې داسې خاطرې لیکلې وې چې مایوسونکې وې، ورپسې مې دا هم ورښلولې وو چې موږ باید مایوسه نه شو او...

«... دا هغه تریخ واقعیت دی چې په موږ افغانانو، په تیره په پښتنوکې شته؛ خو باید مایوسه نه شو، په نیمه لارکې پاتې نه شو، د مطالعې د کلتور د عامولو له پاره باید نور هم کار وشي. لکه په تیره برخه کې مې چې په ننګرهارکې د ننګرهار میدیوتیک کتابتون او په لغمان کې د نعیمي فرهنګي مرکز کتابتون نمونه وړاندې کړې وه، دا د مطالعې د کلتور د عامولو له پاره موثر او باوري ګامونه دي او په هغه پسې دا دی د کتاب د نړیوالې ورځې په مناسبت په کابل کې د کتابونو د نندارتون پرانستل کیدل، یوځل بیا په دې لاره کې یو بل ډیر ستر او موثر ګام بلل کیـږي، هیله ده چې دا دود او دستور نورهم عام شي، وغځول شي، د سیاسي، قومي سیمه ایزو او ژبنیو تضادونو پرځای باید ځوانان مطالعې او د پوهې ترلاسه کولو ته وهڅول شي او دا کار ورو، ورو په عامیدودی»

او دا دی زما دا هیله یو څه تر سره شوه او د تعلیم او مطالعې له پاره هڅې او هاند نور هم پسې ګړندی شو. د دغو انساني هڅو په لړ کې دوه تکړه فرهنګیان او دوه با احساسه ورونه، **عطا الله ویسا او مطیع الله ویسا** د تړلو ښوونځیو د پرانستو، د کوچنیانو او ځوانانو د تعلیم، مطالعې د دود د عامیدو او کتابونو د ویش له پاره داسې هڅې پیل کړې دي چې د ځینو لا زړه ته هم نه لویږي.

ویسا ورونو(عطا الله ویسا او مطیع الله ویسا) خپل فعالیتونه د قلملار ټولنې په چوکاټ کې تر سره کوي. له عطا الله ویسا سره مې د ۲۰۱۵ کال د اپریل په میاشت کې په کابل کې و پیژندل، بیا مو اړیکې ساتلې وې. هلته په کابل کې او څو واري یې د تیلیفون او سکایپ له لارې د خپلو فعالیتونو په باب معلومات را کړل. د ۲۰۱۶ کال د فبروری په اتلسمه نیټه یې د «قلملار ټولنه» په باب داسې مالومات راکړل:

«د قلملار ټولنې هڅې موږ په ۱۳۸۷ کال کې پیل کړې، خو دا ټولنه مو یو کال مخکې په اړوندو ارګانونو کې راجستر کړه او د فعالیت جواز مو ور ته واخست. د دې ټولنې د کار اصلي ساحه د تعلیم او معارف په برخه کې ده. اوس یې دا پروګرام مخته کړی دی چې په لومړي ګام کې د افغانستان په نا امنو سیمو کې تړلي ښوونځي د دولت او خلکو په مرسته بیرته پرانیزي. کومه احصایه چې زموږ ټولنې په نا امنه سیمو کې د تړلو ښوونځیو د شمیر په برخه کې تر لاسه کړې ده، په نا امنو سیمو کې د تړلو ښوونځیو شمیر یو زرو دوه سوه پنځوس (۱۲۵۰) ته رسیږي.

د قلم ار ټولنې د فعالیت بله برخه دا ده چې بې سر پرسته ماشومان تر روزنتونونو پورې رسوي او هغه بیوزلي او له ښونځیو پاتې ماشومان چې سن یې تر اوو کلنو پورته وي، په کابل کې یې هغو دولتي ښوونځیو ته ور پیژنو چې لیلیه ولري، لکه د خوشال خان او رحمان بابا لیسې.

په قلملار ټولنه کې زموږ د هڅو بله برخه دا ده چې ځینې بیوزله ځوانان د لوړو زدکړو له پاره بهر ته هم لیږو. لومړنی ګروپ مو یو کال مخکې هند ته لیږلی دی او اوس د یو بل ګروپ ځوانانو له پاره زمینه برابروو چې ترکیې ته واستول شي. قلملار ټولنه د لوړو زدکړو له پاره ځینې داسې مراجع لټوي چې له موږ سره بهر ته د ځوانانو په لیږلو کې مرسته وکړي.»

ویسا ورونه د قلملار ټولنې له لارې، تر عادي مطالعې ډیره پراخه ده. د دوی د کار پروګرام دغه برخې را نغاړي:

ـ د هیواد د ټولو ماشومانو د زده کړې مسأله،

ـ په لویانو او ځوانانو کې د مطالعې د فرهنګ دودول،

ـ د تړلو ښوونځیو د بیا پرانستو له پاره هڅه او مبارزه.

د قلملار ټولنې د همدې هڅو په پایله کې تر اوسه د هیواد د ځینو ولایتونو په ولسوالیو کې په شخصي لګښت د اوو(۷) عامه کتابتونونو پرانیستل دي.

ویسا ورونه له دغو فعالیتونو سره حق لري چې و وایي:

هلته د تیارو سره په جنګ یمه
چیرته چې د لمر هم رڼا نه رسي

د ۲۰۱۶ کال د جنوري په شلمه نیټه مې له ښاغلي مطیع الله ویسا سره د مطالعې او کتاب ویشنې په باب د فیسبوک د چت په خونه کې ډیرې خبرې شریکې کړې چې یوه برخه یې دا ده:«

ویسا: سلام، جوړ په خیر!

بهاند: سلامونه ویسا صاحب! څه حال مو دی؟

ویسا : څه حال دې دی، کور کې خیریت دی؟

سبا ځم خوست کې کتابتون جوړوم، په یعقوبیو ولسوالي کې.

بهاند: خدای دې نور توان او برکت هم درکړي. تر څو چې دا خلک با سواده او پوه نه شي، هیڅ شی هم نه سمیږي. ستاسو لار بیخي سمه ده، بریالي اوسئ.

ویسا: زموږ یو غم نه دی، په زرګونو غمونه مو پر سر دي. هیڅ دوست د نړۍ پر مخ نه لرو، هره ورځ وژل کیږو، ټکول کیږو خو که سره یو نه سو، نو اخر به ورک کیږو.

بهاند: زما هیله دا ده چې د هر کتابتون له پرانستل کیدو نه وروسته یې بشپړ ګزارش په لیکلې بڼه خپور کړئ.

ویسا: په یو عالم ستونزو کې ژوند کوم، خو ډیره لویه هیله مو د دې بد بخت قام د اولاد زده کړه ده، ډیرې خوارۍ د دوي لپاره کاږم.

بهاند: زموږ لوی دښمن جهالت، ناپوهي او بیسوادي ده چې داسې نا خوالي، اورونه او وینې مو په برخه دي. دې ته مو پام وي چې تر څو مو په کور، کلي او خلکو باندې جهالت، نا پوهي، بیسوادي او بې علمي حاکمه وي، دا حالت به مو په کور کې میلمه وي، هڅه وکړئ چې دا نا بللي میلمانه مو له کور، کلي او وطن څخه کډه شي.

ستاسو دې کور ودان وي، ستاسو خواري ثبتیږي او نه هیریدونکې ده.

ویسا: لویه ستونزه جهل او ناپوهي ده.

بهاند: ستاسو هڅې او د کتاب خپرول او خلکو ته یې رسول د ډیوو حیثیت لري او له دغه خپاره شوي جهل سره د جګړې تر ټولو ښه وسله ده.

ویسا: بس خپله هڅه تر آخري سلګۍ پوري کوم چې خپلو هیوادوالو ته د علم او زده کړو لاره ور وښایو دا به د جګړې مخه نیولې چې قوم مو باسواده سي.

بهاند: دا بیخي سمه لار ده، خدای مو بریالي او سر لوړي لره!

ویسا: دلته ستونزه یوازې په بې سوادو او نالوستو کې نه ده، لویه ستونزه په لوستو کې هم سته، دلته یو شمیر پښتني خویندې چې زده کړې یې کړي وي همدغه کسان ورسره بیا واده نه کوي راته ډیرو پښتنو خویندو ویلي دي چې تاسو لوستي ورسره واده نه کوئ، نو کوم پښتون به بیا په لور زده کړې وکړي؟

پښتنه بي بي به د بل کور ته ځي، خو پښتون دي خپلي باتي ولي پلار او نیکه یې توره کړې ده.

بهاند: زه پوهیږم چې کله نا کله له لوستو نه هم اور را بلیږي، دا بیا بیل بحث دی چې د مقالو او کتابونو لیکل ایجابوي او بحث ته یې علمي سیمینارونه باید جوړ کړای شي او د حل لارې ورته ولټول شي، خو نن سبا چارواکي په بل څه لګیا دي. کله، کله ځانته په دې قناعت ور کوم چې:

«ما او تا دې خدای لري، سرک به جوړ شي سر کاري»

خیر په هر صورت، ګوره ګوره به لرو، خوله به مو خوږه وي.

ویسا: هم به ګوره ګوره لرو هم به کار کوو.

بهاند: بیخي سمه ده، دا دی تاسو هم فعالیت کوئ، چې ښه محسوس هم دی.

ویسا: مننه استاده دا خبره مي درسره شریک کوله چې زړه دې خوشاله کړه کړم.

بهاند: تاسو او ستاسو دغه ریښتیني مثبت فعالیتونه دې خدای لري، زما د امید سترګې تاسو ته در اوړي .خوشاله او فعاله اوسئ!»

د ویسا ورونو دې کور ودان وي چې زما د وړاندیز پر اساس یې د خپلو فعالیتونو لنډ ګزارشونه پر وخت په ځینو ویبپاڼو او فیسبوک کې له عکسونو سره خپاره کړل. د دوی د هڅو ګزارش په تاند_ویبپاڼه، روهي ویبپاڼه لراوبر ویبپاڼه ټول افغان ویبپاڼه او ځینو نورو پاڼو کې د هیواد والو د خبرتیا او د مطالعې او کتاب ویشنې د دود د عامیدو په خاطر، په خپل وخت کې خپور شوی دی. د روهي ویبپاڼې د ګزارش په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«قلم لار ټولنه یوه مدني ټولنه ده چې مسئولین یې له خلکو کتابونه را ټولوي او بیا همدا کتابونه لیري پرتو سیمو ته د ځوانانو د لوست له پاره رسوي، دا چې لا تر اوسه د لیرو پرتو سیمو ځوانان د ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي، د یوې خوا غربت او ناچاري او د بلې خوا کتاب، قلم، ښوونځي او د نورو وسایلو نه شتون، هغه ستونزې دي چې زموږ ځوانان یې د زدو کړو او پرمختګ څخه شاته پرې ایښي دي. د قلم لار ټولنې مسئولینو تر اوسه د هیواد په پنځو لیرې پرتو ولسوالیو کې د ځوانانو د لوست له پاره هغوي ته کتابونه رسولي او د هغوي دا ستونزه یې حل کړې ده چې یاد کتابتونونه، دکندهار په سپین بولدک، پنجوائي، د هلمند مارجه، د زابل ښارصفا او پنځم یې هم د خوست په یعقوبیو ولسوالي کې پرانیستلی.»

ویسا ورونه د یو ستر انساني ارمان د پوره کیدو له پاره کار کوي چې هغه د تعلیم عامول او د نوي نسل روزل دي، لکه ملنګانو غوندې په ښارونو او کلو باندې ګرځي، د کتاب ټولولو د کمپاین په ترڅ کې د کتابونو خیر ټولوي او بیا یې بیرته هغو سیمو ته رسوي چیرته چې خلک کتاب ته لاسرسی نه لري. دغه یو پروګراف مې د ښاغلي مطیع الله ویسا له پاڼې نه د ګزارش په ډول را واخست:
«بیا هم د خوشحالۍ خبر:

نن اووم عامه کتابتون د کنړ ولایت خاص کنړ ولسوالي کې پرانستل سو، چې د سیمې خلک به د مطالعې له پاره ورڅخه استفاده کوي. د ښاغلی رضوان الله شپون نه نړۍ مننه چې راسره یې پوره مرسته وکړه او هم له ټولو هیوادوالو هیله کوم کتاب راټولولو کمپاین ته کتابونه وسپاري، ترڅو د هیواد هرې سیمې ته کتاب ورسوو. د ټولو هاغو دوستانو نه مننه کوو چې د کتابونو مرسته یې کړې وه، کور یی ودان، همدا لړۍ به نورو سیمو ته هم غځوو.»

دا جملې هم د عطا الله ویسا دي:

«په کوم څه چې ډیر خوشاله کیږم او روحي سکون پیدا کوم، هغه د خپلې ټولنې او رنځور ولس چوپړ دی. دا راته مهمه نه چې څوک او کوم ځای دی، خو زما هیودوال او زما ولس د ی. زه ژمن یم چې خپل ولس ته څه وکړم، خو تاسو هم راسره مرسته وکړئ تر څو تر ولسه مو څه ورسوو، د خوست په یعقوبیو ولسوالي کې مو د ځوانانو د لوست له پاره ستاسو ملګرو هغه راټول کړي کتابونه ورسول کوم چې تاسو د صدقې په توګه خپلې ټولنې ته وړاندې کړي وو. د هغو خوستوالو ټولو ملګرو یې کور ودان.»

ویسا ورونه په دې نظر دي چې تعلیم د ټولنې په ژوند کې د ډیرو ستونزو د حل لاره ده. د همدې پالیسۍ پر بنا ښاغلي مطیع الله ویسا په خپله فیسبوک پاڼه کې یو وار داسې ولیکل:

«راځئ تعلیمي انقلاب راولو،

د هیواد د ټولو ستونزو د حل لاره یوازې تعلیم دی،

راځئ هر افغان ماشوم د ښوونځي خاوند کړو، ترڅو د هیواد او ولس آینده وژغورو.»

دا ښه خبره ده چې موږ باید د یو بدلون په لټه کې اوسو او دا کار د نوي نسل د سمې روزنې، سواد عامولو، کتاب ویشلو او مطالعې له لارې ښه تر سره کیدای شي، خو د دوی پام دې، دې ټکي ته هم وي چې څه ډول کتابونه ویشي، د کتاب محتویات لوستونکو ته څه ورکوي او...

که د ویشل کیدونکو کتابونو محتویات، د هغو له لوستونکي سره د نوې او پرمختللې ټولنې په پیژندلو او په هغې ټولنې کې د ورګډیدو او د تولید په ورپیژندلو کې مرسته وکړي ښه به وي، تر دې چې هغه تکراري موضوعات په کتابونو کې لیکل شوي وي چې لوستونکي ګنګسوي او لاره ور نه ورکوي.

د ویسا ورونو د دې نیکو کارونو په باب که هر څومره ولیکل شي، کمه به وي. د دوی د ورستیو فعالیتونو په باب ډیرو فرهنګیانو او قلموالو خپل نظرونه څرګند کړي دي چې د څو تنو لنډه یادونه به یې وکړم:

نجیب الله ژمن د ویسا ورونو د دې فعالت په باب داسې نظر څرګند کړی دی:

«دوه ځوان ورونه، چې د هیواد د ټولو ماشومانو د زده کړې، په لویانو او ځوانانو کې د مطالعې د فرهنګ دودولو او بندو ښوونځیو د خلاصون له پاره هڅه او مبارزه کوي. دوی وایي له

بادغیسه تر نورستانه ۱۳۰۰ ښوونځي تړلي دي او اصلي لامل یې طالبان نه، بلکې مافیایي کړۍ دي.

د علم په برخه کې د دوی بل ستر کار د هیواد د مختلفو ولایتونو په ولسوالیو کې په شخصي لګښت د ۷ عامه کتابتونونو پرانیستل دي. بریالي اوسئ! پر علم مئین ولس له تاسو سره دی.»

سعید زابلي لیکلي دي:

«دې ته وایي اتلان،

د هېواد ګوټ، ګوټ ته یې کتابتونونه ورسول، نن یې د کونړ په خاص کونړ ولسوالۍ کې کتابتون پرانیست،

نه له چا امتیاز غواړي او نه له چا ناز، دې ته یې کار ویلی،

چې له زابله تر کابله، له فراه تر خوسته، له کندهاره تر ننګرهاره، له بادغیسه تر کونړه افغان زلمو او افغان بچو ته د علم رڼایي ورسوي.

ژوند ژوند!

#دوه_ورونه_دوه_اتلانAttaullah Wesa Matiullah Wesa matiullah»

دغه راز ښاغلي رضوان الله شپون چې په کنړ کې یې له ویسا ورونو سره د کتابتون په جوړولو کې برخه اخیستې وه، د دوی د هڅو په باب داسې لیکلي دي:

«پرون خوږو ملګرو عطاءالله ویسا او مطیع الله ویسا د کونړ په خاص کونړ ولسوالۍ کې د قلملار ټولنې په مرسته عامه کتابتون جوړ کړ، دا د قلملار ټولنې له لورې د ټول هېواد په کچه پرلپسې اووم کتابتون دی چې پرانیستل کېږي، دا عامه کتابتون د خاص کونړ تنر کلي کې د ښاغلي شاه محمود مباخېل په دېره کې جوړ شوی چې د ټولو وګړو پرمخ به خلاص وي.

ملا د همت وتړو په خپله هلې ځلې کړو
ځئ چې ډیوې بلې کړو.»

افغان فزیکپوه او د ښوونې روزنې د نهضت یو پلوي او عملي کار کونکی استاد محمد تنها د ویسا ورونو د فعالیتونو په باب داسې لیکلي دي:

«د مطیع الله ویسا او اُستاد صابر حسیني دې په ډېرو هغو پوهاندانو، پروفیسورانو، ډاکټرانو، انجینیرانو، جنرالانو چارواکو او زورواکو بلاګې ګرده ورده وګرځي چې یواځې د خپلو شخصي ګټو لپاره هرڅه ته بېځایه هوا ورکوئ او بیا ځان هم په خلکو واجب الاحترام بولي.
رب دې ویساګان او حُسینیان په دې خاوره ډېر کړي. آمین»

ویسا ورونه او د دوی په څیر نور د علم، کتاب او مطالعې پلویان هم شته چې د کتابونو د ویش او مطالعې د رواجیدو له پاره کار کوي، خو د څو بیسواده نسلونو، د ناپوهۍ پایله نن دا ده چې له هرې سیمې داسې خبرونه هم راځي چې د تباهۍ زیري په کې دي. د ناپوهۍ، بیسوادۍ او جهالت دوې ښې او دوه ډېر نوي او تازه مثالونه به یې له منابعو سره دلته وښیم:

یوه ورځ د میډیا په ستره نړۍ کې دا سرلیک را تر سترګو شو:

«سه ولسوالی پکتیا در 14 سال هیچ فارغ صنف دوازدهم ندارند»

تر دې سرلیک لاندې له څو عکسونو سره یو ګزارش او د هغې سیمې له خلکو سره خبرې راوړل شوې وې، خو زما له پاره یې دا پروګراف د مار او لړم د نیش تر زهرو هم زورونکی او وژونکی دی:

«ولایت پکتیا در جنوب شرق افغانستان به 14 واحد اداری (ولسوالی) تقسیم شده است، شماری از باشنده گان سه ولسوالی ولایت جنوب شرقی پکتیا می گویند که این ولسوالی‌ها تنها یک «لیسه» دارند و این لیسه نیز در 14 سال گذشته دانش آموزی از صنف دوازدهم فارغ نداده است...»

بله بیلګه یې بیا د فیسبوک په پاڼو کې را ښکاره شوه. څو ورځې مخکې د همدې خلکو په ویر او غم یو غمجن او خوا خوږي دوست په خپل فیسبوک پاڼه کې ولیکل چې په ځینو ولایتونو کې لا یوې ښځینه مخلوق هم د پوهنتون د کانکور په آزموینه کې ګډون نه دی کړی او په ډیر درد او قهر سره یې داسې لیکلي وو:

«د چا چې پر خپل قام زړه سوځي دا چیغې دې شریکې کړي!

دې ته وایي غیرت!!!

د شمله ورو، مجاهدو، زړورو او پر دین مینو، غیرتي پکتیکاوالو او ارزګانیانو!!! لونو او خویندو د قسم له پاره هم یوې د سږکال په کانکور کې ګډون نه دی کړی.

سبا یې چې بیا ناروغه ښځه، خور او لور پرمخې یا د شا په تخته هندي یا پنجابي ډاکتر ته پرته وي او پردی لوند یې پر پستو اندامونو لاسونه ورته وهي بیا به همدا غیرتي او شمله ور پښتانه له حکومته ښځینه ډاکترانې غواړي.

وه زما د جهل پر نیلي سپور قامه! آخر ترڅو؟ لږ له خپلو نورو هیوادوالو شرم وکړئ، په بدخشان، مزار ، هرات، بامیان او دایکندي کې تر نارینه وو د کانکور ښځینه ګډونوالې ډېرې وې. ولې ستاسو غیرت او مسلماني تر بدخشیانو، غیرتي هزاره ګانو او مزاریانو ډېر دی که تر هغو ښه مسلمانان یئ. ای جهل ځپلیو، ای تش په نوم غیرتیانو، ای ملاوې مو ماتې شه، د شرم بوټو! چې نه وایو له غمه یې وایو، دا مو څه لوبه را اخیستې؟ دا په تاسو څه شویدي؟ له ځان سره دښمني او دومره دښمني؟ وه غرق شئ، هغه خور و لور دې چې پنډې چلوي هلته غیرت نه درته درېږي؟ هغه ځوانه جانه ښځه دې چې ځنګله ته په خسو پسې روانه وي په هغه نه شرمېږې؟ هغه پنجابي او عرب لنډغر دې چې ته یې، که نه یې په حجرو کې د ټالیب او مجاهد په نوم ښکته پورته کېږي او له ګودره ستا د راروانې خور لور د شنو او سرو ټیکریو په لیدو اودس په اوړي او بیا تا دیوث نه د غسل اوبه غواړي، هلته غیرت نه درته درېږي ، خو مکتب ته د خور و لور په لېږلو دې غیرت، جګې، خیرنې او په جهالت ولاړې شملې ته تاوان رسېږي؟

زړه مې ډک دی نن مې زړه غواړي چې یو قوي لاوډوسپیکر مې لرلای او په زوره زوره مې خپل جهل ځپلي او جهاد وژلي قام ته ناري کړی وای چې:

ای بیغرتو، بیغرتو، بیغرتو!

ای په توپو والوزئ لکه چې الوزئ،

دا غیرت نه دی چې لور مکتب ته نه پرېږدئ، دا غیرت دی چې مکتب و وایي د وطن د نورو جنکو سیاله شي او سبا له تپیاکو جوړولو خلاصه وي.

پښتنو قسم دی چې له ملا، تالیب او د دین په نوم جهل نه ځان خلاص نه کړئ، تباه کیږئ، تباه کیږئ»

د همدې نا خوالو نه را زیږیدلو ستونزو او پر ټولنه باندې د ناپوهۍ او بیسوادۍ د بلا حاکمیت نن تر دې پورې را رسولي یو چې د خپلو مساپرو لیک هم په بل لولو او د خپلو عزیزانو د زړه حال د بل چا له خولې نه اورو، د سَتر ډیر شوقیان یو، خو ټول ناروغان مو د پردیو ډاکترانو پر میزونو او کټونو باندې پراته وي، هغوی یې معاینه کوي او...
که یې لنډه او ځای پر ځای و وایو د دې اصلي دلیل همدا بیسوادي، د ښونځي، پوهنځي او د زدکړو او مطالعې نشتوالی دی.

زه په دې عقیده یم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چینه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ.
د معارف، زدکړو او مطالعې د رواجیدو په برخه کې د ویسا ورونو فعالیتونه او د نوي نسل روزلو ته د نورو زړه سواندو قلموالو او فرهنګیانو پاملرنه او جدي هلې ځلې، سړی دې ته امید واره کوي چې یو وخت به پر وطن او خلکو باندې د خپرې تیارې ځای رڼا ونیسي.



ویسا ورونه د میډیا په هنداره کې:

د ویسا ورونو له ډلې نه ښاغلی مطیع الله ویسا، د سواد نړیوالې ادارې (ILA) د سواد زده کړو په برخه کې، د بیسارو هلو ځلو په وجه، د نړۍ د دېرشو ځوانو رهبرانو په نوملړ کې راوستی دی.

Melissa Wells, 29

Literacy Coach, Arcadia Elementary School | SOUTH CAROLINA, U.S.

When Melissa Wells introduced the first days of independent reading to her third graders—all but one of whom were African Americans or Latinos/a—they did anything they could to hide from her: ducking behind furniture, building fidder forts on their desks, or changing their books every few minutes. None of them believed they were readers.

By the end of the year, students' attitudes had changed completely. As a literacy consultant and contributor for Mary Pope Osborne's Classroom Adventures Project, which develops cross-curricular units based on the Magic Tree House series, Wells branched off the standard skill-and-drill reading instruction by incorporating more engaging books into her lessons.

On the last day of school, "my kids begged to stay back from a field trip to read instead."

Wells is now a literacy coach in a school with a thriving population of ELs, where one of her main objectives is to establish a digital dialogue with families—who she believes are the most untapped resource in education. In addition to running literacy activities such as Family Literacy Nights, Wells and the school media specialist created book bundles with award-

(Flipped instructional videos will soon be included), and she blogs about creating equitable learning spaces for minoritized students.

"Even though it was my job that year to help students grow as readers, they actually taught me so much more about the importance of critical questioning of policy and practices as a means of advocating for the needs of all learners," Wells says.

Matiullah Wesa, 23

Founder, Pen Path Civil Society | KABUL, AFGHANISTAN

For Matiullah Wesa, educating the next generation in southern Afghanistan is a passion that traces back to the day he was in fourth grade when the Taliban set his school on fire.

Although some parents could afford to send their children to school in Kabul, children of those who could not went without an education. Wesa worked second by with his village community to educate the poor children, including a number of girls.

پژواک خبري آژانس په خپل یو رپوټ کې داسې لیکلي دي:

«کابل (پژواک، ١٤ وږی ٩٥): د سواد نړیوالې اداري (ILA) د افغانستان د "قلم لار ټولنې" مشر مطیع الله ویسا په روان میلادي کال کې د سواد زده کړو په برخه کې د نړۍ د دېرشو ځوانو رهبرانو په نوملړ کې شامل کړی دی.

یاد ٣٠ تنه چې عمرونه یې تر ٣٠ کلونو ټیټ دي، د نړۍ د ١٢ هېوادونو اوسېدونکي دي او نومونه یې د سواد نړیوالې اداري په مجله کې خپاره شوي دي.

سرچینه لیکي چې یادو ٣٠ کسانو په ملي او نړیواله کچه د پوهنې په برخه کې د پام وړ خدمتونه کړي دي.
دغه اداره له ٦٠ کلونو راهیسې د نړۍ په شاوخوا ٧٠ هېوادونو کې فعالیت لري او هر کال د سواد د نړیوالې ورځې (د سپټمبر اتمه) په مناسبت هغه کسان د ځوانو رهبرانو په نوم نړۍ ته ورپېژني چې د زده کړو د ترویج، د کتابتونونو او ښوونځیو د جوړېدو او له بېوزلو زده کوونکو سره د مرستو په برخه کې کار کوي.

د مطیع الله ویسا ورور عطاالله ویسا پژواک خبري اژانس ته وویل: "ویاړم چې ورور مې مطیع الله ویسا د پوهنې او زده کړو د ترویج په برخه کې د خپلو کړو خدمتونو له مخې د یوې نړیوالې او با اعتباره اداري له خوا د ځوان رهبر لقب ورکړل شو."

هغه وایي چې مطیع الله ویسا له تېرو اتو کلونو راهیسې د بېلابېلو مدني ټولنو غړیتوب درلود او په ١٣٩٣ کال یې د"قلم لار ټولنې" بنسټ کېښود.

د ده په وینا، مطیع الله له همدې لارو خلک د نجونو ښوونځیو جوړولو ته هڅولي، له خلکو یې مرستې راټولې کړې او بیا یې له بېوزلو زده کوونکو سره د قرطاسیې، کتابونو او نورو اړینو توکیومرستې کړې دي.

دغه راز هغه وایي چې مطیع الله د خلکو په مرسته یو شمېر ترلې ښوونځي هم بېرته پرانیستي دي.

د ده معلوماتو له مخې، مطیع الله ویسا په ۱۳۷۱ کال کې په کندهار کې ږیږیدلی، د کابل رحمان بابا لیسه کې یې زده کړې کړي او د هندوستان د پوني له پوهنتون څخه یې په سیاسي علومو کې د لیسانس تر کچې زده کړې کړي دي.»

دغه راز آزادي رادیو دات کام ولیکل چې:

«مطیع الله ویسا لقب رهبر جوان را به دست آورد:

مطیع الله ویسا مسئول نهاد فرهنگی راه قلم در افغانستان، لقب رهبر جوان را از سوی انجمن بین المللی سواد به دست آورده است.

آقای ویسا در صحبت با رادیو آزادی گفت که او چهار ماه پیش برای کسب این لقب نامزد شده بود.
ستار فروغ با مطیع الله ویسا از طریق تلیفون صحبت کرده و در آغاز از وی پرسیده است که چی کارهای را در بخش تعلیم و تربیه در افغانستان انجام داده که نام اش از سوی انجمن بین المللی شامل فهرست سی رهبر جوان شده است.»

په یوه بل راپور کې د ویسا په باب داسې راوړل شوي دي:«

برادران مکتب ساز؛ قربانیان مکتب سوزی طالبان

در سال ۲۰۰۱ پس از سقوط حاکمیت طالبان و آغاز دوره‌ی جدید در افغانستان، در قریه‌ی دورافتاده‌یی در ولسوالی معروف ولایت قندهار، پدر مطیع‌الله و عطاالله، مکتبی ساخت. مردم محل با ایجاد مکتب موافق نبودند و این مرد خانه به خانه رفته و مردم را قناعت داد تا با ساخت مکتب مخالفت نکنند. مکتب ساخته شد، نُه ماه فعالیت کرد و محلی شد برای آموزش پسران. اما روزی گروه طالبان این مکتب را جلو چشمان مطیع‌الله و هم مکتبی هایش آتش زده و به آن ها اخطار داده شد که اگر از مکتب بیرون نشوند، کشته خواهند شد.

مطیع‌الله ویسا و عطاالله ویسا دو برادر از ولسوالی معروف ولایت قندهاراند که حالا در بخش معارف و آموزش فعالیت می‌کنند. آنان در عرصه ی بازگشایی مکاتب مسدود شده، ایجاد کتابخانه، توزیع کتاب و قرطاسیه به دانش آموزان، ایجاد زمینه ی تعلیم و تحصیل برای کودکان و جوانان فقیر و یتیم به صورت رضاکارانه فعالیت دارند. آن ها تاکنون به ۳۴ ولایت کشور و در چندین ولسوالی هر ولایت سفر کرده‌اند.

دغدغه ی مطیع‌الله و برادرش باسواد شدن تمام مردم افغانستان است. آن‌ها آرامش و آبادی افغانستان را وابسته به باسواد شدن تمام مردم کشور می دانند و در این راستا بدون هیچ چشم داشتی فعالیت و تلاش می‌کنند.

مطیع‌الله ویسا که اکنون مدرک لیسانس از رشته ی علوم سیاسی از یکی از دانشگاه‌های هند دارد و قرار است برای ادامه ی تحصیل در مقطع ماستری نیز به هند برود، آن زمان دانش آموز صنف چهارم مکتب بود. او و برادرانش بعد از یک سال مجبور شدند برای ادامه ی تعلیم به مرکز ولایت قندهار کوچ کنند.

سال‌ها بعد، زمانی که مطیع‌الله دانش آموز صنف یازدهم مکتب شد همراه با برادر بزرگش که سوختن مکتب شان را جلو چشمان شان دیده بود، تصمیم گرفتند برای فعال کردن مکاتب مسدود شده، تلاش کنند.

آن‌ها در سال ۲۰۰۹ با راه اندازی انجمنی فعالیت شان را برای بررسی وضعیت معارف در گوشه و کنار کشور آغاز کردند. به ولایت‌های مختلف سفر کردند و گزارشی از وضعیت معارف افغانستان، تعداد مکاتب مسدود شده، چالش های فراراه معارف و مکاتب و راه های حل آن را تهیه و به حامد کرزی، رییس جمهور پیشین و وزارت معارف ارائه کردند. آقای کرزی وزارت معارف را مسئولیت داد که با آنان هماهنگ شود و برای حل چالشها اقدام کند، اما به گفته ی مطیع‌الله، وزارت معارف هیچ کمکی به آن‌ها نکرد.

بازگشایی ۳۲ باب مکتب:

دو برادر با اعضای انجمن شان از سال ۲۰۰۹ تاکنون موفق شده اند که ۳۲ مکتب مسدود شده را در ۱۱ ولایت کشور بازگشایی کنند. روش کار آن‌ها طوری است که هنگام سفر به ولایات مکاتب مسدود شده را شناسایی و سپس با مردمان محل در مورد ارزش علم، آگاهی و مکتب صحبت می‌کنند. مطیع‌الله میگوید مردم محل را از لحاظ ذهنی آماده میکنیم که بپذیرند موجودیت مکتب و کسب دانش نه تنها ضرری ندارد، بلکه میتواند عامل پیشرفت و ترقی شود. پس از آنکه مردم محل راضی به ایجاد مکتب شدند، این دو برادر از آنها تعهد می‌گیرند که فرزندان پسر و دخترشان را به مکتب بفرستند و از مکاتب حفاظت کنند. سپس به کابل یا ریاست‌های معارف ولایات میروند و روند اداری بازگشایی مکاتب را طی مراحل میکنند.

مطیع‌الله میگوید که در دو هفته ی پیشرو کار اداری بازگشایی چهار مکتب در ولایت‌های پکتیا، قندهار، قندوز و غزنی تمام می‌شود.

تمرکز این رضاکاران بیشتر روی مناطق و ولسوالی‌های جنگزده است.

همچنان این رضاکاران کمپاینی را در ۱۸ ولایت در زمینه ی اهمیت صلح، ارزش تعلیم و تربیه و بازگشایی مکاتب به راه انداخته اند که توسط موتر سایکل پیش برده میشود تا نشان دهند که مخالفان مسلح سوار بر موترسایکل مردم را میکشند، مکاتب را می‌سوزانند و پیام جنگ میآورند، اما آنان با استفاده از این وسیله پیام صلح، آگاهی و تعلیم را با خود به مناطق دوردست می‌برند.

«انجمن راه قلم» اکنون به گفته‌ی ویسا، از هر قوم و مذهب در ۳۴ ولایت افغانستان ۱۳۰۰ عضو رضاکار دارد که در فعالیت‌های ولایتی با آنان کمک می‌کنند.

۱۳ کتابخانه‌ی عامه با ۱۲۰ هزار جلد کتاب:

در آغاز دوره ی جدید، مطیع‌الله ویسا و عطاالله ویسا در خانه ی شان در ولسوالی بولدک قندهار یک کتابخانه ی خصوصی داشتند. آنها تصمیم گرفتند با این کتابها کتابخانه یی بسازند که تمام مردم بتوانند از آن استفاده کنند. طرح ایجاد کتابخانه از این جا آغاز شد و آن ها بعد از سال ۲۰۰۹ روی ایجاد کتابخانه و توزیع کتاب به دانش آموزان در نقاط مختلف کشور کار کردند.



مطیع‌الله میگوید که در سال ۲۰۱۳ یک کتابخانه در ولسوالی مارجه ی ولایت هلمند ساختند. او می افزاید که در سال ۲۰۱۵ کمپاین جمع آوری کتاب را به راه انداختند و تاکنون موفق به جمع آوری ۱۲۰ هزار جلد کتاب شده اند. مطیع الله میگوید که ۸۰ هزار جلد از این کتاب ها مربوط ادبیات کودک است، بخش دوم مربوط کتاب های مکاتب و آمادگی کانکور و بخش سوم کتاب های عمومی است.

تا کنون این دو برادر و همکاران رضاکار شان موفق شده اند ۱۳ کتابخانه ی عامه را در ولسوالی‌های سپین‌بولدک، پنجوایی قندهار، ولسوالی مارجه ی هلمند، ولسوالی شهرصفای زابل، ولسوالی یعقوبی خوست، ولسوالی نرخ میدان وردک، ولسوالی خاص ولایت کنر، ولسوالی قره باغ غزنی و ولایت‌های ارزگان، فراه، قندوز، نورستان تخار بسازند. آنان همچنان برنامه های متعددی را برای ترویج فرهنگ کتابخوانی راه اندازی کرده‌اند.

آنان در نظر دارند که در یک ماه آینده پنج کتابخانه ی دیگر را نیز در ولایت های زابل، بادغیس، نیمروز و ولایت هایی که ضرورت حس می شود، بسازند. ساختن حداقل دو الی سه کتابخانه در تمامی ولایات کشور از طرح‌های بلندمدت آنان است.

مطیع‌الله میگوید که او و برادرش در ولسوالی هایی که آموزش دختران از سوی طالبان ممنوع است، در خانه ها کورس‌های آموزشی مخفیانه ایجاد کرده اند تا دختران به دور از چشم مخالفان مسلح بتوانند سواد ابتدایی را کسب کنند. مطیع الله ویسا می گوید که تاکنون ۱۶ مرکز آموزشی ابتداییه را در پنج ولایت جنگ زده ساخته اند.

همچنان این رضاکاران به دانش آموزان مکاتب قرطاسیه و قلم نیز کمک کرده‌اند، آن طوری که آقای ویسا می‌گوید به ۹۰۰ هزار دانش آموز در ۳۴ ولایت قرطاسیه توزیع کرده‌اند.

از قول مطیع الله، این دو برادر در طول نُه سال فعالیت شان توانسته ۳۵۰۰ کودک فقیر و یتیم را از ولسوالی ها و روستا های دور دست راهنمایی و کمک کنند تا به کابل و مراکز ولایات بیایند و زمینه ی تعلیم آنان را فراهم کنند.

مطیع‌الله می گوید بیشتر این کودکان یتیم اند و پدران شان را در جنگ های دو دهه ی اخیر از دست داده‌اند. روش کار این برادران و نهاد شان طوری است که این کودکان را به مکاتبی که لیلیه دارند معرفی می‌کنند.

هزینه درس و مکان بود وباش این کودکان را دولت فراهم می کند. مطیع الله برای تهیه قرطاسیه و برخی لوازم زندگی این کودکان از دارایی شخصی اش مصرف می کند.

همچنان این برادارن زمینه تحصیل را برای دانشجویان فقیر در دانشگاه های خصوصی داخلی و چند دانشگاه خارجی فراهم کرده اند. مطیع الله می گوید تا کنون ۱۳۲ تن را در این دانشگاه ها بورسیه کرده است.

خاطراتی از سفر به دور افغانستان:

سفر به ولایات کشور، برای آن ها تصویر روشنی از وضعیت آموزش و معارف داده است. ویسا می گوید در سفری که به ولایت پکتیا داشته متوجه شده که در سه ولسوالی این ولایت در طول ۱۶ سال گذشته حتا یک نفر نیز از صنف دوازده فارغ نشده اند. و در یک روستای ۵۰۰ فامیلی در ولایت قندهار دیده که حتا یک نفر سواد خواندن و نوشتن نداشته است.

ویسا می گوید او و همه همکارانش در مدت نُه سال فعالیت شان، رضاکار کار کرده اند. به گفته وی، او و برادرش تا کنون در پی پول اندوزی نبوده اند و در بسیاری موارد از دارایی شخصی خود شان مصرف کرده‌اند.

ویسا از هرکسی که حاضر به کمک شده، کمک جمع آوری کرده است. حتا کمک یک جلد کتاب را نیز پذیرفته و خوش حال شده است. او می گوید هیچ گاهی کمک به صورت پول نقد را قبول نکرده ام چون وقتی مسأله پول نقد پیش آید، فساد نیز به وجود می آید.

بیشتر تاجران و افراد خیر به آن ها کمک کرده اند. باری مؤسسه یی یک کانتینر کتاب و قرطاسیه کمک کرده است. همچنان یک شخص دیگر یک کانتینر چوکی کمک کرده است.

او می گوید هم اکنون نیز ۲۰۰۰ مکتب در ولایت های مختلف مسدود اند؛ مکاتبی که باید بر روی دانش‌آموزان باز می‌بودند.

فعالیت های این دو برادر بدون چالش نبوده است. آن‌ها سفر های سختی نیز داشته اند. نا امنی، کمبود امکانات و عدم همکاری دولت از چالش‌های جدی سد راه فعالیت های این دو برادر بوده است. مطیع‌الله می گوید: «من پیشتر گفتم که ۳۲ مکتب را باز کردم، اگر همکاری دولت باشد ۲۰۰۰ مکتب را بازگشایی می‌کنم».

د ترلو ښونځیو د پرانستلو له پاره د ویسا ورونو د فعالیت په باب د بي بي سي په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:«

د ترل شوو ښوونځیو بېرته پرانیستلو کمپاین:

په داسې حال کې چې د افغانستان د پوهنې وزارت د معلوماتو له مخې، په ټول هېواد کې نژدې زر ښوونځي د ناامنیو له کبله ترل شوي، د هېواد په سوېلي ناامنه سیمو کې د ښوونځیو د بېرته پرانیستلو لپاره ځینو ځوانانو یو کمپاین پیل کړی دی.

د "قلملار" په نامه ددغه کمپاین موخه دا ده چې په نوي ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې په ناامنه او سرحدي سیمو، په تېره بیا کندهار کې ترل شوي ښوونځي پرانیستل شي.

د "قلملار" ټولنې بنسټګر او مشر مطیع الله ویسا پر خواله رسنیو هم ددغه کمپاین فعالیتونه خپروي، وایي ډېره هڅه یې دا ده چې په سرحدي سیمو کې ترل شوي ښوونځي پرانیستل شي.

د ښوونځیو پرانیستلو لپاره دغه کمپاین د کندهار په سرحدي سپین بولدک کې د ښوونځیو، په تېره بیا د نجونو د ښوونځیو پرانیستل اړین ګڼي.

دغه رضاکاره ځوانان وایي، دوی غواړي نجونې زده کړه وکړي، کتاب او قلم وروروسپړي او په دې برخه کې باید د سیمې مشران، بانفوذه کسان او ځوانان مرسته او ګډون وکړي.

دغه ځوانان له سیمه ییزو خلکو سره غږېږي، دوی د ښوونځیو ساتلو او ښوونځیو ته د خپلو بچیانو استولو ته هڅوي.

قلملار لارویان اوس پر موټرسایکلونو کلي په کلي ګرځي او د ښوونځیو د بېرته پرانیستل کېدو شعارونه لېږدوي. دوی وایي، په ټول افغانستان کې یې کابو ۵۷ زره ټوکه کتابونه راغونډ کړي او تر لوستونکو پورې یې رسولي او دا لړۍ دوام لري.
عطاء الله ویسا وایي، په تېرو شپږو کلونو کې په کور دننه او بهر مېشتو افغانانو څخه تر پنځوسو زرو ډېر کتابونه راټول او په سویل او سویل ختیزو ولایتونو کې یې اووه کتابتونونه جوړ کړي دي:
"لومړی کتابتون مې په خپل کور کې جوړ کړ غوښتل مې له خپل کوره یې پیل کړم موږ غواړو په ټولو ولایتونو کې کتابتونه جوړ کړو او ځوانان وهڅو چې مطالعه وکړي".
دوی وایي، هوډ یې دا دی چې خپل کمپاین د افغانستان ۳۴ ولایتونو ته وغځوي او د مطالعې او ښوونځي لوستلو دود ته خلک ورمات کړي.
دغه ځوانان له سیمه ییزو خلکو سره غږېږي، دوی د ښوونځیو ساتلو او ښوونځیو ته د خپلو بچیانو استولو ته هڅوي.

د کندهار ښوونځي:

کندهار کې ټولټال ۴۷۰ ښوونځي دي. ۱۵۰ یې بند دي.
څو میاشتې وړاندې، بي بي سي د کندهار سپین بولدک ته ورغلې وه او چې سلګونو کورنیو په خپل لګښت یوه ښوونځي ته ځمکه پېرلې او ښوونکو ته له خپله اړخه معاشونه ورکوي.

د کتاب لوستنې کلتور د دودولو او د خلکو د پوهاوي کچې د لوړاوي په موخه په هلمند، کندهار، بامیان، خوست او یوشمېر نورو ولایتونو کې هم د افغان فرهنګیانو رضاکارانه فعالیتونه دوام لري.

خو افغانستان تر اوسه د زده کړو په برخه کې ډېرې ستونزې لري، لکه زده کوونکو او محصلانو ته د کتابونو کمښت، خو له دې هر څه سره بیا هم د افغان رضاکاره ځوانانو دغو هڅو علمي سرچینو ته د لوستو کسانو د لاسرسي په برخه کې هیلې راټوکولې دي.

د "قلملار" ټولنې بنسټګر او مشر مطیع الله ویسا پر خواله رسنیو هم ددغه کمپاین فعالیتونه خپروي، وایي ډېره هڅه یې دا ده چې په سرحدي سیمو کې تړل شوي ښوونځي پرانیستل شي.» دغه راز سلام وطندار په یوه راپور کې د ویسا ورنو د کتاب ویشې د پروګرام په هکله داسې رپوټ خپور کړ:

مردی که 24 هزار جلد کتاب از طریق فیسبوک جمع آوری کرده است:

طالبان یک سال پس از تشکیل حکومت مؤقت در کابل، مکتب آن ها را در ولسوالی معروف کندهار سوزاندند و این گونه او و هم نسلانش از آموزش محروم شدند.

اما چون مکتب را پدرش روی زمین خودش ساخته بود، خانوادۀ آن‌ها از سوی طالبان تهدید و مجبور به ترک کندهار شدند. آن‌ها به کابل کوچیدند و مطیع الله توانست در شهر کابل درس بخواند.

محرومیت جوانان و کودکان زادگاهش، او را دوباره به ولسوالی معروف کشاند و به کمک بزرگان محل، مکتبی را که از سوی طالبان سوزانده شده بود، دوباره فعال کرد. اما این بسنده نبود و او به ولایت های دیگر نیز سفر کرد تا به همین شیوه، مکتب های بسته شدۀ بیشتری را باز کند.

مطیع الله ویسا، در سال 1387 خورشیدی نهاد «راه قلم» را بنیاد گذاشت و با همکاری شماری از دانشجویان داوطلب، کمپاینی را برای جمع آوری کتاب و باز کردن مکتب های بسته شده راه اندازی کرد.
بیشتر همکاران راه قلم، دانشجویانی هستند که به گونۀ رضا کارانه با این نهاد کار می کنند و هدف شان، دسترسی کودکان محروم به آموزش و ترویج فرهنگ کتاب خوانی در جامعه است.

31 مکتب:

آقای ویسا می گوید که طالبان تنها دلیل بسته بودن مکتب ها نیست؛ فساد اداری و ممانعت مردم محل نیز سبب شده تا درِ شماری از مکتب ها بسته شود.
او می گوید که نهاد او موفق شده در هشت سال، 31 مکتب را به کمک بزرگان محل و وزارت معارف بازگشایی کند.



24 هزار جلد کتاب

در کنار تلاش برای باز کردن مکتب های بسته شده، ویسا و همکارانش کمپاین جمع آوری کتاب نیز راه اندازی کردند؛ اما در این کار چندان موفق نبودند، تا این که کمپاین شان را فیسبوکی کردند.

در چهار ماهی که این کمپاین در فیسبوک راه اندازی شده، آن‌ها 24 هزار جلد کتاب جمع آوری کرده اند.

راه قلم در هر ولایت یک نمایندهٔ داوطلب دارد، شماره های تماس این نمایندهگان را طریق فیسبوک با مردم شریک می کند و مردم کتاب هایی را که می خواهند کمک کنند، به آن ها تحویل می‌دهند.
ویسا می گوید که با این کتاب‌ها تاکنون شش کتابخانه را در ولایت‌های کندهار، هلمند، زابل، خوست و میدان وردک ایجاد کرده اند و تصمیم دارند تا کمپاین شان را سراسری و در تمامی ولایت ها کتابخانه بسازند.
او به دنبال استفادهٔ هدفمند از رسانه های اجتماعی است و می گوید که هر کار بر دیگری می تواند از این رسانه‌ها به نفع خود و شهروندان کار بگیرد.
او می گوید که برای از بین بردن بی سوادی در کشور، باید حکومت و نهادهای مدنی یک جا با هم کار کنند و از بازرگانان می‌خواهد تا به نهاد آن‌ها برای رسیدن به هدفش کمک کنند.
بر بنیاد آمارهایی که در سال 2009 از سوی سازمان ملل متحد ارایه شده، 66 درصد جمعیت افغانستان کاملاً بی‌سواد هستند.»
مطیع الله ویسا له خلکو نه په دې الفاظو مننه وکړه:
«مننه او کور ودانی!
د ټولو هغو هیوادوالو د زړه له تله مننه کوم چې هم یې په ټولیزو او هم ټولنیزو رسنیو کې راسره پوره مرسته وکړه .ستاسو مرسته او هڅوونه وه چې تر دې ځایه را ورسیدم خو ستاسو هڅوني او مرستي زما مسئولیت د خپل هیواد ښه راتلونکي لپاره نور هم زیات کړ. زه نور هم مسئول سوم د هیواد د ماشومان د ښه راتلونکي او ښې روزني لپاره خو بیا هم ستاسو له ملاتړ زه هیڅ هم نسم کولای ستاسو ملاتړ،هڅوونه او مشترک کار کول ماته مثبته انرژي راکوي .راسره مل او ملګري سئ چې د خپلو هیوادوالو او هیواد لپاره وکړو!
بیا هم ستاسو له پوره همکارۍ او مرستي مننوی یم.
چاچې زحمت وایست د څښتن له درباره ورته اجر غواړم.مننه

ستاسو کشر ورور مطیع الله ویسا»
د نړۍ په کچه د تعلیم د لارې ځوان رهبر ښاغلي مطیع الله ویسا د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر د میاشتې په پنځه لسمه نیټه په خپله فیسبوک پاڼه کې د څو لنډو جملو په قالب کې داسې پیام خپوره کړ چې ښايي د بصیرت او پوهې خاوندان یې هم حیران او هم خوشاله کړي وي. ده په یوه خبره کې، په یوه پیام کې یو تاریخ د لوستونکو په مخ کې کیښود، زموږ د ټولنې او خلکو اصلي ستونزه یې په نښه کړه او د ستونزې د حل کلي یې هم په لاس کې ورکړه. ښاغلی مطیع الله جملې دا دي:«
تعلیم، یوه خبره، یو تاریخ، یوه لاره
«بارت، هندوستان د کتاب لاره غوره کړه او له ذلت نه د ویاړ او نیکمرغۍ لوړو پوړیو ته وختل، اوس زموږ وار دی چې کلونه او پیړۍ مو ضایع کړې دي، خو اوس هم د رڼا یو څرک زموږ لاره روښانه کړي ده چې د ټوپک او کتاب په منځ کې یو انتخاب کړو:
کتاب = نیکمرغي
ټوپک = بربادي
خوښه مو چې کوم یو غواړئ، کتاب او نیکمرغي غواړئ که ټوپک او ذلت غواړئ؟»
ما (آصف بهاند) په کامنت کې داسې ورته ولیکل:
«ښاغلی مطیع الله ویسا پر تاسو او ستاسو پر تعلیمي پروګرامونو ویاړم.
زه خپل نظر په کامنټ کې نه، بلکې د یوې اوږدې یا لنډې مقالې په چوکاټ کې ټولو لوستونکو ته وړاندې کوم.»
او دا دی زموږ د تعلیم او پوهې څپې مخ پر وړاندې درومي. زموږ د ټولنې په یو څه پوه قشر په دې ټینګار کړی او کوي یې چې د دې ټولنې او خلکو د خلاصون لاره نه ټوپک دی او نه هم تاو تریخوال، له بد مرغیو نه یې د خلاصون یوازینۍ لار تعلیم دی. تر څو چې خلک،

ځوانان، تنکي ځوانان کوچنیان او ماشومان د سواد زدکړې ، ښونځي، پوهنځي مطالعې او پوهې دایرې ته ور ننه نه باسو، با سواده او پوه یې نه کړو ، تعلیم یافته یې نه کړو، کتاب قلم او لې ټاپ په لاس کې ور نه کړو، موږ نه شو کولای هغوی او ځان له نړۍ اونړیولالو سره سیال کړو، موږ نه شو کولای د هغوی په لیکه کې و درېږو، موږ نه شو کولای چې د نوي ژوند او نوي وطن او نوي دنیا خبرې پر ژبه باندې راوړو او تکرار یې کړو. موږ هغه وخت دا کار کولای شو چې له نړیولو سره د سیالۍ بیرغ جګ کړو چې تعلیم ولرو، پوهه ولرو له نوې ژوند او نوې تکنالوژۍ سره آشنایي ولرو.

د هر نسل او هر عصر له پاره تعلیم اړین دی، داسې لکه د ژوندي پاتې کیدو له پاره د آکسیجن تنفس او زموږ په ټولنه کې د تعلیم له پاره د ویسا ورونو، قلملار ټولنې او په ځانګړي ډول د تعلیم او ښوونځیو او زدکړې له پاره د ګران مطیع الله ویسا (matiullah.wesa) هلې ځلې زما له پاره دومره د خوشالتیا وړ دي چې هیڅ یې تصور هم نه شم کولای.

د ده فعالیتونو ته په کتو سره له چیز فهمه خلکو له ویناوو او خبرو نه د پاسه په نړیواله کچه دی د تعلیم د عامولو په لار کې د نړۍ په تر ټولو ځوانو رهبرانو کې و شمیرل شو چې دا زموږ د خلکو، د افغانستان او زموږ د اوسني هغه ډلې روڼ اندو له پاره د یاړ او سر لوړۍ وړ دي چې له دې بد مرغیو د خلاصون اصلي لار په تعلیم کې ویني، ویسا په خپلو دې فعالیتونو سره د افغانستان له پاره د ویاړونو یو هسک بیرغ دی.

ډاکتر وحید آرین

د زدکړو د ډګر او عملي کار غوره بیلګه

(د ملګرو ملتونو «نړیوال اتل» جایزې ګټونکی)

شلمه مقاله

«که یو کلن ثمر غواړې، غنم وکره!
که لس کلن ثمر دې په کار وي، ونه کینوه!
که د سل کلن ثمر په تمه یې، خلک وروزه!»

(کنفوسیوس)

پر افغانستان باندې د جګړې سونامي نه رازیږیدلي ګڼې نورې سونامي ګانې راغلې او زموږ ټولنه یې له هره اړخه وځپله، زموږ د ټولنې او هیواد د ټولو برخو بنسټونه یې ویجاړ کړل په تیره ښوونه او روزنه چې پایله یې زموږ د هیواد د څلورو نسلونو بې سواده یا کم سواده پاتې کیدل و؛ خو له دې ټولو نا خوالو سره، سره زموږ نوی نسل د زدکړو لیوال و او دی او هر کله او هر چیرې چې ډیره لږ امکانات هم ورته برابر شوي دي، له هغو نه په استفادې سره یې، پر ځان هر رنګ زحمتونه ګاللي دي او د نوي عصر نویو زدکړو ته یې د خپل ټټر او ذهن کتاب پرانستی دی او زدکړې یې کړې دي، چې یوه غوره بیلګه یې ډاکتر وحید آرین دی.

ډاکتر وحید آرین نه یوازې د خپل نسل او هیواد له پاره ویاړ دی، بلکې د ټولې نړۍ له پاره د ویاړ او خدمت ښه مثال ګرځیدلي دی. ډاکتر وحید آرین د افغانستان د جګړو په بټۍ کې زیږیدلی دی او د جګړې هر راز نا خوالي یې لیدلي دي او له همدې اور نه په تیښتې سره یې ځان انګلستان ته رسولی دی، خو نه داسې لکه ځینې کسان چې د زدکړو په ځای د څو پیسو د پیدا کولو په موخه خپله ځواني او انرژي او د زدکړو فصل په فزیکي کار تیروي. ډاکتر آرین د پیزاري او ټکسي پر ځای پوهنځي او زدکړو ته مخه کړه او د ځانګړې استعداد په کارولو او د زحمتونو په ګاللو سره، د معتبرو پوهنتونون دروازې ور وټکولې، ور ننوت او ډک لاس ورنه راووت او داسې ډیګریانې یې تر لاسه کړې چې اوس نه یوازې خپلو هیواد والو ته، بلکې ټول بشریت ته د خدمت جوګه دی او د ټول بشریت د تداوۍ په فکر کې دی.

ډاکتر وحید آرین د آنلاین شبکو په خاصه توګه د سکایپ له لارې په جګړه ځپلو هیوادونو کې، په ځانګړې ډول افغانستان کې د ناروغانو درملنه کوي.

د ډاکتر ارین د خدمتنونو په پار ملګري ملتونو ده ته «د ملګرو ملتونو نړیوال اتل» جایزه ورکړه چې تر دې وړاندې بل برتانوي یا افغان دغه جایزه نه ده ترلاسه کړې. ډاکتر ارین یو له هغو شپږو کسانو دی چې د ملګروملتونو ښوونیزې، علمي او کلتوري څانګې، یونیسکو د "افراطیت او نه زغم پر وړاندې د نړیوال کمپاین"اتلان پېژندلي.

زما (د دې کرښو لیکوال) له پاره، د افغانانو له پاره او لا د ټولې نړۍ له پاره دا ویاړ دی چې له داسې جګړه ځپلې ټولنې نه داسې یو استعداد او د فکر خاوند سر راپورته کوي، چې د فکر په دایره کې یې ټول بشریت ځایدلای شي.

د بي بي سي په یوه راپور کې د ډاکتر آرین په باب داسې راغلي دي:

«زما هیله تل همدا وه چې ډاکتر شم، چې لومړی خپلې کورنۍ بیا افغانستان او جګړه ځپلو سیمو ته خدمت وکړم. ډاکتر وحید ارین چې د برتانیا په لیورپول ښار کې د رادیولوژۍ متخصص په توګه کار کوي، د ټیلي هیل Teleheal په نامه یو پروګرام پیل کړی چې د نورو ډاکترانو په مرسته د سکایپ له لارې په نورو هېوادونو او افغانستان کې ډاکترانو ته د دماغي ناروغیو، ټکرونو او نورو بېړنیو ناروغیو په حالاتو سلا مشورې ورکوي.
نړیوالو ته ځکه د ډاکتر ارین لاسته راوړنې د پام وړ دي چې له یوه جګړه ځپلې هېواده په ۱۵ کلنۍ راوتلی او اوس چې ۳۳ کلن دی د نړۍ یو له پېژندل شویو مرستندویه څېرو کې دی چې د سلګونو کسانو ژوند یې ژغورلی دی.
تراوسه د "نړیوال اتل" جایزه یوازې ۱۰ کسانو ته ځانګړې شوې چې ډاکتر ارین یې یوازینی برتانوی او افغان ترلاسه کوونکی دی.»

ډاکتر آرین له نوې تکنالوژۍ نه په استفادې سره د سکایپ په کارولو په نورو هیوادونو کې له هغې ډلې په خپل پلرني هیواد افغانستان کې، ډاکترانو ته د ناروغانو د تداوۍ له پاره مشورې ورکوي.

ډاکتر آرین له امریکا غږ پښتو سره په د یوې مرکې په ترڅ کې د خپلو زدکړو او کارونو په باب خبرې کړې دي چې لنډیز یې داسې دی:

ـ پنځلس کلن وم چې انګلستان ته راغلم او د کار تر څنګه مې زدکړې هم کولې،

ـ زه ځان ډیر نیکمرغه ګڼم چې د نړۍ په ډیرو معتبرو پوهنتونو(کیمبریج، هارورد او اِمپریال) کې مې زدکړې کړیدې،

ـ بشریت ته د لوړ خدمت په پار دا فکر راته پیدا شو چې د نړۍ د ډیرو پوه متخصصینو علمي پوهه د جګړه ځپلو هیوادونو له ډاکترانو سره شریکه کړم او د مشورو له لارې د نوې تکنالوژۍ په مټ د ناروغانو درمانه وکړم،

ـ دوه کاله مخکې مې د «آرین ټیلي هیل ـ Teleheal» خیریه موسسه جوړه کړه چې د همدې موسسې له لارې د غربي ډاکترانو پوهه او تجربه د جګړه ځپلو هیوادونو له ډاکترانو سره شریکوو. زموږ په کاري ګروپ کې د د امریکا، کانادا او انګلستان هیوادونو تر سلو ډیر متخصصین همکاري کوي،

ـ دا کاري ګروپ د نوې تکنالوژۍ پرمټ د جګړه ځپلو هیوادونو ډاکترانو ته د ناروغانو د درملنې له پاره مشوره ورکوي،

ـ زه (ډاکتر آرین) د ملګروملتونو د دې جایزې مبارکې ټولو افغانانو ته او ټولو هغو کسانو ته ورکوم چې د بشریت له پاره کار کوي او زحمت باسي،

ـ د انترنت له لارې د طبابت فکر څلور کاله مخکې راته پیدا شو او په دې ډول و توانیدم چې د غرب د ډاکترانو نظریات د جګړه ځپلو هیوادونو ډاکترانو سره شریک او هلته په ګډه سره د ناروغانو درملنه وکړو،

ـ کوم ډاکتران چې له موږ سره همکاري کوي د غږ، ویدویو یا تکست له لارې په ټاکلو هیوادونو کې له ډاکترانو سره خپل نظریات شریکوي،

ـ د کار نوښت په دې کې دی چې دا کار چې موږ پیل کړی دی، دا داسې نوښت دی چې مخکې له دې چا دا کار نه وو کړي،
ـ موږ د اوس له پاره د افغانستان، سورې او عراق هیوادونو له ډاکترانو سره همکاري لرو،
ـ په افغانستان کې د ذیصلاح مقاماتو په اجازه د کابل، ننګرهار، هرات او کندوز ولایتونو له لویو روغتونو په ځانګړي ډول له عاجل خونو سره مستقیم تماسونه لرو او په دې ډول د هغو له ډاکترانو سره د ټاکلو متخصصینو تجارب شریکوو،
او...
ډاکتر آرین اوس په لیورپول کې د رادیولوژي متخصص کارکوونکي په توګه کار کوي او د دې کار تر څنګه یې نوښت دا دی چې ده د تر سلو ډیرو متخصصو ډاکترانو داسې ګروپ را ټول کړی چې له ده سره د جګړه ځپلو هیوادونو د ناروغانو درملنه کوي.
زه د ډاکتر وحید آرین زدکړې، عملي کار او روانه تجربه، د اوسني نسل له پاره او د راتلونکو نسلونو له پاره یوه داسې غوره بیلګه ګڼم، چې باید اوسنی او راتلونکي نسلونه یې، د نوي ژوند د جوړیدو په خاطر او د علم د تر لاسه کولو او د تکنالوژۍ له کاروان سره د یو ځای کیدو په هیله، لاره تعقیب کړي او د ډاکتر وحید آرین پر لاره پل کیږدي او مخکې ولاړ شي.

د افغانستان د ډیرو ستونزو د حل یوازینۍ لاره په همداسې انساني روحیه باندې د نوي نسل روزل دي لکه ډاکتر ارین. که ډاکتر ارین د نوي نسل د روزلو د یوې غوره بیلګې په ډول په نظر کې ونیول شي، او همدا لاره تعقیب کړای شي، نوی نسل او د نوي نسل د روزلو د نهضت پلویان کولای شي خپلو موخو ته په ښه وجه ورسیږي او د وطن نوی نسل د وطن د ښیرازۍ له پاره په ښه انساني او علمي ډول وروزي.
وحید آرین د افغانانو د سل کلن ثمر لومړنی فصل دی، که خدای کول نور به هم وغځیږي او نور به هم وغوړیږي.

«که یو کلن ثمر غواړې، غنم وکره!
که لس کلن ثمر دې په کار وي، ونه کینوه!
که د سل کلن ثمر په تمه یې، خلک وروزه!»

(کنفوسیوس)

دریم څپرکی

تعلیم پوري اړوند څو نوري اړیني مقالې:

د تعلیم ارزښت

یوویشتمه مقاله

د هغو خلکو او قوم تباهي ډیره نږدې ده چې
له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښونځي
او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

د ۲۰۱۷ عیسوي کال د فبروري په دریمه نیټه په میډیا کې له پکتیکا څخه د هغې یوازینۍ متخصصې ډاکترې د بیرته وتلو خبر خپور شو چې د هغې سیمې د نیم میلیون وګړو له پاره یې د «ایک انار، سو بیمار» په ډول کار کاوه، دا چې د خلکو دې خدمتګارې په پکتیکا کې خپله دنده د کومو دلایلو او ستونزو له مخې ودرلوله او یا بیرته ورځې که نه ورځې، زه نه پرې غږیږم، دلته اصلي پوښتنه دا ده چې، په داسې یوه سیمه کې چې نیم میلیون وګړي په کې ژوند کوي، ولې په دې نیم میلیون وګړو کې یوه ډاکتره نه شته، سم ښونځي نه شته، یوه ښځینه ښونکې نه شته او ولې دا سیمه او د دې سیمې خلک له تعلیم سره داسې مرور دي، دلایل به یې کوم وي؟

سره له دې چې په لسګونو ځلې نه، په سلګونو ځلې هم نه، بلکې په زرګونو ځلې د مطالعې، زدکړو اوتعلیم مهم والی په نظري او عملي ډول ثابت شوی دی، خو زموږ ځینې هیواد وال بیا هم خپلې لونې او زامن ښوونځي ته له تګ نه منع کوي.

ما (آصف بهاند) پاسنیو ستونزو ته په پام سره، د ۲۰۱۶ کال په پنځمه میاشت کې د «چیرې چې ښوونکی نه وي» تر سر لیک لاندې یوه مقاله ولیکله او په تاند او افغان جرمن آنلاین کې د یادې میاشتې په دیارلسمې نیټې خپره کړه. په دې مقاله کې د همدې میرمنې یادونه هم شوې ده او ځینو نورو تعلیمي ستونزو او د زدکړو او ښوونځي پر ارزښت او مهم والي هم خبرې شوې دي. اوس غواړم د نیم میلیون وګړو د یوازینۍ ډاکترې د مرورتیا او پخلاینې په مناسبت یو ځل بیا دا مقاله د درنو لوستونکو مخې ته کیږدم، ګوندې یو وار یې سترګې پرې ولګیږي او د تعلیم ارزښت ته یې پام شي:

چیرې چې ښوونکی نه وي

د هغو خلکو او قوم تباهي ډیره نږدې ده چې
له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښونځي
او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

په ټوله نړۍ کې دا یوه منل شوې خبره ده چې: چیرې چې ښونکی وي، هلته ډیوې وي، هلته رڼا وي او چیرې چې ښونکی نه وي، هلته نه ډیوې وي او نه د رڼا څرک.

یو وار مې په کابل کې د بي بي سي د تعلیمي پروژو(نوی کور، نوی ژوند) د خپرو کړو کتابونو له ډلې نه یو کتاب ولید چې عنوان یې و: «چیرې چې ښوونځی نه شته» دا کتاب مې واخست، له کابل نه مې اروپا ته، ډنمارک ته له ځان سره راوړو، ومې لوست، ګټور کتاب و او د لوستلو پر مهال مې ټولې هغه سیمې لکه بریښنا له نظره تیریدې چې د تورو غرونو دیوال ور نه را تاو و او له هغه دیوال نه بل خطر ناک د نا پوهۍ غیر مریي دیوال مې هم ور نه را تاو لیده، چې هغه سیمې په کې را ګیر دي.

دا چې چیرې ښونځی نه وي، غمیزه ده، خو اوس چې میډیا ثابته کړې ده چې په همداسې سیمو کې لا یوه ښځینه ښوونکې هم نه شته. دا نو باید داسې و انګیرل شي چې:

اوس خبره نوره هم پسې شړیدلې، چاړه له غوښې ور تیره او هډوکو ته رسیدلې ده.

اوس د ښوونځي د نه شتون کیسه پر ځای پاتې ده، خبره د ښونکو نه شتون ته رسیدلې ده، مانا دا چې په افغانستان کې په ځانګړې ډول په ډیرو پښتني سیمو کې لا یوه ښځینه ښونکې هم نه شته.

که یې د نه شتون په دلایلو پسې لټه وشي بیا هم دا خبره مخې راځي چې: «څه ژرنده پڅه او څه غنم لامده» یعنې څه دولت جان؟ ملامت او څه هم د ټولنې او خلکو وروسته پاتې والی. په دولت کې د ښې او سالمې ادارې نه شتون دا زمینه برابره کړیده چې معارف د قاتل او غله په لاس کې وي. د معارف پیسې د دولت لوړ پوړو چارواکو په بډه وهلې دي او د خلکو د نا پوهۍ غم، خلک د کوم شي په لومه کې را بند دي چې هغه غیرت؟ نومیږي. یعنې دې غیرتیانو دومره د غیرت په ډندونو کې لمبلې دي چې یوه ښځینه تنفس کونکې هم، ښونځي او پوهنځي ته د تلو په نامه له کوره د باندې نه پریږدي؛ نو چې له کوره یې د باندې نه پریږدي؛ ښونکی، ښونځی، پوهه او پوهنځی خو کور ته ورتلای نه شي.

نو وه ماما!

وه کاکا!

وه پلاره!

وه وروره!

وه...!!!

زه څه درباندې وکړم؟

«چې نه ځې په شا به دې کړم، چې نه خورې څه به دې کړم؟»

د ۲۰۱۶ کال د می میاشتې په دولسمه نیټه مې د بي بي سي په پښتو او فارسي ویبپاڼو کې دا سر لیکونه تر سترګو شول:

ـ پکتیکا یوه ښځینه ښونکې هم نه لري،

ـ پکتیکا؛ ولایتی بدون معلم زن،

ـ د پکتیکا نژدې نیم میلیون وګړو ته یوازې یوه متخصصه ډاکټره،

ـ د تورخم دروازه نن په دویمه ورځ هم تړلې وه.

خدای حاضر دی خولې را باندې را ماتې شوې، وشرمیدم او ځان را ته له یوه سپین واښه نه هم سپک ښکاره شو. هڅه مې وکړه چې د «خود سانسورۍ» په سلسله کې ځان غلی ونیسم او ځان تیرباسم، خو و نه توانیدم. ځان سره مې و ویل چې سړیه د دې په مسؤلیت کې خو ته هم شامل یې.

په پکتیکا کې د یوې ښځینه ښونکې نه شتون، د لویې پکتیا یا لویې پکتیکا د نیم میلیون وکړو له پاره یوه ښځینه متخصصه او د دومره لویو او وړو ډله، ډله نا روغانو سره هم مهاله:

«د تورخم دروازه نن په دویمه ورځ هم تړلې وه»

نو د لویې پکتیا دا لوی والی په څه شی کې دی چې د الف بې د زدکړې له پاره یو ښځینه ښوونکی او یو د عادی ناروغ له پاره ډاکتر نه شته. داسې نه ده چې د هغې سیمې د ښځینه وو سرونه له وښو ډک دي او څه نه شي زده کولای، نه هغوی د «غیرت؟» په نامه له کوره د باندې نه پریښودل کیږي چې څه زده کړي، بیا ښونکی او ډاکتر ور نه جوړ شي.

دلته دی چې دا ثابتیږي چې غیرت او لوی والی یعنې د ښځینه مخلوق په کور کینول، له سواد او تعلیم نه یې را ستنول او بیا پر ټولو مریضانو باندې د غیرت د بې غیرتۍ تور ټیکری غوړول، پردې ملک ته یې بیول او د تداوۍ له پاره هغوی ته هم پیسې ورکول، هم غاړه ور ته پټول او هم زارۍ ور ته کول، دا شو غیرت!!

د غیرت د توري پاسنی تفسیر نور نا سم دی، اوس زمانه بدله شوې، هر څه بدل شوي دي، له تکنالوژۍ سره افکار او عیني ژوندون هم بدلون موندلی دی؛ موږ ته هم اړینه ده چې د زمانې له بدلون سره ځان بدل کړو، د پخواني غیرت او پخوانیو افکارو له دایرې نه ځان را وباسو. دا غیرت نه دی چې موږ خپل نوی نسل، په تیره نجونې له زدکړو را ستنوو. د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم غیرت باید داسې تعریف شي: په هره کورنۍ کې چې ډیر تعلیم کړي ځوانان او پیغلې وې، هغه کورنۍ تر ټولو نورو دا غیرتي کورنۍ ده.

خو موږ دا څو پیړۍ لګیا یو د نا پوهۍ د تورو افکارو په دایره کې خپلې«ښځګلې» له زدکړو او تعلیم نه را ستنوو او هغه ته د غیرت نوم ورکوو.

زما وړاندیز خو دا دی چې:

ـ که د غیرت له نیلې نه را کوز شو او د سواد زدکړې، تعلیم ، ښونځې او پوهنځې دروازې وټکوو، دا به ډیره ښه وي،

ـ د لویې پکتیا له ډیر تکرار نه که لږ را ټیټ شو او د واړه ښونځې په حویلۍ کې د یو عادي سواد توری تکرار او زده کړو او خپل بچې د ښوونځې په لور ولیږو، څه موده وروسته به مو په کلي کور او ښار کې د ښونکو او ډاکترانو ډلې ګرځي.

ـ د لویوالي او غیرت له دنګو منارو نه باید را ښکته شو او د تعلیم په واړه انګړ کې د سواد او پوهې ګدایي وکړو. دا به ډیره ښه وي، دا د رڼا پر لوري قدم اوچتول دي.

د غیرت مانا داسې نه ده چې څوک د خپلې کورنۍ ښځینه مخلوق له درس، تعلیم، ښوونځې او پوهنځې نه را وګرځوي، که له رواني پلوه او څه چې زموږ په تاریخ کې موږ ته زموږ جغرافیاي

موقعیت او زموږ د ټولنې وروسته پاتې والي، د غیرت په نامه را په برخه کړي دي، کیدای شي هغه داسې تعریف شي:

«... افغانانو د خپل سیاسي اقتصادي موقعیت له امله خپل ناموسي حریم (ښځینه او کوچنیان)، عقیدوي حریم (مقدس ارزښتونه) اقتصادي حریم (زمکه ، کور او څاروي) له ګواښ سره مخامخ لیدل، د همدې لپاره به یې ټول عمر د دغو مهمو حریمونو د ساتلو لپاره د (غیرت) حس او غریزه عمومي کوله.

د اروا پوهنې له نظره غیرت د خصوصي حریم د ساتلو عقده او پټ ځواک دی چې د تاوتریخوالي لپاره غبرګوني ځواک رامنځته کوي. د غیرت غوښتنه دا وه چې د حریم ساتلو لپاره باید وسله په لاس کې وي، په دې توګه وسله د غیرت نښه وګڼل شوه او په وسله سنبال نارینه تر ټولو غیرتي نارینه ګڼل کېده.»

سره له دې چې ما د نوي نسل د روزلو په موخه د خپلو لیکلو مقالو په ډیرو برخو کې، د دې غمیزې له پیښیدو او رسوا کیدو نه لا پخوا، دې موضوع ته اشاري کړې وې. ما(آصف بهاند) د ۲۰۱۰ کال په نهمه میاشت کې د «اور او ګلان» تر سر لیک لاندې مقاله خپره کړه او په هغې مقالې کې مې دې موضوع ته ګوته نیولې وه چې که ښونځي او تعلیم نه وي، پایله به یې څه وي. څو کرښې یې دا دي:

«وګورئ ! که ښه حقیقت ته ځیر شو، بهرنیو هیوادونوته یې د کفر له ډاره نه لیږو، د وچوغرو لمن کې د قهریدلي شنه یا وریځ آسمان تر چتر لاندې، یا د پسونو، وزو او خرو په لکۍ پسې ټول عمر تیرولو سره خو د نوي عصر، نوي علوم زده کیدای نه شي او کله چې مو نوي علوم او فنون زده نه وي، نو له تمدن سره به بیګانه او له کاروان څخه به یې ډیر وروسته پاتې اوسو، بیا نو نه پښتنو ته څه کولای شو او نه هم پښتو او نه هم پښتني فرهنګ ته.

له بده مرغه زموږ ښوونځي د کفر په تور یا سوځول کیږي او یا الوزول کیږي، ښوونکي او زده کوونکي مو یا په ډزو ویشتل کیږي یا حلالیږي او یا په دار ځړول کیږي. پښتنو د «نوکالج، نونالج» علمي مسا له هیره کړې ده. پخوابه روسی سکاد راکټ هم په پښتني سیمو لګیده او اوس بې دوه پنځوس ډوله الوتکه هم په پښتني سیمو بمونه غورځوي او وایي چې موږ اسامه لټوو، امریکایانو ستن په کاهدان کې اچولې او وایي چې موږ ستن لټوو. همدا اوس د جګړې ټول زور په پښتني سیمو او پښتنو باندې دی، آ خوا هم پښتون وژل کیږي او دا خوا هم.

دغه راز له بده مرغه زموږ د دودیزې ټولنې ویاړ د علم او تمدن په ارابه پسې ځغا ستل نه دي، بلکې د دین په لمن پورې زوړندیدل دي، دا خبره د دې مانا نه لري چې په علم پسې تلل دې د دین د هیرولو په مانا وانګیرل شي. خپله دینداري به هم کوو او د علم زده کړه به هم نه هیروو.»

خو بیا هم باید غلي کیننو او د خپل مسولیت د بار د دروند والي په اندازه یو څه و وایو او یو څه وکړو، که بل څه نه شو کولای، حد اقل خپل غږ خږ وباسو.

په همدې سوچونو کې ډوب وم او پاڼې اړولې، چې په فیسبوک کې د تعلیم د عامیدو د یو لوی پلوي، ښاغلي رحمت الله تنها یو لیکلی مطلب مخ ته راغی چې د غیرتیانو؟ پر نا سمو او کږو لارو باندې د تګ انځور په کې ایستل شوی او په استادانه ډول نقد شوی هم و.

دغو غیرتیانو؟ ته د قلموالو، روڼ اندو او چیز فهمه قشر خولې او ستوني وشکیدل چې د خدای پار دی د غیرت په دغه ډنډ کې خوسا کیږئ، ور نه را و وزئ، خو چا ته وایي. د همدې چیغو، نارو، سورو یوه بیلګه د استاد تنها خبرې دي چې د همداسې خلکو په آدرس یې لیکلې دي. دا یې بشپړ متن دی:

«پښتون لالا غږ مې اورې که د اسرافیل شپېلی درته وغږوم ؟؟؟

زما استاد ډاکټر صیب غوري وایي په لویه پکتیا کې پوهنتونونو ته څېرمه د نجونو ښایسته او نوې لیلیې جوړې شوې خو یوه پښتنه پېغله په بسم الله نه پکې پیدا کېږئ، ټول د لرو پرتو سیمو ازبکې، تاجکې او هزاره خویندې محصلینې پکې اوسي، همدا حالت په لوی کندهار او لوی ننګرهار هم حاکم دی. دا تاجکې، ازبکې او هزاره پېغلې به فارغې سي، خپلو کلیو ته به ولاړې سي، هلته به نورې پېغلې تحصیل ته وهڅوي، بلاخره به دا سیمې ټولې باسواده سي، له معلمه نیولې تر ډاکټر او انجنیر به ټولې پکې وي خو ستا پېغله به په خوشایو کې پیدا، په خوشایو کې را لویه او په غوجله کې مړه سي. دا ټول ځکه چې ته غیرتي یې او خپل پت، غیرت او شمله د خوشایو په سمبالښت کې ویني!

پښتونه! ایکې یوه لسیزه دې بله هم پکار ده، نور له خیره سره نابود یې، تباه یې، برباد یې، دا د ننګ او غیرت شمله به دې ډېر ژر له سره را کښته او د جولایتوب په پار تر ملا وتړې مړه دې وي بېغرته غیرتیان!»

خو پښتون غیرتي یې نه اوري، ښاغلي تنها له دې نه هم په تنده لهجه حقیقت په عین آدرس په مخ کې ور ته ایښی دی، وګورئ:

«دووس خو نو ښکر نه لري!

په خپل کور او کلي کې ښوونځي او پوهنځي ته تلونکې نجلۍ فاحشه او کافره ګڼي خو خپله ناروغه تور سري یې بیا په لاس ګاډي کې د تورخم پر پوله پکیستاني ډاکټر ته ور روانه کړې وي
مړه دې وي بېغرته غیرتیان!»

سره له دې چې د دوی په اصطلاح مسلمان ورور؟ پاکستاني دا دوې که درې ورځې د تورخم دروازه ور ته تړلې ده او د غیرتي پښتون مریضه ښځه، بوډا پلار او په نسناستي خوارځواکۍ اخته ماشوم د تړلې دروازې تر شا د پاکستاني ملیشه رحم ته خوله جینګه جینګه کوي، خو خپله خور، خپله لور او خپله لمسۍ د غیرت په وجه درس ته نه پرېږدي، او د خپل جهالت له مخې نه غواړي چې په خپل کور، کلي او ښار کې یې ډاکتراني، نرساني او ښوونکي و رورزل شي چې دی خپله او د ده غیرت له سوال زارۍ او مرګ نه خلاص شي، نه! ده ته له هر څه نه خپل غیرت ډېر عزیز دی او ارزښت ور ته لري.

غیرتي لالا؟ د غیرت مناري لوړوي، تر سیوري لاندې یې ډانګ په لاس کیني، خور، لور او لمسۍ له تعلیم، ښوونځي او پوهنځي څخه را ګرځوي او په دې ډول په خپل کور کلي او ښار کې د ډاکترانو، ښوونکو او... مخه نیسي؛ چې غیرت یې داغداره نه شي، خو بله ورځ یې خپله مریضه ښځه، خپله مریضه مور او نا روغه لور په شا کړي وي او پردیو ډاکترانو ته یې د مداوا له پاره په عذرونو سره ورولي، خو هغوی یې دروازې پر مخ ور تړي.

دا هم د غیرت پایله!!!

د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چې
له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښوونځي
او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

د ښوونځي درویزگر

دوه ویشتمه مقاله

«احسان الله او نصرت الله، دوو اته کلنو ماشومانو له گردې څېړی څخه
تر گردیزه شپېته کیلومتره لاره پلي وهلي او په گردېز کي یي له چارواکو څخه
ښوونځی غوښتی دی. ما ته له لکونو ټوپکوالو او لښکروالو څخه ستر اتلان همدا برېښي.»

(غفورلیوال)

زموږ په ټولنه کې بنیادي ستونزه د سواد نشتوالی او د تعلیم د نه عامیدو مسأله ده. دا په ټوله نړۍ کې یوه منل شوې خبره ده چې د زدکړو زمینه او امکانات باید دولتونه او واکداران برابر کړي، چې نه یې کوي، نو بیا به یې پایلو ته هم سترګې په لار وي. پخوا مو تعلیم نه و کړی، نتایج یې اوس عملاً ګورو چې پر هیواد او خلکو مو څه روان دي.

د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په یو ویشتمه نیټه مې لکه د تل په څیر د ګران دوست او منلي شاعر غفور لیوال په فیسبوک پاڼه کې دا توري او یو عکس تر سترګو شول:

«په حماسو، اتلانو او اتلولیو پسې سرګردانه ولسه!

هیله ده نن مو تنده ماته شي! نن به د همدې زماني حماسه، چې دوو کوشنیو اتلانو راپنځولې ده، یوځل بیا در په زړه کړم:

احسان الله او نصرت الله، دوو اته کلنو ماشومانو له ګردې څېړۍ څخه ترګردیزه شپېته کیلومتره لاره پلې وهلې او په ګردېز کې یې له چارواکو څخه ښوونځی غوښتی دی.

ماته له لکونو ټوپکوالو او لښکروالو څخه ستر اتلان همدا بریښي.

ما، چې د نومهالو جګړو هېڅ جګړه مار اتل نه دی ګڼلی، خلکو به پوښتلم: نو ستا اتل څوک دی؟ او زه به مجبور وم، په خپل اتل پسې وګرځم. دا دی غبرګ اتلان او د نوې زماني حماسه مې وموندله، که چا وروسته له دې پوښتلم، نو همدوی به وربښیم.

افغانانو!

ایله همدا حماسه او اتلواله مو مبارک شه!»

سره له دې چې لیوال لا پخوا د «چا ته ملي اتل و وایو؟» تر سر لیک لاندې د اتل ځانګړنې په نښه کړې وې، او د خپل بحث په یوه برخه کې یې ویلي وو:

«اوس نو د ملي اتلولۍ معیار دا دی، چې د اتل لاسته راوړنې د ګردو هېوادوالو په ژوند، اند، دسترخوان او فرهنګ کې مثبت بدلون راوستلای وي. یوازې همدا اتلان دي، چې د ولسونو په زړه و ذهن کې ژوندي پاتیږي او تاریخ یې نومونه په زرینو توریو لیکي.»

په هر صورت اوس د ځینو له نظره یوې وړې موضوع ته او د ځینو له نظره یوې ستري او بنسټیزې موضوغ ته لیوال صاحب ډیر ښه په وخت او په ځای پام شوی دی. دا د ډیرې خوښۍ ځای دی چې د ښاغلي لیوال پام تل د نوي نسل د روزلو په لوري وي او داسې نازکو او له پامه لویدلو ټکو ته یې پام کیږي چې هغه د راتلونکې زمانې په جوړولو او روښانولو کې اساسي رول لري.

که «لام» په بلورستان کې، د غرونو په ډبرو کې یوازې د «ایلینو» اندامونه وتراشل؛ نو لیوال بیا داسې نقاش دی چې د دواړو(لام او ایلینو) اندامونه یې د سحرګرو او نازکو تورو په وسیله داسې تلپاتې کړل چې بشریت به ور ته حیران وي. لیوال د همدې نازکیو په لړ کې دې نازکې موضوع ته هم پام شوی دی چې څنګه دوه نازک او پاک ماشومان، په خپلو نازکو پښو سره شپیته کیلو متره مزل کوي او کچکول په غاړه د علم او د علم د آدرس درویزه کوي.

دا تر بحث لاندې دوه کوچنیان ځکه باید اتلان وګڼل شي چې د دوی دا کار کیدای شي د تعلیم د عامیدو له پاره یوه نمونه او بیلګه شي او په یوه عام دود باندې واوړي او د نوي نسل د راتلونکي بدلون په برخه کې یوه ښه تومنه شي او یو ښه سر مشق شي.

د هغو ځانګړنو په رڼا کې او له تعلیم سره د دې دوو کوچنیانو مینه څرګندول او دومره لوی مزل په پښو وهل او دا زحمت پر ځان تیرول د دې ښکارندوی دي چې دا خلک او دا نسل له تعلیم سره مینه لري او غواړي د تعلیم له لارې، د تمدن له نړیوال کاروان سره ځان مل کړي، خو چار واکي څه کوي؟ په کوم لوري روان دي او...

دا کوچنیان د دومره خواریو په منلو او تیرولو سره تر یو حکومتي مقام یا حکومتي ودانۍ پورې په دې امید ورغلي دي چې دوی ته ښوونځی جوړ کړای شي او د زدکړې لومړني امکانات ور ته برابر کړای شي. ګورو به چې څه به وشي ؟؟؟

که دا او دې ته ور ته زر ګونه او لا لکونه کوچنیان له ښوونځیو لرې پاتې شي او بیا د جګړې او تاو تریخوالي له پاره کورنیو یا بهرنیو جنګیالیو ته د خامو موادو په څیر په لاس ورشي او یا د یوې مړۍ ډوډۍ له پاره د وطن له دوښمنانو سره وسله په اوږه کړي، نو بیا به څوک ملامت وي؟ دا کوچنیان که دولت او حکومتي مقامات؟؟؟

د تعلیم او ښوونځیو په برخه کې د نورو بې شمیره ستونزو تر څنګ وحشتناکه او د خواشینۍ خبره دا ده چې دننه په افغانستان کې د بې ځایه شویو خلکو شمیر ورځ تر بلې مخ په زیاتیدو دی او په دې بیځایه شویو کې ډیره سلنه ماشومان او کوچنیان دي او په دایمي ډول د بیلابیلو عواملو پر اساس له ښوونځی نه د دوی لرې پاتې کیدل لویه غمیزه ده. یا یې کورنۍ د سر پنا او نس مړولو د ستونزو تر سیوري لاندې ښوونځي ته نه لیږي او ګدایي او مزدورۍ ته یې باسي، یا اسناد نه لري او یا نورې ستونزې. په دې اړوند په یوه ډیر نوي او تازه راپور کې راغلي دي چې:

«د بشري حقونو برخه کې د ملګرو ملتونو ځانګړي راپورتر د پنجشنبې په ورځ په یوه خبري کنفرانس کې و ویل چې یوازې د ۲۰۱۶ میلادي کال په لسو میاشتو کې په افغانستان کې څه باندې درې لکه او درویشت زره کسان بې ځایه شوي چې ۵۶ سلنه یې ماشومان دي. د ملګرو ملتونو ځانګړي راپورټر چالوکا بیاني په خپل راپور کې وایي چې دغه کسان د هویت اسناد نه‌لري چې له امله‌یې ښایي د دوی ماشومان د اوږد مهال لپاره له تعلیمه بې‌برخې پاتې شي.»

بله ستونزه دا ده چې زموږ په ټولنه او خلکو کې تفاوتونه دومره زیات او عجیب دي چې هیڅ تصور یې څوک نه شي کولای. لرې به نه ځو د همدې ښوونځیو د پرانستلو په برخه کې به یې وګورو. داسې هم شوي دي چې په یوه ورځ د پارلمان د دوو وکیلانو غوښتنې مطرح شوې دي،

ما چې ولوستلې دومره توپیر په کې موجود و، لکه د زرو کلونو واټن. د پارلمان دوه وکیلان د کابینې یوه وزیر ته ورغلي دي، د یوه وکیل په کوڅې، کلي او ښار کې سره له دې چې په سلګونو جوماتونه ودان شوي وو، خو ده ښاغلي د ژورې دینداری په چوکاټ کې د بل جومات د جوړولو له پاره د پیسو غوښتنه کوله؛ خو بل وکیل له هماغه وزیر نه خپلې سیمې او خپلو خلکو ته د کلینک، روغتون او ښوونځي د جوړولو غوښتنلیک سپارلی و. بله ورځ د جومات غوښتونکی وکیل شکایت کوي چې ولې زما له ولایت نه لږ ځوانان پوهنتون ته تللي دي؟ اوس نو د دغه تفاوت اندازه تاسو وټاکئ.

دغه دوه اتل کوچنیان چې تر ګردیز پورې شپیته کیلومتره لار یوازې د دې له پاره وهي چې د ښونځي ګدایي وکړي او ځان ته او نورو همځولو ته د تعلیم زمینه برابره کړي، د دې کوچنیانو کور کلی او ګردیز دا ټول د ځینو خبره په «لویه پکتیا» کې راځي، خو هغو د لویې پکتیا مدعیانو کله د خپلې لویې پکتیا د ښوونې روږزنې حال ته پام کړی، له هغې لویې پکتیا نه چې یو وخت یې له خاورو او کنډوالو نه، د صدیق روهي غوندې عالمان را وتل چې افکارو یې نه یوازې هغه سیمه، بلکې ټول افغانستان رڼا کړی دی؛ خو اوس خبره کاملاً بل ډول ده. اوس په څو کلونو کې لا د دولسم فارغ نه لري. په ځینو رپوټونو کې داسې هم راغلل چې د پکتیا په دریو ولسوالیو کې په ورستیو څوارلسو کلونو کې له دولسم ټولګي نه هیڅوک فارغ شوي نه دي. که دا رپوټ رښتیا وي، بیا هغه د لویې پکتیا مدعیون څه په کې وایي؟

آیا هغوی په دې خبر دي چې «پکتیکا یوه ښځینه ښوونکې هم نه لري»؟
هغوی دې پوه شي چې اوس لوی والی او د اکثریت دعوا په تعلیم ، لوړو زدکړو او پوهه کې ده، نه په شمیر یا کوم بل څه شي کې. او دا کوچنیان غواړي په خپل دې اوسپنیز هوډ او اړده مزل سره دا نیمګړتیا پوره کړي.

په دغسې یو چابیریال کې چې د دې سن کوچنیان د خپلو لارو د رڼا کولو له پاره او د خپلې راتلونکې د رڼا کولو او د آینده ژوند جوړدولو له پاره لارې وهي او د علم او ښوونځي درویزه کوي، دوی په رښتیا سره اتلان دي.

زما هیله دا ده چې د دې کوچنیانو تر هر قدم لاندې د مینې او پوهې تلپاتې ګلان وغوړیږي او هر ګل یې د راتلونکي نسل له پاره د لار ډیوې حیثیت ولري.

او دا مزل پای نه لري

نوی تعلیمي نصاب، نوې ستونزې

او د چارواکو دریځ

دروېشتمه مقاله

په هیواد کې روان ناورین ته په کتو سره مې، خپلو خلکو ته او خپل وطن ته ډیر زړه خوږیږي او له ټولو نه ډیر مې بیا د خپل وطن نوي نسل ته زړه د کبابیدو تر بریده سوزي. له هرې خوایې چې گورې ناخوالې دي او که د ښیگڼې له پاره چیرې یو نظر وړاندې کوې او یا څه لیکې او یا څه وایې، نو په سلگونو بد نومونه درپسې سنجاق کوي، تندی او کوناټی دې له ټاپو ډکوي.

زه (آصف بهاند) له پنځه دیرش کلونو راپه دې خوا د کوچنیانو د ژوند، ادبیاتو او تعلیم د څرنگوالي په باب قلم چلوم او په دې برخه کې مې کتابونه او گڼشمیر مقالې لیکلې او خپرې کړي دي، د درسي کتابونه د لیکلو مخینه هم لرم؛ خو د نوي تعلیمي نصاب په باب تر اوسه هیڅ چا او هیڅ مرجع نه راسره مشوره کړې ده او نه یې لکه د چا خبره زما صفحه اړولې ده.

یو ځل د نوي تعلیمي نصاب د جوړولو او د نویو درسي کتابونو د لیکلو له پاره د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت په استازولۍ یوې میرمنې تیلیفون را ته کړی و، په دریم ځل تیلیفون کې یې وروستۍ پوښتنه داسې را نه وکړه:

«دغلته په ډنمارک کې څه مصروفیت لرې، څه کار کوې؟»

ما هم لکه کلک راستگو ور ته وویل چې:

زه په ادبیاتو کې د «M A» ډگرې لرم، دولس کاله مې په پوهنتون کې تدریس کړی او... خو دلته زما زدکړې او زما تجربه ما سره مرسته نه ده کړې او څنگه چې د سوال پیسو ته مې مخ نه اوړي لکه د چا خبره د سوسیال خوړلو بوج وړای نه شمه؛ مجبوراً فزیکي کار کوم، زه لکه د نازکخیال شاعر، خاطر اپریدي په شان بنوالي کوم، کبلې ریبم، د ونو او گلانو څانگې غوڅوم.

د دې خبرو په اوریدلو سره هغه میرمن داسې لاړه چې تر نن پورې یې درک را مالوم نه شو او ما ځان ته په دې قناعت ورکړ:

اوس یې څنگه کوې؟

لکه چې آغلې د کابل ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ د یو عادي کارکونکي خیال دربانديې وکړ.

کله چې د همدغه بورد له لوري درسي نصاب بشپړ، چاپ او خپور شو، داسې بیشمیره تیروتنې په کې وې چې هیڅ ډول توجې کیدای نه شي او کیدای شي ووایم چې د نه ښلو وړ دی.

بیا کله چې د همدې نوی نصاب کتابونه د ښوونې روزنې وزارت په ویبسایت کې آنلاین کړای شول، ما له لومړي ټولگي نیولې، بیا تر دولسم ټولگي پورې، پښتو او دري دواړه برخې، له لینکونو سره کاپي او له خان سره خوندي کړل.

د هر ټولگي د مضامینو لست مې له نظره تیر کړ. ځینې مضامین چې زما له مسلک سره تړاو درلود، خلاص مې کړل او ټول کتابونه مې ولوستل، او ځینې مضامین چې ما ته په زړه پورې وو، هغه مې هم ولیدل. د هر صنف نصاب دومره په عقیدتي رنگ رنگول شوی دی چې که زده کونکي افراطي او ځانمرگي هم نه وي، له دې عقیدتي رنگونو سره به په آسانۍ د افراطیونو لیکو ته منډې وروهي.

زه کولای شم چې د هر ټولگي، د هر مضمون د چاپ شوو کتابونو په تیروتنو باندې جلا، جلا مقالې ولیکم، د حللارې وښیم او مسؤلینو ته نوي وړاندیزونه مخکې کیږدم، خو...

بیخي تازه او نوی نصاب مې هم تر لاسه کړ، دواړه برخې (دري او پښتو) مې کاپي کړې اوس هم راسره خوندي دي او کیدای شي ډیرې خبرې او لیکنې پرې وشي؛ خو دا لیکنې به څوک ولولي، څوک به یې واوري او څوک به یې عملي کړي؟

زه به دلته د تعلیمي نصاب د اصلاح په باب د یوه زړسواندي قلموال ډیره نوې، ډیره خوږه او ډیره ترخه خاطره تاسو درنو لوستونکو سره شریکه کړم، دا هم د تعلیمي نصاب د تصحیح په برخه کې د یو فرهنګي دوست یوه خوږه، ترخه او ډانګېیلې خاطره:

«دوه ـ درې کالونه پخوا د پوهنې وزارت د خپرونو رییس ښاغلي کبیر حقمل را څخه غوښتنه وکړه چې د پوهنې د نصاب د کتابونو په بیاکتنه کې مرسته وکړم. که څه هم له هېواد څخه د باندې وم خو بیا مې هم ژمنه وکړه چې څه مې په وس پوره وي وبه یې نه درېغوم. افغانستان ته له رسېدو سره سم د پوهنې وزارت د نصاب د بیاکتنې د څانګې له خوا راته ټلیفون وشو. وزارت ته یې وروبللم.

په ټاکلي وخت ورغلم. د لویې کوټې په یوه کونج کې ډاکتر یوسف نیازی د یوه غټ مېز شاته ناست و. په ډېر احترام یې راسره روغبړ او په څېرمه څوکۍ یې د ناستې ست وکړ. ګڼ خلک تلل راتلل او د نصاب کتابونه یې وړل او راوړل. څو شېبې وروسته یې ما ته مخ راواړاوه:

ـ تاسو څنګه راغلي یې؟

ـ له همدې دفتر څخه راته ټلیفون شوی و. را څخه غوښتل شوي ول چې دلته راشم او له تاسو سره د ښوونځیو د پوهنیز نصاب د بیاکتنې په برخه کې مرسته وکړم.

ـ که ځان راوپېژنئ!

حیران شوم، همدوی په همدې ټاکلي وخت راغوښتی یم خو بیا مې هم نه مې پېژني. له ځان سره مې ووې،
ګنهګونه ډېره ده، کار ډېر دی، کېدای شي څه تېروتنه به شوې وي.

ـ نوم مې عبدالحمید بهیج دی، لیکوال یم.

ـ ښه ډېر ښه، تاسو له کوم پوهنځي څخه فارغ یئ؟

له دې پوښتنې سره مې ځان کنټرول نشوای کړای.

ـ عجیبه ده، تاسو راغوښتی یم، تاسو پرېکړه کړې چې زه باید د ښوونځیو د پوهنیز نصاب په بیاکتنه کې درسره مرسته وکړم. مګر تاسو زما په اړه دومره مالومات نلرئ چې زه څه کاره یم او په کومه برخه کې درسره مرسته کولای شم؟

ـ وبښه دلته ډېر خلک، لیکوالان، استادان او نور راځي چې مرسته وکړي نو په دې کې څه بدي ده چې ستاسو د زدکړې او وړتیاوو په اړه پوښتنې وکړم؟

ـ هېڅ بدي نشته خو زه په خپله نه یم راغلی، تاسو راغوښتی یم، د راتلن لپاره مو وخت راته ټاکلی و. کله چې تاسو زما په اړه هېڅ مالومات نلرئ د څه شي له مخې مو راوبللم؟
ـ ګومان کوم چې څه تېروتنه شوې، تاسو ډېر وبښئ. څه خیر تاسو په کومه برخه کې له موږ سره همکاري کولای شئ؟

ـ هره برخه کې چې تاسو ورته اړتیا لرئ، ما طب لوستلی دی خو د ژبې او هنر په برخه کې څه ناڅه تجربه او مالومات لرم.

ـ که دې خوښه وي تاسو ته به د ۹ او ۱۱ ټولګي بیالوژي درکړو.

ـ سمه ده خو دا راته ووایئ چې زه پکې د کومو معیارونو له مخې څه ډول سموني وکړم؟

ـ معیارونه خو نشته، هر څه چې تاسو ته مناسب ښکاري، هماغه وړاندیز کړئ. زموږ کتونکی پلاوی به یې وارزوي، که یې وړ وبولي په پام کې به یې ونیسي.

ـ نو دا کتابونه خو ستاسو کتونکي پلاوي یو ځل کتلي دي. د هغوی له نظره خو سم دي ځکه یې چاپ کړي دي. که ستاسو کتونکي پلاوي خپل کار سم ترسره کولای شوای بیا کتنې ته یې څه اړتیا وه؟

ـ اوس خو همدا اصول دي. ټول استادان راسره په همدې ډول همکاري کوي.
ـ ښه سمه ده. زه به کتابونه ولولم او خپل وړاندیزونه به هم ولیکم. مګر دا راته ووایه چې څه وخت یې درته راوړم؟

ـ هر وخت دې چې زړه وي.

ـ یانې تاسو ورته ټاکلی وخت نلرئ؟

ـ نه، هر وخت مو چې ولوستل راوړلای یې شئ.

ـ نو ښښنه غواړم، ګومان نه کوم چې په داسې ځای کې چې هلته معیار نه وي او د چارو د ترسراوي لپاره ټاکلی وخت په پام کې نیول شوی نه وي زه دې همکاري وکړای شم. په هر صورت دا دواړه کتابونه به راسره واخلم وګورم چې څه کولای شم.

ډېر خوابدی او خواشینی راستون شوم. په هماغه بېګا مې ښاغلی حقمل ته ټوله کیسه وکړله. هغه هم ډېر خوابدی شو. د ټول وزارت په استازیتوب یې ښښنه وغوښتله.

نن مې د نوي او سم شوي نصاب د پینځم ټولګي د "حسن خط" کتاب ولید. ډېر یې خپه کړم. په ټوله مانا مې د خپل هېواد په ماشومانو زړه وسوزېد.»

ما باندې هم دا پاسنۍ کیسه تیره شوې ده، خو په لږ توپیر سره. د ۱۳۹۶ ام کال په حمل کې مې په کابل کې یو فرهنګي دوست هیله را نه وکړه چې د معارف وزارت یو لوړ پوړی چارواکی غواړي درسره وګوري، هغه د ډېرو کاري مصروفیتونو په وجه نه شي کولای چې بل چیرې دې وګوري، هیله داسې ده چې ته به، معارف وزارت ته، د ده د کار دفتر ته ورځې. ما ومنله او د چارواکي له لوري په ټاکلي وخت ورغلم. سکرتر یې پرته له دې چې پاس وګوري، راته وویل:

ـ څه غواړې؟

ـ ښاغلي راغوښتی یم.

ـ هغه وخت نه لري.

ـ زه ده خپله په همدغو بجو او ساعت راغوښتی یم او...

ـ هغه په مجلس کې ناست دی. ته کینه، انتظار وباسه!

زه هم څو شیبې کیناستم، خو ښاغلی رامالوم نه شو، له ځان سره مې وویل چې سړی به مصروف وي، وعده به یې هیره وي، ځه په خپل کار پسې دې. له وزارت نه په وتو وم چې په دهلیز کې

په مخه راغی. بیرته یې دفتر ته بوتلم او په ډیر حق په جانبه لهجه یې راته کړل چې مصرف وم.

دې ښاغلي ته زما د زدکړو او کاري تجربې کچه مالومه وه او زما د لیکنو په باب یې هم پوره مالومات درلود. ورسره کیناستم، راته وې ویل:

موږ غواړو درسي نصاب ته نوې کتنه وکړو، ته له موږ سره مرسته وکړه او...»

ما هم د زړه له کومې او په مینې سره د مرستې وعده ورسره وکړه او ورته و مې ویل:

ـ کله، چیرې او څنګه مرسته؟

ـ ده قلم، کاغذ را واخیستل، زما ایمیل او تیلیفون یې یادداشت کړل او وې ویل چې بیا غږ درباندې کوم. دا دی یو کال نه لږ ډیر وخت اوښتی، خو ښاغلي تر اوسه غږ نه دی کړی.

زما له نظره تر څو چې د یوې ټولنې نوی نسل، په نوې او عصري بڼه ونه روزل شي، د هغې ټولنې او هغو خلکو ژوند به همداسې وي لکه زموږ د ټولنې او خلکو روان ژوند.

نوره مو خوښه!
ښايي زه به تیروتی یم.

د سواد زدکړې نړیواله ورځ

او زموږ د نوي نسل برخلیک

ځلیرویشتمه مقاله

د سواد زدکړې مسأله په هره ټولنه کې
د پرمختګ یو بنسټیز شرط ګڼل کیږي.

ویل کیږي چې د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر اتمه د سواد زدکړې نړیوالې ورځې سره برابره ده. ډیری هیوادونه د سواد زدکړه داسې په خپلو تعلیمي پروګرامونو کې ځای کړي چې د بیسوادۍ ستونزه هلته هیڅ مطرح نه ده، لکه د ډنمارک په هیواد کې. دا مې اولسم (۱۷) کال دی چې زه په ډنمارک هیواد کې ژوند کوم ، زه تر اوسه له یو تن بیسواد شخص سره نه یم مخ شوی.

نوره نړۍ د خپلو ورځنیو، میاشتنیو او کلنیو پروګرامونو پر اساس خپل کار کوي او د پرمختګ په پوړیو کې پاس قدم ږدي، خو زموږ ټولنه افغانستان او افغانان په کومه پوړۍ او څه حال کې دي؟ سواد چې نه وي، وړاندې تګ نه وي، نیکمرغي نه وي.

که یوازې د سواد مساله وڅیړل شی، تر ډیری هیوادونو زموږ د ټولنې او زموږ د هیواد افغانستان ستونزې به ډیرې وي. د کورنیو او بهرنیو څیړونکو او ځانګړو کارپوهانو په راپورونو او څیړنو کې ښودل شوې چې زموږ د ټولنې او زموږ د هیواد ډیری ستونزې د سواد د نشتوالي له ستونزې سرچینه اخیستې ده او همدا بیسوادي زموږ د ډیرو بد مرغیو مور ګڼل کیږي.

ما خپله د سواد د نشتوالي او یا بیسوادۍ د ستونزې او د سواد دعامیدو له پاره ګڼې مقالې لیکلې دي. یوه مقاله مې د ۲۰۱۶ کال د نومبر په ۲۳ مه نیټه خپره کړه چې سرلیک یې و: «د سواد زدکړه، تعلمي نصاب، امکانات او زموږ دریځ» په دې مقاله کې ما د سر خط په ډول لیکلي وو:

«د سواد زدکړې مسأله په هره ټولنه کې د پرمختګ یو بنسټیز شرط ګڼل کیږي.»

د یادې مقالې په یوه برخه کې ما داسې لیکلي وو:

«... د نوي نسل د روزلو په موخه زما د فعالیتونو او لیکنو یوه برخه د سواد د نهضت د پیاوړې کیدو او مطالعه په یوه منلې دود باندې بدلول دي. د همدې هیلې د تر سره کیدو په موخه کله، کله د محسوسې اړتیا له مخې یا د ځینو مناسبتونو په پار داسې څه لیکم چې ټول دې د سواد او مطالعې حیاتي موضوع ته پام واړوي. همدا څو ورځې مخکې مې د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت د «شپیته سلنه بیسوادي، یو سلنه بودجه» تر سر لیک لاندې مقاله ولیکله د هغې مقالې په یوه برخه کې راغلي دي:
«په ژوند کې د بریالیتوب یو راز، بینا او رڼې سترګې دي. کله چې سواد نه وي، سترګې ړندې وي په هره ټولنه کې سواد او د سواد له لارې تر لاسه شوې پوهه، د هغه څراغ حیثیت لري چې هر انسان کوالی شي د ژوند تیاره لار پرې روښانه کړي او پرته له ستونزو په رڼو سترګو د ژوند پر لاره په استوار ډول قدم کیږدي.

د سپتمبر اتمه د سواد زدکړې نړیواله ورځ ده. په دې ورځو کې چې بیا د سواد د نړیوالې ورځې لمانځل او یادول را رسیدلي دي، زموږ په هیواد کې په لوړ غږ تبلیغ ورته کیږي، مسؤلې ادارې د نوې بودجې د تر لاسه کولو په خاطر سواد زدکړه مهمه ګڼي او په ژوند کې یې د پرمختګ تر ټولو مهم رکن ګڼي، خو په څنګ کې یې د میډیا په ځینو برخو کې داسې ارقام وړاندې کیږي چې د افغانستان د وګړو شپیته یا درې شپیته سلنه وګړي بیسواده دي او ځینې نورې رسنۍ بیا

وايي چې د دې شپيته سلنه بيسواده وګړو د سواد زدکړې له پاره د معارف وزارت د بودجې يوازې يوه سلنه په نظر کې نيول شوې ده .که يې د فورمول په ډول په نظر کې ونيسو، بيسوادي د ټولو ستونزو مور ده. کله چې سواد نه وي، مطالعه، پوهه او علم نه وي او کله چې پوهه نه وي د هغې ټولنې وګړي به تل له داسې ستونزو سره مخ وي، لکه اوس چې زموږ ټولنه او خلک عملاً ور سره لاس ګريوان دي.»

اوس بيا د ښونې او روزنې وزارت د سواد د زدکړې مسأله را مخته کړيده، د جوړو شوو کورسونو شمير، په کورس کې د شاملينو ارقام، د فارغانو شمير او... وړاندې کوي . په دې باب د بي بي سي په يوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«د افغانستان د پوهنې وزارت ويلي؛ په هېواد کې د بېسوادۍ له منځه وړلو او د سواد زده کړې اجباري کولو طرحه يې جوړه کړې ده. د افغانستان د پوهنې سلب صلاحيت شوي وزير اسدالله حنيف بلخي د يکشنبې په ورځ (عقرب/ لړم ۳۰مه) په يوه ناسته کې وويل؛ د دغه هېواد ۶۰ سلنه خلک بېسواده دي او د دوی له ډلې ۸۰ سلنه ښځې دي. ښاغلي بلخي زياته کړه؛ تر ۱۵ کلونو د ډېر عمرلرونکو ۱۱ ميليونه بېسواده کسانو له ډلې ۵۰۰ زره کسان په ټول افغانستان کې د سواد زده کړې په ۱۵ زره مرکزونو کې په زده کړو بوخت دي. د هغه په وينا، هرکال له ۳۰۰ تر ۳۵۰ زره کسان بريالي کېږي چې په دغو مرکزونو کې د سواد زده کړې پروګرام بشپړ کړي او د ليکلو او لوستلو جوګه شي...»

ما په خپله تيره ياده مقاله (شپيته سلنه بيسوادي، يو سلنه بودجه) کې ويلي و چې مسؤلين د څه له پاره او په کومو ځانګړو وختونو کې ارقام وړاندې کوي او ولې ډېرى دغه کسان چې د افغانستان په حکومت او دولت کې لوی يا واړه منصبونه لري، دوی په خپله، يا هغه سياسي نظامي سازمانونه يا تنظيمونه چې دوی ور پورې اړه لري او يا يې دوی په سهميه کې پر ټاکلو څوکيو ډډې لګولې دي؛ دوی هغه ډلې او هغه کسان وو چې په کلونو، کلونو يې د سواد زدکړې ستې ړنګې کړې، ښونکي يې حلال کړي او د کورس شاملين يې په بمونو الوزولي دي، هغه وخت دوی دا کار د جهاد په نامه د ثواب د ګټلو په موخه تر سره کاوه؛ خو اوس د ديموکراسۍ شمال ته همدغه کسان شړقنده ځنې اړوي او غواړي هغه څوک باسواده کړي چې د همدوی د ثواب ګټلو په اړودوړ کې د سواد زدکړې له نعمت نه محروم شوي دي او لکه د چا خبر ړانده دي او څه لوستلای نه شي.

د سواد د نه درلودونکو د ارقامو په باب يو د افغانستان د اړوندو مقاماتو شميرې دي او بل د نړيولې ټولنې د ځينو اړوندو مقاماتو ارقام. که دا دواړه سره پرتله شي، ډېر توپير په کې ليدل کيږي. دولتي مقامات يوازې د ښارونو د شميرنو له مخې ارقام وړاندې کوي چې د هغو له مخې د بيسوادو شمير شپيته سلنه ښوول کيږي، خو نړيوالې منابع په اټکلي ډول وايي چې په کلو او باندو کې د بيسوادو سلنه څو ځلې تر ښاري ارقامو لوړه ده.

په يوه ډېر نوي راپور کې راغلي دي چې:

«... د يونسکو رييسې او استازې پيتريشيا مک فيليپس وويل، د زده کړو په برخه کې له بې وقفې هڅو سره سره، لا هم تر ۱۵ کلونو کشر، ۱۱ مليون تنه ليک لوست نه شي کولی او په ابتدايي حساب نه پوهېږي. دې همداراز وويل، په افغانستان کې د سواد د ملي پلان پر اساس په سلو کې ۳۴ نارينه او په سلو کې ۱۸ ښځو په ټيټه سويه سواد زده کړی دی. په کليوالي سيمو کې په سلو کې ۹۰ ښځې او په سلو کې ۶۳ نارينه ليک لوست نه شي کولی.

په دې غونډه کې د افغانستان د پوهنې وزیر اسد الله حنیف وویل چې په سلو کې ۴۰ افغانان بې سواده دي ».
دغه راز د ملګرو ملتونو د یونسکو اداري په یوه راپور کې چې په همدې نږدې ورځو کې خپور شوی، داسې راغلي دي: یونېسکو: لاهم ۱۱ میلیونه افغانان له بې سوادیه کړېږي، د یونېسکو د شمېرو له مخې یوازې ۳۴ په سلو کې نارینه او ۱۸ په سلو کې ښځینه له کافي سواده برخمن دي. د یونېسکو یا د ملګرو ملتونو علمي او فرهنګي سازمان وایي ۱۱ میلیونه افغانان اوس هم له بې سوادۍ څخه کړېږي.»

له دې راپورونو او په ټولنه کې د عیني لیدنو او ستونزو د شتون له مخې لیدل کیږي چې د بیسوادۍ کچه څومره ده او پایلو یې څومره ستونزې رامنځ ته کړې دي؛ خو افغان مقامات د ستونزې د حل له پاره کوم خانګړی پروګرام او نوې پالیسي نه لري، همغه د څو کلونو زاړه پروګرامونه او شعارونه وړاندې کوي او د نویو ستونزو د حل له پاره د نویو امکاناتو نه د استفادې کومه نوې پالیسي، پروګرام او حل لاره نه لري.»

څنګه چې یادونه وشوه دا پاسنۍ کرښې ما (آصف بهاند) یو کال مخکې لیکلې او خپرې کړې وې. په افغانستان کې د ټوپکي واکمنۍ په راتګ سره د ټولنې په ټولو برخو کې او د ټولنیز ژوند په هر باب کې دومره انارشي او خپلسري رامنځ ته شوې چې اټکل یې لا نه شي کیدای. د ټولنې ټول وګړي، په تیره نوی نسل له هره اړخه ډېر زیانمن شوی دی.

د همدې خپلسریو د پالیسۍ له مخې دا یو تیر کال زموږ په هیواد کې د دولتي مسؤلو ادارو او اشخاصو له لوري د بې سوادۍ د مرض د ورکولو او د سواد دعامولو له پاره لا یو ګام هم نه دی اخیستل شوی. ډېری مسولین له دولتي امکاناتو نه په استفادې سره خپل مقابل لوري یا رقیبانو سره لاس ګریوان دي او د ټولنې او هیواد اساسي ستونزو ته یې لا پام هم نه دی.

ډېر ځلې داسې کیږي چې مسؤلین یوازې د همدې ورځې (د سپتمبر اتمه د سواد زدکړې نړیوالې ورځ) په مناسبت خپل غږ جګوي، بیا د دې غږ جګولو پوښتنه هم څوک نه کوي. اوس یې خپل غږ داسې جګ کړی دی:

«په افغانستان کې د بې سوادۍ له منځه وړلو لپاره د ملي بسیج طرح د تصویب لپاره د وزیرانو شورا ته استول شوې او له مخې یې لومړی ځل د لیک لوست زده کړې پروګرام کې خصوصي سیکتور ته ونډه ورکول کیږي.
په طرح کې ټینګار شوی دی، چې د دغه پروګرام د مناسب اغېز او پراخېدو لپاره باید د دولتي او نړیوالو ادارو تر منځ همغږي ډېره شي. په طرح کې وړاندیز شوی، چې زده کړو ته د خلکو د هڅولو لپاره باید په قوانینو او تګلارو کې بدلونونه راوستل شي.
د افغانستان د پوهنې وزارت د سواد زده کړې مرستیال سردار محمد رحیمي وایي، د بې سوادۍ له منځه وړلو لپاره د ملي همکارۍ طرحې پلي کېدو سره به په هېواد کې د سواد کچه دوه برابره ډېره شي او ۸۰ سلنې ته به ورسېږي.
"د ملي بسیج طرح راتلونکو دوو کلونو کې لازم پراوونه وهي او قانوني چوکاټ ورته جوړیږي. که دغه طرح په سمه توګه عملي شي، نو هیله من یو چې راتلونکو ۱۵ کلونو پورې به د سواد کچه ۸۰ سلنې ته ورسېږي"»

او د نه تطبیق له پاره یې ښې بهانې د میزونو په روکونو کې شته:«د امنیت نشتوالی؟» په کومو سیمو کې چې امنیت شته، هلته مو د فعالیت کچه وښایاست!

د جګړو او زواکو ټوپکیانو د ظلمونو په اثر، د بیځایه شوو کوچنیانو ښونځي یا سوزول شوي یا تړل شوي دي او په نوو میشتځایونو کې د سواد زدکړې او ښوونځیو ته د تګ امکانات یا ډیر لږ دي او یا هم بیخي نه شته. دغو ستونزو ته هیڅ څوک پام نه کوي او دا په خپله د بیسوادۍ او د نوي نسل د بربادۍ د سونامي د څپو په لړ کې یوه بله ورانونکې څپه ده.

له دولتي مسؤلو ادارو نه، مستقل زړه سواندي اشخاص سل چنده ښه دي چې په خپلو شخصي امکاناتو سره یې عملي ګامونه اوچت کړي دي، د بیسوادۍ د ټغر په ټولولو، د سواد په عامولو او د نوي نسل په روزلو کې یې د پام وړ کارنده رول لوبولی دی چې یوه لویه بیلګه یې **قلملار ټولنه** او د هغې ټولنې مسؤلین **ویسا ورونه** دي چې د کارونو راپور یې هره ورځ په میډیا کې خپریږي:

ـ دوی د افغانستان په څلور دیرش ولایتونو کې د تعلیم د عامیدو، د نوي نسل د روزلو او باسواده کیدلو په نیت وګرځیدل،
ـ د مطالعې د عامیدو په موخه یې کتابونه په خیر وغوښتل، په سخاوت سره یې وویشل او کتابتونونه یې پرانستل،
ـ ډیر تړلي ښونځي یې بیرته پرانستل،
ـ د خلکو په ذهن کې یې د سواد د زدکړې او د علم ډیوه بله کړه،
ـ او په دې ډول یې خلکو ته د نوي ژوند زیري کور په کور و ویشل.

دا کار اوسني دولتي مسؤلین او ادارې لا د خپلو څو کلنو پلانونو په چوکاټ کې هم نه شي تر سره کولای.

زموږ د ټولنې د بیسوادانو دې خدای مل شي
دولتي مسؤلین دې د لا قوي کیدو او
پر واک پاتې کیدو په موخه، یو
د بل ګریوانونوسره

سا لرونکي کتابونه او زموږ د مطالعې کچه

کتاب لوستنه، کمپیوتري او دیجیتل اسانتیاوې

پنځه ویشتمه مقاله

زموږ هیواد، ټولنې او خلکو ته له جګړې نه د رازیږدلو سونامي ګانو د تعدد په خاطر ډیرې بدمرغۍ ور له غاړې شوي دي. زما په عقیده له دې بد مرغیو نه د خلاصون یوه لار په مدرن او نوې بڼه د نوي نسل روزل دي. عادي سواد، ښونځي ته تګ، پوهنتون، لوړې زدکړې او په دې ټوله پروسه کې مطالعه او کتاب لوستنه، دا هغه پوړۍ دي چې د نوي نسل هر تن باید ورباندې قدم کیږدي او مخ په بره ولاړ شي.

په دې برخه کې د قلموالو ځانګړې دنده ده چې د دې ستر انساني او وطني رسالت په درکولو سره، عملي کار ورته وکړي. ما د نوي نسل د روزنې په موخه په ځانګړي ډول د کتابلوستنې او د نوي نسل د روزلو د نهضت د پیاوړتیا په پار ګڼ شمیر مقالې لیکلي دي چې ټولې مې په بریښنایي بڼه خپرې کړې دي او مثبته پاله مې یې هم احساس کړې او لیدلې ده، خو نه هغومره چې ما یې امید درلود.

دا یوه ښکاره او منل شوې خبره ده چې د تمدن او تکنالوژۍ کاروان د یو ډیر چټک ریل په ډول، په نه تم کیدونکې بڼه په حرکت کې دی او زموږ ټولنه او خلک د بیلابیلو دلایلو له مخې له دې کاروان څخه یا لږ یا ډیر وروسته پاتې دي. د تمدن، پرمختګ او تکنالوژۍ کاروان هیڅ چا ته نه دریږي او نه څوک شته د «ورو» او «سُلو» غږ پرې وکړي او نه هغه کاروان د «ورو» کیدو او «سُلو» کیدو وخت لري. د دې زماني خلکو ته اړینه ده چې خپله ورپسې منډې کړي ا و ځان ورپسې ور ورسوي، دا کار له امکان څخه لرې نه دی، دا کار کیدونکی دی، که نه شوای کیدای څنګه ډاکتر **وحید آرین** نومي افغان چې په همدې جنګ ځپلي او وروسته پاتې ټولنې کې زیږیدلی او زلمی شوی و ځان د علم او پوهې دې پو ړۍ ته ورساوه چې نن ملګري ملتونه په لومړي ځل دې افغان زلمي ته د «نړیوال اتل» جایزه ورکوي.

دا یو ښکاره حقیقت دی چې له افغانستان څخه اروپا او نورو پرمختللو هیوادونو ته ډیر افغان زلمیان او پیغلې راغلې دي، ځینې یې یا خپله او یا هم کورنیو د پیسو د ترلاسه کولو له پاره، د کار له په خاطر د پیزاریو دروازو ته درولي دي او ځینې یې د زدکړو او علم په درویزه پسې وتلي او د ښوونځیو او پوهنځیو دروازې یې ټکولي دي او ان تر دې پوړۍ پورې یې ځانونه رسولي دي چې په نړیواله کچه یې خپلو ځانو، خپلې کورنۍ، خپل هیواد او لا ټول بشریت ته ویاړ ګټلی دی چې ښه بیلګه یې همدا افغان ډاکتر وحید ارین دی.

د پوهې او زدکړو له برکته د افغان ډاکتر وحید آرین بریا دوه پیامه رسوي:

ـ که افغانانو ته زمینه برابره شي، د پوهې او زدکړو د ډګر قهرمانان هم کیدای شي،

ـ د ډاکتر وحید آرین بریا په عام ډول د ټول بشریت له پاره او په ځانګړي ډول افغانانو ته، په تیره افغان نوي نسل ته دا پیام ورکوي چې د زدکړو لار او د ښوونځي او پوهنځي لار تر نورو لارو ډیره غوره ده.

د افغان زلمي ډاکتر وحید ارین دې کار وښوده چې هرڅوک کولای شي د علم، تمدن او تکنالوژۍ په کاروان پسې ځان ورسوي او یوازینۍ لار یې د سواد زدکړه، مطالعه ښونځي او پوهنځي ته تګ دی، ځکه چې سواد، مطالعه، ښونځي او پوهنځي ته تګ موږ د دې جوګه کوي چې د تمدن او تکنالوژۍ په کاروان پسې ځان ورسوو.

زه به یې د رسیدو یوه بله طریقه هم دلته د یوې ښې او آسانه لارې په ډول تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړم چې په همدې نږدې ورځو کې زما یو دانشمند نا لیدلي دوست ډوکتور بهیج عثماني د وړاندیز په ډول په خپله فیسبوک پاڼه کې خپور کړی دی. هیله ده چې د دې په لوستلو سره د تمدن او تکنالوژۍ په کاروان پسې د تګ یوه لنډه لار باندې بلد او ورپسې روان شو:

«تاریخونه وایي چې کله په لومړي ځل د لیک لپاره د کاغذ کارول پیل شول، د هغه وخت د لیکوالو او پوهانو سخته غصه یې راوپاروله. د دوی پاڼې، څرمنې، لرګي او په ځینو سیمو کې ډبرې ډېرې خوښې وې. د کاغذ د بدوالي لپاره یې بېلابېل دلایل لرل مګر کاغذ دود شو، د کتابونو بیې راولوېدې، د چاپ صنعت پراختیا وموندله او د پېړیو پېړیو په ترڅ کې یې پوهه تر عامو خلکو پورې ورسوله خو ښکاري چې نور د کاغذ او قلم وخت هم پای ته رسېدلی دی. اوس هڅه کېږي چې لیکنې، کتابونه، ورځپاڼې، مجلې او نور... مولټي‌مډیا بڼه ولري. اوس خلک یوازې توري نه غواړي، پرغږ او انځور برسېره غواړي کتابونه سا ولري په دې مانا چې د لوستونکي شرایطو ته په پام ځان بدل کړي. په شپه کې یو ډول، په ورځ کې بل ډول، د خوابدۍ په حالت کې بل ډول او ... وي. ځینې دغه کارونه لا په ازمایښتي پړاو کې دي. د استاد شپون تر وفات وروسته مې فکر کاوه چې هغه څه د پاسه شل کالونه په امریکا غږ کې کار وکړ، له ستوډیو، مایکروفونونو، د غږ ثبتوونکیو وسایلو او هر څه سره بشپړ بلد و خو بیا یې هم هڅه ونکړه چې لږ تر لږه خپل ناولونه په خپل غږ ولولي. ولې؟

ځکه هغه لا هم پر دې باور درلود چې خپل آثار باید په کتابي او کاغذي بڼه خپاره کړي او دا یې د خپلو آثارو د خوندیتوب یوازینۍ لاره ګڼله خو دې ته یې پام نه و چې د ده په ژوند او د ده په پوهنتون لوستیو شاګردانو کې به ډېر داسې خلک وي چې لا هم د ده کتاب په سمه توګه نشي لوستلای او یا به یې د لوستلو لپاره وخت ونلري. شپون ولاړ، آثار به یې ښایي ماغوندې خلک ولولي خو هېڅکله به د ده د غږ هومره ارزښت ونلري. کټ مټ لکه یو جعلي نوټ چې د اصلي په مقابل کې وي.

یوه شېبه فکر وکړئ که نن مو د خوشال خان ختک ، رحمان بابا، حمید بابا، غني‌خان او نورو شعرونه د هغوی په خپلو غږونو کې لرلای څومره ارزښت به یې درلود؟

لیکوالو، شاعرانو، ادیبانو!

د کاغذ دوران تېر دی، له کمپیوټري او ډیجیټل اسانتیاوو سره ځان بلد کړئ، ګټه ترې واخلئ او خپل آثار په نویو لارو تر خلکو ورسوئ. ستاسو هر یو دوه درې سوه کالونه وروسته همدومره مهم کېږئ لکه چې نن خوشال‌خان، رحمان بابا او نور دي.

که نور هېڅ نشئ کولای موبایل مخې ته کېږدئ او خپل کتاب ورته ولولئ، په فېسبوک، یوټیوب او ... کې یې خپور کړئ. پرېږدئ چې راتلونکي نسلونه مو د لوستلو پرځای ووینې، واوري او په ټوله مانا مو احساس کړي.»

په دې ډول که موږ د نوي نسل روزل په یوه وطني خوځښت بدل کړو او په خپل ټول ځواک سره د سواد، مطالعې، زدکړو، ښونځي او پوهنځي ارزښت خلکو ته وښیو، نو لرې به نه وي چې زموږ خلک او ټولنه به د زدکړو له لارې له نوې تکنالوژۍ او پوهې خاوندان او د نوي ژوند او تمدن د لارې لارویان شي.

چې ماشومان مې له مکتب نه غربت پاتې نکړي
له خپلو ګوتو نه به جوړ کړم قلمونه خدایه!

(باقر)

یو لیک، یو کتاب او څو نسلونه

شپږویشتمه مقاله

د دیموکراسۍ په دې ګډوډ بازار کې د بیان آزادي هم د دیموکراسۍ د یوه واړه ماشوم په څیر خینجتې وهي او د دیموکراسۍ د لمن په دایره کې ډیر داسې څه کیږي چې بیرته د دیموکراسۍ او د انسان د ازادۍ لارې بندوي؛ خو په همدې اړو دوړ کې د فیسبوک په بڼ کې داسې یوه پاڼه هم جوړه شوې چې کولای شي د ماشومانو، کوچنیانو او د هغوی د کورنیو له پاره د ماشومانو او کوچنیانو د ادبیاتو په دایره کې ډیر څه وکړي. دا فیسبوک پاڼه «د ماشوم د ادبیاتو کور» نومیږي.

زه دلته نه غواړم چې د دې ګټورې فیسبوک پاڼې په باب ډیر څه و وایم هغه هم په دې دلیل چې ما په خپل وخت کې پر دې فیسبوک پاڼه ، پر مسولینو یې او پر خپرو کړو موادو باندې یې په تفصیل سره خبرې کړې دي. یوه ښایسته اوږده مقاله مې پرې لیکلې ده او په ۲۰۱۵ کال کې مې په اتو برخو کې خپره کړې ده، دا یې د لومړۍ برخې لینک دی. په یاده مقاله کې زما له ټولو هڅونو سره، سره د دوی کارونه بیخي ورو پرمخ روان دي.

ما څه موده پخوا د همدې پاڼې د یو مطلب تر خپریدو وروسته په کامنت کې دوی ته لیکلي و چې تاسو کال کې یو وار اذان مه کوئ، تاسو باید هره ورځ آذان وکړئ، د کوچنیانو کورنۍ او قلموال د ماشومانو او کوچنیانو روزلو ته ور وبولئ، زما د کامنټ بشپړ متن دا دی:

«ستاسو په دې لیکنه کې زه یو څه تاوتریخوالی احساسوم او زه نه غواړم چې د ماشوم او کوچني نړۍ ته د تاوتریخوالي زهرجن لوګي ورننوزي. تاسو باید پوه شئ چې تاسو د راتلونکي معماران یاستئ، باید ډیر عاطفي او صمیمي چلن وکړئ .

بله خبره دا ده چې تاسو باید هره ورځ آذان وکړئ، په کال کې یې یوه ورځ مه کوئ.»

دوی هماغسې پخ روان دي، خو بیا هم کله، کله یو نیم داسې مطلب خپور کړي چې لا د یوې میاشتې مکلفیت ورباندې ادا کړي.

«د ماشوم د ادبیاتو کور» فیسبوک پاڼې د ۲۰۱۸ کال د فبروري په نولسمه نیټه د یوه لیک ژباړه خپره کړه چې په ریښتیا سره د ماشومانو او کوچنیانو د کورنیو او مشرانو له پاره یو ډیر ښه لارښود ګڼل کیدای شي.
زه په داسې حال کې چې په لومړي سر کې د لیک ژباړن ښاغلي شرین آغا جهانګیر څخه د زړه له کومې مننه کوم، «د ماشوم د ادبیاتو کور» له فیسبوک پاڼې نه هم مننه کوم چې دا لیک یې تر ټولو پورې ورساوه.
د دې لیک هر یو توری او هره جمله د میندو، پلرونو او د کورنۍ د هر مشر له پاره، له ماشوم او کوچني سره د چلند په برخه کې د لارې ډیوه کیدای شي. زه د دې کرښو او مطلب په وسیله یو ځل بیا «د ماشوم د ادبیاتو کور» نه هیله کوم چې د خپلو کارونو لمن نوره هم وغوړوي او لکه د چا خبره ځان لږ وښوروي او خپل رسالت په بشپړه توګه درک او تر سره کړي.
دا هم د لیک بشپړ متن:

«په سینګاپور کې د ښوونځي مدیر د زده کوونکو کورنیو ته دا لیک تر ازموینې وړاندې استولی:

درنو والدینو!

ستاسو د ماشومانو ازموینې به زر پیل شي. مونږ پوهیږو چې تاسې غواړئ ماشومان مو په ښو نمرو بریالي شي، مګر هیله ده له یاده ونه باسئ چې:

د هغو زده کوونکو ترمنځ چې سبا ته به ازموینې ته ناست وي، یو تن انځورګر هم شته او هغه اړ نه دی چې په ریاضي پوه شي... د دغو زده کوونکو ترمنځ یو سوداګر او یو رئیس هم شته، هغوي اړ نه دی چې د انګلیسي ادبیاتو د تاریخ په اړه فکر وکړي.

د دغو زده کوونکو په منځ کې د موسیقۍ یو فنکار ناست دی چې د کیمیا نمرې یې ورته چندان ارزښت نلري. د دوي ترمنځ یو تن د منډې وهلو لوبغاړی دی، د هغه فزیکي جوړښت د فزیک تر نمرو زیات ورته ارزښتمن دي .

که اولادونه مو ښې نمرې واخیستې، ښه خبره ده، مګر که هغوي ونشو کولای ښې نمرې واخلي، هیله ده چې د هغوي پر خپل ځان باور او غرور تر پوښتنې لاندې رانولئ! هغوي ته وواياست چې دا د خپګان خبره نه ده، دا یواځې یوه ازموینه ده او بس! د هغوي نمرې د ځینو نورو اړینو کارونو په خاطر کمې شوي، هغه کارونه چې د دوي په ژوند کې ارزښت لري.

خپلو اولادونو ته وواياست چې د نمرو په اړه دې تشویش نه کوي!، ورته وښایاست چې له هغوي سره مینه لرې او کله هم د نمرو له مخې یې په اړه قضاوت نه کوي.

هیله ده دا کار وکړئ، او کله چې تاسې دا کار کوې، بیا وګورئ چې اولادونه مو څنګه ټوله نړۍ درته فتح کوي.

یوه ازموینه، یا کمې نمرې به د دوي ارمانونه او وړتیاوې له دوي ونه تروړي. اوهو! لطفاً داسې فکر مکوئ چې ډاکتران او انجینران د ځمکې پر سر تر ټولو خوښ او بریالي خلک دي!»

په درناوي

د آصف بهاند لنډه بیوګرافي:

پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نیټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د کابل د علاوالدین په تجربوي ښوونځي کې کړي دي، بیا یې د کابل په محمود طرزي لیسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی یې د میدان ښار د نرخ په لیسه کې پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په میاشت کې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۵۸ کال یې د لیسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمین کې د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کې یې د استاد صدیق روهي په لارښوونې د ماستری د تیزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهیسې شعر وایي، نوی شعر ډیر لیکي، کله، کله یوه نیمه غزله او قصیده هم لیکي. په سل ګونو علمي تحقیقي مقالې، شعرونه او کتابونه یې په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بریښنایي خپرونو کې نشر شوي دي.

د هجري شمسي نېټې په شپیتمه لسیزه کې د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستیالی دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نیټې په شپیتمه لسیزه کې د اوږدې مودې له پاره د رادیو افغانستان د روزنې اداري د علمي پروګرام «موږ او اوریدونکي» لیکوال پاتې شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د لیکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی و.

په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې یې په لسګونو علمي او فرهنګي سمینارونو کې ګډون کړی، مقالې یې ورته لیکلي دي او په یادو سیمینارونو کې یې لوستي دي.

په ماسکو کې د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولنې د منشیتوب او د یادې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مسولیتونه ورله غاړې وو.

د سویدن په بیلابیلو ښارونو کې، د سویدن هیواد او په سویدن کې د میشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنۍ ژبې سیمینارونو ته بلل شوی او د یو لکچرر په صفت یې کارنده او فعاله برخه په کې اخیستې، مقالې یې ورته لیکلي دي او له سکندنویایي هیوادونو څخه د مورنۍ ژبې له راغلو ښوونکو سره یې د مورنۍ ژبې پر ستونزو او په پردي چاپیریال کې د مورنۍ ژبې د

زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږیدلی، مشورې یې ورسره کړي او د سویدن په ستاکهولم، یوتیبوري او مالمو ښارونو کې یې ګڼ لکچرونه وړاندې کړي دي.

آصف بهاند د خپل ادبي فعالیت په اوږدوکې دغه علمي کارونه تر سره کړي دي:

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخییل مسأ له (د پوهندویۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دویم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (کستتنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دریم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې منظوم متون، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوڅانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو څانګې درسي کتاب (کستتنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دویمه درجه مطبوعاتي جایزه یې ګټلې ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا خپره شوی ده،

۱۳ ـ لاروركي لارویان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې خپور کړی دی او دویم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ثبتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ـ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ـ د باران سیوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې ده،

۱۹ ـ د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولګه)، همدا اثر.

چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:

ـ د ژباړو یوه ټولګه،

ـ شعرونو یوه ټولګه،

ـ او درې عنوانه څیړنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال د ډنمارک په هیواد کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو څیړنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.

پای